# په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصئونيت داخلي کنفرانس

# کنفرانس داخلي امنيت و مصئونيت غذايی در افغانستان

# National Conference on Food **Security** and **Safety** in Afghanistan

## د پښتو او دری مقالاتو ټولګه

## مجموعه مقالات پشتو و دری


د چاپ کال

۱۴۴۷ | ۱۴۰۴ | 2025

هـق هـش میلادي



د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، د سپين بولدک لويه لار، ډنډ ولسوالي، کندهار، افغانستان

Email addresses: academic.research@anastu.edu.af and nsharifullah@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

**د کنفرانس مسؤل:** پوهنمل دوکتور شريف الله شريفي – د علمي څېړنو مرستيال

**د کنفرانس همغږی کوونکی:** پوهنمل کرامت الله فاضل – د علمي څېړنو آمر

**د کنفرانس علمي بورډ او کتوونکي**

1. د څېړنې، تألیف او ژباړې رياست کتوونکی ټيم
2. پوهنمل دوکتور شريف الله شريفي
3. پوهندوی دوکتور امين الله نور
4. پوهنوال دوکتور نجيب الله مجددي
5. پوهندوی دوکتور محمد داؤد باور
6. پوهنمل دوکتور مختار احمد فيض
7. پوهنمل دوکتور حکمت الله عبيد
8. پوهنمل دوکتور محمد اغا ضياء
9. پوهنمل دوکتور محمد موسی داودزی
10. پوهنمل دوکتور يما نوري
11. پوهنمل دوکتور محمد نعيم عزيزي
12. پوهنوال نصير احمد نصرت
13. پوهندوی قدرت الله احسان
14. پوهندوی سيد احمد سيدي
15. پوهندوی احمد الله ظاهر
16. پوهندوی سورگل عظيمي
17. پوهنمل سردار محمد هاشمي
18. پوهندوی وحيد الله اعظمي
19. پوهنمل ميرويس يحيی زی

## په هیواد کې د غذایي امنیت او مصؤنیت لومړی ملي کنفرانس په اناستو پوهنتون کې دایریږي

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ

الحمدلله وکفی والصلاة والسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

د ننني نړۍ ګړندی پرمختګ د علمي څېړنو برکت دی او د نړۍ هېڅ اسانتیا هم له څېړنې پرته نه ده تر لاسه شوې. نړۍ د انسانانو غوښتنو، اړتیاوو، او ستونزو ته د څېړنې له لارې د حل مناسبې لارې او چارې پیدا کوي او کوښښ کوي چې په داسې مسایلو باندې څېړنې تر سره کړي چې ګټه یې د نړۍ انسانانو ته و رسېږي او د انساني ټولنې اړتیاوې او غوښتنې پوره کړي؛ نو اړینه ده چې فرهنګي، انساني، ټولنیز او هغه مسایل چې ګډې خواوې لري، تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي او ورته د حل معقولې او مناسبې لارې چارې ولټول شي. ننني نړۍ هغو څېړنو ته ډېر ارزښت ورکوي چې د یوې ټولنې علمي، فرهنګي، ټولنیزې او نورې اړونده ستونزې په کې حل شي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون و پتیله چې د غذایي امنیت او مصؤنیت د تأمین په موخه یو ملي کنفرانس دایر کړي، تر څو د خوړو د امنیت او مصؤنیت په برخه کې شته ستونزو ته د ملي او نړیوالو قوانینو او اصولو په رڼا کې د حل لارې چارې پیدا کړي. د خوښۍ ځای دی چې د پوهنتون رهبرۍ په خپل کلک عزم او ټینګې ارادې سره وکولی شول چې د ۱۴۰۴ هـ ل کال په جریان کې د «غذایي امنیت او مصؤنیت ملي کنفرانس» ترتیب کړي او له نیکه مرغه چې د دایریدو په درشل کې دی. په دې کنفرانس کې د هېواد د امارتي او خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده‌کړو استادانو، ښوونکو او څېړونکو د کنفرانس محورونو ته په کتو سره خپلې څېړنیزې مقالې ترتیب او د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون ته یې په کنفرانس کې د ارایې او خپراوي په موخه را واستولې چې لله الحمد دا دی اوس مهال یې د تر لاسه شوو مقالو ټولګه آماده او نشریږي چې دا د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون سره سره د لوړو زده‌کړو وزارت لپاره یوه لویه لاسته راوړنه ده.

د لوړو زده کړو وزارت مشرتابه د دې کار قدرداني کوي او په ضمن کې د هېواد له نورو پوهنتونونو څخه غوښتنه کوي چې دغه ډول علمي کارونو ته په خپلو کاري پلانونو کې ځای ورکړي او د هېواد اصلي او لویو ستونزو ته په کور د ننه د حل لازمې لارې چارې ولټوي. په پای کې د لوړو زده‌کړو وزارت رهبري ، د مقالو لیکوالانو او ټولوونکو ته د زړه له کومې د دې ټولګې د چاپ او نشر مبارکي وایي.

**والسلام**

**شیخ الحدیث ضیاء الرحمن آلاریوبي**

**علمي معین**

# په افغانستان کې د کنفرانسونو اړتیا او ارزښت

الحمدلله وکفی والصلاة والسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

علمي کنفرانسونه د علمي پرمختیا او پراختیا په برخه کې اړین رول لري، کنفرانسونه په اکاډمیکه ټولنه کې د څېړنې ارزښت لا څلانده کوي او د نويو معلوماتو، اطلاعاتو او د څېړنو د پايلو د شريکولو لپاره ښه فرصت بلل کېږي. د دې تر څنګ کنفرانسونه دا زمينه برابروي چې یوه لویه برخه معلومات او د څېړنو نتايج په یوه وخت او یوه ځای کې را ټول او له نورو څېړونکو او متخصصينو سره يې شريک کړي.

د تعليمي او تحصيلي بنسټونو يو تر ټولو اړين او ارزښتمن فعاليت د ملي او نړيوالو کنفرانسونو برابرول دي. دا کار هغه مهال په ښه توګه ترسره کېدای شي چې د پوهنتونونو، تخصصي بنسټونو او څېړنيزو مرکزونو د همغږۍ په ترڅ کې تر سره شي. علمي او څېړنيز کنفرانسونه بېلابېل علمي او اجرايوي بنسټونه سره راټولوي او د يو او بل له تجربو څخه په استفادې د ټولنې او د مختلفو علمي او تخصصي بنسټونو غوښتنو او اړتياوو ته رسېدنه کوي.

د افغانســتان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون (اناسـتو) د علمي څېړنو معاونيت له خوا د هغو مقالو ټولګې د چاپولو او نشرولو تکل شوی دی چې د اناستو پوهنتون د غذايي امنيت او مصؤنيت ملي کنفرانس ته د پوهنتونونو د استادانو او څېړونکو له خوا را استول شوې او د پوهنتون د ملي کنفرانس د علمي کمېټې له خوا د خپرېدو وړ ګڼل شوې دي. ټولې مقالې به په ۱۴۰۴ هـ ل کال کې په ياد کنفرانس کې ارايه کړل شي. د يادو مقالو له چاپ او خپرېدو څخه يوه موخه هم دا ده چې له دې څېړنو څخه اړوند سکتورونه د قوانينو او پاليسيو په جوړولو کې ګټه واخلي او له دې لارې د ټولنې له عامو لوستونکو او همدا ډول څېړونکو سره شريکې شي. د لوړو زده کړو وزارت د يو مسـؤل او همدا ډول د دې کنفرانس د يو برخه‌وال په توګه دا يو غوره ګام او يوه مثبته لاسته راوړنه ګڼم.

د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تألیف او ژباړې رياسـت کوښــښ کوي چې هر کال د هېواد څينې پوهنتونونه ملي او نړۍوال کنفرانســونه ترتيب کړي او په يادو کنفرانســونو کې ارايه شـوې مقالې په فزيکي او مجلده بڼه چاپ او همدارنګه يې له خپلو ويب‌سـايټونو څخه نشــر کړي چې دا په خاص ډول د يادو پوهنتونونو او په عمومي توګه د څېړنې، تاليف او ژباړې رياسـت او لوړو زده کړو وزارت لپاره يوه لويه لاسته راوړنه ده.

دا چې اناستو پوهنتون د «غذايي امنيت او مصؤنيت» تر عنوان لاندې د ملي کنفرانس د تدوير لپاره متې رانغښتې دي، د هيواد د مختلفو پوهنتونونو له استادانو او څيړونکو څخه يې مقالې ترلاسه کړې او د علمي کمېټې لخوا تائيد شوې دي، د مقالو ټولګه يې هم ترتيب او چاپ ته سپارل کيږي، ټولې منل شوې مقالې به د ۱۴۰۴ هـ ل کال په اوايلو کې د کنفرانس په تدوير سره ارايه، پايلې او لاسته راوړنې به يې له سکتوري اداراتو سره د پاليسيو جوړولو او تطبيق په موخه شريکې کړل شي.

زه د دې کار مبارکي د پوهنتون مشتابه، استادانو او کارکوونکو ته وړاندې کوم، په ځانګړې توګه هغو استادانو او څېړونکو ته يې زياته مبارکي وايم چې په دغه ټولګه کې يې مقالې خپرې شوې دي. په ضمن کې د افغانستان له ټولو استادانو او څېړونکو څخه هيله کوم چې خپلو علمي کارونو ته لا ډېره پاملرنه وکړي او په ډېر شوق او ذوق سره خپل علمي کارونه تر سره کړي.

**والسلام**

**دوکتور حميدالله مزمل**

**د څېړنې، تألیف او ژباړې رئيس**

# د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د رئیس پیغام

الحمدالله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله واله واصحابه اجمعین

اما بعد: فقد قال الله تبارک و تعالی فی محکم کتابه و هو اصدق القائلین، اعوذ بالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًا إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٌ (سورة المؤمنون آیت نمبر، ۵۱ )

عن عمر رضی الله عنه، عن النبي صلی الله علیه وسلم قال : الجالب مرزوق والمحتکر ملعون "رواه ابن ماجه ، والدارمي" .

د الله سبحانه وتعالی په ډیرو نعمتونو کې چې پر انسان یې کړی دي دلته د دریو لویو نعمتونو یادونه کیږي، اول د انسان خلقت او پیدایښت، دوهم: انسان ته د ژوند د دوام او بقاء لپاره غذاء او نور اړین توکي پیدا کول او دریم هم انسان د پوهې او علم پر زېور باندې ښایسته کول دي.

غذاء د هغه مأکول او مشروب څخه عبارت ده چې د انسان وجود او بدن تقویه کوي او د ښه ژوند تضمین کوي، دغه غذاء ته د ډیرو ګواښونو سره سره دوه عمده ګواښونه په افغانستان کې متوجه او عبارت دي له عدم امنیت او عدم مصؤنیت څخه، په دې معنی سره چې بیلابیلو ګواښونو زموږ عذائي رژیم بې امنه کړی دی، لکه د مترقي هیوادونو په وسیله هوا ته د خپل سره ګازاتو خوشي کول او په پایله کې یې د اقلیم بدلون، وچکالي او نور واقع کیږي. په همدې توګه پر ګران هیواد افغانستان باندې د اشغالګرو پرلپسې حملې کول چې په نتیجه کې یې زموږ زراعت ټکنی او متضرره شو، د اړتیا وړ اوبو کمښت د نا امنۍ له وجې وو چې نه شوای کیدای د بارانې اوبو د مدیریت په موخه چکډیمونه او د کانالونو په شمول د اوبو سیستمونو ورغول شي. همداسې د بعضې مغرضو کړیو د طرفه غذائي احتکار کول او یا د ملک څخه د بل په اشارو غذائي توکي قاچاق کول او داسې نور ګواښونه وو چې په اساس یې غذایي امنیت نشوای تأمین کیدلای. په همدې ډول د غذا عدم مصؤنیت زموږ د هیواد لپاره دوهم ګواښ دی او هغه پر دې معنی چې کومه غذا چې موږ لرو هغه مصؤنه نده بلکي هغه په مختلفو ډولونو چټله او بیکاره ده چې د حفظ الصحې لپاره یې خوراک بلکل مناسب ندی، څکه د یوه طرفه اشغالګرو د کیمیاوي اسلحو د استعمال په وجه زموږ هوا، فضا او اوبه ټول راته چټل کړل، چې مستقیم یې د غذاء سیستم ناپاک او غیر مصؤن کړی دی، همدارنګه سرې(کودونه) چې دلته دزراعت د تقویې لپاره کاریږي په ناسم کیفیت او ناسم استعمال سره غذا چټلوي . مصؤنیت یې له منځه وړي او همداسې د غذاء دې ذخیره کولو لپاره د مناسبو ګدامونو نشتون وو چې په نتیجه کې یې غذاء خرابه او په مختلفو شکلونو سره زیانمنه کیږي او په دې توګه خپل غذایي ارزښت له لاسه ورکوي. نو د اناستو پوهنتون چې د علمي کادرونو کهول دی په زراعت او مالداري کې د خپل رسالت او مسؤلیت د پیژندلو او و خپل ګران ولس ته د خدمت په پار یې د غذائي امنیت او مصؤنیت تر عنوان لاندې ددغه فن د ماهرینو د علمي څیړنو څخه په استفاده باندې د افغانستان د یاد سوو مشکلاتو د حل لپاره یو ملي کنفرانس دائرول ضروري وګڼل چې له نیکه مرغه د لوړو زده کړو د محترم وزارت او د شیخ القران والحدیث امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په منظورۍ سره دغه کنفرانس ته بودیجه او اجازه ورکړل سوه. دا دی د مسلکي – علمي څیړنو د لا ګټورتوب په موخه ستاسو سره دغه څیړنې د کتاب په بڼه د اناستو پوهنتون په مرسته شریکیږي .

**والسلام**

**الحاج مولوي سید محمد داود اغا الهاشمي**

**د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د رئیس**

**په افغانستان کې د غذايي امنيت او مصؤنيت اوسنی حالت او د تأمين اړتيا**

انسانان د خپل ژوند د پايښت او ورځنيو چارو د سمون په موخه کافي اندازه خوړو ته اړتيا لري. خواړه د الله تعالی د سترو نعمتونو څخه شميرل کيږي چې انسانان يې د دې جوګه ګرځولي، ترڅو د ځانونو لپاره کافي او مصؤن خواړه برابر کړي. د نړۍ ټول وګړي يو شان خوړو ته لاسرسی نلري دا په دې معنی، کوم کسان چې په پرمختللو هيوادونو کې ژوند کوي د کافي خوړو څخه برخمن ګڼل کيږي، برعکس هغه وګړي چې په وروسته پاتې هيوادونو کې اوسيږي، کافي خوړو ته لاسرسی نلري او په ورځنيو چارو کې له بيلا بيلو ستونزو سره لاس او ګريوان دي. افغانستان هم يو له هغو هيوادونو څخه شميرل کيږي چې وګړي يې کافي خوړو ته لاسرسی نلري او د خوړو مصؤنيت يې هم تر ډيره بريده تر ګواښ لاندې دی. هغه عوامل چې په افغانستان او نړۍ کې غذايي امنيت او مصؤنيت ګواښي عبارت دي له اقليمي تغيراتو، د نفوس زياتوالی، خراب اقتصادي وضيعت، په ټيټه کچه د نباتي توليداتو او حيواني محصولاتو ترلاسه کول، د غذايي موادو د ساتنځايونو نشتوالی، د آفاتو او امراضو د کنترول په منظور په زياته اندازه د بې کيفيته کيمياوي درملو شيندل او داسې نور. د پورتنيو عواملو څخه څرګنديږي چې انسانان د غذايي امنيت او مصؤنيت په خرابيدو کې تر ډيره ځايه پړه ګڼل کيږي او په همدې برخه کې خپلو کړنو ته ادامه ورکوي. په افغانستان کې غذايي امنيت او مصؤنيت د ښه تأمين په موخه بايد ګټورې پاليسانې په لاره واچول سي او د تطبيق په موخه يې د افغانستان اسلامي امارت او نور داخلي او باندني مؤسيسات زياتې هلې ځلې ترسره کړي. هغه کړنې چې د غذايي امنيت او مصؤنيت په تأمين کې اړينې بلل کيږي، عبارت له اقليمي تغيراتو سره د مبارزې په موخه د خاورې او اوبو سم مديريت، د عصري او ميکانيزه کرهنې رامنځته کول، د اصلاح سويو تخمونو توليد، د حيواناتو د نسلونو اصلاح، د نباتي توليداتو او حيواني محصولاتو ذخيره او پروسيس، د کروندګرو او مالدارنو عامه پوهاوی لوړول، د غذايي مصؤنيت د قوانينو تطبيق، د آفاتو او امراضو کنترول. که چيرې ذکر سوې کړنې په منظمه توګه تطبيق کړل سي ليرې به نه وي چې په هيواد کې به د فقر او لوږې کچه راکمه سي، خلکو ته به د کار زمينه برابره سي، داخلي توليدات به مو زيات سي او د بهرنيو توکو په واردولو به مو تکيه راکمه سي او په همدې سره به مو هيواد د خودکفايی په لور ګام اوچت کړي. د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناسټو) د هيواد په کچه د کرنې او مالدارۍ په برخه کې يو تخصصي پوهنتون دی چې د نورو مسؤليتونو تر څنګ په هيواد کې د غذايي امنيت او مصؤنيت د تأمين مسؤليت هم په غاړه لري. همدې موخې ته د رسيدو لپاره اناسټو پوهنتون و پتيله چې د غذايي امنيت او مصؤنيت په اړه يو ملي کنفرانس داير کړي ترڅو په همدې تړاو د هيواد په کچه د څيړونکو، مسلک خاوندانو او استادانو علمي ـ څيړنيزې مقالې راغونډې کړي او د همدې ملي کنفرانس د لارې يې د افغانستان اسلامي امارت د لوړ رتبه مقاماتو، سکتوري اداراتو او نورو مسؤلينو په وړاندې ارايه کړي. ټولې هغه څيړنې چې د همدې ملي کنفرانس لپاره ترسره سوې دي د اناسټو پوهنتون علمي څيړنو معاونيت او علمي څيړنو آمريت په هلو ځلو د لنډيزونو او وړانديزونو د يو کتاب په بڼه راغونډې سوې دي، چې ډير ژر به چاپ ته هم وسپارل سي. د لنډيزونو او وړانديزونو دا ټولګه به د ترويج په موخه په هيواد کې پاليسي جوړوونکو، دولتي مقاماتو، او نورو ذيدخل اورګانونو ته په واک کې ورکړل سي ترڅو د همدې څيړنو په رڼا کې په هيواد کې د غذايي امنيت او مصؤنيت ټولې چارې تنظيم او تأمين کړي.

**والسلام**

**پوهنمل دوکتور شريف الله شريفي**

**د اناسټو پوهنتون علمي څيړنو مرستيال**

## فهرست


| شماره | عنوان | ليکوالان | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د گاما وړانگو په واسطه د غذايي موادو ساتنه | حيدرخان حيدري | ۹-۱ |
| ۲ | ارزیابی وضعیت امنیت غذایی خانواده‌های روستایی ولایت لوگر | فواد ناصری، محمد حنیف راسخ، شفیق الله رحمانی | ۱۶-۱۰ |
| ۳ | بررسی اثرات تغییر اقلیم بر امنیت غذایی در أفغانستان | ضیاألحق امیری | ۲۵-۱۷ |
| ۴ | بررسی تاثیر عضویت درکوپراتیف های زراعتی بالای درآمد دهاقین مرکز ولایت بامیان | سید جلیل هاشمی و سید عبدل سجادی | ۳۳-۲۶ |
| ۵ | تاثیر تغییر اقلیم بر مصئونیت غذایی و مهاجرت روستایی در ولایت جوزجان | شمس الحق شیرزاد، محمد عثمان اکبری | ۴۱-۳۴ |
| ۶ | مروری بر عمده ترین چالش ها و راه حل های بحران غذایی سالهای 2022 و 2023 در أفغانستان | محمد سالم فیضی، عبید الله صادقی | ۵۴-۴۲ |
| ۷ | د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب په وړاندې ننگوونې | پوهنيار ثابت احمد باوري، پوهنمل فضل محمد محمدي | ۶۱-۵۵ |
| ۸ | د لړ لگښته غذايي توکو د کمښت خوارځواکی په کمولو کښي د غنمو اوړو د بډايني اغېزه | سيداحمد، سيدي، شاه محمود، برى، احسان الله، فضلي، نورالحق محمدي | ۷۲-۶۲ |
| ۹ | ارزیابی افزایش قیمت مواد غذایی بر رفاه خانوارها در شهر شبرغان | پوهندوی ابوریحان انتظار ،خال محمد فایض ، دولت خدا رضایی | ۹۰-۷۳ |
| ۱۰ | جایگاه امنیت غذایی در حقوق افغانستان و اسناد بین‌المللی | پوهنمل حبیب الرحمن رحمانی، پوهنیار عبدامحمود موسایی | ۱۰۰-۹۱ |
| ۱۱ | امنیت غذایی از دیدگاه اسلام | پوهنوال سید خلیل کوهی | ۱۰۹-۱۰۱ |
| ۱۲ | په وچو او نیمه وچو سیمو کې د خاورې پر پایښت د اقلیم د بدلون اغیزې | پوهنمل خالد احمد یعقوبې، پوهندوی سلطان محمد سیرت، پوهنوال نصیر احمد نصرت | ۱۱۴-۱۱۰ |
| ۱۳ | استراتیژی‌های آبیاری هوشمند در زمان خشکسالی برای تقویت امنیت غذایی: قابل تطبیق در أفغانستان | نرگس تیموری، و علی احمد مرادی | ۱۲۱-۱۱۵ |
| ۱۴ | اثرات تغییر اقلیم بر امنیت و مصئونیت غذائی در ولایت بادغیس أفغانستان | پوهنمل عبدالمومن عظیمی، پوهنمل محمد فواد فرزام، نامزد پوهنیار محمد سردار فایز | ۱۳۰-۱۲۲ |
| ۱۵ | خوندي خوړو ته د لاسرسي اغېزه لرونکي عوامل | پوهاند سید محمد کبیر مین او ن پوهنیار سید محمد جبیر عظیمي | ۱۳۹-۱۳۱ |
| ۱۶ | د غذا په مصؤنیت باندی د کیمیاوی آفت وژونکو د استعمال اوپاته شونو اغیزې څېړل | غني داد سعيدي، عبد الناصر صديقي، عزيزالله نيازيار | ۱۴۶-۱۴۰ |
| ۱۷ | د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول (مروري مطالعه) | محبت شاه محبت او ذاکرالله نصرتيار | ۱۵۳-۱۴۷ |
| ۱۸ | د کلیوالي سیمو په غذايي امنیت او مصؤنیت کي د کرنيز ترويج رول | اسدالله سعادت، عبدالهادي واصل، محمداغا ضيأ، سيد محمد کبير مين | ۱۶۲-۱۵۴ |
| ۱۹ | پر غذایی مصونیت د بسته بندی اغیزې- یوه کتنه | محمد يونس وزيري، عزيزالرحمن رگبتي، سورگل اعظيمي، اسدالله سعادت | ۱۶۹-۱۶۳ |
| ۲۰ | د غذايي توکو په مصؤنيت کې د پروسس رول | عزيز الرحمن رگبتي، اسدالله سعادت، محمد یونس وزیری | ۱۷۶-۱۷۰ |
| ۲۱ | نقش آموزه‌های دینی برامنیت و مصئونیت غذایی در اسلام | پوهنمل شهاب الدین شهاب | ۱۸۴-۱۷۷ |
| ۲۲ | اثر تغییرات اقلیمی بالای تولید محصولات هارتیکلچری و امنیت غذایی آن | خواجه واحدالله مقدس، محمد یوسف سلطانی | ۱۹۲-۱۸۵ |
| ۲۳ | تأثیرتغییرات اقلیمی بالای امنیت و مصئونیت غذائی (مروری) | پوهنمل همایون آزادانی | ۲۰۴-۱۹۳ |
| ۲۴ | د چرگو د هگیو غذايي ارزښت او د انسانانو پر روغتيا باندې د هغوی اغیزې | پوهنيارفضل معبود عادل، پوهنيار زاهدالله ذهين | ۲۱۴-۲۰۵ |
| ۲۵ | د خوړو اقتصادي لاسرسي او دلاسرسي د زياتوالي عوامل | محمد بشیر دودیال، محمدآغا ضیاء | ۲۲۳-۲۱۵ |
| ۲۶ | پر حيواني محصولاتو باندي د اقليم بدلون د اغېزو مطالعه | علاوالدين مستمند، صدام مومند اکبر جان زحمتي او احمد رحيمي | ۲۳۴-۲۲۴ |
| ۲۷ | د چرگانو په غوښه کې د انتي بیوتیکونو د پاتې شونو مطالعه او عامې روغتيا ته يې پېښيدونکې زيانونه | پوهنيار حسن الله عرفان، پوهنمل نعیم جان عادل، پوهنیار عصمت الله رسا، نوماند پوهنیار قیمت گل درمل | ۲۴۴-۲۳۵ |
| ۲۷ | په جستو سره د غنمو بيولوژيکي بډاينه او د خوارځواکي په مخنيوي کې د هغه ارزښت | عبدالشکور کریمي، سيد احمد سيدي | ۲۵۴-۲۴۵ |
| ۲۹ | امنیت و مصونیت غذایی و راه‌کارهای عملی آن از منظر قرآن و سنت | پوهنمل عبدالسبحان صدیقی، پوهنمل فضل الرحمن فایز | ۲۶۳-۲۵۵ |
| ۳۰ | تأثیر تغییرات اقلیمی بر امنیت غذایی در افغانستان | پوهنمل دکتر حسین محمدی | ۲۷۰-۲۶۴ |
| ۳۱ | په کندهار ولايت کې د تجارتي غوښينو چرگانو په فارمونو کې د انتي بيوتيکونو کارول: انتي مايکروبيال مقاومت او عامې روغتيا لپاره گواښونه | محبوب الله احمدي، فيصل دانش، محمد داود باور، عبدالفهيم سروري و محمد هارون رحماني | ۲۸۱-۲۷۱ |
| ۳۲ | په هلمند ولایت کې د خوړو د امنیت لپاره د کوکنارو غوره بدیل نباتات | عبدالقوي عادل ، عبدالهادی واصل، اسدالله سعادت ، سید محمد کبیر مین | ۲۸۶-۲۸۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | بررسی تاثیر فقر بر امنیت  غذائی و راهکار های بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس | پوهنیار عبدالرسول کریمی، نامزد پوهنیار نصیر احمد الفت، پوهنیار عبدالقدیر طیب. | ۲۹۵-۲۸۷ |
| ۳۴ | د اقلیم پر بدلون، غذايي امنيت او مصؤنيت باندي د څېړکي کرهني اغېزې | اسدالله سعادت ، سعیدالله شینواری، عبدالهادي واصل، سید محمد کبیر مین | ۳۰۳-۲۹۶ |
| ۳۵ | د خوارځواکي لاملونه او د هغه د له منځه وړلو لاري چاري | قدرت الله زاهد، اسدالله سعادت ، سید محمد کبیر مین | ۳۱۰-۳۰۴ |
| ۳۶ | بررسی نقش زراعت و مالداری در اقتصاد خانوارها مطالعه موردی: خانوارهای شهر کندز | محمدعامر محمدی، محمدصمیم مسکین‌یار، سیدمحمدمنیر انصاری | ۳۱۸-۳۱۱ |
| ۳۷ | بررسی اثرات اقتصادی و اهمیت غذایی کشت پالیز در ولسوالی آبکمری ولایت بادغیس | پوهنیارعبدالناصر عرفانی، بسم الله عثمانی، پوهنیار عتیق الله افغان، نامزد پوهنیار محمد سردار فایز | ۳۲۵-۲۱۹ |
| ۳۸ | د ټولنې پر اقتصادي ثبات باندې د غذايي امنيت اغيزې | جمعه گل صدیقي، اسدالله سعادت | ۳۳۲-۳۲۶ |
| ۳۹ | په غذايي مصؤنيت کښي د لرلگښته عناصرو (وسپنه او جست) په واسطه د بيولوژيکي بډاى سويو غنمو رول | نورالحق محمدي، سلطان محمد سيرت، ميرويس خان افغان، زمريالی تني، سيد احمد سيدي، شاه محمود برى | ۳۴۲-۳۳۳ |
| ۴۰ | بررسی تاثیر جنگلات پسته بر امنیت غذایی مردم ولسوالی سنگ آتش، ولایت بادغیس، أفغانستان | عتیق الله افغان، غلام سخی سائس ، معظم حقمل | ۳۴۹-۳۴۳ |
| ۴۱ | مروری در روند توسعه فزیکی شهرها و تهدیدی ناشی از آن در مصونیت غذایی و تخریب زمین‌های زراعتی | پوهنیار هادی علیار | ۳۶۰-۳۵۰ |
| ۴۲ | اثر ذخیره خانه های پیاز، کچالو و سیب بر امنیت غذایی و معشیت دهاقین ولسوالی قادس | پوهنیار معظم حقمل نامزد پوهنیار محمد سردار فایز پوهنیار عتیق الله افغان | ۳۶۹-۳۶۱ |
| ۴۳ | نگرشی به  اصول فرهنگ غذایی در اسلام | نامزدپوهنیار حفاظت‌الله شرقی | ۳۸۳-۳۷۰ |
| ۴۴ | مدیریت آب و نقش آن در امنیت غذایی افغانستان | نامزد پوهنیار جمشید شهاب، پوهنیار حبیب الله رضایی | ۳۹۵-۳۸۴ |
| ۴۵ | نقش معنویت در امنیت غذایی از دیدگاه اسلام: (مطالعه موردی شهر ایبک) | پوهندوی صدیق‌الله‌کریمی، پوهنمل عبدالنصیر منصور | ۴۱۱-۳۹۶ |
| ۴۶ | نقش تکنالوژی‌های جدید در امنیت و مصؤنیت غذایی از دیدگاه اسا | بریالی سازش، عبدالبصیر دلجوی، روح الله حنیف | ۴۱۹-۴۱۲ |
| ۴۷ | بررسی وضعیت مصونیت غذایی محصلان و عوامل موثر برآن (مطالعه موردی: موسسه تحصیلات عالی سرپل | نامزد پوهنیار خداداد همراز، پوهنیار هادی علیار، پوهنیار ابوذر اکبری | ۴۳۰-۴۲۰ |
| ۴۸ | کاهش آب های زیرزمینی و نقش آن بر امنیت غذای مطالعه موردی ولسوالی قادس ولایت بادغیس | پوهنیارمحمدنعیم هاشمی، پوهندوی محمد کاظم یوسفی، پوهنیار محمد بابر صفری | ۴۴۰-۴۳۱ |
| ۴۹ | د خوړو  په خونديتوب باندې د مهاجرت اغيزې | فيض الرحمن احمدي، ممتاز احمد يوسفزی، عبدالصميم نيازی | ۴۴۹-۴۴۱ |
| ۵۰ | د خوړو خونديتوب او ټولنيز عدالت ترمنځ د اړيکو تحليل | عبدالصميم نيازی، ممتاز احمد يوسفزی، فيض الرحمن احمدي | ۴۵۶-۴۵۰ |
| ۵۱ | تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس | عبدالغنی رحیمی، بصیراحمد سروری، و معظم حقمل | ۴۶۵-۴۵۷ |
| ۵۲ | د کندهار ولایت د غوښينو چرگوړو فارمونو په توليد باندې د روزنې د مديريت اغېزې | پوهنمل نعیم جان عادل، پوهنیار حسن الله عرفان، پوهنمل فیصل دانش، پوهنیار عصمت الله رسا، نوماند پوهنیار قیمت گل درمل | ۴۸۰-۴۶۶ |
| ۵۳ | د انسان په صحت او روغتيا باندې د سبو غذايي ارزښت | پوهنیار محیب الله همدرد، پوهنمل نعیم جان عادل ، پوهنیار میرویس افغان، پوهنیار حسن الله عرفان ، ن- پوهنیار حمیدالله بهیج | ۴۸۹-۴۸۱ |
| ۵۴ | فکتورهای مؤثر در تامین مصئونیت شیر و گوشت | پوهنیار فریده روزی، وشعیب حامد | ۴۹۶-۴۹۰ |
| ۵۵ | د غوښينو چرگانو په وده او  روغتيا باندې د مولتي ويټامين د بيلابيلو اندازو اغيزې | پوهنیار عصمت الله رسا ، پوهنمل نعیم جان عادل، پوهندوي دوکتور محمد داود باور، پوهنیار حسن الله عرفان | ۵۰۵-۴۹۷ |
| ۵۶ | بررسی نقش پروبیوتیک‌ها در صنعت مواد غذایی و سلامتی بدن | پوهنمل محمد حسین نیکزاد | ۵۱۲-۵۰۶ |
| ۵۷ | د خاورې د حاصلخيزي او غذايي امنيت په برخه کې د زيات لگښته لومړنيو عناصرو (NPK) ارزښت | نصیراحمد نصرت، حکمت الله عبید، خالد احمد یعقوبي، کرامت الله فاضل | ۵۱۹-۵۱۳ |
| ۵۸ | تاثیر عوامل فقر و بیکاری بر امنیت غذایی در أفغانستان | عبدالله نوروزی، سمیع الله آشنا، و کرامت الله فاضل | ۵۲۴-۵۲۰ |
| ۵۹ | د خواړو پر امنيت او خونديتوب باندې د هرزه وښو د مديريت اغېزې | قدرت الله احسان، کرامت الله فاضل، يما نوري، مختار احمد فيض، حکمت الله عبيد خليل الله زريال | ۵۳۴-۵۲۵ |

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونیت

# د ګاما وړانګو په واسطه د غذايي موادو ساتنه

حیدرخان حیدري[۱]

[۱]فزیک څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، سیدجمال الدین افغاني پوهنتون (کونړ)

مسؤل لیکوال:haidar.01398@gmail.com

## لنډیز

د هغو خوړو په ساتنه کې چې د هوا او چاپیریال په بدلون سره او یا د نورو لاملونو له امله د بکټریاو، میکروبونو او ویروسونو ښکار ګرځي د ګاما وړانګې يې په ساتنه کې ښکارنده رول لوبوي. نوموړي وړانګې د الکترومقناطیسي څپو يو ډول دی چې د څپو اوږد والی یې لنډ، انرژي ډېره ده. د دې موضوع ارزښت په دې کې دی چې په دې څېړنه باندې کولای شو، خوراکي توکي ډېر ښه، اسانه، پاک او بې د کوم زیانه له خرابېدو څخه وساتو. دا څېړنه کتابتوني او اکتشافي څېړنه ده چې په اړه یې معلومات د مختلفو داخلي او خارجي معتبرو کتابونو، علمي مقالو او معتبرو علمي انټرنیټي سایټونو څخه په استفادې راخیستل شوي او له کره کولو وروسته د دې څېړنې په مطالبو کې ځای پر ځای شوي دي. د څېړنې نه مو موخه د وړانګو د ټکنالوژۍ په واسطه د غذايي موادو ساتنه او د اوږدې مودې له پاره د خوراکي توکیو خوندیتوب دی. د څېړنې پايله ښيي چې ګاما وړانګې د غذايي موادو په ساتنه کې یوه پرمختللې او ګټوره ټکنالوژي ده چې غذايي مواد د لوړ کیفیت، زیات وخت له پاره محفوظ او له خرابېدو څخه ساتي. پر همدې اساس په افغانستان کې د غذا ساتنې له ادارو څخه مې هیله دا ده چې په راتلونکې کې د خرابېدو او ضایع کېدو څخه د غذايي موادو د ساتنې په پار له ګاما وړانګو څخه استفاده وکړي، ځکه د غذايي موادو د ساتنې په اړه څېړنې کولای شي د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې ارزښتناکه رول ولوبوي.

**کلیدي کلیمې:** اغېزې، بکټریاوې، خوراکي توکي خوندیتوب، ګاما وړانګې.

## سریزه

الحمد لله الذي علم با القلم علم الانسان مالم يعلم والصلاة والسلام على خاتم النبين وعلى اله و اصحابه اجمعين. امابعد

وړانګې د ننني عصري نړۍ د پرمختګ یوه مهمه برخه ده چې په اوسني وخت کې د انرژي، طبابت، صنعت، اقتصاد، زراعت، غذايي مصونیت او نورو برخو کې يې دپام وړ بدلونونه راوستي دي، د ګاما وړانګېد الکترومقناطیسي څپو يو ډول دی، چې د څپو اوږد والی یې لنډ، انرژي ډېره او په عنصر کې د هستې د انرژي د سويو د بدلون او یا زیاتوالي په مهال له عنصر څخه وځي. ګاما وړانګې خنثی زرې دې، د برقي او مقناطیسي ساحو په وسیله انحراف نه کوي، ټیټ طول موج لري، چې سرعت يې د نور سرعت يعني $3 \times 10^{8} \frac{m}{sec}$ سره يوشان دی. د غذايي موادو ساتنې له پاره د ګاما وړانګو ټکنالوژي لومړنی عصري ګام بلل کیږي، چې په مایکرو ارګانیزمونو کې ډېرې ویجاړونکې اغیزې منځته راوړي، غذايي توکو ته د ګاما شعاع ورکول د خوړو ساتنې په برخه کې يو له فزیکي مېتودونو څخه دی چې خواړه په يو ټاکلي وخت او چوکاټ کې ور سره مخامخ کېږي. د څېړنې او تجربو په ډګر کې د 60 کلونو څخه ډېر تاریخ لري، د 41 څخه زیاتو هېوادونو او له 100 څخه زیاتو خوراکي محصولاتو کې يې کارول دخلورو لسیزو څخه مخکې تصويب شوي دي. د اندونیزیا د صحت وزارت په 7 اوومه ماده کې راغلي چې غذا د ټولو انسانانو يو بنیادي ضرورت دی چې په نه شتون کې يې انسانان د ژوند او په ژوند کې د پرمختګ ورتیا نه لري. غذا په عام ډول په اسانۍ سره د چاپیریال د عواملو او ناروغوونکو میکروبونو له امله زیانمن کېږي، چې د غذايي مواد ناروغوونکي بکټریاوې دEscherichia coli، Salmonella، Campylobacter jejune، Listeria mono او Staphylococcus څخه عبارت دي،

چې د خوړو په کيفيت باندې اثر کوي او هغه خرابوي د غذايي موادو خوند او خوږ بوي کموي او دصحت له پاره زهر جن کيږي. د لبنياتو محصولات، غوښې، هګۍ، سمندري محصولات، مېوې او سبزيجات هر کال له 500000 ټنو څخه زيات شعاع کېږي، همدارنګه وريجې، غوښې، دال، لوبيا ، غنم او د وچو مېوو لکه غوزان، بادام، پسته او نورو لپاره کار اخيستلی شوو. (Handayani, 2017) د 1980 م کال د روغتيا نړيوال سازمان WHO اعلان له مخې، هغه خواړه چې 10 kg وړانګې ترلاسه کوي، د مصرف کولو له پاره صحي او خوندي دي، د خوړو په صنعت کې دخوراکي توکو ساتلو له پاره مختلف فزيکي او کېمياوي ميتودونه کارول کيږي، چې په عموم کې د خوړو ساتنې تر ټولو عام مېتودونه يې عبارت دي له تودوخه، په يخچال کې يخول يا ذخيره کول، د کيمياوي موادو (بينزويک اسيد، پروپيونيک اسيد، سوربيک اسيد، ايتيلين اکسايډ) کارول، وچول، د لوړ هايدروستاتيکي فشار کارول، دبدل شوي اتموسفير سره بسته کول، تيزابيت او دمختلفو کېمياوي موادو کارول شامل دي (Joshua Ajibola, 2020) دا چې په افغانستان کې د کال ټول څلور فصلونه په معياري ډول شتون لري، نو دا ممکنه ده، چې په افغانستان کې د کرنې او مالدارۍ هر ډول محصولات توليد شي، مګر له بده مرغه په ډېرو مواردو کې مونږ اړيو چې ځيني محصولات له نورو هېوادونو وارد کړو، ځکه چې هر کال د کرنيزو محصولاتو لوی مقدار دحاصلاتو له بسته بندۍ وروسته او د مصرف څخه د مخه د کميت او کيفيت له ستونزو سره مخ دي. چې د غذا ساتنې اداري په وينا په افغانستان کې د غذايي محصولاتو ٪۵۰ په سلو کې خرابيږي، نو داچې غذايي مواد يوه لومړنۍ اړتياده، نو اړينه ده چې دغذايي موادو دښې ساتنې په برخه کې د ګاما وړانګو په واسطه کار وشي، چې هېواد مو د غذايي مصونيت په برخه کې پياوړی او غني شي، هدف يې دخوراکي توکوعمر زياتول، د محصولاتو خونديتوب، په خوړو کې د ناروغوونکو بکترياو له مينځه وړل، د غذايي توکو په کيفيت او ښه والي کې بدلون او مايکروبيولوژيکي ښه والی دی. ارزښت يې د خوړو په صنعت کې له مضره بکترياو، ويروسونو، فنګسونو او حشراتو څخه د ټولو خوراکي توکو ښه ساتنه، د تغذيې ارزښت او د خوړو صحي کيفيت دی، پايله يې ښيي چې د ګاما وړانګې د غذا ساتنې په برخه کې يوه پرمختللې ټکنالوژي ده، چې غذايي مواد د ډېر وخت له پاره د ناروغوونکو بکترياو څخه محفوظ ساتي او نسبت نورو کړنلارو ته لکه د وچولو کړنلاره،تودوخې ورکول او نور د غذايي موادو د اوبو د جذب وړتيا لوړوي، رطوبت کموي او د وزن کمښت سلنه يې ډېريږي، مګر د ګاما شعاع ګانو سره د غذايي موادو شعاع کول د اوبو د جذب وړتيا تغير نه کوي او د وزن په سلنه کې يې کمښت نه راځي. (Akinloye,2015)

## دڅېړنې ستونزې

په افغانستان کې د غذايي موادو دساتنې په برخه کې د ګاما وړانګوڅخه نه استفاده او دهغې په هکله د زياتو معلوماتو نه شتون عمده ستونزې دې چې ددې څېړنې په مرسته ستونزو ته حل پيدا شوی.

## دڅېړنې ارزښت

دا چې غذا د ټولو انسانانو يو بنيادي ضرورت دی، نو د مصؤنيت له پاره يې د ګاما وړانګو ټکنالوژي؛ ښه، اسانه، کم لګښته، اوږ مهاله او بې له کوم زيان ساتنه کوي، او د ناروغيو او زهرجنو موادو د خپرېدوخطر يې کموي.

## دڅېړنې موخې

1. د ګاما وړانګو په واسطه غذايي مواد د اوږدې مودې له پاره ساتل.

2. د ګاما وړانګو په واسطه د غذايي موادو څخه د ناروغوونکو بکترياوو او ويروسونو له مينځه وړل.

## دڅېړنې پوښتنې

1. ایا د ګاما وړانګو په واسطه خوراکي مواد د اوږدې مودې له پاره ساتل کېږي؟

2. ایا د ګاما وړانګو په واسطه خوراکي توکي له ناروغوونکو بکتریاوو او ویروسونو څخه ژغورل کیږي؟

## دڅېړنې مواد او وکړنلاره

نوموړې څېړنه چې په سیدجمال الدین افغاني پوهنتون کې ترسره شوې کتابتوني بڼه لري، ددې څېړنې په اړه لومړی د مختلفو داخلي او خارجي معتبرو کتابونو، علمي مقالو او معتبرو انټرنيټي سایټونو د عصري مقالو څخه په استفادې مطالعه ترسره شوې ده، چې د ګاما وړانګو په واسطه د غذايي موادو د ساتنې په برخه کې ګټور او ضروري معلومات ترلاسه شول، بیا دغه مواد د زړو او نویو لیکنو پر بنسټ ترتیب او له هغو څخه مو د موضوع په اړه اړین معلومات ترلاسه کړل، له کره کولو وروسته مو په دې څېړنه کې د ټاکلو سرلیکونو لاندې ځای پرځای کړل. دا څېړنه د کړنلارې له مخې عملي او د هدف له مخې یوه بنسټیزه اکتشافي او کتابتوني څېړنه ده.

## خوړو ته د ګاما شعاع ورکولو کړنلاره

غذايي موادو ته د ګاما شعاع ورکول د خوړو ساتنې یو له فزیکي مېتو دونو څخه دی، چې خواړه په یو ټاکلي وخت او چوکاټ کې د ایونایز کوونکو وړانګو سره مخامخ کیږي، لومړی خواړه په یو داسې راډیو اکټیف عنصر (چې ډېر مشهور کوبالټ $^{60}_{30}Co$ دی چې د ګاما شعاع وباسي) په مخ کې چې دګاما وړانګې چاپیریال ته باسي کېښودل کیږي، کله چې دګاما وړانګو انرژي خوړو باندې پریوځي کېمیاوي اړیکې، دحجرو دېوال او( DNA) چې حجرو په منځ کې جنیټکي ځانګړتیاوي لیږدوي ماتوي او بکتریاوي ،تورخالونه او هغه چنجي چې د خوړو دخرابېدو لامل ګرځي له منځه وړي ، خوړو ته د ګاما شعاع ورکولو سره دخوړو په خوند اوکیفیت کې بدلون نه راځي، خوړو ته د شعاع په ورکولو کې دا په پام کې ونیسئ چې خواړه هیڅ کله له راډیو ایزوټوپ سره نه په تماس کې کېږي. نو له همدې امله خواړه هېڅ کله نه راډیواکټیف کېږي. (نظیفي او تنها، ۱۳۸٦)




(۱.۱ شکل) د ګاما وړانګو په مرسته دناروغوونکو بکتریاو مړینه ښیي.

https://www.linkedin.com/pulse/cold-pasteurization-food-irradiation-u%C4%9Furcan-kartal

دیادولو وړ ده چې په ټولیزه توګه سبزیجات او مېوو ته د ګاما شعاع ورکول کیږي، څکه چې دا دواړه خواړه تل یا دځمکې پر مخ او یا هم په ککړ چاپیریال کې وده کوي او پخېږي نو باید دوی دبکتریاوو، چنجیو او داسې نورو فتونو په وړاندې بیمه شي. همدارنګه ځینو غوښو ته (غوایي غوښه) هم شعاع ورکول کیږي ترڅو له خرابیدو څخه په امان وي چې د شعاع په ورکولو سره په غوښه کې حجروي پروسې پرې کیږي ( دا هغه تخنیک دی چې مایکرو اورګانیزم پکې له منځه وړل کیږي). دشعاع په ورکولو سره د ځینو خوړو لکه د پټاټو او پیازو دراشنه کیدلو وړتیا او د میوو او ترکاریو د ژر پخېدلو وړتیا هم له منخه ځي، چې په دې توګه نازکې میوې بازارته له رسیدلو څخه مخکې نه پخیږي،

شعاع ورکړل شوي خواړه په پراخه کچه د فضا نوردانو له خوا کارول کېږي. داځکه چې هلته دکنګل کولو او داسي نورو تخنيکونو شونتيا لږه ده.

### د خوړو د ذخيره کولو طريقې

د خوړو د زخيره کولو عمده طريقې عبارت دي له:

د مايکرو ارګانيزمونو د ننوتلو مخنوي کول، د مايکرو ارګانيزمونو له منځه وړل، په بې هوازي شرايطو کې ذخيره کول. لکه په يو خلائي لوښي کې ساتل، د لوړې تودوخې کارول، د ټيټ حرارت کارول، وچول، د کېمياوي مخافظت کوونکو کارول چې دمايکرو ارګانيزمونو له خوا توليد شوي يا په لاسي ډول اضافه شوي وي، ګاما او نورې وړانګې کارول، د مايکرو ارګانيزمونو ميخانيکي تخريب لکه لوړ فشار، د دوه يا ډيرو ذکر شوو کړنلارو ترکيب معمولا ډيرې کړنلارې اغيزمنې کارول کيږي مثلا د خوړو کنسرونه د تودوخې پر پروسې سربيره د خلاء لاندې مهر شوي دي چې د ساتنې کړنلارې په ترکيب کې کارول کيږي. (مرتضوی او همکاران، ۱۳۹۲)

### د خوړو زخيره کولو اصول

د خوړو د ذخيره کولو له پاره بايد لاندې اصول په پام کې ونيول شي

۱ - د ميکروبونو د مخنوي او له منځه وړلو له پاره

الف. غيري ميکروبي شرايط برابرول

ب . د ميکرو ارګانيزمونو له منځه وړل

ج . د ميکرو ارګانيزمونو د فعاليت بطي کول

د . ګاما شعاع په واسطه د ميکرو ارګانيزمونو له منځه وړل

۲ - د خپل سرې تجزيې څخه د غذايي موادو ساتنې له پاره د لاندې مواردو څخه استفاده کوو.(Alfarobbi ,2018)

الف . د انزايمونو د له منځه وړلو پروسې څخه په ګټې اخېستنې د غذايي موادو انزايمونه غيري فعالول.
ب . دغذايي موادو کيمياوي تعاملاتو مخنوي کول لکه د انتي اکسيډن څخه په ګټې اخيستنې د اکسديشن مخه نيول.

۳ - غذايي مواد د حشراتو او حيواناتو څخه ساتل.(مرتضوی او هکاران ، ۱۳۹۴).

### د ګاما شعاع په واسطه د غذايي موادو د ساتنې ګټې

- د ګاما شعاع کولای چې په خوراکي توکو کې بکترياوې، ويروسونه او فنګسونه له منځه يوسي.
- د ګاما شعاع د غذايي موادو عمر زياتوي( مواد په اوږدمهاله توګه تازه پاتې کېږي او خرابېدو مخه يې نيسي)
- د غذايي موادو کيفيت ساتي، لکه ، رنګ، خوند، بوي او نور
- د ګاما شعاع د غذايي موادو د ساتنې لپاره د کېمياوي موادو کارولو اړتيا کموي.
- دا پروسه د نورو مېتودونو په پرتله اسانه ده.
- د موادو ظاهري کيفيت او پخلي کې مرسته کوي.
- د غذايي خونديتوب په برخه کې د نړيوالو معيارونو سره سمون لري او د خلکو لپاره خطر نه لري.
- ګاما شعاع کولای شي د حشراتو او نورو افتونو په کنټرول کې مرسته وکړي
- د غذايي موادو د ليږد پر مهال د خرابېدو خطر کموي( د ترانسپورت او ذخيره کولو پروسې اسانه کوي)
- د خوراکي توکود ناپاکی خطر کموي.

- د ګاما وړانګې کولای شي چې دانسان په خوړو کې زهر توليدونکي ميکروبونه ووژني.
- د ګاما شعاع کارول د خوراکي توکو کمولو له امله د اقتصاد له پاره ګټور دي، ځکه چې دا به د خوراکي توکو د توليد او توزيع لګښتونه کم کړي.
- د ګاما شعاع د پروسې پراختيا د نوو تخنيکونو او څېړنو ته لاره هواروي چې د خوراکي موادو په ساتنه کې نوښتونه رامنځته کوي.
- د غذايي موادو ميکروبي کېدو کچه کموي او د کيفيت ساتنه يې کوي چې د انسانانو د روغتيا لپاره ګټوره ده.
- د ګاما شعاع په واسطه د غذايي موادو خفاظت د نړيوالو معيارونو سره سمون لري چې نړيوالو بازارونو ته د غذايي موادو د وړلو اسانتياوې برابروي.( Ragheb, 2009).

## د ګاما شعاع په واسطه د غذايي موادو د ساتنې ځينې زيانونه

- که چيرې په غذايي موادو کې د ګاما شعاع کچه يا وخت زيات شي، نو د ځينو غذايي توکو د طبيعي ځانګړتياوو لکه د غذايي موادو، رنګ، خوند او بوی د خرابېدو لامل کيږي.
- د مېوو او سبوو په وده کې د ګاما وړانګې اغيزې لري ( ګازرو،کچالو ،پيازو ،شلغمو، مليو) ټوکېدنه له منځه وړي.
- د ګاما شعاع ټکنالوژي کېدای شي د کارولو لپاره لومړني لګښتونه لوړ کړي چې دا د کوچنيو توليدونکو لپاره يو خنډ جوړوي.
- په ځينو هېوادونو کې د ګاما شعاع کارول محدوديتونه لري، ځيني کلتورونه يا مذهبونه د دې پروسې سره مخالفت کوي چې دا د کارونې پراختيا مخه نيسي.
- دګاما شعاع پروسې له امله د موادو ضايعات ممکن ستونزې رامنځته کوي، که چېرې د ضايع شوو موادو د پروسس لپاره مناسب تدابير نه وي.
- د ګاما شعاع کارول په ځينو موادرو کې د غذايي توکو په پرسوب يا جذب کې اغېزې لري چې د توکوو په مصرف کې ستونزې رامنځته کوي.
- د ارګانيک محصولات اکثره د کيمياوي پروسو څخه خوندي ساتل کېږي او د ګاما شعاع کارول ممکن د ارګانيک محصولاتو په خونديتوب کې ستونزې رامنځته کړي.
- که چېرې يو هېواد د ګاما شعاع پروسه ومني، نو ممکن له نورو هېوادونو سره د تجارتي اړيکو په برخه کې ستونزې رامنځته شي.
- که چېرې د ګاما شعاع پروسه د غذايي موادو ساتنې يوازينی طريقه شي، ممکن د نورو نوښتونو او تخنيکونو د پراختيا مخه به ونيسي.




(۱.۲ شکل) په کرنيزو محصولاتو کې د ګاما شعاع د ټوکيدنې درول ښيي.
https://www.sciencedirect.com/science/article/abs/pii/B9780124046993000111

## په نړۍ کې د خوړو شعاع

د غذا ساتنې د نورو مېتودونو په پرتله د ګاما شعاع مېتود د محصولاتو لپاره یو له ګټورو مېتودونو څخه دی، چې په نړۍ کې د مختلفو هېوادونو له خوا د غذايي موادو دساتنې په برخه کې د باور وړ مېتود په توګه پېژندل شوی چې لاندې انځور د نړۍ د هېوادونو د ګاما شعاع کارولو ویش ښيي.



https://en.wikipedia.org/wiki/International_Energy_Agency

(۱.۳ شکل) په نړۍ کې د خوړو شعاع ټیکنالوژۍ کارولو د ویش نقشه

هغه هیوادونه چې د سوداګریزو موخو لپاره د وړانګو ټکنالوژي کاروي.

هغه هېوادونه چې تر اوسه يې دا ټکنالوژي نه ده کارولې .

## د وړانګو نښه او په نړۍ کې د وړانګو ملاتړ کوونکي سازمانونه

مصرف کوونکي په شعوري ډول داسې محصولات غوره کوي چې له میکروبونو څخه پاک وي او د دوی روغتيا ساتلو کې اغېزمن وي. په شعاع شوي محصولاتو کې د وړانګو نړیواله نښه ( رادورا شنه نښه ) دننه کول چې د ګاما وړانګو په واسطه د غذا شعاع کول ښيي، د شعاع ورکولو شرکتونه مکلف دي چې دا نښه په خپلو شعاع شوي محصولاتو کې شامل کړي. ( رفیعی او همکاران، 2016)



(۱.۴ شکل) د ګاما شعاع په واسطه د شعاع شوي غذا سره شنه نښه کېښودل ښيي.

https://www.shutterstock.com/search/food-irradiation?image_type=vector

د متخصصانو ګډې کمیټې IAEA، FAO او WHO په 1980 م کې په رسمي توګه اعلان وکړ چې د ټولو مسایلو په پام کې نیولو سره د ګاما شعاع په خوړو کې ځانګړي تغذيي ستونزې نه رامنځته کوي. ( رفيعی او همکاران، 2016)




(۱.۵ شکل) هغه نړیوال سازمانونه چې د خوړو شعاع کولو ملاتړ کوي ښيي.

https://www.fda.gov/news-events/fda-voices/2020-fda-year-unparalleled-contributions-public-health

## موندنې او مناقشه

له دې څېړنې څخه څرګندیږي چې د ګاما شعاع په وسیله غذایي مواد صحي، بې له زیان ډېر وخت له پاره ساتل کېږي. د خوړو ساتنه او مصؤنیت د نورو کړنلارو پر اساس لکه وچول او تودوخه ورکول کې د اوبو د جذب وړتیا لوړیږي، د رطوبت سلنه کمیږي او د وزن ضایع کیدو سلنه ډېریږي. ګاما شعاع د خوراکي توکو څخه مختلفو بکتریااوو، ویروسونو او فنګسونو له منځه وړلو له پاره ډیره پرمختللې کړنلاره ده، چې د خوراکي توکو په ساتنه کې مرسته کوي، د ګاما وړانګو کارونه د غذایي توکو په کېمیاوي جوړښت او کیفیت کې کوم بدلون نه راولي، مګر د حرارتي پروسو په پرتله ډیره مهمه پروسه ده ځکه چې د غذایي توکو وزن پکې کمښت نه کوي، ګاما وړانګې د خوراکي توکو عمر زیاتوي، د ضایع کیدو کچه یې کموي او د بازار موندنې مدیریت ته یې وده ورکوي، د ګاما وړانګو د کارونې لپاره خاص ټیکنالوژي او تجهیزاتو ته اړتیا ده، چې د دې پروسې لګښتونه ممکن د ځینو تولیدونکو لپاره خنډ وي، د ګاما وړانګو په اړه د عامه پوهاوي کمزوري ددې لامل کیږي چې له امله یې د خلکو په ذهنونو کې منفي نظریات وده کوي. چې ددې اندیښنو حل لپاره د عامه پوهاوي پروګرامونه مهم دي.

ګاما وړانګې د معاصرې نړۍ د پرمختګ یوه مهمه برخه ده، چې د غذایي مصونیت او نورو برخو کې یې د پام وړ بدلونونه راوستي دي. په دې څېړنه کې د ګاما وړانګو خاصیت په واسطه د غذایي موادو د ساتنې کړنلاره باندې بحث شوی او څرګنده شوه چې د ګاما وړانګو په مرسته غذایي مواد د ناروغوونکو بکتریااوو څخه محفوظ، زیات وخت له پاره په ډېر ښه کیفیت او کمیت سره له خرابدو پرته ساتل کېږي پر ۲۰۰۵ م کال د ایم جي ساجلیټا له څېړنو څخه څرګندېږي چې د ګاما وړانګو5 ,1 – 0, 25 0kg اندازه د ممپلیو او بادامو په ذخیره باندې مضره حشرات په شدت سره کمولای شي او دغه مواد د شپږو میاشتو پورې ساتل کیږي.(حیدري او همکاران ،2017).

نن ورځ د ګاما وړانګو په اساس د غذا ساتنې ټکنالوژي د انسانا نو په ژوند کې ډېری پر مختګونه رامنځته کړي او ټول هغه لوي قدرتونه چې ځانونه د زبر ځواک په توګه معرفي کوي، له دې ټکنالوژی څخه ګټه پورته کوي. چې د هغې موثریت د انسانانو د ژوند په ټولو برخو کې خورا مهم دی، دا لومړنی معاصره کړنلاره ده، چې پرته د خوراکي توکو د وزن د کمښت څخه د خوړو خوندیتوب له پاره کارول شوې. البته باید ووایو چې په هره طریقه کې نیمګړتیاوې شته، خو که دا نیمګړتیاوې راکمې شي نو په دې برخه کې به ددې مېتودونو موثریت به په ساعت کې لا زیات معلوم شي، د ساینس پوهانو خپلواکې کمېټې موافق دي، چې ګاما وړانګې خوندي دي، که په سمه توګه وکارول شي، ورځ په ورځ به د محصولاتو ضایعات کمېږي، د خوړو حفظ الصحي کیفیت لوړیږي او د غذایي توکو په سوداګرۍ کې به ډاډ من بدلون راځي. د خوړو شعاع کول یو پرمختللی میتود دی، چې ډیری وختونه د غذایي توکو د کیفیت او خوندیتوب ښه کولو لپاره کارول کیږي، د دې میتود په کارولو سره په غذایي توکو کې د بکتریاو، ویروسونو او پرا زیتونو وده په بریالیتوب سره له منځه ځي، د غذایي توکو د خرابیدو مخنیوي کوي او د میکروبونو د ودې مخنیوي سره،سره د توکو ژوند زیاتوي او د کیفیت په ښه والي کې مرسته کوي، ګاما وړانګې د غذایي توکو په رنګ، خوند او جوړښت باندې هیڅ اغیزه نلري. مګر د غوښې فزیکي ځانګړتیاوې لکه نرمښت او جوړښت د وړانګو لخوا اغیزمن کیدای شي، چې د وړانګو ټیټ ډوز ممکن دغوښې نرمښت زیات کړي .(Ragheb, 2009)

د غذایي توکو د شعاع کولو په اړه عامه پوهاوي ته هم اړتیا لیدل کیږي، ځکه چې په ډیرو هیوادونو کې د وړانګو کارول د اندیښنې لامل ګرځیدلی دی، په عموم کې د غذایي توکو شعاع کول د خوړو د خوندیتوب او کیفیت لوړولو لپاره د باور وړ میتود دی، څرنګه چې خواړه د انسانانو له لومړنیو اړتیاوو څخه دي، باید خواړه ښه، صحي او با کیفیته وي. د ګاما وړانګو ټیکنالوژي یوه داسې ټیکنالوژي ده، چې کولی شي د میکروبونو او ناروغوونکو بکتریاو مخه ونیسي، کوم چې د خوړو کیفیت ته زیان رسوي او د خطرناکو ناروغیو لامل کیږي لکه Escherichia coli، Campylobacter jejuni، Listeria mono، Staphylococcus aureus او Salmonella. ګاما وړانګې کولی شي په ټیټ ډوز سره ځینې ناروغوونکي بکتریاوې ووژني.

د ګاما وړانګو ټیکنالوژي ډیرې ګټې لري لکه د غذایي موادو عمر زیاتوي، خواړه تازه ساتي، خواړه خپل اساسي مواد له لاسه نه ورکوي او په مستقیم ډول حفظ کیږي،

په غذايي توکو کې د میکروبونو وده د 10 k Gy دوز حد په واسطه معاینه کیږي او بیا د ګاما وړانګو په واسطه په غذايي توکو کې د میکروبونو وده له منځه وړي، د ګاما وړانګې حتی کولی شي په خوړو کې ناروغوونکي میکروبونه له منځه یوسي او د روغتیا کچه یې لوړه کړي .(Shaltout, 2024)

## پایله

له دې څېړنې څخه دې پایلې ته رسیږو چې خوراکي توکو ته د ګاما شعاع ورکول د ناروغوونکو بکتریاو له مینځه وړولو لپاره غوره ټکنالوژي ده، چې خوراکي توکي ډېر ښه او بې د کوم زیانه ډېر وخت له پاره مخفوظ ساتي. غذايي مواد د انسانانو له لومړنیو اړتیاوو څخه دي،

له خوړو پرته انسانان نه شي کولای چې خپل ژوند ته ادامه ورکړي، نو خواړه باید د کیفیت او کمیت له مخې ښه وي، په کافي اندازه ارزانه او صحي وي، چې د ګاما شعاع یې د صحي ساتنې او عمر په زیاتوالي کې ځعلنده رول لوبوي، د غذايي موادو عمر زیاتوي او دهغې دخرابېدو مخه نیسي. د غذايي توکوو ناروغوونکي میکروبونه وژني او خواړه د فزیکي او کېمیاوي اغیزو ساتي او د موادو تودوخه نه لوړوي. غذايي توکو ته د ګاما شعاع ورکول یو پرمختللی میتود دی چې د غذا ساتنې او خوندیتوب کیفیت اوکمیت لوړ وي. دې څېړنې څرګنده کړه چې ګاما وړانګې کولی شي د غذايي موادو مختلف ډولونه په ښه او صحي ډول د اوږد عمر له پاره مخفوظ و ساتي او د محصولاتو ناروغوونکي میکروبونه له منځه یوسي. د ګاما شعاع په واسطه د شعاع شوې غذايي محصولاتو د لیبل کولو مقررات شتون لري کوم، چې د خوړو په پروسه کې د ملي او نړیوالو ادارو لخوا تنظیم کیږي. نړیوال دولتي سازمانونه دغذايي توکو پیرودونکو ته د غذا د خوندیتوب او کیفیت په لوړاوي کې مهمې توصیې کوي چې د شعاع ټیکنالوژي یوه پرمختللي ټیکنالوژي ده چې د خوړو ساتنې پروسه کې پلي کیدای شي، له بیولوژیکي لید څخه ګاما شعاع کولی شي په خوراکي توکو کې ناروغونکي میکروبونه ووژني، چې 10kGy دوز د درملنې یو خوندي دوز حد دی. د ګاما شعاع ټیکنالوژي د خوراکي توکو کنټرول لپاره اسانه ، موثره او ارزانه ده او ددې وړتیا لري چې د غذايي موادو ژوند اوږد کړي او زیات وخت له پاره یې صحي او خوندي وساتي.

## وړاندیزونه

په دې څېړنه کې د ترلاسه شوو پایلو پر اساس لاندې وړاندیزونه کوو.

- د حکومتونو او اړوندو ادارو له پاره اړینه ده چې د ګاما وړانګو په واسطه د غذايي موادو د مصؤنیت په اړه جامع پالیسي جوړه کړي چې د چاپیریال ساتنې، د وګړو دروغتیا خوندیتوب او اقتصادي ګټو په نظر کې نیولو سره تنظیم شي.
- د ګاما شعاع په واسیطه د غذايي موادو د ساتنې په اړه لا نورې څېړنې ترسره کول،چې لوستونکي او د خوړو ساتنې ادارې په دې برخه کې اړین مالومات ترلاسه کړي.

## اعترافات

خوښ یم چې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون د غذايي امنیت او مصونیت ملي کنفرانس کې د ګاما وړانګو په واسطه د غذايي موادو ساتنې تر سرلیک لاندې خپله لومړنۍ مقاله لیکم په پای کې د ټولو استادانو او مسلک خاوندانو په تیره بیا د یاد پوهنتون د کنفرانس له دا پروونکي مسؤل ټیم څخه د زړه له تله مننه کوم، چې د همدې کنفرانس له لارې یې زموږ د مقالاتو د وړاندې کولو له پاره زمینه برابره کړې، همدارنګه د سیدجمال الدین افغاني پوهنتون محترمو استادانو هریو د بیولوژي څانګې کادري غړي محترم پوهنیار فضل معبود عادل څخه نهایت ډېر منندوی یم، چې د مقالې لیکنې له پاره یې هڅولې یم او دهغې په ترتیب او تنظیم کې یې را سره هر ډول مرستې کړې دي او د پښتو ژبې او ادب څانګې کادري غړي محترم پوهندوی عبدالعظیم صدیقمل څخه نړی مننه کوم

چې زما د مقالې د اکاډمیک اړخ سربیره یې د لیکنې په لیک دود او لیک نښو په سمون کې یې را څخه خپلې مرستې نه دې سپمولې او په ورین تندي یې هر ډول مثبتې مشورې راکړې دي له لوی او ښېونکي خداي (ج) څخه ورته اجر عظیم غوښتونکی یم.

## اخځلیکونه


حیدری, قیصری, یاسینی اردکانی, سیّد علی, اکرمی, & محمد زاده. (2017). بررسی اثر باریکه الکترونی بر کیفیت شیمیایی و خواص حسی گوشت شترمرغ. *طلوع بهداشت یزد*, *16*(3), 56-66.

2 .رفیعی سیدرضا, غلامی یاسمن, & افتخاری زاده احسان. (2016). افزایش ایمنی و ماندگاری مواد غذایی با استفاده از پرتودهی گاما.

3.فاطمی, عصری, یونس, نائیج, & صابره. (2016). بررسی اثرات پرتودهی گاما بر خاصیت بیولوژیک عصاره هیدروالکلی و اسانس استخراج شده از گیاه مامیران. *مجله پژوهشهای گیاهی (مجله زیست شناسی ایران)(علمی)*, *29*(3), 567-577.

مرتضوي، سیدعلي او ضیاالحق، سیدحمید رضا. (۱۳۹۴). میکروبیولوژي غذایی مدرن. انتشارات دانشگاه فردوسي مشهد: ایران.

مرتضوي، سیدعلي او همکاران. (۱۳۹۲). میکروبیولوژي مواد غذایی. انتشارات دانشگاه فردوسي مشهد: ایران.

محمدرزداری, آیت, ابراهیمی, & سیحون. (2016). تأثیر پرتودهی گاما بر روی کنترل میکروبی سه رقم سیب‌درختی. *پژوهش‌های مکانیک ماشینهای کشاورزی*, *5*(1).

محمدرزداری, آیت, ابراهیمی, & سیحون. (2016). تأثیر پرتودهی گاما بر روی کنترل میکروبی سه رقم سیب‌درختی. *پژوهش‌های مکانیک ماشینهای کشاورزی*, *5*(1).

8.نظیفي، عبدالحی او تنها، محمد رحمت الله. (۱۳۸٦). دتطبیقي هستې اساسات.کابل: کابل پوهنتون،ساینس پوهنځی،فزیک څانګه.

Akinloye, M. K., Isola, G. A., Olasunkanmi, S. K., & Okunade, D. A. (2015). Irradiation as a Food Preservation Method in Nigeria: Prospects and Problems. *Int. J. Res. Appl. Sci. Eng. Technol*, *3*(11), 85-96.

Alfarobbi, R., & Anggraini, N. (2018, May). Preservation of foodstuffs with gamma ray irradiation technology for decreasing pathogen bacteria on food and maintain sustainable food security: A review. In *3rd International Conference of Integrated Intellectual Community (ICONIC)*.

Handayani, M., & Permawati, H. (2017). Gamma irradiation technology to preservation of foodstuffs as an effort to maintain quality and acquaint the significant role of nuclear on food production to Indonesia society: A Review. *Energy Procedia*, *127*, 302-309.

Joshua Ajibola, O. (2020). An overview of irradiation as a food preservation technique. *Novel Research in Microbiology Journal*, *4*(3), 779-789.

Kebede, G., Simachew, A., Disassa, H., Kabeta, T., & Zenebe, T. (2015). Review on radiation as a means of food preservation and its challenge. *Academic Journal of Nutrition*, *4*(2), 77-83.

Ragheb, M. (2009). Food preservation by Radiation. *Urbana-Champaign, IL: University of Illinois Urbana-Champaign*, 1-19.

15 .Shaltout, F. (2024). How we can use Irradiation in Food preservation. *Hepatology*, *3*, 1.

افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# ارزیابی وضعیت امنیت غذایی خانواده‌های روستایی ولایت لوگر

فواد ناصری*۱، محمد حنیف راسخ۲، شفیق الله رحمانی۳

۱دیپارتمنت اقتصاد و توسعه زراعتی، پوهنځی زراعت، موسسه تحصیلات عالی لوگر

۲دیپارتمنت بیولوژی، پوهنځی تعلیم و تربیه، پوهنتون غزنی

۳دیپارتمنت حفاظت محیط زیست، پوهنځی محیط زیست، پوهنتون کابل

نویسنده مسول: fawadnasiri5@gmail.com

## چکیده

غذا و تغذیه به‌عنوان یکی از نیازهای اساسی جامعه بشری، نقش حیاتی در سلامت و رفاه عمومی ایفا می‌کنند. ناامنی غذایی یکی از بزرگترین چالش‌های قرن حاضر، به‌ویژه در کشورهای در حال توسعه محسوب می‌شود و اثرات زیان‌باری به همراه دارد. بر اساس گزارش برنامه جهانی غذا در سال 2021، 95 درصد از مردم افغانستان دسترسی کافی به غذا نداشته‌اند. این وضعیت نشان‌دهنده بحران عمیق ناامنی غذایی در افغانستان است. مطالعات محدودی درزمینه‌ی در کشور انجام‌شده است. از اینرو مطالعه پیشرو به هدف ارزیابی وضعیت امنیت غذایی خانواده‌ها در ولایت لوگر در سال ۱۴۰۱ انجام شد. این تحقیق از پارادایم کمی بهره گرفته است، جامعه آماری تحقیق شامل تمام باشندگان روستایی ولایت لوگر، حجم نمونه با استفاده از جدول کرجسی و مورگان 380 نفر برآورد شد و نمونه‌ها به‌صورت تصادفی ساده انتخاب شدند. ارقام ذریعه پرسشنامه معیاری، معتبر و قابل اعتماد جمع آوری شد. نتایج تحقیق نشان داد که ۶۰.۷درصد خانواده‌ها در وضعیت ناامن غذایی قرار داشتند. بر این اساس، پیشنهاد می‌شود که برنامه‌ریزان بخش‌های دولتی و خصوصی با تصمیمات هوشمندانه و مبتنی بر واقعیت‌های جامعه، اقدام به کاهش ناامنی غذایی نموده و در نتیجه، بستر توسعه پایدار سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی را فراهم کنند.

**کلیمات کلیدی**: امنیت غذایی، شاخص ناامنی غذایی ، ولایت لوگر

## مقدمه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمین، والصلاةُ والسلامُ علی رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعین، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشیطانِ الرجیم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحیم:

غذا و تغذیه به‌عنوان یکی از اساسی‌ترین نیازهای انسان، نقش کلیدی در سلامت و رفاه جامعه دارد(جعفروند و همکاران، 1401). امنیت غذایی، که به معنای دسترسی همه افراد در هر زمان به غذایی کافی، سالم و مغذی است، زیربنای توسعه پایدار و حفظ سلامت جسمی، روانی و اجتماعی افراد محسوب می‌شود (Ville et al., 2019). این مفهوم به‌ویژه در کشورهای در حال توسعه اهمیت بیشتری پیدا می‌کند، چرا که ناامنی غذایی به یکی از بزرگ‌ترین چالش‌های قرن حاضر در این کشورها تبدیل شده است (Abdullah, 2018). امنیت غذایی شرطی اساسی برای توسعه همه‌جانبه است و نبود آن می‌تواند تأثیرات مخربی بر سلامت، اقتصاد و رفاه جامعه داشته باشد. دولت‌ها، جامعه علمی و خانواده‌ها، سه بازیگر اصلی در تحقق امنیت غذایی هستند. دولت‌ها از طریق سیاست‌گذاری، سرمایه‌گذاری و اجرای برنامه‌ها، جامعه علمی با تولید دانش و فناوری‌های مرتبط، و خانواده‌ها به‌عنوان کوچک‌ترین واحد جامعه با انتخاب و مدیریت تغذیه، نقش مهمی در این حوزه ایفا می‌کنند (Chegini et al., 2021).

افغانستان، یکی از کشورهای در حال توسعه، با چالش‌های جدی در حوزه امنیت غذایی روبه‌رو است. بر اساس گزارش برنامه جهانی غذا[1] در سال 2021، 95 درصد از مردم این کشور دسترسی کافی به غذا نداشته‌اند(WFP, 2021). و در شاخص جهانی

[1] World Food Program

گرسنگی[2] از بین 121 کشور در رتبه 109 قرار گرفته است(GHI, 2021). این وضعیت نشان‌دهنده بحران عمیق ناامنی غذایی در افغانستان است. پیامدهای این بحران شامل سوءتغذیه، افزایش مرگ‌ومیر، کوتاه‌قدی و کم‌وزنی کودکان است که می‌تواند سلامت و توسعه پایدار نسل‌های آینده را به شدت تهدید کند (Suvasish et al., 2024; Sadat et al., 2023; Najam et al., 2023; Saif Nijat et al., 2023).

در زمینه امنیت غذایی، تحقیقات متعددی در کشورهای مختلف انجام شده است که به تأثیر عوامل مختلف بر امنیت غذایی پرداخته‌اند.

حسینی و همکاران (1392) در مطالعه‌ای اثر حمایت از بخش زراعت بر امنیت غذایی در ایران را بررسی کردند. آنان با استفاده از شاخص AHFSI[3] و مدل VECM[4] نشان دادند که هر یک درصد افزایش در حمایت از بخش زراعت، بهبود 0.005 درصدی در شاخص امنیت غذایی ایجاد می‌کند. همچنین، حسینی و همکاران (1395) تأثیر سیاست‌های حمایتی دولت از مصرف‌کنندگان و تولیدکنندگان را بر امنیت غذایی تحلیل کردند و دریافتند که افزایش یک درصدی حمایت از این گروه‌ها به ترتیب موجب افزایش 0.06 و 0.01 درصدی شاخص امنیت غذایی می‌شود.

Bidisha et al., 2017 در تحقیق خود روی خانواده‌های بنگلادشی نشان دادند که دریافت اعتبارات موجب افزایش معنادار سطح امنیت غذایی خانواده‌ها می‌شود. علاوه بر این، عواملی مانند درآمد خانواده، سطح سواد و مالکیت زمین تأثیر مثبت بر امنیت غذایی داشتند. در مقابل، سکونت در مناطق روستایی و برخی ویژگی‌های سرپرست خانواده، مانند تحصیلات پایین، اثر منفی بر امنیت غذایی داشتند.

Bhalla et al.,2018 در زمبابی نشان داد که عواملی مانند تحصیلات سرپرست خانواده، بهره‌وری سرمایه‌گذاری و درآمد حاصل از تولید محصولات زراعی، تأثیر مثبت بر امنیت غذایی داشتند. در مقابل، عواملی همچون شوک‌های اقتصادی و کاهش درآمد ماهیانه اثر منفی بر امنیت غذایی داشتند.

در کشور، چند تحقیق انگشت شماری به بررسی ناامنی غذایی پرداخته‌اند که در زیر به آن اشاره می‌شود.

Saif Nijat et al., 2023 به تحلیل ارتباط بین کیفیت زندگی و ناامنی غذایی در خانواده‌های افغان پیش و پس از تغییرات سیاسی اخیر پرداختند. نتایج نشان داد که پس از تسلط دوباره امارت اسلامی بر بخش عمده‌ای از افغانستان، 98 درصد از خانواده‌ها با ناامنی غذایی مواجه بودند، در حالی که پیش از آن این رقم 70 درصد بود.

Sadat et al., 2023 نیز در مطالعه‌ای مشابه به عوامل مرتبط با امنیت غذایی در خانواده‌های افغان پیش و پس از امارت اسلامی افغانستان پرداختند. نتایج این مطالعه نشان داد که پس از تصرف امارت اسلامی افغانستان ، هم شیوع و هم شدت ناامنی غذایی افزایش یافته است و شرایط سیاسی و اقتصادی تأثیر زیادی بر ناامنی غذایی داشته است.

Najam et al., 2023 در تحقیق خود به بررسی مؤلفه‌های اجتماعی ناامنی غذایی در خانواده های روستایی تحت امارت اسلامی افغانستان پرداختند. نتایج نشان داد که خانواده های سرپرست زن احتمال بیشتری برای داشتن ناامنی غذایی شدید داشتند و عواملی چون تحصیلات رسمی سرپرست خانواده ، فعالیت‌های زراعت و درآمد خانواده به نسبت هر نفر، به کاهش احتمال ناامنی غذایی شدید منجر شده بود.

این مطالعات نشان می‌دهند که عوامل اقتصادی، اجتماعی و سیاسی به‌طور قابل توجهی بر امنیت غذایی تأثیر می‌گذارند. با این حال، تحقیقات جامع و مستقلی در ولایت لوگر در این زمینه انجام نشده است. تحقیق حاضر با هدف پر کردن این شکاف علمی و ارائه تصویر دقیق‌تری از وضعیت امنیت غذایی در این منطقه انجام شد تا به تصمیم‌گیری‌های بهینه و سیاست‌گذاری‌های مؤثر کمک کند.

مواد و روش کار این تحقیق به‌منظور بررسی وضعیت امنیت غذایی خانواده‌ها در ولایت لوگر طراحی و اجرا گردید. این تحقیق از پارادایم کمی بهره گرفته است، ازنظر محدوده زمانی، این تحقیق در طی سال‌های 1400-1401 هم‌زمان با فروپاشی نظام جمهوریت و روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان به انجام رسیده است.

| 41 | تخار | 1,194,898 | 358,469 | 30% | 537,704 | 45% | 238,980 | 20% | 59,745 | 5% | 0 | 0 |
| 42 | تالقان | 305,984 | 122,394 | 40% | 91,795 | 30% | 61,197 | 20% | 30,598 | 10% | 0 | 0 |
| 43 | ارزگان | 598,762 | 89,814 | 15% | 209,567 | 35% | 239,505 | 40% | 59,876 | 10% | 0 | 0 |
| 44 | وردک | 906,573 | 135,986 | 15% | 317,301 | 35% | 317,301 | 35% | 135,986 | 15% | 0 | 0 |
| 45 | زابل | 527,734 | 131,934 | 25% | 211,094 | 40% | 158,320 | 30% | 26,387 | 5% | 0 | 0 |
| 46 | مجموع | 43,100,596 | 10,130,341 | 24% | 15,756,673 | 36% | 13,854,267 | 32% | 3,359,317 | 8% | 0 | 0 |

منبع: IPC Integrated Food Security Phases Classification

**جدول ۲** تحلیل عدم مصونیت غذایی حاد در افغانستان سال May & March 2022

| شماره | ولایت | تعداد نفوس | فاز 1 حد اقل Minimal | | فاز 2 تحت فشار Stressed | | فاز 3 بحران Crisis | | فاز 4 اضطرار Emergancy | | فاز 5 فاجعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | تعداد | فیصد | تعداد | فیصد | تعداد | فیصد | تعداد | فیصد | تعداد | % |
| 1 | بدخشان | 1,401,209 | 140,120 | 10% | 490,423 | 35% | 420,363 | 35% | 350,303 | 20% | 0 | 0 |
| 2 | بادغیس | 730,566 | 146,113 | 20% | 219,170 | 30% | 219,170 | 30% | 146,113 | 20% | 0 | 0 |
| 3 | بغلان | 1,077,131 | 323,139 | 30% | 430,852 | 40% | 215,426 | 20% | 107,714 | 10% | 0 | 0 |
| 4 | پلخمری | 271,631 | 81,489 | 30% | 108,652 | 40% | 54,326 | 20% | 27,164 | 10% | 0 | 0 |
| 5 | بلخ | 1,356,012 | 203,402 | 15% | 474,604 | 35% | 406,804 | 30% | 271,202 | 20% | 0 | 0 |
| 6 | مزارشریف | 650,163 | 65,016 | 10% | 260,065 | 40% | 227,557 | 35% | 97,525 | 15% | 0 | 0 |
| 7 | بامیان | 658,750 | 164,688 | 25% | 197,625 | 30% | 197,625 | 30% | 98,812 | 15% | 0 | 0 |
| 8 | دایکندی | 686,593 | 137,319 | 20% | 171,648 | 25% | 240,308 | 35% | 137,318 | 20% | 0 | 0 |
| 9 | فراه | 748,435 | 224,531 | 30% | 261,952 | 35% | 187,109 | 25% | 74,843 | 10% | 0 | 0 |
| 10 | فاریاب | 1,295,551 | 129,555 | 10% | 453,443 | 35% | 453,443 | 35% | 259,110 | 20% | 0 | 0 |
| 11 | میمنه | 178,951 | 35,790 | 20% | 62,633 | 35% | 53,685 | 30% | 26,843 | 15% | 0 | 0 |
| 12 | غزنی | 1,811,190 | 362,238 | 20% | 724,476 | 40% | 543,357 | 30% | 181,119 | 10% | 0 | 0 |
| 13 | غور | 1,016,220 | 152,433 | 15% | 355,677 | 35% | 254,055 | 25% | 254,055 | 25% | 0 | 0 |
| 14 | لشکرگاه | 1,803,182 | 306,616 | 20% | 540,925 | 30% | 631,079 | 35% | 324,562 | 15% | 0 | 0 |
| 15 | هلمند | 119,410 | 23,882 | 20% | 417,935 | 35% | 35,823 | 30% | -358,230 | 15% | 0 | 0 |
| 16 | هرات | 2,074,221 | 414,844 | 20% | 725,977 | 35% | 622,266 | 30% | 311,134 | 15% | 0 | 0 |
| 17 | مرکزهرات | 771,395 | 115,709 | 15% | 308,558 | 40% | 231,419 | 30% | 115,709 | 15% | 0 | 0 |
| 18 | جوزجان | 637,862 | 95,679 | 15% | 255,145 | 40% | 159,466 | 25% | 127,572 | 20% | 0 | 0 |
| 19 | شبرغان | 162,493 | 24,374 | 15% | 56,873 | 35% | 48,748 | 30% | 32,498 | 20% | 0 | 0 |
| 20 | کابل | 1,006,843 | 201,369 | 20% | 302,053 | 30% | 352,395 | 35% | 151,026 | 15% | 0 | 0 |
| 21 | مرکزکابل | 5,911,781 | 1,182,356 | 20% | 1,773,534 | 30% | 2,069,123 | 35% | 886,768 | 15% | 0 | 0 |
| 22 | قندهار | 1,158,551 | 231,710 | 20% | 347,565 | 30% | 405,493 | 35% | 173,783 | 15% | 0 | 0 |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 23 | مرکزقندهار | 701,944 | 140,389 | 20% | 245,680 | 35% | 175,486 | 25% | 140,389 | 20% | 0 | 0 |
| 24 | کاپیسا | 640,102 | 129,820 | 20% | 227,186 | 35% | 194,731 | 30% | 88,365 | 15% | 0 | 0 |
| 25 | خوست | 846,134 | 169,227 | 20% | 338,454 | 40% | 253,840 | 30% | 84,613 | 10% | 0 | 0 |
| 26 | کنر | 663,847 | 132,769 | 20% | 232,346 | 35% | 232,346 | 35% | 66,386 | 10% | 0 | 0 |
| 27 | قندز | 1,256,451 | 188,468 | 15% | 565,403 | 45% | 376,935 | 30% | 125,645 | 10% | 0 | 0 |
| 28 | مرکزقندز | 254,549 | 50,910 | 20% | 89,092 | 35% | 76,365 | 30% | 38,182 | 15% | 0 | 0 |
| 29 | لغمان | 655,998 | 98,400 | 15% | 229,599 | 35% | 229,599 | 35% | 98,400 | 15% | 0 | 0 |
| 30 | لوگر | 577,418 | 173,225 | 30% | 173,225 | 30% | 173,225 | 30% | 57,743 | 10% | 0 | 0 |
| 31 | ننگرهار | 1,896,240 | 379,248 | 20% | 663,684 | 35% | 568,872 | 30% | 284,436 | 15% | 0 | 0 |
| 32 | جلال آباد | 365,844 | 73,169 | 20% | 146,338 | 40% | 73,169 | 20% | 73,168 | 20% | 0 | 0 |
| 33 | نیمروز | 244,000 | 36,600 | 15% | 85,400 | 35% | 73,200 | 30% | 48,800 | 20% | 0 | 0 |
| 34 | نورستان | 217,760 | 32,664 | 15% | 65,328 | 30% | 76,216 | 35% | 43,552 | 20% | 0 | 0 |
| 35 | پکتیکا | 1,030,877 | 103,088 | 10% | 412,351 | 40% | 360,807 | 35% | 154,631 | 15% | 0 | 0 |
| 36 | پکتیا | 813,474 | 162,695 | 20% | 366,063 | 45% | 203,369 | 25% | 81,347 | 10% | 0 | 0 |
| 37 | پنجشیر | 225,884 | 67,765 | 30% | 79,059 | 35% | 56,471 | 25% | 22,589 | 10% | 0 | 0 |
| 38 | پروان | 980,635 | 245,159 | 25% | 392,254 | 40% | 196,127 | 20% | 147,095 | 15% | 0 | 0 |
| 39 | سمنگان | 572,253 | 85,838 | 15% | 200,289 | 35% | 171,676 | 30% | 114,450 | 20% | 0 | 0 |
| 40 | سرپل | 825,504 | 123,826 | 15% | 330,202 | 40% | 247,651 | 30% | 123,825 | 15% | 0 | 0 |
| 41 | تخار | 1,340,926 | 268,185 | 20% | 402,278 | 30% | 469,324 | 35% | 201,139 | 15% | 0 | 0 |
| 42 | تالقان | 112,133 | 11,213 | 10% | 39,247 | 35% | 39,247 | 35% | 22,426 | 20% | 0 | 0 |
| 43 | ارزگان | 579,684 | 86,953 | 15% | 231,874 | 40% | 144,921 | 25% | 115,936 | 20% | 0 | 0 |
| 44 | وردک | 877,678 | 131,653 | 15% | 307,190 | 35% | 263,306 | 30% | 175,529 | 20% | 0 | 0 |
| 45 | زابل | 510,919 | 102,184 | 20% | 153,276 | 30% | 178,822 | 35% | 76,637 | 15% | 0 | 0 |
| 46 | مجموع | 41,727,303 | 7,451,417 | 18% | 14,625,723 | 35% | 13,036,410 | 31% | 6,613,753 | 16% | 0 | 0 |

منبع: IPC Integrated Food Security Phases Classification

## ریشه یابی عوامل کلیدی بحران غذایی افغانستان در سال‌های 2021 و 2022

### 1: سقوط اقتصادی

با مسدود ماندن ذخایر مالی خارجی، بحران‌های پولی، تجارتی و بانکی و تعلیق کمک‌های انکشافی، کاهش سریع کمک های مالی بین المللی، عدم دسترسی به دارایی ها، عدم ارتباطات مالی با سایر کشور ها و تأثیر بحران اوکراین منجر به تورم اقتصادی، افزایش فقر و بی ثباتی، افزایش نرخ بیکاری و بلند رفتن قیمت مواد غذایی شد. بر اساس طلاعات جمع آوری‌شده بین 30 ژون و 4 سپتامبر 2022، بیش از نیمی از خانواده ها گزارش کردند که در شش ماه گذشته شوک اقتصادی را تجربه کرده‌اند که این بیشتر در مناطق جنوبی متمرکز است. و نزدیک به 90 فیصد خانواده ها گزارش داده اند که به غذا دسترسی محدود دارند. که این امر باعث شده که حدود 75 فیصد از آنها برای تامین نیازهای غذایی خود به قرضه متوسل شوند. در ماه جولای 2022، قیمت کود کیمیاوی و قیمت هر لیتر تیل دیزل در مراکز 34 ولایت بیش از 100 فیصد بیشتر از سال 2021 افزایش را نشان میدهد. با این وجود، در ماه جنوری سال 2023، 6 فیصد قیمت مواد غذای بیشتر از سال قبل باقی ماند. در عین حال، درآمد ماهانه خانواده ها در تمام طبقات جمعیتی بین سال های 2021 تا 2022، 17 فیصد کاهش یافته است. بر اساس گزارش NSIA[13] نرخ تورم در سال 2022 به طور متوسط 13.7 فیصد بوده و تا پایان سال به 5.2 فیصد کاهش یافته است(GRFC, 2023).

### 2: شرایط آب و هوا و خشک سالی ها

از ماه دسمبر سال 2022، افغانستان اولین بار از سال 1998 تا 2001 تأثیر سه گانه لانینیا14(La Nina) را تجربه کرد. نسبت خانواده های که خشکسالی هارا تجربه کردند، شش برابر بیشتر از سال 2020 بوده است. تجزیه و تحلیل انجام شده با استفاده از چارچوب تحلیل مشترک (JIAF[15]) نشان می دهد که 25 ولایت از 34 ولایت افغانستان شرایط خشکسالی شدید یا فاجعه بار را تجربه کرده اند که بیش از 73 فیصد آنها خانواده های روستایی و 24 فیصد آنها خانواده های شهری می باشند. سیل های غیر فصلی بین ماه های جولای و سپتامبر سال2022 در 21 ولایت در مناطق جنوبی و جنوب شرقی، وضعیت معیشتی مردم را مختل کرد و به محصولات زراعتی خسارات هنگفت وارد کرد. از اواخر ماه فبروری، آب برف در ارتفاعات شمال شرق و مرکز کشور کمتر از حد نورمال بود. و همچنان سرمای شدید به زمین های زراعتی در ولایت بدخشان آسیب رساند و باعث تلفات حیوانات دامی شد. کم شدن میزان بارندگی کمتر از حد متوسط در طول فصل مرطوب (2021 و 2022) همراه با بلند رفتن مصارف عوامل تولید زراعتی مثل (تخم و کود) باعث کم شدن سطح کشت گندم زمستانی شد که احتمالاً برداشت گندم 7-13 فیصد از حد اوسط کمتر شد(AFIA, 2022 ) .

### 3: افزایش قیمت مواد غذایی

اطلاعات که WFP بطور ماهانه از نظارت بازار در ماه (اپریل 2022) انجام داده نشان می دهد که در مقایسه با ماه ژون سال 2021، قیمت گندم 45 فیصد، آرد گندم 49 فیصد، برنج 20 درصد، روغن پخت و پز 32 فیصد، حبوبات 23 فیصد و بوره 25 فیصد افزایش یافته است. بلند رفتن قیمت محصولات غذایی همراه با کم شدن درآمد 97 فیصد کل جمعیت، بر قدرت خرید مردم تأثیر منفی گذاشته است(AFIA, 2022). افزایش قیمت شکر در ماه می سال 2023 به دلیل کمبود عرضه ادامه یافت و طی 12 هفته متوالی افزایش قیمت ثبت شد. بر اساس اطلاعات دریافتی از کارخانه های آردسازی محلی یا(آسیاب)، اوسط قیمت آرد گندم در بازارهای محلی در ماه می 390 دالر آمریکای در هر تن بود که در مقایسه با ماه اپریل تقریباً 10 دالر در هر تن کاهش یافته است. این کاهش عمدتاً ناشی از افزایش عرضه به دلیل فصل برداشت گندم و واردات اضافی از قزاقستان است(WFP, 2023).

### 4: آفات طبیعی

افغانستان در حال ورود به سومین سال متوالی خشکسالی است که با الگوهای بی‌نظم بارندگی، بارندگی های در فصل تابستان و کاهش پوشش برف در فصل زمستان، که منجر به تغییر الگوی سیل های تاریخی شده و زراعت کشور را در وضعیت وخیم قرار

---

[13] National Statstics and Information Authority

[14] لانینیا وضعیتی است که در آن، قسمت مرکزی و شرقی استوایی اقیانوس آرام، آب سرد تر از حالت طبیعی می شود و هر سه تا هفت سال اتفاق می افتد(ویکی پیدیا)

[15] Joint Intersectoral Analysis Framework

داده است. افغانستان کشوریست که با زلزله مستعد است و سه زلزله بزرگ در سال 2022 باعث تلفات جانی و مالی در ولایت بادغیس، پکتیکا، خوست، کنر و در هرات شد. در ماه جولای سال 2022 در نه ولایت افغانستان از جمله غزنی، لوگر، کنر، لغمان، ننگرهار، نورستان، پکتیا، پروان و وردک، باران شدیدی غیر فصلی جاری شد. و این باران های شدید باعث جاری شدن سیلاب ها در این ولایات شد. طبق گزارش OCHA[16]، مهمات منفجر نشده نیز به دلیل سیل در پکتیا جابجا شده است که خطر انفجارهای تصادفی را در این منطقه افزایش می دهد ( AFIA, 2022). اخیرا در ماه جون سال 2023 سیلاب ویرانگر بخش در ولسوالی های چک، جلریز،سید آباد، و میدان شهر مرکز ولایت میدان وردک تلفات جانی و مالی در پی داشت.

**5: بیجا شده گان**

در نیمه اول سال 2022 افغانستان حدود 5.89 میلیون نفر بیجا شده گان داخلی داشت. حدود 1.4 میلیون نفر در سال 2021 و 0.4 میلیون نفر دیگر در چهار ماه اول سال 2022 بیجا شدند. بیش از یک سوم از بیجا شده گان داخلی توسط خانواده های نزدیک شان میزبانی می شوند، فقط کمتر از یک سوم دیگر از خانه های کرایی استفاده می کنند. و حدود 5 فیصد این افراد در سکونت گاه های غیررسمی موقتی زندگی می کنند. خانواده های بیجا شده، به ویژه در مناطق شهری، بخاطر پرداخت کرایه خانه مشکل دارند و به خدمات ابتدایی دسترسی ندارند. و بعضی خانواده ها برای سکونت سرپناه ندارند و در نتیجه در سکونت گاه های موقتی با پایین ترین امکانات زندگی میکنند. بر اساس ارزیابی نیازهای جامعه اضطراری IOM17، 2.85 میلیون خانواده بیجاشد داخلی قرضدار هستند و 69 فیصد این خانواده ها نمی توانند نیاز های غذایی اولیه خود را تامین بکنند. تقریبا 81 فیصد از این خانواده های بیجا شده خود شان سرپرست خانواده هستند، و نمیتوانند حوایج و ضروریات اولیه خود را تامین کنند( AFIA, 2022).

**6: بازگشت کننده گان**

بهبود وضعیت امنیتی، بیجاشدگان خارجی را که به دلیل درگیری ها بیجا شده بودند، تشویق کرد تا به کشور خود شان بازگردند. از دست دادن دارایی ها، فرصت‌های معیشتی، تبعیض جنسیتی و از دست دادن شبکه‌های حمایت از خانواده، آنها را با چالش ها و مشکلات فراوان مواجه می کند. طی سه ماه اول سال 2022 پناهجویان افغان از کشور ایران اخراج شدند. 54 فیصد خانواده-های عودت کرده سرپناه ندارند، 32 فیصد آنها شغل های خود را از دست داده اند، 26 فیصد آنها زمین های خود را از دست داده اند. بنابر یافته های،WoAA[18] خانواده های بازگشت کننده با کمبود آب صحی و کافی مواجه اند. و برای دسترسی به خدمات صحی با مشکلات فراوان روبرو هستند، به طوری که 24 فیصد آنان در سه ماه قبل به یک مرکز صحی فعال دسترسی نداشتند(AFIA, 2022).

**7: تغذیه**

بیش از 4 میلیون کودک و زن تا ماه اپریل سال 2023 نیاز به درمان فوری سوی تغذی حاد داشتند. علاوه بر این، بیش از 800,000 زن باردار و شیرده از سوء تغذیه حاد رنج می برند و نیاز به درمان فوری داشتند. طی ماه سپتامبر تا اکتوبر سال 2022، دو ولایت (بدخشان و پکتیکا) در وضعیت بحرانی (فاز IPC 4) طبقه بندی شدند. و در طول فصل زمستان ماه نوامبر سال 2022 تا ماه اپریل سال 2023، انتظار می رفت که وضعیت بدتر شود، یعنی ممکن نیمی از ولایات کشور با سطوح بحرانی سوء تغذیه حاد مواجه می‌شدند. شیوع سوء تغذیه حاد در میان PLW[19](زنان بار دار شیرده) از 3.8 فیصد تا 50 فیصد بود که نشان دهنده وضعیت هشدار دهنده تغذیه است. در 19 ولایت کشور ، بیش از 20 فیصد خانم های باردار شیر ده تغذیه بسیار ضعیف و ناچیز دارند. گذارشات نشان دهنده کوتاه قدی میان اطفال زیر 5 سال است( AFIA, 2022 ).

## راه حل ها

کمک های غذایی پایدار برای نجات جان و معیشت جمعیت که در فاز 4 (اضطراری) و فاز 3 (بحران) قرار دارند مورد نیاز است. ولایات بسیار آسیب پذیر مثل بدخشان، غور و دایکندی باید برای افزایش HFA اولویت بندی شوند. بنابراین، نظارت بر وضعیت و اجرای فعالیت هایی که به کاهش تأثیر منفی بالقوه بر معیشت زندگی مردم‌کمک می‌کند و ادامه کمک های بشردوستانه

United Nation Office Cordination of Humanitarain Affairs[16]
International Organization Migration [17]
Women Of Aeronautics And Astronautics[18]
Prignante lactic women[19]

غذایی برای جلوگیری از انتقال آنها به مراحل بالاتر بسیار مهم است. کمک های غذایی باید سطح زندگی مردم را ارتقا ببخشد، تا از تلفات جانی جلوگیری کند و از بازسازی سیستم های غذایی و بازار محلی حمایت صورت گیرد. برای جلوگیری از کاهش دارایی های دامی باید از دامداران کوچک و متوسط، به ویژه زنان دامدار حمایت شود. این به کاهش سوء تغذیه در زنان و کودکان کمک می کند. میتواند سازمان ملل متحد با افزایش بودجه، تلاش و حمایت های بشر دوستانه برای جلوگیری از قحطی برنامه جهانی غذا و سازمان های در حال کار برای جلوگیری از قحطی از 50 میلیون نفر که در 45 کشور زندگی میکنند و از آنجمله بدترین شرایط در افغانستان، فلسطین، اتیوپی، سومالی، سودان جنوبی و یمن وجود دارد، جایی که درگیری ها سیستم های غذایی را ویران کرده است استفاده نماید( AFIA, 2022; Gautam, 2023 ).

روی دهاقین که در سطح کوچک تولید دارند(خرده مالکان) سرمایه گذاری شود، این دسته از دهاقین ستون فقرات جوامع روستایی را تشکیل می دهند، و با تولیدات کوچک که دارند نیاز های ابتدایی مردم روستا و بعضی نقاط شهرها را پوره میکنند، و این دهاقین در افغانستان با مشکلات جدی مواجه اند و بعضی آنها برای ادامه حیات شان دست به فروش جایداد های خود از جمله زمین های شان می زنند، و این امر باعث میشود که جمعیت روستایی و شهری به گرسنگی و قحطی مواجه شوند. دولت و سایر نهادهای سرمایه گذار باید به این دهاقین سبسایدی ها ایجاد کند خواه با ارائه مستقیم عوامل تولید ضروری، امکان دسترسی به کمک های بلاعوض و قرضه های موتاه مدت، یا سرمایه گذاری در اصلاحات سیستم های زراعتی که دهاقین را در برابر شوک‌ها انعطاف پذیرتر کند.

باید از ضایعات محصولات زراعتی و مواد غذایی جلوگیری بعمل آمده و در هر زون کشور سرد خانه های مدرن و استندرد با شرایط محصولات زراعتی ساخته شود تا محصول که در یک فصل تولید می شود در فصول دیگر هم به مناسب ترین قیمت به دست مصرف کننده برسد(AFIA, 2022).

سرمایه گذاری در نوآوری هایی مانند هیدروپونیک که به جوامع اجازه می‌دهد در سخت ترین شرایط رشد کنند، بفروشند و غذا ذخیره کنند(OECD, 2012). بازسازی زیربناها از جمله بندهای آب برای آبیاری زمین های زراعتی، باز سازی راه های مواصلاتی حتی در دور ترین نقاط کشور(IMF, 2022). ایجاد زمینه کار برای عودت کننده گان و نسل جوان تا اینکه به مهاجرت روی نیاورند. موسسات بشردوستانه باید با جامعه بین المللی برای حمایت از توسعه برای احیای اقتصاد در همه بخش ها حمایت کنند از جمله آزاد سازی پول های مسدود شده افغانستان در بانگ جهانی(Gautam, 2023). بناء پایدار سازی اقتصاد افغانستان برای رفاه مردم ضروری است زیرا به افزایش اشتغال کمک می کند. دولت باید در راستای مدیریت آب پلان های استراتیژیک بسازد تا از آب که در داخل کشور موجود است به شکل وافر دهاقین استفاده کند و به قلت و کمبود آب مواجه نشوند( IDA, 2020).

در بخش تحقیقات علمی، مطالعات کمی در افغانستان رابطه به چگونگی اوضاع سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و محیطی صورت گرفته است تا اساتید، دانشجویان، قانون گذاران، برنامه ریزان بتوانند در سطوح ملی و بین المللی برای داشتن آینده مرفه برای ساکنان این سرزمین طرح ریزی کنند(Gautam, 2023).

## نتیجه گیری

با استناد از اطلاعات جمع آوری شده می توان چنین استنباط کرد که خشکسالی های دوامدار،آفات طبیعی، درگیری های خانمانسوز، ویروس Covid-19، افزایش قیمت ها در سطح دنیا و تغییرات اقلیمی همه عواملی اند که جمعیت انبوه از کشور های کم درآمد را تحت تاثیر قرار داده و بحران غذایی را در میان آنها تشدید کرده است. افغانستان با داشتند منابع طبیعی وافر و نیروی بشری جوان جز فقیر ترین کشور های جهان محسوب می شود. قبل از به قدرت رسیدن امارت اسلامی در افغانستان، مردم این کشور با مشکلات متعدد دست و پنجه نرم می کردند، وضعیت بد امنیتی، فقر و گرسنگی بی‌داد میکرد، و سالانه هزاران جوان این سرزمین به دلایل مختلف دست به مهاجرت میزدند. اقتصاد افغانستان با چالش مواجه شد، فعالیت های تجاری و بانکی متوقف شد، دارایی های افغانستان توسط ایالات متحده امریکا مسدود شد، بودجه کمک های بشری کم شد، در نتیجه مردم در یک بحران شدید غذایی قرار گرفتند. و عوامل که در تشدید این بحران سهم بارز داشتند عبارت اند از: شوک های اقتصادی، خشکسالی ها، بلند رفتن قیمت مواد غذایی، جنگ روسیه و اوکراین، آفات طبیعی، آفات و امراض حیوانات دامی وغیره می باشند. امارت اسلامی تا اکنون توسط کشور های جهان به رسمیت شناخته نشده است، اما فعالیت های تجاری میان کشور های

جهان و افغانستان وجود دارد. راه حلهای که در این تحقیق بدست آمده است عبارت از حمایت بشردوستانه بین المللی از مردم افغانستان، آزاد سازی پول مسدود شده در بانگ جهانی، سرمایه گذاری روی سکتور خصوصی، حمایت از دهاقین کوچک، بازسازی زیربناها، تشویق و ترغیب محققین برای انجام دادن تحقیقات علمی در تمامی موارد مورد نیاز برای تصمیم گیری در کشور و غیره موارد که در تحلیل و تجزیه تشریح گردیده است.

## سپارشات:

1. بالای دهاقین که در سطح کوچک تولید دارند(خرده مالکان) سرمایه گذاری شود، این دسته از دهاقین ستون فقرات جوامع روستایی را تشکیل می دهند.
2. زیربناها بازسازی شود خصوصاً ذخیره گاه های مناسب برای نگهداری و پروسس محصولات زراعتی.
3. تحقیقات علمی بگونه وسیع انجام شود و حمایت همه جانبه از محققین صورت گیرد.
4. آب‌های کشور مدیریت شود و از بندهای اعمار شده بصورت درست بهره‌برداری صورت گیرد.

## منابع و مأخذها


Apriliyati, D., & Pasan, E. (2024). The United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA) Humanitarian Response Plan in Handling the Afghanistan Food Crisis. Papua Journal of Diplomacy and International Relations, 4(1), 29-48

Afghanistan Agriculture and Economic Growth Fact Ssheet. (2023) pp, 1-3.

Aydın-kandemir, F., & Yıldız, D. (2023). Assessment of growing water and food security crises in Afghanistan. International Journal of Water Management and Diplomacy, 1(6), 5-28.

Cook-Pellegrin, K. (2022). Hunger in Conflict: A Quantitative Analysis of the Effects of Armed Conflict on Food Security in West Africa and Afghanistan (Master's thesis, Harvard University).

Food and Agriculture Organization (FAO), Afghanistan Humanitarian Respons Plane. (2023).

FAO, Impact of the Ukraine-Russia conflict on global food security. (2022), PP 2-6.

Frankenberger, T. R., & Verduijn, R. (2011). Integrated Food Security Phase Classification (IPC). Rome: The Food and Agriculture Organization of the United Nations.

FAO, Policy Brief. (2006). Food Security, pp 1-3.

Faizi, M. S., Man, N., Akbari, P., & Ahmadzai, K. M. (2023). Perception Level of Community Members Towards the Roles of Local Leaders in Community Development Decision-Making in Bamyan, Afghanistan. Journal of Rural Development, 42(3), 218-233.

Global Report Food Crisis, Food Security Information Network. (2023), PP 7,8,12,64,68.

Humanitarian Needs Overview Afghanistan. (2023). Humanitarian Program Cycle. 2-6.

Integrated Phases Food Security Classification (IPC), Acute Food Insecurity Analysis (AFIA). (2022), PP 1-14.

International Development Association (IDA). (2020). Responding to the Emerging Food Srcurity Crisis.

International Monetary Fund (IMF). (2022). Tackling The Global Food Crsis Impact, Policy response, and the role of the IMF.

Karimi, D. M., Bayrac, A., & Kahraman, A. (2024). Financial development and sustainable agriculture: Perspective on Afghanistan. Assoc. Prof. Dr. Gülşah Bengisu. IKSAD Publishing House, Ankara, Turkey. Pp, 3-43.

Organization for Economic Co-operation and Development (OECD). (2012). Food Crisis Prevention and Management.

Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). (2023). Overview of the Humanitarian Response in Afghanistan.

Observer Research Foundation (ORF). (2021). The Crisis of Food Insecurity in Afghanistan.

Oskorouchi, H. R., & Sousa-Poza, A. (2021). Floods, food security, and coping strategies: Evidence from Afghanistan. Agricultural Economics, 52(1), 123-140.

Ahmadzai, H., & Morrissey, O. (2024). Climate Shocks, Household Food Security and Welfare in Afghanistan. Centre for Research in Economic Development and International Trade, University of Nottingham.

Becvar, K., Carpenter, C., Leidner, B., & Young, K. L. (2024). The "First daughter" effect: Human rights advocacy and attitudes toward gender equality in Taliban-controlled Afghanistan. Plos one, 19(7), e0298812.

Fu, Y. H. (2024). Afghanistan Under the Taliban Rule: Security Threats and Regional Response. In The Uncertain Future of Afghanistan: Terrorism, Reconstruction, and Great-Power Rivalry (pp. 63-79). Singapore: Springer Nature Singapore.

Gautam, Y. (2023). Understanding and addressing poverty and food insecurity in Afghanistan. CMI Insight.

Vahidirad, M. (2022). World war II on iranIran's agricultural policy during the occupation of Iran in World War II. Tārīkh-i Īrān, 15(2), 223-244.

Nandy, D. (2024). Human Security and Livelihood in Afghanistan. In Human Security in Asia: Interrogating State, Society, and Policy (pp. 229-251). Singapore: Springer Nature Singapore.

Rajmil, D., Morales, L., Aira, T., & Cardona Valles, M. (2022). Afghanistan: a multidimensional crisis. Peace Review, 34(1), 41-50.

Safi, L., Mujeeb, M., Sahak, K., Mushwani, H., & Hashmi, S. K. (2024). Climate change impacts and threats on basic livelihood resources, food security and social stability in Afghanistan. GeoJournal, 89(2), 85.

Safi, L. (2024). Review of Afghanistan's development pattern from 2001 to 2021: a relative lack of sustainability, inclusiveness, and prosperity. Journal of Social and Economic Development, 26(1), 333-352.

Timmer, C. P. (2010). Preventing food crises using a food policy approach. The Journal of nutrition, 140(1), 224S-228S.

Vos, R., Rice, B., & Minot, N. (2022). 2022 Global report on food crises: Joint analysis for better decisions.

World Food Program (WFP). (2023). Country Brief.

Zamani, S. M. (2024). Factors Affecting Unemployment Rate: The Case of Afghanistan. Indonesian Journal of Economics, Social, and Humanities, 6(1), 1-14.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب په وړاندې ننګونې

پوهنيار ثابت احمد باوري*۱، پوهنمل فضل محمد محمدي۲

[۱]کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګه، کرنې پوهنځی، د غزني پوهنتون

[۲]کرنيز اقتصاد او پراختيا څانګه، کرنې پوهنځی، د غزني پوهنتون

* مسؤل ليکوال: Sabet.bawary@gmail.com

## لنډيز

د کورنۍ د غړو د حداقل غوښتنو د رفع کولو په موخه کافي اندازه روغو او مغزي خوړو ته په اقتصادي او فزيکي بڼه لاس رسی د کورنيو له غذايي امنيت څخه عبارت دی، د خوړو خونديتوب د هر هېواد د پراختيا په لمړيتوبونو کې ځانګړی ځای، د کرنې سکتور د خوراکي توکو د کيفيت او کميت په لوړولو او همدارنګه د خوړو خونديتوب په برخه کې بنسټيز رول لوبوي. په دغې مقاله کې د کليوالي کورنيو د خوراکي امنيت په وړاندې عمده ننګونې بررسي شوې، نوموړې څېړنه تشريحي – تحليلي بڼه لري، معلومات له کتابونو، مقالو او معتبرو انټرنيټي سايټونو څخه تر لاسه شوي، د څېړنې پايلو روښانه کړې چې د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب له يو لړ ننګونو سره لاس او ګريوان ده، نوموړې ننګونې د شدت او تاثير په لحاظ په درېو عمده درجو ويشل شوې چې په اوله درجه کې(د کرنې او چاپېريال ساتنې، اقتصادي او ملاتړيزې او د بازارموندنې په برخه) ننګونې په دويمه درجه کې( کلتوري او فرهنګي، ټولنيزې او ټکنالوژيکي) ننګونې او همدارنګه په دريمه درجه کې( اقليمي، کم خوراکي، د ذخېرې او پروسيس او تر انسپورت) په برخه کې د ننګونې شاملي دي. را تلونکو څېړنکو ته وړانديز کوم چې په نوموړيو ننګونو جلا جلا څېړنې تر سره او حل لارې ورته پيدا کړي.

**کليدي کليمې:** خونديتوب، د خوړو خونديتوب، کليوالي کورنۍ، ننګونې

## پېژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

خواړه د بشري ژوند بنسټيزه اړتيا او ورته لاس رسی د هر انسان تر ټولو ابتدايي حق ګڼل کيږي(Dzanku, 2019). تر ډېره بريده د انسانانو د خوراکي تامين موضوع د غذايي امنيت په مقوله کې نغښتې ده(Rostami et al, 2015). مطالعاتو روښانه کړې چې خوړو ته په ډاډمن ډول لاس رسی په خپله نه رامنځته کيږي بلکې په يو لړ پراخو عواملو پورې اړه لري(Mehrabi Boshrabadi et al, 2009). د نړۍ له اوسنيو شرايطو څخه څرګنديږي چې په وروستۍ نيمه پېړۍ کې په نړيواله سطحه د اقليمي شرايطو او آب و هوا تنوع، د مختلفو نباتاتو د توليد لوړه وړتيا او همدارنګه په اقتصادي او ټولنيزه پراختيا کې د پام وړ پرمختګونه را منځته شوی. سربېره پردې د ګڼو دلايلو لکه د چاپېريال شديد تخريب، د نفوس چټکه وده، د کرنې له سکتور څخه کمزورې ګټه اخېستنه، د باثباته خوراکي پاليسيو نشتون، زيربنايي جوړښتونو او اوليه چوپړونو ته نه لاس رسی، د دولتونو نامناسب سياستونو او همدارنګه د خوراکي توکو په بيو کې د زياتو نوساناتو له امله د نړۍ ډيری سېمې له خوراکي ناآمنۍ او مزمنې سوء تغذيي سره لاس او ګريوان دي(Jamini et al, 2017). د خوړو خونديتوب ډېر پراخ او پيچلې مفهوم دی، چې د چاپېرياليې، ټولنيزو، فزيکي، اقتصادي او کرنيزو عواملو د تعامل په مټ روښانه کيدای شي(Savari e al, 2020). د سالم ژوند په موخه په هر وخت کې، کافي خوړو ته د ټولو وګړو لاس رسی د خوراکي خونديتوب جامع تعريف بلل کيږي(FAO,2018). د خوړو خونديتوب څلور بعدونه لري چې عبارت دي له: د خوړو شتون، خوړو ته لاس رسی، له خوړو څخه ګټه اخيستنه او د خوړو پايښت( Pozza and field, 2020). سره له دې چې په نړيواله سطحه د بيوزلۍ او لوږې د کمولو، خوراکي امنيت د ثبات، له کرنيزو محصولاتو څخه د زياتې ګټې اخيستنې او نورو... له پاره زياتې هڅې شوې خو بيا هم د خوړو د خونديتوب په برخه کې زياتې اندېښنې شتون لري( Hojjati and Noshad, 2019). د نوموړو اندېښنو څخه يوه هم د توليدي سرچينو کمه وړتيا او ور څخه غير اغيزمنه ګټه اخيستنه ده،

چې تر ډېره بريده د بېوزلۍ او لوږې سبب ګرځېدلې(Chegini et al, 2021). خوراکي ناامني کولای شي حياتي ارزښتونه او همدانګه د يو هيواد سياسي، اقتصادي او ټولنيز امنيت له خطر سره مخامخ کړي(Pakravan Charvadeh et al, 2020). د خوړو نړيواله اداره(FAO) په

کلیوالو سیمو کې د خوړو د تولید په برخه کې نه سرمایه ګذاري او د مهاجرتونو په اساس د کلیوالو سېمو د وګړو کمښت په نړیواله سطحه د خوراکي ناامنی مهم عوامل معرفي کوي(Hojjati and Noshad, 2019). دا په داسي حال کې ده چې تمه کیږي کلیوالي کورنۍ به خپل خواړه په خپله تولید او د تنوع او کافي اندازې په نظر کې نیولو سره خوړو ته کامل لاس رسی ولري(Savari e al, 2015). خو مطالعاتو روښانه کړې چې کلیوالي کورنۍ نسبت ښاري کورنیو ته په زیاته پیمانه له سوء تغذي او خوراکي ناامني سره لاس او ګریوان دي( Kerr et al, 2019). پورته دلایلو ته په کتو سره په ډېر پرمختیایي هیوادونو کې د خوړو د خوندیتوب موضوع د کلیوالي پراختیا د پروګرامونو په لمړیتوبونو کې قرار لري(Herel, 2010: Savari e al, 2020). څرنګه چې د پرمختیایي هېوادونو د نفوس لویه برخه په کلیوالي سیمو کې میشت دي، نو د کلیوالي کورنیو د خوړو د خوندیتوب ښه والی د نوموړو هېوادونو لپاره یو لویه موخه بلل کیږي(Sinyolo et al, 2014)، ځکه کلیوالي سیمې د کرنیزو محصولاتو د تولید اصلي مرکزونه بلل کیږي، او په کلیوالو سیمو کې د خوراکي توکو په مصرف کې کمیتي او کیفي نیمګړتیاوې د کرنې د کارکوونکو په روغتیا او سلامتیا منفي اغیزې کوي، او د ټولنې لپاره د خوړو خوندیتوب په برخه کې لوی تهدید بلل کیږي. د کلیوالو سیمو د خوړو خوندیتوب له وضعیت څخه اګاهي او د ښه ژوند په موخه یې هڅې ګړندی کول د لوی اقتصاد له مهمو موخو څخه ګڼل کیږي(Tanhaei et al, 2015).

نن ورځ یو لړ ستونزې لکه په نړیواله سطحه د لوږې زیاتوالی، د وګړو په ورځنیو خوړو کې د تعادل نشتون، د چاپېریال او طبیعي سرچینو زیات تخریب او نورې... د دې باعث شوې چې د خوړو خوندیتوب موضوع د بشري ټولنو له مهمو او ستونزمنو مسائلو څخه ګڼل کیږي(Hasheni Tabar et al, 2018). د(FAO) د وروستی احصائیې په اساس په نړۍ کې ۸۷۰ میلیونه وګړي له سوءتغذي او خوراکي ناآمنی او نږدې دوه میلیارده وګړي له زیات وزن سره لاس او ګریوان دي(Abegaz, 2017). د خوړو نړیوالې ادارې ارزوونو روښانه کړې، چې په پرمختیایي هېوادونو په ځانګړې ډول افریقا، آسیا او لاتین امریکا کې د سوء تغذي لوړه کچه شتون لري( Asgharian Dastnaei et al 2013; Jaini et al, 2017). د ملګرو ملتونو د ادارې د مطالعاتو په اساس په افغانستان کې د خوړو خوندیتوب په بد حالت کې قرار لري، او د ټول نفوس نږدې ۴۰ سلنه(۲۳/۷ میلیونه) وګړي بشري مرستو ته شدیده اړتیا لري(United Nations, 2024). همدارنګه خوړو ته د لاس رسي په برخه کې د ښاري او کلیوالي ټولنو تر منځ زیات توپیرونه شتون لري، په افغانستان کې ۷۱ سلنه وګړي په کلیوالو سیمو او کوچیانی ډول ژوند کوي، او تر ډېره بریده خوراکي ناامني او سوء تغذي په همدې سیمو کې تر سترګو کیږي(Statistical yearbook, 2020). نو هڅه شوې تر څو د نفوس دې لویې برخې(کلیوالي نفوس) ته د خوراکي امنیت په وړاندې عمده ننګوونې روښآنه شي.

## خوړو خوندیتوب

په یوه سیمه کې چې د عمر او جنسیت په لحاظ د هرې طبقې وګړي د روغ، سالم او فعال ژوند په موخه کافي او روغو خوړو ته لاس رسی ولري د خوړو خوندیتوب بلل کیږي چې د کورنیو عواید په دې برخه کې اغېزمن رول لري. د خوړو په اړه د پوهې شتون او د ښو او مناسبو خوړو تر لاسه کولو لپاره د بودیجې تخصیص او همدانګه په کورنیو کې د غذا د وېش څرنګوالی نور هغه مهم عوامل ګڼل کیږي چې د خوړو په خوندیتوب اغېزې لري. د خوړو خوندیتوب د بحثونو مخینه شاوخوا شپېته کاله مخکې په ۱۹۴۸ میلادي کال کې د بشري حقونو اعلامیې ته رسیږي(Rahbar & MobiniDehkordi, 2004). اکثره پوهان او متخصیصن په دې اند دي چې؛ په آفریقا کې د ۱۹۸۴-۱۹۸۵ کلونو تر منځ را منځته شوې قحطي، په ډېری هیوادونو کې د حداقل معیشت د تامین په برخه کې ستونزې او د ځینو هیوادونو بریالۍ تجربې هغه څه وې چې په ۱۹۸۰ لسیزه کې یې د خوړو خوندیتوب ته عمومي توجه زیاته کړه(Naeini Noori, 1999). په هر هېواد کې د خوړو د خوندیتوب په موخه باید سازمانونه او ذیدخل اداري له یو بل سره مرستې وکړي؛ او په پوره همغږۍ د لوی اقتصاد ګټو ته په کتو سره یو داسې بنسټ را منځته کړي تر څو د خوړو خوندیتوب، غذایي توکو د صادراتو او وارداتو، قیمتونو او تولیدي پالیسیو په اړه په ټولنه کې عامه پوهاوی را منځته کړي. نوموړی بنسټ باید همېشه د خوړو له ډول، اندازې، قېمتونو او نوساناتو څخه با خبره وي، او دا باید یقیني کړي چې ټول وګړي په فزیکي او اقتصادي ډول با کیفیته خوړو ته په هر وخت کې لاس رسی ولري، همدارنګه نوموړی بنسټ باید د ستونزو په وخت کې د خطر زنګ په وهلو سره د خوړو د خوندیتوب امنیت په غاړه واخلي.

که څه هم په نړیواله سطحه په وروستیو کلونو کې د سړی سر انرژي او مغذي موادو عرضه په ښه حالت کې قرار لري، آما د عوایدو غیري عادلانه وېش د ډېری ټولنو وګړي د خوړو خوندیتوب په برخه کې له ننګوونو سره مخامخ کړي او د وګړو تر منځ یې طبقاتي جوړښتونه را منځته کړي.

د پرمختیایي هېوادونو ډېری وګړي په خپل ورځني ژوند کې په زیاته پیمانه له غلاجاتو په ځانګړي ډول غنمو او وریجو، په محدوده پیمانه له حیواني محصولاتو(لبنیاتو) او په ډېره کمه پیمانه له مېوه جاتو – سبزیجاتو څخه ګټه اخلي. حال دا چې ۹۰ سلنه انرژي او ۷۵ سلنه پروتینونه له نباتاتو څخه تر لاسه کیږي(World Bank, 2022).

## خوړو ته په فزيکي بڼه لاس رسی

فزيکي لاس رسی د غذا ډول، کيفيت او اندازې ته شامليږي. خوړو ته فزيکي لاس رسی د يو لړ عواملو لکه؛ د توليد ځای، د خوړو ذخيرې، د محصولاتو را ټولول، وېش، حمل و نقل، د خرڅلاو او پروسيس ځای او نورو... پورې اړه لري. توليد او په ذيرمتونونو کې د خوړو شتون په مختلفو وختونو کې خوړو ته لاس رسی يقيني کوي. د خوړو وېش او ليږد را ليږد بيا په دې دلالت کوي چې د خوړو يو معين مقدار وجود لري، په پورته عواملو سربېره عوايد، د پېرلو توان، ټولنيزې اړيکې، آداب او رسومات، مهاجرت، د ټولنې د وګړو عمر او جنسيت، د بازار سوداګريز شرايط، د پېسو ارزښت او نور خوړو ته په فزيکي ډول په لاس رسي ژورې اغېزې لري(Rahbar & MobiniDehkordi, 2004).

## خوړو ته په اقتصادي بڼه لاس رسی

په کورنيو يا ټولنو کې د توکو د اخيستو توانايي د خوراکي شيانو په قيمتونو پورې اړه لري. د خوراکې توکو لوړ قېمتونه د خوراکي رژيم د تنوع او کيفيت د ټيټوالي سبب ګرځي، د توکو د لوړو قېمتونو څخه ټولې ټولنې په ځانګړې ډول کليوالې سيمې ډېرې اغېزمن کيږي، چې په پايله کې يې ډېر کليوال وګړي له اوليه خوراکي توکو څخه محروم پاته کيږي. د قېمتونو پاليسيوي، عوايد، د هوساينې سطحه او نور د خوراکي توکو په اقتصادي لاس رسی اغېزې لري(Rostami et al, 2015).

## کړنلاره او کار توکي

نوموړې څېړنه په کيفي - توصيفي بڼه تر سره شوې، چې موخه يې د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب په وړاندې د شته ننګوونو تحليل او پيژندل دي. په څېړنه کې له کتابتوني ميتود څخه ګټه اخستل شوې او د موضوع اړوند معلومات له کتابونو، علمي مقالو، راپورونو او معتبرو علمي سايټونو تر لاسه شوې، همدارنګه په څېړنې که له کيفي ـ توصيفي ماډل څخه په استفادې د موضوع اړوند نظريات، تجربې او نظريې په ژور تحليل سره توضيح شوې، په څېړنه کې هڅه شوې تر څو د خوړو خونديتوب په وړاندې ننګوونې د مفهومي تحليل په مټ روښانه او پرتله شي.

## موندنې او مناقشه

د څېړنې موندنو روښانه کړې چې د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب په وړاندې ګڼې ننګوونې شتون لري، چې د تاثير او شدت په لحاظ په لاندې ډول درجه بندي او بيان شوې.

### 1. د کرنې او چاپېريال ساتنې په برخه کې ننګوونې

د کرنې او چاپېريال ساتنې په برخه کې ننګوونې د مخ پر وده هېوادونو د کليوالي کورنيو د خوړو خونديتوب لپاره له مهمو ستونزو څخه ګڼل کيږي. د څېړنو په اساس د کرنې او چاپېريال ساتنې په برخه کې درې عمده ستونزې لکه، د صحي کرنيزو بنسټونو د نشتوالي، د ځمکې د کارولو چټک بدلونونه او د خاورې فرسايش يا تخريب تر نورو د خوړو د خونديتوب په برخه کې لويې ستونزې ګڼل کيږي. د کرنيزو نهادونو له خوا د کېمياوي موادو او کودونو ناسم وېش د دې لامل کيږي چې بزګران د نامرغوبو او غير معياري موادو څخه استفاده وکړي، چې دا د خاورې، چاپېريال، او د کرنيزو محصولاتو د کيفيت لپاره بدې پايلې لري. د دولت او مسؤلو ادارو لخوا له دولتي نهادونو څخه د ملاتړ نشتوالی د دې باعث شوی چې بزګران آزاد بازار ته مخه کړي او د دې موادو د ترلاسه کولو لوړ لګښتونه هغوی دې ته مجبوروي چې له غير معياري موادو او نهادونو څخه استفاده وکړي(Pauly, M. D, 2018; World Bank, 2022). همدارنګه، د ځمکو د کارونې ژر بدلون چې په وروستيو کلونو کې ډېری کرنيزې ځمکې د تفريح لپاره په ښاري باغونو او استوګنځايونو بدلې شوې، د کرنې برخې ته زيات زيان اړولی او د کرنيزو محصولاتو په توليد کې يې کمښت را منځته کړی. د خاورو تخريب او فرسايش په وروستيو کلونو کې د بارانونو د کمښت، د هوا د تودوخې، اقليمي بدلونونو، او د ځمکنيو اوبو د سطحې د ټيټوالي له امله د اوبو د ترېوالي لامل شوي، چې په پايله کې يې په تدريجي توګه د کرنيزو مزارعو او باغونو خاورې خپل کيفيت له لاسه ورکړی او ترېووالي(ښوره توب) ته نږدې شوی دی. اوس مهال، د خاورو مالګينتوب(شوري) د نړۍ په کچه د خوړو امنيت يوه له مهمو ننګوونو څخه ګڼل کيږي. په داسې حال کې چې د اکثرو هېوادونو د پراختيا په بهير کې کرنې د خوړو په تهيه کولو سربېره په اقتصادي برخه، کار ايجادوونه، اوليه سرمايې په را منځته کولو او بهرنيو اسعارو په تر لاسه کولو کې لويه ونډه لري. له دې امله، داسې برداشت کېدای شي چې د کرنې برخه په پرمختللو هيوادونو کې مهم رول لوبوي او د ژوند د معيارونو د لوړولو له پلوه کولای شي د خلکو، په ځانګړي توګه د کليوالو وګړو ژوند ته ډېر وده ورکړې. کرنه د ټولو هېوادونو په اقتصادي په ځانګړی ډول خوړو خونديتوب کې مهم رول لوبوي(Singh, S. K., & Pauly, M. D, 2018).

## 2. اقتصادي او ملاتړيزې ننګونې

اقتصادي ستونزې لکه د عايد ټيټه کچه، د کاري فرصتونو نشتوالی او بازار ته په کمه اندازه لاس رسی د خوراکي توکو د تر لاسه کولو په برخه کې د کليوالي وګړو عمده ستونزې ګڼل کيږي، کليوالي وګړي د اقتصادي محدوديتونو له امله اضافي سرمايه(پس انداز) نه لري، همدارنګه د کم عايد له وجې د کرنې په برخه کې زياته پانګوونه نه شي تر سره کولای چې په پايله کې يې په کمه اندازه کرنيز محصولات توليديږي او زياتره وګړي د خوړو خونديتوب په برخه کې له ستونزو سره لاس او ګريوان کيږي(*Glewwe, P. W, 2016; Glewwe, P. W, 2021*). په اقتصادي او ملاتړيزو ننګونو کې، درې مهم عوامل چې د خوراکي امنيت د ننګونو په برخه کې خورا مهم دي، عبارت دي له: د خوړو د بيو (قيمتونو) زياتوالی، د متوازن خوراک د برابرولو ناتواني، او په کليوالو ټولنو کې بې‌کاري او د کاري فرصتونو د تنوع نشتوالی. په تېرو څو کلونو کې د خوراکي توکو د بيو زياتېدو د کورنيو په خوراکي رژيم ژورې اغيزې کړې، او اکثره کليوالي کورنۍ د مالي امکاناتو د نشتوالي له امله د بدن د اړتيا وړ څينې خوراکي مواد، په ځانګړې توګه د غوښې او مېوو کارول لږ او يا يې هېڅ نه‌دي کارولي. همدارنګه د ډېرى کورنيو د متوازن خوراک د برابرولو د وړتيا نه لرلو تر ټولو مهم دليل په کليوالو سيمو کې د عايداتو کموالی او د خوراکي توکو د بيو زياتوالی دی، د بيو په زياتوالی سربېره په کليوالي سيمو کې د بې کارۍ لوړه کچه او د کاري فرصتونو نه شتون نورې هغه ستونزې دي چې کليوال وګړي يې د خوړو د تر لاسه کولو په برخه کې له ستونزو سره لاس او ګريوان کړي. د پروسس او توليدي صنعتونو، کار خونو، شرکتونو، او لاسي صنايعو نشتوالي په ډېری کليوالو سيمو کې د بې‌کارۍ او له کليوالو سيمو څخه ښارونو ته د مهاجرت سبب شوی. له همدې امله د بېوزلي او د مالي وسايلو نشتوالی د دې سيمو د خوراکي امنيت تر ټولو لويې ننګونې بلل کيږي( World Bank, 2022).

## 3. د بازار موندنې په برخه کې ننګونې

د خوراکي توکو پلورنځيو ته نه لاسرسی په دې برخه کې تر ټولو لويه ستونزه ګڼل کيږي. ځکه چې د خوراکي توکو د پېرودلو مرکزونه په ډېرو کليو کې وجود نه لري، او په ځينو ليرې پرتو کليو کې ان سوپر ماکېټ يا عادي دوکان هم نشته. کليوال د خوراکي توکو د پېرودلو لپاره اړ دي چې نږدې کلي يا ښار ته ولاړ شي، چې دا کار د ټولو کليوالو لپاره ممکن نه دی. له همدې امله کليوال مجبوره دي چې په لاس کې شته خوړو ته مخه کړي، نوموړې چاره ممکن د موقتي مړښت لامل وګرځي خو د بدن د اړتيا وړ توکي نه پوره کوي. خوړو ته په فزيکي ډول نه لاس رسی حتی د هغو کليوالو کورنيو لپاره چې اقتصادي وضعت يې ښه هم وي له ستونزو سره مخ کوي. ځکه په خوراکي امنيت کې خوړو ته په فزيکي او اقتصادي ډول د لاس رسی يادونه شوې، چې له ډلې يې په فزيکي ډول نه لاس رسی کليوالې ټولنې د خوړو په برخه کې له ستونزو سره مخ کوي (Singh, S. K., & Pauly, M. D, 2018; World Bank, 2022).

## 4. په کلتوري او مسلکي برخه کې ننګونې

د کليوالو سيمو د محلي خوړو د عادتونو او دودونو هېريدل په کلتوري او مسلکي برخه کې لويه ستونزه ګڼل کيږي، ځکه په وروستيو کلونو کې د مخ پر وده هيوادونو له ډېرى دوديزو، قومي، کلتوري او محلي خوړو څخه ګټه اخيستنه کم رنګه شوې او په ځای يې بېلابېلو فاسټ فوډونو، ساندويچونو او تيارو خوړو ته د خلکو تقاضا ډېره ده، د تقاضا نوموړې ډېرېدنې په ځينو ټولنو کې د خوراکي ناسم امنيت په رامنځته کولو کې مهم رول لوبولی. دا چې د مخ پر وده هېوادنو ډېر وګړي له کمو عايداتي سرچينو څخه برخمن دي نو د محلي او دوديزو خوراکي توکو څخه ګټه اخيستنه ورته ارزانه او آسانه تماميږي. له همدې امله د هغو خوراکي توکو په اړه څېړنه او تحقيق چې کولی شي د کليوالو وګړو خوراکي امنيت تامين او د اوبو اغېزمنه کارونه خپل هدف وګرځوي، د وګړو د خواکي امنيت په برخه کې له غوره حل لارو څخه ګڼل کيږي. د کرنې په برخه کې د فني او مسلکي کسانو کمښت يوه بله لويه ستونزه ده چې په کليوالي سيمو کې يې وګړي د خوړو له ناامني سره مخ کړي. د کرنې په ډګر کې د غير فني کسانو شتون د کرنيزو محصولاتو ټيټ کيفيت او غير معياري توليد ته لاره هواروي .

همدارنګه غير فني کسان د کرنې په برخه کې له شته تکنالوژۍ څخه مناسبه ګټه نه شي اخيستلای او په پايله کې يې په زياتو لګښتونو او ټيټ کيفيت سره توليد تر سره کيږي، چې دا په خپله د خوړو خونديتوب په برخه کې لوی خنډ ګڼل کيږي( IFPRI, 2019; Behrman, J. R. & Rosenzweig, M. R, 2017).

### 5. ټولنيزې ننګونې

د ټولنيزو ستونزو له ډلې څخه د کليوالي ټولنو تر منځ د همدردۍ روحيې کموالی او په ټوله کې د ټولنيزې سرمايې کمښت لويې ستونزې ګڼل کيږي. د کليوالو ټولنو ترمنځ د همدردۍ د روحيې او ټولنيزې پانګې کمښت دې ته لاره هوار وي چې کليوال وګړي د خوړو او مالي مرستو په برخو کې له يو بل سره مرستې لږ کړي. د نوموړو مرستو کموالی په ځانګړې ډول د وچکالۍ او طبيعي افتونو په وخت کې د خوړو ناآمني دوه برابره زياتوي. خو د ستونزو په وخت کې د کليوالو وګړو تر منځ د مرستې روحيه کولای شي د خوړو امنيت په برخه کې ګټوره تمامه شي. د ټولنيزو شبکو کمزوري او د همکارۍ روحې نشتوالی بله ستونزه ده چې په کليوالي سيمو کې يې د خوړو خونديتوب ته د وګړو لاس رسی محدود کړی. د ټولنيز ملاتړ نه شتون د خوراکي توکو په برخه کې له يو بل سره د مرستې کمښت زياتوي چې دا خپله د خوړو خونديتوب په برخه کې لويه ستونزه ګڼل کيږي( Singh, S. K., & Pauly, M. D, 2018; World Bank, 2022).

### 6. د تکنالوژي په برخه کې ننګونې

په کليوالي سيمو کې د کرنيزو محصولاتو د پروسيس آسانتياوو نشتون د تکنالوژيکي ستونزو له ډلې څخه لويه ستونزه ګڼل کيږي. د ټيکنالوژيکي ستونزو له ډلې څخه، د توليد شويو محصولاتو د پروسس توان نه درلودل تر ټولو لوی عامل دی. د مختلفو کرنيزو محصولاتو لپاره په کليوالو سيمو کې د تکميلي صنعتونو شتون د محصولاتو په پروسيس سربېره د وګړو لپاره کاري فرصتونه هم را منځته کوي، خو برعکس د تکنالوژي په ځانګړې ډول تکميلي صنعتونو او پروسيس نشتوالی د کليوالي ټولنو د خوړو خونديتوب په برخه کې سترې ننګونې ګڼل کيږي(Pauly, M. D, 2018; World Bank, 2022).

### 7. اقليمي ننګونې

وچکالی او اقليمي بدلونونه د کرنيزو محصولاتو د توليد په برخه کې جدي ګواښونه ګڼل کيږي، د بارانونو کمښت، د تودوخې درجې زياتوالی، د خاورې د رطوبت کمښت، سيلابونه او نور د کرنيزو محصولاتو د توليد لپاره د شرايطو د بدلون سبب کيږي، د دې بدلونونو په پايله کې د کرنيز محصولاتو د توليد کچه ټيټه او د خوراکي توکو د نشتوالي امکانات زياتېږي، همدارنګه اقليمي بدلونونه د کرنيزو محصولاتو په عادي بهير کې د بې ثباتی لامل ګرځي(IPCC, 2021; FAO, 2018).

د اقليمي ننګوونو په ډله کې وچکالي او اقليمي بدلون تر ټولو سترې ننګوونې ګڼل کېږي، چې په وروستيو کلونو کې نړۍ ور سره مخ ده. د پرمختيايي هېوادونو کليوالي سيمې د باران د کمښت او هوا ګرميدو سره لاس او ګريوان دي. د بارانونو د کمښت له وجې د کرنيزو محصولاتو په کيفيت او کميت کې د پام وړ کموالی را منځته کيږي چې په پايله کې يې ډېری بزګران له ډول ډول جسمي او رواني فشار څخه اغېزمن کيږي. د کرنې سکتور د چاپېريال سره د پراخو او مستقيمو تعاملاتو له امله له اقليمي بدلون څخه زيات متضرره کيږي، د اقليمي بدلون تر ټولو لمړی اغېز په مستقيم يا غير مستقيم ډول د اوبو کمښت دی، چې په پايله کې يې په کرنيز توليدي ظرفيت کې بدلونونه را منځته او د خوړو خونديتوب ته ګواښ پېښوي (Pauly, M. D, 2018).

په کليو کې د اوبو د سرچينو محدوديت د کرنيزو محصولاتو د توليد په برخه کې بله جدي ستونزه ده چې په اکثره سيمو کې د خوړو د ناامنی سبب شوې، اوبه د کرنيزو محصولاتو د توليد لپاره اساسي شرط ګڼل کيږي، دا چې د اوبو سرچينې همېشه محدودې وي نو بايد د مديريت لپاره يې اغېزمنې پاليسۍ په کار ولوېږي تر څو په مټ يې په کليوالي سيمو کې د خوړو امنيت تامين شي( FAO, 2017; Molden, D. 2019).

### 8. د کم خوراکي او ناسالمې تغذيې په برخه کې ننګونې

د افغانستان په شمول د ډېرو پرمختيايي هېوادونو په کليوالي سيمو کې کم خوراکي د خوراکي توکو د کمښت سره تړاو لري،

له کم خوراکي او ناسالمې تغذيې څخه موخه په فزيکي ډول د خوړو کمښت نه بلکې د باکيفيته خوړو او په خوړو کې د مغذي موادو لکه: پروټينونو، ويټامينونو او معدني موادو کمښت دی. په خوړو کې د نوموړو مغذي موادو کمښت په ماشومانو کې د ودې اختلال، د وينې کمښت او د معافيت سيستم کمزوري را منځته کوي. د بې کيفيته خوړو له استعمال سره د کليوالي کورنيو روغتيا زيانمنه او ناروغيو په وړاندې وړتيا کميږي(FAO, 2021; WHO, 2020).

### 9. د کرنيزو محصولاتو د پروسيس او زېرمتونونو د نشتوالي په برخه کې ننګونې

د کرنيزو محصولاتو د پروسيس او زېرمتونو نشتوالي د خوراکي توکو د کموالي او ګټورتوب د کمښت لامل ګرځي، د کرنيزو محصولاتو د پروسيس او زېرمې لپاره د اړينو وسايلو لکه د خوراکي توکو د زېرمې لپاره د ګودامونو، د پروسيس کارخونو او بسته بندۍ د تجهيزاتو کمښت د توليد او په ټوله کې د خوراکي توکو د ضايعه کېدو سبب ګرځي، او په پايله کې بازار ته په کمه اندازه او ټيټ کيفيت سره توکي عرضه کيږي، چې دا خپله د خوړو خونديتوب په برخه کې لويه ستونزه ګڼل کيږي، د زياتره کليوالي سيمو وګړي د پروسيس او زېرمو د اسانتياوو د نشتون له کبله خپل تر لاسه کړي کرنيز محصولات په ډېر ټيټ قيمت پلوري چې دا له يوې خوا په اقتصادي لحاظ او له بلې خوا په کليوالي سيمو کې د خوړو د کمښت لامل ګرځي( Antle, J. M., & James, S. R, 2017; Tschirley, D., & Reardon, T, 2020).

### 10. ټرانسپورټ په برخه کې ننګونې

څرنګه چې کرنه له ښارونو څخه لرې تر ډېره بريده په کليو بانډو کې تر سره کيږي، نو د کرنې سکتور د اکمالاتو او همدارنګه کرنيزو محصولاتو د لېږد را لېږد په موخه ټرانسپورټ ته اړتيا ليدل کېږي، د ټرانسپورټي شبکو کمزورتيا د کرنيزو محصولاتو په ځانګړې توګه خوراکي توکو په انتقال کې لويه ستونزه ګڼل کيږي، د کمزوري ټرانسپورټي سيستم له وجې بازارونو او مصرف ځايونو ته خوراکي توکي په وخت او آسانۍ نه انتقاليږي چې نوموړې ستونزه خوراکي توکو ته د وګړو لاس رسی محدودوي او د خوراکي ناآمنۍ په منځته را تګ کې لويه ونډه لري(McCoy, R. B, 2015; Van de Walle, D., & Cratty, D. 2019).

## پايله

په بېوزلو او وروسته پاته هېوادونو لکه افغانستان کې د خوړو خونديتوب موضوع له ځانګړې اهميت څخه برخمنه ده، اړتيا ليدل کيږي تر څو د خوړو خونديتوب بحث وشي، ځکه د نوموړو هېوادونو د نفوس لويه برخه د خوړو خونديتوب په برخه کې له ننګوونو سره لاس او ګريوان ده.

په هېواد کې اقتصادي بېوزلۍ او د څو لسيزو دوامداره ناآمنيو کليوال وګړي عادي ژوند ته نه دي پرېښي، او د ژوند په ټولو ډګرونو کې له ګڼ شمېر ستونزو سره لاس او ګريوان دي. د نړۍ په اکثره پرمختيايي هيوادونو کې د کليوالو وګړو عوايد د ښاري وګړو په نسبت کم او د خوړو خونديتوب يې هميشه له ګواښ سره مخ وي.کليوالي کورنۍ کوچيني ټولنيز، سياسي، اقتصادي او کلتوري واحدونه ګڼل کېږي، که د خوړو خونديتوب ته يې پاملرنه وشي دا به نه يوازې د کليوالو وګړو په ژوند کې د مثبتو بدلونونو بلکې د هېواد په سطحه به په ملي پراختيا کې هم د مثبتو تغييراتو سبب وګرځي. د نفوس له ډېريدو سره د خوړو خونديتوب په نړيواله سطحه يوه مهمه موضوع ګڼل کېږي، چې د زياتره پرمختيايي هېوادونو کليوال وګړي ور سره لاس او ګريوان دي. د کليوالي سيمو د خوړو خونديتوب ته پاملرنه به د هېواد د نفوس د يوې لويې برخې د ژوند د ښه والي سبب وګرځي. اړتيا ليدل کيږي تر څو اول په کليوالو سيمو کې د خوړو خونديتوب په وړاندې عمده ننګووني(کم خوراکي، کرنې او چاپيريال ساتنې، اقتصادي او ملاتړيزې، بازارموندنې، اقليمي، ټولنيزو، ټرانسپورټي، کلتوري او مسلکي او همدارنګه د ذخيرې او پروسيس) وپېژندل شي.

او د ستونزو له پېژندلو وروسته د هرې ستونزې د حل په موخه کوټولي ګامونه پورته شي. په دې موخه چې په کليوالي سيمو کې د خوړو خونديتوب را منځته شي اړونده ادارو او څېړونکو ته په لاندې ډول يو لړ وړانديزونه لرم، چې عبارت دي له:

1. عامو وګړو ته د خوړو خونديتوب په اړه بايد عامه پوهاوی تر سره شي.
2. کليوالو وګړو ته بايد په مختلفو برخو کې نوي مهارتونه ترويج شي.
3. را تلونکي څېړونکي بايد په پورته هرې ننګوونې جلا جلا څېړنې تر سره او حل لارې ورته وړومي.

## اخځليکونه

Abegaz, A. (2017). The global food crisis and food security: An overview. *Journal of Global Agriculture and Economics, 9*(3), 25–45.

Asgharian Dastnaei, M., Jaini, S., & Ghanbari, A. (2013). Food insecurity and its determinants in developing countries. *Food Security Journal, 5*(1), 55–68.

Behrman, J. R., & Rosenzweig, M. R. (2017). The role of nutrition in food security: A review of evidence and policy options. *Agricultural Economics, 48*(4), 447–462.

Chegini, A., Moradi, M., & Oveisian, M. (2021). Agricultural productivity and its implications on food security. *Journal of Food Economics*, *14*(2), 117–134.

Dzanku, F. (2019). Food security in rural areas: Challenges and opportunities. *Rural Development Journal*, *11*(2), 88–104.

FAO. (2018). *The state of food security and nutrition in the world*. Food and Agriculture Organization of the United Nations.

Glewwe, P. W. (2016). Economic challenges to food security in developing countries. *World Development, 78*, 233–245.

Glewwe, P. W. (2021). The impact of economic growth on food security. *Economic Perspectives, 32*(1), 19–32.

Herel, G. (2010). Rural development and food security: A global perspective. *Journal of Development Studies, 46*(5), 732–747.

Hojjati, M., & Noshad, M. (2019). Agricultural policies and their impact on food security. *Journal of Agricultural Policy*, *22*(3), 102–118.

IPCC. (2021). *Climate change and its impact on food security*. Intergovernmental Panel on Climate Change.

Jamini, R., Singh, R., & Verma, A. (2017). The role of agricultural technology in food security. *Journal of Agricultural Technology, 13*(4), 560–576.

Kerr, R. B., McIntyre, N. M., & Fritsch, S. J. (2019). Rural livelihoods and food security: Challenges and opportunities. *Rural Sociology, 84*(2), 171–188.

Mehrabi Boshrabadi, A., Sadeghi, S., & Mousavi, A. (2009). Food security in rural areas: A review of literature. *Journal of Rural Studies, 25*(3), 276–284.

Naeini Noori, M. (1999). The evolution of food security issues in Africa. *African Journal of Development, 5*(2), 143–159.

Pakravan Charvadeh, M., Salehi, R., & Tabrizi, M. (2020). Food insecurity and its socio-economic impacts. *Journal of Food Security, 12*(1), 1–15.

Pozza, D., & Field, J. (2020). Dimensions of food security: Understanding the concept. *Food Security Journal, 10*(4), 301–315.

Rahbar, M., & MobiniDehkordi, A. (2004). Food security and human rights: Historical perspectives. *Journal of Human Rights, 9*(1), 71–84.

Rostami, R., Keshavarz, M., & Ranjbar, H. (2015). Food security and agricultural productivity: An analytical review. *Journal of Sustainable Agriculture, 23*(2), 89–104.

Savari, A., Khanal, R., & Kumar, V. (2015). Food security and rural development: Issues and challenges. *Development Studies Research, 2*(1), 64–78.

Savari, A., Shahid, M., & Kabir, M. (2020). Enhancing food security in rural areas: Strategies and policies. *Journal of Food Security and Policy, 29*(3), 112–127.

Singh, S. K., & Pauly, M. D. (2018). Social capital and food security: Evidence from rural areas. *Social Capital Journal*, *17*(4), 305–322.

Statistical Yearbook. (2020). *Demographic and socio-economic statistics of Afghanistan*. Central Statistics Organization of Afghanistan.

Tanhaei, M., Alizadeh, S., & Mohammadi, R. (2015). Food security in developing countries: A focus on rural areas. *Journal of International Development*, *27*(5), 825–841.

United Nations. (2024). *Humanitarian needs overview for Afghanistan*. United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs.

World Bank. (2022). *Social networks and food security: Insights from developing countries*. World Bank Research Papers.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د لږ لګښته غذايي توکو د کمښت خوارځواکی په کمولو کښي د غنمو اوړو د بډايني اغېزه


سيداحمد، سيدي[1*]؛ شاه محمود، برى[2]؛ احسان الله، فضلي[2]؛ نورالحق، محمدي[3]

[1]د نباتي بايوټکنالوژي څانګه، نباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
[2]د نباتي بايوټکنالوژي څانګه، نباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
[3]د جنټيک او نباتاتو اصلاح څانګه، نباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
[*]مسئول ليکوال: sayed_50099@yahoo.com



## لنډيز

لږ لګښته غذايي توکي و هغو توکو ته ويل کېږي چې لږ مقدار يې زموږ د بدن اړتيا پوره کولای سي، په دې برخه کښي بېلابېل وېټامينونه او منرالونه شامل دي. د لږ لګښته غذايي توکو د کمښت خوارځواکي هغه وخت منځ ته راځي چې په خوړل سوې غذا کښي د يوه يا زياتو منرالونو او يا وېټامينونو مقدار کم وي، او يا داچې د کافي اخيستلو پرمهال يې په جذب کښي د ناروغی/انتان له امله ستونزه رامنځ ته سي. د دې توکو د کمښت په صورت کښي زموږ بدن خپل ټول فعاليتونه په نارمل ډول نه سي ترسره کولای، همدا لامل دی چې په مستقيم او غېر مستقيم ډول و بېلابېلا روغتيايي ستونزو ته لاره هواروي. د دې ستونزو د کابو کولو له پاره، د غنمو اوړو بډاينه يو ښه، ارزانه او مناسب انتخاب دی، دا ځکه چې محصولات يې تقريباً هره ورځ د ټولو وګړو له خوا استعمالېږي او کولای سي په دوامداره بډايني سره د لږ لګښته غذايي توکو د کمښت ستونزه کنټرول کړي. د نړۍ ډېرو هيوادونو په دې برخه کښي د پام وړ پرمختګ کړی. په 2016 کال د نړۍ تقريباً 34% اوړه بډايه سوي وه، چې تر ټولو مخکښه يې امريکا و د 97% اوړو په بډايني سره. د افغانستان په څېر هيواد کښي دا کړنه ډېره حياتي ارزښت لري ځکه چې له يوې خوا د خلګو اقتصادي حالت ډېر ټيټ دی او صحي غذا ته لاس رسی نه لري، او له بلې خوا د پوهاوي کچه هم کمزوره ده او نه سي کولای يو معياري غذايي رژيم رامنځ ته کړي.



**کليدي کليمې:** خوارځواکي، لږلګښته غذايي توکي، د غنمو اوړه، بډاينه


## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
میانگین 3.33، این شاخص نسبت به سایر موارد نگرانی کمتری ایجاد کرده، اما همچنان مسئله‌ای تأثیرگذار است. افزایش بارندگی تنها عامل مثبتی بوده است که احتمالاً می‌تواند تأثیر مثبتی بر تولید مواد غذائی داشته باشد، اما به نظر می‌رسد که عوامل منفی دیگر از جمله سیلاب‌ها تاثیر بیش‌تری داشته‌اند. تغییر اقلیم یکی از بزرگ‌ترین تهدیدات برای امنیت غذائی جهانی است که می‌تواند تولید، توزیع و دسترسی به مواد غذائی را تحت تأثیر قرار دهد. کشورهای در حال توسعه به دلیل وابستگی شدید به زراعت و منابع طبیعی، بیش‌ترین آسیب را از این تهدید متحمل خواهند شد. برای مقابله با این چالش‌ها، توسعه ارقام مقاوم به تنش، بهبود مدیریت آب، گسترش زراعت حفاظتی، توسعه زیرساخت‌ها و افزایش همکاری‌های بین‌المللی پیشنهاد شده است. هماهنگی در سطح ملی و بین‌المللی برای مقابله با این چالش‌ها ضروری است.

## پیشنهادات

برای مقابله با چالش‌های امنیت و مصونیت غذائی ناشی از تغییرات اقلیمی، راه‌کارهای متعددی پیشنهاد شده است

1. ارتقاء اقدامات پیشگیرانه در کشاورزی و کنترل آفات: استفاده از روش‌های مدیریت پایدار آفات (IPM) و مقاوم‌سازی محصولات کشاورزی در برابر شرایط اقلیمی نامساعد می‌تواند تأثیر قابل‌توجهی بر کاهش شیوع بیماری‌ها و آفات داشته باشد. این اقدامات نیازمند سرمایه‌گذاری در تحقیق و توسعه کشاورزی است.
2. تقویت امنیت غذایی از طریق سیاست‌گذاری هوشمند: دولت‌ها باید برنامه‌هایی برای کاهش وابستگی به کشت تک‌محصولی، تقویت تنوع محصولات و بهبود زیرساخت‌های ذخیره‌سازی و توزیع مواد غذایی اجرا کنند.
3. حمایت از جوامع آسیب‌پذیر: طراحی سیاست‌های حمایتی، مانند ارائه کمک‌های مالی، بهبود سیستم‌های بیمه های تعاوني کشاورزی و ایجاد شبکه‌های امنیت اجتماعی، می‌تواند آسیب‌پذیری این جوامع را کاهش دهد.
4. ترویج آموزش و آگاهی عمومی: افزایش آگاهی عمومی درباره تأثیرات تغییرات اقلیمی و ارائه راهکارهای ساده برای کاهش اثرات منفی آن می‌تواند به جوامع کمک کند تا اقدامات پیشگیرانه انجام دهند.
5. سرمایه‌گذاری در تحقیق و توسعه: پژوهش‌های بیشتری برای شناسایی راهکارهای مناسب جهت مقابله با تغییرات اقلیمی و کاهش تأثیر آن بر شاخص‌های کلیدی ضروری است.
   تقویت سیستم‌های حمایتی و ایمنی اجتماعی برای افراد آسیب‌پذیر در برابر ناامنی‌های غذائی.
6. افزایش همکاری‌های بین‌المللی و انتقال تکنالوژی و دانش برای کمک به کشورهای در حال توسعه در مقابله با چالش‌های امنیت غذائی.

## تشکر و قدر دانی

نویسندگان این مقاله از رهبری محترم پوهنتون ملی زراعتی و تکنالوژی افغانستان و اعضای محترم بورد این کنفرانس مهم و حیاتی جهت همکاری در پذیرش، ارایه و چاپ نشر این مقاله و شرکت‌کنندگان در تکمیل این تحقیق کمال تشکر ی و قدر دانی دارند.

## مأخذها

American Psychological Association. (2020). Mental health and productivity in the workplace. Retrieved from https://www.apa.org

FAO. (2020). The state of food security and nutrition in the world 2020. http://www.fao.org/documents/card/en/c/ca9692en/

FAO. (2018). The state of food security and nutrition in the world 2018. Food and Agriculture Organization.

FAO. (2016). The state of food and agriculture: Climate change, agriculture and food security. http://www.fao.org/3/a-i6030e.pdf

Food and Drug Administration. (2021). Foodborne illnesses: Causes and prevention. Retrieved from https://www.fda.gov

Food and Agriculture Organization. (2003). FAO's strategy for a food chain approach to food safety and quality: A framework document for the development of future strategic direction. https://www.fao.org/3/j0846e/j0846e00.htm

International Labour Organization. (2020). The impact of workplace stress on productivity. Retrieved from https://www.ilo.org

IPCC Intergovernmental Panel on Climate Change. (2019). Climate change and land: An IPCC special report on climate change, desertification, land degradation, sustainable land management, food security, and greenhouse gas fluxes in terrestrial ecosystems. https://www.ipcc.ch/srccl/

IPCC Intergovernmental Panel on Climate Change. (2022). Climate change 2022: Impacts, adaptation and vulnerability. https://www.ipcc.ch/report/ar6/wg2/

Khan, M. A. (2019). Impact of climate change on water resources in Afghanistan. Water Resources Management, 33(5), 1951-1964.

Lobell, D. B., et al. (2011). Climate trends and global crop production since 1980. Science, 333(6042), 616-620.

McLeman, R., & Smit, B. (2006). Migration as an adaptation to climate change. Climatic Change, 76(1-2), 31-53.

OCHA. (2019). Office for the Coordination of Humanitarian Affairs https://www.unocha.org

Rojas-Downing, M. M., Nejadhashemi, A. P., Harrigan, T., & Woznicki, S. A. (2017). Climate change and livestock: Impacts, adaptation, and mitigation. Climate Risk Management, 16, 145-163. https://doi.org/10.1016/j.crm.2017.02.001

Rosenzweig, C., Iglesias, A., Yang, X. B., Epstein, P. R., & Chivian, E. (2001). Climate change and extreme weather events: Implications for food production, plant diseases, and pests. Global Change and Human Health, 2(2), 90-104.https://doi.org/10.1023/A:1015086831467

UNICEF. (2021). The state of the world's children 2021: Nutrition and growth. Retrieved from https://www.unicef.org

United Nations Development Programme. (2021). Poverty and climate vulnerability: Tackling the crisis. Retrieved from https://www.undp.org

United Nations Environment Programme. (2020). Sustainable consumption and production: A global challenge. Retrieved from https://www.unep.org

United Nations Environment Programme. (2009). Afghanistan's environment 2008. https://wedocs.unep.org/20.500.11822/20625

World Bank. (2020). Stunting and its impact on economic growth. Retrieved from https://www.worldbank.org

World Health Organization. (2021). Global report on disease and pests. Retrieved from https://www.who.int

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# خوندي خوړو ته د لاسرسي اغېزه لرونکي عوامل


پوهاند سيد محمد کبير مين[1*] او ن پوهنيار سيد محمد جبير عظيمي [2]

[1] کرنيز اقتصاد څانګه، کرنيز اقتصاد او توسعه پوهنځي، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

[2] کرنيز مارکيټينګ څانګه، کرنيز اقتصاد او توسعه پوهنځي، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

مسؤل ليکوال : kabiragha2010@gmail.com



## لنډيز

د کرني سکتور په ځانګړي توګه د ځو عواملو له مخي چي د انساني فعاليتونو او چاپيريال تر منځ شتون لري د خوړو د عرضه کوولو دنده په غاړه لري، په افغانستان کې په دې وروستيو کلونو کې د کورنيو د خوراکی توکو ناامنی په ځانګړې توګه په ختيځه سيمه کې يوه لويه ستونزه ګرځېدلې چې د ګڼو عواملو له امله رامنځته شوې ده. له همدې امله، د دې مقالې موخه دا وه چې هغه عوامل وڅېړي او تحليل يي کړي چې د افغانستان په ختيځه سيمه کې د کورنۍ په کچه د خوړو امنيت اغېزمن کوی، د افغانستان حکومت او نړيوالو سازمانونو په ګډه د افغانستان په ختيځه سيمه کې د کورنيو سروې تر سره کړې، چې په ۴۹ ولسواليو کې له ۹۹۳۱۰ کسانو څخه ۹۷۷۴ کورنۍ پکښې شاملې دی، پايلې ښيې چې د خواړو ناامنی مهم عوامل ناامنی ، فقر ، د کاري فرصتونو نشتوالی، په کليوالي سيمو کښي بې ځمکي او لږ ځمکو کروندګرو شتون ، ټيټ معاش او عايد، په کليوالی سيمو کې بې ځايه کيدل، او د کډوالو او داخلی بې ځايه شويو خلکو لوی مهاجرت له امله رامينځته شوی دي ، څېړني ومونډله چې ۴۶،۹٪ کورنۍ د خواړو ناامنی لری پداسې حال کې چې ۴۹،۶٪ کورنۍ له لوړې سره مخ شوی او ۴۸٪ کورنۍ د خواړود مصرف ضعيف او سرحدی نمرې لری، سربيره پردې ۴۶،۲٪ households يا کورنيو له اعتدال څخه تر خورا کم ستراتيژی شاخص درلود.


**کليدي کليمې:** خوندي خواړه، لاس رسی، عوامل، اغېزې

**پيژندنه:** الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:
په اوسني نړې کښې د کرنيزو او مالداري توليداتو په برخه کښې نا انډولتوب زياد ليدل او د خوړو خونديتوب په ډيرو پرمختللوونکو هيوادونو کښې تر لاسه شوي نه دي ، د نړيوالو سازمانو نو د مطالعې په بنسټ يو پر دريمه برخه د انسانانو خواړه يا غذايي مواد هر کال له منځه ځي او بي ځايه غورځول کيږي چې دا د خوړو د خونديتوب په برخه کښې لويه ستونزه بلل کيږي.

دا په داسي حال کې تر سره کيږي چې په پر مختلوونکو هيوادونو کښي د کمزوري جوړښت له کبله د ساري په ډول د غذايي موادو ذخيره ، د بيو زياتوالي ، خوندي او سالمو خوړو ته نه لاس رسی د خوړو د خونديتوب بنسټيزي ستونزي بلل کيږي. د کورنيو د خوړو خونديتوب په داسي ډول تعريفولای شو: ټولو خلکو ته په ټولو وختونو کښې په بشپړه اندازه د خوړو رسيدل تر څو فعاله صحي ژوند وکړي.

(نړيوال بانک، ۱۹۸۶؛مکسويل او ملګري، ۱۹۹۹).

نن ورځ ډيري زياتي ستونزي لکه په نړيواله سطح د لوړې زياتوالي، د خلکو د ورځني خوړو په رژيم کښې نا انډولتوب، د ژوند د چاپيريال او طبيعي زيرمو له منځه تلل او نور د دې سبب ګرځيدلي دي چې د خوړو خونديتوب د بشري ټولني مهمه او اغېزمني مسئلې باندې تبديل شي. د خوړو دا نه خونديتوب په يو شمير اسلامي هيوادونو کښې هم ليدل کيږي. له دې امله د خوړو د خونديتوب برابرول د اقتصاد د توسعې او ملي مصؤنيت د شرايطو څخه شمېرل کيږي.

د اسلامي کنفرانس غړو هيوادونو په دې ورستيو کښې ښه ډيري لاسته راوړني درلودی البته دا لاسته راوړني کولای شي.

په نړۍ کښې د خوړو ، سولې او عدالت د نوي نظام په منځته راوړلو کښې رول ولوبوي، زموږ د هیواد دکرنیزو پالیسیو جوړوونکي په دې عقیده دي چې د هیوادوالو هر اړخیزه همکاري د ټولنیزو او اقتصادي کمزوریو له منځه وړل او د نړیوالې د خوړو د ستونزو سره تعامل او همکاري کول اړین دي.

د خوړو د نه خوندیتوب او بحران ریښه د لویو هیوادونو د توسعه غوښتنې په سیاستونو کښې موندلاي شو ځکه چې د مصرف کوونکي اقتصاد له امله چې زیاته ګټه باید لاسته راشي چې په هغه کښې انساني اخلاق او وعدې تعریف شوي نه دي.

د دې څیړنې موخې د خوړو د ناامنی په برخه کې د کورنیو ټولنیز او اقتصادی ځانګړتیاوې ښنه او ورپسې د خوړو د امنیت وضعیت ، د خوړو د ناامنی کچه او د خوړو په امنیت باندې اغېزه لرونکی کلیدی فکتورونه او د افغانستان په ختیځه سیمه کې د خوړو ته لاسرسی او د خوړو څخه د استفادې په اړه پوهیدل دی. د خوړو خوندیتوب Food Security په برخه کښې درې بنسټیز موضوعات د خوړو د خوندیتوب مفهوم، د خوړو پر خوندیتوب باندې اغېزه لرونکي عوامل او د خوړو د خوندیتوب د معلوملو یا سنجش شاخصونه تر مطالعې لاندې نیول کیږي ، د خوړو د خوندیتوب ورستي تعریف چې په ۱۹۹۶ کال کښې په نړیواله غونډه کښې بیان شوي دي په لاندې ډول دي:

د خوړو خوندیتوب هغه وخت شتون لري چې ټوله خلګ په ټولو ورځو کښې و پوره ،خوندي او مغذي خوړو ته فزیکي او اقتصادي لاس رسی ولري او په لاس کښې شته خواړه د خوړو د رژیم ټوله اړتیاوې د یوه فعال او سالم ژوند د پاره منځته راوړي.

د پورته تعر یف پر بنسټ د خوړو د خوندیتوب اصلي مفهومونه یا ابعاد په لاندې ډول دي:

د ورستیو مفهومونو او اصلي بُعدونو پر بنسټ د خوړو خوندیتوب عبارت دي له:

الف: خوړو ته فزیکي لاس رسي Physical Availability of Food

ب: خوړو ته فزیکي او اقتصادي لاس رسی Economic and physical Access to food

ج: د غذایی موادو څخه ګټه اخیستنه Food Utilization

د وخت په اوږدو کښې د خوړو د خوندیتوب د دریو نورو بعدونو پایښت لرونکي توسعه Sustainability of the Other Three Dimensions Over Time

لکه څرنګه چې د خوړو د خوندیتوب په تعریف کښې چې په ۱۹۹۶ میلادي کال کښې ورته اشاره شوي وه خوړو ته لاسرسي پر دوه ډوله دي ( فزیکي لاسرسي او اقتصادي لاسرسی). د فزیکی لاس رسي مفهوم دا دی چې تر څو کورنې خپل د اړتیا وړ غذایي موادو ته لاس رسی ولري نو د خوړو د خوندیتوب څخه برخمن دي، په دې منظور باید کورنې د خوړو د ویشلو د شبکې سره خپل د ژوند په محل کښی د نژدې څخه په اړیکه کښې وي.د خوړو اقتصادي لاس رسی د کورنیو د اقتصادي توان څخه عبارت دي تر څو په بشپړ ډول ورته لاس رسی ولري. خواړو ممکن په پلورنځیو کښې شتون ولري خو دپیسو د نه لرلو له کبله بنائی دهغه د رانیولو توان ونه لري.او یا هم د ځمکې او نورو د نه لرلو له امله د هغه په تولیدلو باندې قادر نه وي.خواړو ته لاس رسیدا مفهوم لري چې آیا د ښاري کم عاید لرونکي مصرف کوونکي ښاري تولید شوي خواړو ته لاسرسی لري؟ د ټولنې د خوړو خوندیتوب د ټولنې د خوړو د خوندیتوب د ایتلاف Community Food Security Coalition (CFSC) لخوا تعریف شوی دی "ټول هغه کسان چې هر وخت د ځایي غیر عاجل سرچینو له لارې د کلتوري پلوه د منلو وړ، د تغذیې له پلوه کافي خواړه ترلاسه کوي"، چې ښاري کرهنه په دې هڅو کې یو مهم مګر مدغم رول لوبوي (هوریست او ملګري،۲۰۱۷)

په ښارونو کې د ښاري کرنیزو عملیاتو پراخول "دا تضمین نه کوي چې هغه خلک چې د خواړو خوندیتوب تجربه کوي دې خواړو ته لاسرسی ومومي، د ویش او لاسرسي مسئله ".

خواړو ته لاسرسی، د خوړو خوندیتوب د اصطلاح سره نږدې اړیکي او تړاو لري، د ځانګړو خواړو ترلاسه کولو پروسه تشکیلوي (په دې حالت کې ښاري تولید شوي) اوښوونیز، کلتوري، جغرافیایي او اقتصادي اړخونه هم پکې شامل دي.

په ټیټ عاید لرونکو ټولنو کې تازه خواړو ته د لاسرسي په اړه څېړنې اکثراً د خوراکیتوکوپر صحرایي تحلیلونو باندې تمرکز کوي

چې د پرچون پلورنځیو نشتوالي مطالعه کوي؛ په هرصورت، د "د پلورنځیو نشتوالي" باندې تمرکز کول د پانګې اچونې تاریخي نمونې او د خوړو د ناامنی بنسټیز جوړښتي لاملونه نه پېژني او د حل لارې چارې ساده کوي (هوریست او ملګري،۲۰۱۷).

د نورو څېړنو مطالعې هڅه کوي چې د کروندګرو بازارونو له لارې تازه خواړه راوړي چې په بې کاره ټولنو کې موقعیت لري، یا د کونج پلورنځیو کې د تازه محصولاتو (ښاري تولید شوي ضروري نه دي) وړاندیز کوي. د خوړو او تغذیې د امنیت د وضعیت په ارزونه کښې یو شمیر مختلف شاخصونه او مختلف میتودونه په لویه کچه ، منځني او کوچنی کچه کې د خواړو او تغذیې امنیت Food and Nutrition Security (FNS) وضعیت ارزولو او نظارت لپاره کار وړل شوي دي. د خواړو ناامنی څنګه محاسبه څرنګه محاسبه کولاي شو؟ د خواړو نا امنی د "لږ تغذیه" یا خورځواکي له لارې اندازه کیږی ، کوم چې په دوامداره توګه د انرژۍ لوموړنی اړتیاو پوره کولو لپاره د خواړو ناکافی مصرف په توګه تعریف شوی دي. د خوارځواکۍ محاسبه د ټول نفوس لپاره د خواړو د مصرف د اټکلونو په بنسټ تر سره کیږي ، د خواړو د مصرف ارقامData د هیواد ځانګړی خواړو د معیارونو سره په پرتله کولو سره اندازه کیږي. د خوراکي توکو د ویش لپاره د ضریب په توګه د عاملونو کارول ترڅو خواړو ته د لاسرسی په برخه کې نابرابری له منځه یو وړول شي. دا محاسبې په هر هیواد کې د هغه خلکود شمیر اټکل کوی چې د خوړو د منځنی کالوری مصرف د بدن روان ساتلو او سپک فعالیتونو ترسره کولو لپاره اړین دي. د دې شمیرو اضافه کول په ګډه د خوارځواکه خلکو د ټول شمیر نړیوال اټکل وړاندې کوی (FAO ,1999). د خواړو د وضعیت ډیرعام شاخصونه پداسې حال کې چې 'کم تغذیه' ، د تغذیې پایلې یا د اغېزې شاخصونه د بدن انفرادی اندازه کولو یا د بدن مایعاتو بایو کیمیکل تحلیل د محاسبې په اساس تر سره کیږي. د تغذیې وضعیت لپاره ترټولو مکرر کارول شوی شاخصونه په ۱ جدول کې لیست شوی دی. د انتروپومیتریک شاخص د عمر لپاره لوړوالی په ماشومانو کې د خطی ودې لاسته راوړنې ښيې. د ودې څنډ یا Stunting د ناکافی تغذیې او / یا روغتیا اوږدمهاله ، مجموعی اغېزې په ګوته کوی که چیرې د مور تغذیه او / یا روغتیا وضعیت په جدی ډول خراب شی ، د رحم د ننه وده Intrauterine growth retardation (IUGR) کښې خنډ پیښیږی ، او ماشومان د زیږون ټیټ وزن low birth weight (LBW) سره زیږی.

**۱- جدول:** د خواړو د حالت ډیر عام شاخصونه ( کره لیدنه )

| کته ګوري | شاخص | شاخص او لنډ توضیحات |
| --- | --- | --- |
| ماشومان | Stunting د ودي خنډونه | Low height-for-age (chronic malnutrition or growth reduction indicating general deprivation)<br>د عمر لپاره ټیټ قد (د اوږدې مودې خوارځواکی یا د ودې کمښت چې عمومی محرومیت ښیې) |
| | Wasting ضايعات | Low weight -For-Height (‘acute malnutrition’)<br>ټیټ وزن - د د قد د لوړوالي لپاره ('تیزه یا زیاته خوارځواکی') |
| | Underweight لږ وزن | Low weight -for-age<br>ټیټ وزن - د عمر لپاره |
| | MUAC | Low mid upper arm circumference (hunger)<br>د بازو د منځني شاوخوا د اندازې ټیټوالي(لوږه) |
| | LBW | Low birth weight (intrauterine growth reduction)<br>د زیږون ټیټ وزن (د رحم د لاری وده کمیدل) |
| | Night Blindnessشب کوري | Vitamin A deficiency کمښت A د ویټامین |
| | TGR | Total goiter rate (Iodine deficiency)<br>( د آیوډین کموالی) د جاغور یا بوغ ټوله اندازه |
| لویان | BMI < 18.5 | Low body mass index (chronic energy deficiency)<br>د ټیټ بدن ډله ایز شاخص (د انرژی اوږدمهاله کمښت) |
| | BMI > 25 | Overweightډیر وزن |
| | BMI > 30 | Obesity چاغښت |
| | UIE | Low urine iodine extraction (iodin deficiency)<br>په ادرارکښې د ایوډین ټیټ استخراج (د ایوډین کمښت) |
| ماشومان او ښځې | Anemia د ویني کمښت | Iron deficiency د اوسپنې کمښت |

## مواد او کړنلاره

د دې څېړنې لومړنی معلومات د کورنیو د یوې لویې سروې څخه اخیستل شوی چې د ۲۰۱۷ کال د می او سپټمبر تر منځ د افغانستان د حکومت او نړیوالو سازمانونو له خوا په ګډه دهیواد په ختیځه سیمه کښې تر سره شوې وه .

دا په داسې حال کې ده چې په یوه سیمه کې د خوراکي توکو د خوندیتوب په اړه لومړنی څېړنه ترسره شوې ده. دغه سروې د افغانستان په ختیځه سیمه کې پر ۹۷۷۴ کورنیو ترسره شوې چې له څلورو ولایتونو ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان څخه جوړه شوې او په هر یو کې ګڼې ولسوالی، کلی او نور شامل دی.

په دې څېړنه کې د کورنيو بې ځايه شويو، راستانه شويو او ځايي خلکو په ګډون ۱۰۲۵۷ کورني د پوښتنليکونو له لارې په نښه شوې، خو د امنيتي انديښنو له امله ۹۷۷۴ کورنۍ په کښې شاملې وې. سربيره پردې ، کورنۍ د کلستر پراساس ويشل شوی چې د ختيځې سيمې ترټولو د خوارو د لاس رسي له پلوه ناامنه ولسوالۍ وې.

د نفوسو څېړنه او مطالعات په څلورو مرحلو کې پلي کيږي. لومړی ګام د چمتووالي فعاليتونه شامل دي چې په دې کښې د سروې د پوښتنليکونو جوړول يا ډيزاين کول ترڅو د څېړنې د موخو ځانګړی اړتياوې پوره کړي، د سروې وسايل د مخه ازمويل شوی ، او نهايي شوي وه. په دوهم پړاو د ساحوی کارمندانو روزنه او د ساحوی کار ترسره کول شامل دي، ټاکل شوی کورنۍ او انفرادي ځواب ويونکی پيژندل شوی او شوي دي. په دريم پړاو کې د معلوماتو پروسس کول شامل دی ، چې په هغه کښې د معلوماتو سمول ، کوډ ور کول ، او په سافټ وير کښې داخلول Entry او تاييد کول او همدارنګه د ثبات لپاره يې چيک کول. دا مرحله معمولاً د ساحوی کار له پيل څخه وروسته پيل کيږی. په وروستی مرحله د معلوماتو تحليل او د وروستی راپور چمتو کول شامل دی. دا سروې عموماً د نمونې چوکاټ د جوړولو څخه تر وروستی راپور خپرولو پورې شاوخوا تر لس څخه زياتي مياشتې وخت په بر کښې نيولي دي.

## موندنې او مناقشه Conclusions and Recommendations

د ځواب ويونکو او کورنيو ټولنيز ډيموګرافيک ځانګړتياوې څرګندوی چې په هغه کښې عمر ، جنډر ، زده کړه ، د استوګنې ډول ، راجستر شوی راستانه شوی ، د کورنۍ اندازه ، د معلوليت لرونکو غړو شمير (ذهني يا فزيکی) ، کور ، د کورني مشر او ځينې نور ي ځانګړی ځانګړتياوې شاملې دي. .(ALCS,2016 )

د څارنې سروې څرګنده کړه چې دښځينه وو له خوا اداره کيدونکي کورنۍ ډير احتمال لری چې خورا بې وزله وی او د نارينه سرپرست لرونکو کورنيو په پرتله يې د خوړو نا امنی لوړه وی .(Chibende, 2011)

د دې تر ټولو مهم دليل په کرنيزو فعاليتونو کې د ښځو فعاله ونډه ده ، په داسې حال کې چې اکثريت نارينه د کرهنيزو فعاليتونو پرته په نورو عايداتو لرونکو سيمو کې کار کوی. په دې څېړنه کې ، 95.0٪ ځواب ورکوونکی نارينه او 5.0٪ ښځينه دی (جدول 1).

د کورونو د سرپرستانو د حاکميت دغه نمونې په څلورو ولايتونو کې د مطالعې په سيمو کې يو شان دی. په هر حال د هغه کورنيو چې ښځينه سرپرست لري د افغانستان په ځينو سيمو کښې توپير کوي. د بيلګې په توګه، په فراه کې د ښځو د سرپرستانو تر ټولو لوړه فيصدی 22 فيصده، فارياب 15.4 فيصده او نيمروز 10 فيصده ثبت شوې ده.(SFSA, 2014)

په داسې يوه هيواد لکه افغانستان کښې چې د کورنيو جوړښت ډير ټينګ او غښتلي دي او د درناوي، کورنيو غښتلو اړيکو او ټولنيزو ارزښتونو په بنسټ ولاړ دي د کورنۍ مشر تل د کورنۍ پريکړه نيوونکي دي. له دې امله ، عمر د پوخوالی د کچې او د کورنيو او ټولنيزو اقتصادی پريکړو لپاره ډېر مهم دی .(SFSA, 2014)

د کورنيو د مشرانو عمر د خوړو د ناامنی حالت سره تړاو لری

ځکه چې که د کورنيو د غړو عمر زياتيږی په هغه اندازه د کورنيو د خوړو د خونديتوب آسيب پذيری کميږی. .(Bashir et al., 2012)

په دې څېړنه کې د کورنيو اکثريت مشران (۹۱.۷٪) چې په سنی ګروپ کې تر ټولو لوړه سلنه لری، د ۱۸ څخه تر ۶۴ کلونو پورې دی. په هر صورت د ۱۸ او له ۶۵ کلونو څخه پورته عمر لرونکی کسان د دويمې ډلې په پرتله د کم عايد او د کار د محدودو فُرصتونو له امله د خوړو له ناامنی سره مخ دی. Johnecheckاو Holland (2007) کښې راپور ورکړي دي چې په افغانستان کې ۶۰ سلنه ماشومان چې له پنځو کلونو کم عمر لری په مزمنه او ۸ سلنه يې د حاد خوارځواکی څخه رنځ وړی. نتيجه ښيی چې ۶۰.۹٪ د کورنيو مشران بې سواده دی (ليک او لوست نه لری). هغه کورنۍ چې مشر يې اصلاً ښوونځی نه لری د خوړو د ناامنی سره مخ دی او هم د خوړو لګښت او هم د مصرف له پلوه تر ټولو بد حالت دی.

په ټيټ عايد لرونکو ټولنو کې د تازه خوارۍ ته لاس ر سی په اړه څېړنې اکثراً د خوارۍ په صحرايي تحليلونو باندې تمرکز کوی چې د پرچون پلورنځيو نشتوالی مطالعه کوی؛ په هرصورت ، په "د پلورنځيو نشتوالی" باندې تمرکز د تاريخی زيرمو نمونې او د خوارۍ نا امنی اصلی جوړښتی لاملونو ته پام نه کوی او د حل منظره ساده کوی (Nathan ،۲۰۰۸) .

په نورځېړنو کې جوته شوې ده چې تازه خواړه د بزګرانو د بازارونو له لارې راوړل شي چې په بې وزلو ټولنو کې موقعيت لری ، يا په ګوټ ګوټ پلورنځيو کې د تازه محصولاتو وړانديز کولو له لارې تر لاسه شي يعني ښاری توليد اړين نه دي.( Casey، ۲۰۱٦)

دواړه هڅې د محدود برياليتوب سره مخ شوی( Gudzune او ملګري ۲۰۱۵؛Sarah او ملګري). د ټيټ عايد لرونکو ټولنو لخوا د ښاری توليد شوی خواړو ريښتينی مصرف په اړه لږ څه پيژندل شوی. کله چې د تيرو څېړنو ځينې بياکتنې د بيلګې په توګه Block او ملګري( ۲۰۱۲) ادعا کوی چې ښاری کرنه د ناامنه کورنيو او ټولنو ترمنځ خواړو ته لاسرسی ښه کوی، دا ډيری وختونه د "لاسرسی" د محصول مفکورې څخه راځی. په نورو څېړنو کې د محصول تمرکز د ښاری فارمونو شتون (او پدې توګه د ښاری خواړو رسولو کې زياتوالی) د لاسرسی د زياتوالی سره يوځای کوی ، پرته له دې چې دا وښيي چې خواړه په ريښتني توګه چيرته ځی او څوک يې مصرفوی.

د يوې مسلې په توګه د خواړو لاسرسی تمرکز د روغتيا سره د ځانګړو اړيکو هاخوا ځی (که څه هم دا مهم دی) يوه لاره وی چې د ځواک ، کنټرول او نابرابری مسلې په امريکايی منظره کې ليکل کيږی(Block او ملګري، ۲۰۱۲).

لاندې موږ د ښاری توليد شوی خواړو ته د لاسرسی په وړاندې خنډونه په ګوته کوو ، په شمول د فزيکی نږدې والی ، د خواړو لګښت ، د ځمکې لګښت ، کلتوری منل ، او د تغذيې ښوونه ، چې د ښاری کرنيزو علومو ،عامې روغتيا ، پراختيا اقتصاد او خواړو جغرافيه کې د ادبياتو د انضباطی ارګان څخه پيژندل شوی. موږ بيا د Urban Agriculture ښاري کرنې ډيری بريالی مثالونه تشريح کوو چې خواړو ته لاسرسی زياتوی ، د خواړو حاکميت ليدونو ته رسم کول ، په ۲ جدول کې لنډيز شوی. د څېړنو دا موندنې د ښاری توليد شوی خواړو واقعی مصرف په اړه د قوی معلوماتو څخه ګټه پورته کوی ، د معلوماتو راټولولو نوښت ميتودونو او د کورنۍ مشاهدو ته اړتيا لری ترڅو معلومه کړی چې ايا لاسرسی (د خواړو ترلاسه کول) او مصرف (د هغې خوړل) واقعاً نږدې مطابقت لری.

**۲- جدول:** . د افغانستان په ختيځه سيمه کې د کورونو ټولنيز او اقتصادی ځانګړتياوې

| Variables | Category | Frequency | % |
|---|---|---|---|
| د کورنی د مشر عمر (په کلونو) (Age of household head (years)) | <18 | 176 | 1.7 |
| | 18-64 | 8961 | 91.7 |
| | 65> | 645 | 6.6 |
| د کورنی د مشر جنسيت (Gender of household head) | نارينه (Male) | 9283 | 95.05 |
| | (Female)ښځينه | 491 | 5.0 |
| د کورنی د مشر علمي کچه (Education level of household head) | (No school) نالوستي | 5951 | 60.9 |
| | (Primary school)لمړنی ښونځی | 1300 | 13.3 |
| | (Secondary School) منځنی ښونځی | 853 | 8.7 |
| | (High school or university)لوړی زدکړی یا پوهنتون | 1300 | 13.3 |
| | (Islamic school)اسلامي ښونځی | 369 | 3.8 |
| د کورنی د اوسيدو ډول (Residence type of household) | (Permanent residence)دايمي اوسيدونکي | 4616 | 47.2 |
| | (Returnee)را ستنيدونکي | 3040 | 31.1 |
| | IDP(Internally Displaced People). | 2118 | 21.7 |
| د کورنی د غړو شمير (Household size) | <9 | 5520 | 56.5 |
| | 10-14 | 2810 | 28.7 |
| | 15-60 | 1439 | 14.7 |
| د کورنی د عايد کچه (افغانی/میاشت) (Household income (Afs/month)) | (No income)هيڅ عايد نلری | 5137 | 52.6 |
| | ≤5000 Afs | 1181 | 12.1 |
| | 5001-11999 Afs | 2157 | 22.1 |
| | 12000-19999 Afs | 913 | 9.3 |
| | 20000 ≥ | 386 | 3.9 |

لکه څنګه چې په ۲ جدول کې ښودل شوی ، ډیری کورنی د ۴۲،۲٪ سلنه سره دایمی استوګنځی دی ، ورپسې بیرته راستانه شوی کسان د ۳۱،۱ او ۲۱،۷ ٪ کورنیو سره. د راستېنېدو شویو کورنیو ۱۷ سلنه یې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کميشنرۍ او د افغانستان حکومت سره ثبت شوی او ښایی بېلابېلې مرستې ترلاسه کړی، خو ۱۴ سلنه یې له ثبت پرته پاتې دی. د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالی کميشنری د راپور له مخې، تر ۲۰۱۶ کال پورې په افغانستان کې د داخلی بې ځایه شویو خلکویا وګړو (Internally Displaced People) شمېر دوه میلیونه وو. سربیره پردې په ټول افغانستان کې د بې ځایه شویو کسانو شمیر ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دی ځکه چې د ۲۰۱۷ کال د جنوری له لومړی نیټې څخه تر ۳۰ سپتمبر پورې یوازې ۳۱۸۰۰۰ کسان د اقتصادي او پوځی ناورینونو له امله بې ځایه شوی دی (FSIN, 2017).

د ولایتونو د بنسټ له مخې ، په ننګرهار کې د راستنیدونکو او بې ځایه شویو کسانو تر ټولو لوړه ۳۶،۸ سلنه او ۲۶،۶ سلنه ده ، ورپسې لغمان ۳۳،۲ سلنه او ۱۸،۱ سلنه کنړ او لړه سلنه د صفر څخه تر ۱۷ پورې د نورستان ولایت وه. لویو کورنیو د کوچنیو په پرتله د خوړو زیاته نا امنې درلوده.(Mudefi, 2011).

**۳-جدول:** د کورنیو د عاید په بنسټ د خوراکي توکو د لګښت اندازه په سلنه

| د خوړو لګښت | تر ټولو ټیټ عاید (صفر افغانی) | له ۱ څخه تر ۵۰۰۰ افغانۍ | له ۵۰۰۱ - ۱۱۹۹۹ افغانۍ | له ۱۲۰۰۰ – ۱۹۹۹۹ افغانۍ | >۲۰۰۰۰ افغانۍ | اوسط |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ډوډۍ او غلې دانې | 38.09 | 37.25 | 36.33 | 36.52 | 33.56 | 35.38 |
| غوښه / ماهی | 6.57 | 5.97 | 5.97 | 5.97 | 5.3 | 6.14 |
| دال | 11.24 | 11.24 | 11.4 | 10.91 | 10.92 | 11.11 |
| میوه / سبزیجات | 9.19 | 9.11 | 10.15 | 9.29 | 10.44 | 9.74 |
| شحم / غوړ | 12.79 | 13.04 | 12.97 | 12.29 | 12.54 | 12.65 |
| لبنیاتي تولیدات | 5.88 | 5.78 | 5.34 | 5.52 | 5.28 | 5.51 |
| مالګه | 4.78 | 4.31 | 4.2 | 4.02 | 3.87 | 4.16 |
| خواږه | 10.03 | 11.02 | 11.17 | 11.42 | 12.01 | 11.29 |
| د څښاک اوبه | 0.12 | 0.11 | 0.08 | 0.11 | 0.17 | 0.12 |
| پخه شوي خواړه | 0.56 | 0.61 | 0.33 | 0.39 | 0.65 | 0.51 |
| بهر خواړه | 0.77 | 1.54 | 2.23 | 3.55 | 4.25 | 2.79 |
| مجموعه | 100.00 | 100.00 | 100.00 | 100.00 | 100.00 | 100.00 |
| په ټول لګښت کې د خوراکي توکو د لګښت برخه | 27.05 | 18.09 | 14.03 | 11.60 | 7.28 | 11.62 |

د ۳: جدول ښيي چې په منځني ډول د کورنیو اندازه ۱۰،۰۵ ده چې د یو هیواد د عادی کورنیو د اندازې څخه لوی دی. د کورنیو اوسط اندازه په افغانستان ۸ غړی لری (ملګری ملتونه، ۲۰۱۷). له بلې خوا، پايلې ښيي چې د کورنیو پراخ اکثریت ( ۵۶،۵ ٪ ) له ۱ څخه تر ۹ پورې غړی لری او ورپسې ۲۸،۷ ٪ د ۱۰ څخه تر ۱۴ غړو، په داسې حال کې چې ۱۴،۷ ٪ کورنۍ د ۱۵ څخه تر ۶۰ غړي لرې. په هر صورت، آخريني دوه ډلې د کورونود غړو د لوی شمیر له امله د خواړو د نا امنی له مخې تر ټولو زیات آسیب پذیره دی، لکه څنګه چې په ډیرو څیړنو کې راپور ورکړل شوی چې هغه کورنۍ چې ډیر غړی لری د خوړو د نا امنی سره مخ کیږی.

د کورنیو د خوړو لګښتونه یو د اقتصادی زیانوله ډلې څخه دي چې د کورنیو د خوړو د نا امنی مهم عامل بلل کیږي او د خوړو د لګښتونو او د کورنیو د مجموعی لګښتونو تر منځ د اړیکو له لارې اندازه کیدلی شی. له هغه ځایه چې د خوړو لګښت په عمومی ډول غیر ارتجاعی دی (د عایداتو سره په سلو کې توپیر نشته، ځکه چې کورنۍ د خوړو د اړتیاوو پوره کولو سره په نورو توکو لګښت زیاتوی )، د خوړو د لګښتونو یوه لوړه برخه د اقتصادی بحرانونو سره د مقابلې لپاره لږه وړتیا ښيي او په عمومی توګه د فقر سره تړاو لری (SFSA, 2014).

۲ جدول په هر عاید ګروپ کې د خوړو د لګښت اهمیت ښيي. په دې څیړنه کې څرګنده شوې چې ټیټ عاید لرونکی کورنۍ د لوړ عاید لرونکو کورنیو په پرتله د خوراکی توکو لپاره مهمه لګښت لګوی، د غیر خوراکی توکو پر ځای د خوراکی توکو د لګښتونو اندازه لکه روغتیا، سرپناه، او د کورنۍ د غړو د زده کړې دا پایلې د (Akbay et al., 2007 and 2008; Patrick, 2012; Akbay,2018)ته ورته دي.

## پایله

افغانستان یوه نارینه واکمنه ټولنه ده، او دا د نارینه وو مسؤلیت ګڼل کیږی چې د کورنۍ د غړو ټولې اړتیاوې لکه خواړه، ښوونه او روزنه، روغتیایی اسانتیاوې، جامې او سرپناه پوره کړی. له همدې امله، ډیری کورنۍ د نارینه وو لخوا رهبری کیږی که څه هم په نادره قضیو کې ښځینه هم د کونډې، طلاق یا نورو ځانګړو شرایطو کې کورنۍ رهبری کوی. مګر د ښځینه سرپرست لرونکی کورنۍ د هغو کورنیو په پرتله دوه چنده ډیر احتمال لری چې د خواړو نا‌امنی ولری چې سرپرست یې نارینه دی. د نارینه وو په مشرۍ کورنۍ په امنیتی شتمنیو، جوړښت، بشری سرچینو، ملکیت، او د عاید فُرصتونو ډیروالی او د خوړو امنیت کې تر ښځینه وو لوړ دی.

د خواړو ناامنی مهم عوامل ناامنی ، فقر ، د کاري فرصتونو نشتوالی، په کليوالي سيمو کښې بې ځمکي او لږ ځمکو کروندګرو شتون ، ټيټ معاش او عايد، په کليوالی سيمو کې بې ځايه کيدل، او د کډوالو او داخلی بې ځايه شويو خلکو لوی مهاجرت له امله رامينځته شوی دي ، څېړنې وموندله چې ۴۶،۹٪ کورنۍ د خواړو ناامنی لری پداسې حال کې چې ۴۹،۶٪ کورني له لوږې سره مخ شوی او ۴۸٪ کورنۍ د خواړود مصرف ضعيف او سرحدی نمرې لرې، سربيره پردې ۴۶،۲٪ households يا کورنيو له اعتدال څخه تر خورا کم ستراتيژۍ شاخص درلود.

په څېړنه کښې دا جوته شوه چې د کورنيو د مشرانو عمر د خوړو د ناامنی حالت سره تړاو لری ځکه چې که د کورنيو د غړو عمر زياتيږی په هغه اندازه د کورنيو د خوړو د خونديتوب آسيب پذيری کميږی.

دوامداره عايد او د هغې سرچينه د کورنيو د خوړو د خونديتوب لپاره اړين دی. پايلې موندلې چې ۴۷،۸ ٪ د کورنيو يوډول عايد درلود ، په داسې حال کې چې ۳۳،۳ ٪ دوهم عايد او اقليت (۱۶،۴ ٪ ) دريم عايد هم درلود . اکثريت کورنيو (۵۲،۶ ٪) هيڅ ډول عايد نه لری. دا ډول کورنۍ ممکن په کليوالي يا ناامنه سيمو کې ژوند وکړی چېرته چې د کار فُرصتونه نشته او تر ټولو زيات د خوړو له خطر سره مخ وی او همدارنګه په داسې حالت کې کورنۍ خپل ماشومان د زده کړې پر ځای د کار کولو لپاره له ښوونځی څخه وباسی او وريسې ۲۲،۱ ٪ (۱۲۰۰۰ - ۱۹۹۹۹ ) افغانی عايد لرونکی دی . د هېواد اوسط عايد لرونکې او داسې کورنۍ کولای شی د کرنيزو فعاليتونو تمرين وکړی. له دې امله ، د کورنيو اقليت ( ۹،۳ ٪ ) له ۲۰۰۰۰ افغانی څخه زيات عايد لری او د مطالعې په سيمو کې تر ټولو زيات د خوړو خوندی کورنۍ دی.

د دې څېړنې موندنې ښيی چې ټولنيز - ډيموګرافيکی فکتورونه په ختيځه سيمه کې د کورنيو د خوړو په ناامنی کې مهم رول لوبولی دی د خوړو نا امنې د هغه کورنيو په منځ کې لوړه وه چې د کورنيود مشرانو عمر يې له ۱۸ څخه کم او له ۶۴ کلونو څخه زيات وی. د ښځينه مشرې او جلا شوی يا طلاق شوی کورنې، بی سواده د کورنيو مشران ؛ د کورنيو اندازه په ځانګړې توګه د ۱۰-۱۴ او ۱۵-۶۰ غړو په شمول د يو زيات شمير ماشومانو درلودونکې ؛ د دايمی معلوليت لرونکې د کور مشران ؛ د کورونو ډولونه په ځانګړې توګه په خيمه کمپ او خلاصه فضا کې، نوی بې ځايه شوی او بيرته راستانه شوی کډوال له ايران او پاکستان څخه؛ او هغه کورنۍ چې د عايداتو يوه سرچينه نه لری شامل دي.

له بلې خوا ، لومړنی کليدی فکتورونه چې په ختيځه سيمه کې د کورنيو د خوړو امنيت باندې اغېزه يدلي ده عبارت دی له: ناامنی او شخړې، طبيعی آفتونه لکه سيلاب، وچکالی، زلزله او سخته اوبه او هوا، ناپايداره معيشت او د څارويو د توليد کمښت ، د معيشت د شتمنيو کموالی، د اوبو لګولو لپاره د اوبو ناکافی سرچينې په دې وروستيو کې د افغانستان د کرنې زيربنا، سړکونه ، کورونه ، ښوونځی او بازارونه ؛ د خوراکی توکو د لاسرسی نشتوالی او د پراختيا په حال کې، د خوراکی توکو د نرخونو نوسانات او د بازار ناکافی فعاليت ، د خوراکی توکو د نرخونو لوړوالی ، فقر ؛ په حاکمه سيمو کې د کار د فُرصتونو نشتوالی. ټيټ معاش او د کورنۍ عايد. د ښوونې او روزنې او د زده کړې او روغتيايي خدمتونو نشتوالی په ځانګړي توګه د ښځو لپاره ، په کليوالو سيمو کې د ځمکي لږوالي ، او د مهاجرينو او بې ځايه شويو مهاجرينو ګڼ شمېر راتګ ؛ په ټوليزه توګه په افغانستان کې د خوړو د نا امنی مهم عوامل دي.

## وړانديزونه

- د څېړنې د نتايجو له مخې د کورنيو د سرپرستانو د بې سوادۍ کچه ډيره لوړه ده نو د افغانستان حکومت ته سپارښتنه کوی چې د کورنيو سرپرستانو ته د خوړو د امنيت په اړه مسلکی زده کړې او لنډ مهاله ورکشاپونه برابر کړی.
- هغه کورنۍ چې د خوړو له خطر سره مخ دی بايد هره مياشت وړيا خوراکی توکی لکه حبوبات، بوره او تيل ترلاسه کړی ترڅو د زده کوونکود ښوونځی ته نه ورتګ کم شی.
- لکه څنګه چې د افغانستان په ختيځ زون کې د ښځو لپاره د کار د فرصتونو کموالی شتون لري ، نو نړيوالو او دولتی سازمانو لپاره سپارښتنه کيږی چې د شاتو د مچيو روزنه ، چرګانو روزنه او غالی اوبدلو کې مرسته وکړی تر څو د دوامداره عايد د لاسته راوړلو په وسيله د خوړو د نا امنی د کمولو لپاره مرسته وکړي.
- ختيځه سيمه کافی اوبه لری خو شخړو او جګړو د اوبو لګولو سيستم ته سخت زيان رسولی او ټولې اوبه پاکستان ته ځی. دا د حکومت لپاره اړينه ده چې د اوبو لګولو سيستم بيا جوړ کړی او اوبه وسپموی.

- له بلې خوا ګڼ شمېر ځړځایونه او دښتي ځمکي شته چې حکومت باید د خوراکی توکو له خطر سره مخ د منځنۍ کچې کورنیو ته ځمکي وویشی تر څو د هغوی عاید ښه شی او همدارنګه دا کارد هېواد د کرهنې لپاره هم ګټور دي.
- د دې څېړنې پایلې به د کورنیو د خوړو د ناامنی په برخه کې د پریکړو او پالیسیو په نیولو کې اړوند معلومات وړاندې کړی. له دې امله ، پایله به له نړیوالې ټولنې، سیمه ییزو او غیر دولتی سازمانونه (NGOs) سره مرسته وکړي چی د حکومت یا نړیوالو سازمانونو لپاره د پرمختیایی خوراکی مرستو د پروګرامونو په پلانولو کې ونډه واخلي.

## اخځلیکونه


AFSANA. (2014). Policy Statement on Food and Nutrition Security by the Government of the Islamic Republic of Afghanistan. http://extwprlegs1.fao.org/docs/pdf/afg152445.pdf. (Erişim tarihi: 24.07.2014).

Akbay, C. (2018). Household nutrition habits and food consumption in Turkey. Kahramanmaraş Sütçü İmam Üniversitesi Tarım ve Doğa Dergisi, 21, 67-79.

Akbay, C. Boz I, Chern WC (2008). Household Food Consumption in Turkey a Reply. European Review of Agricultural Economics, 35(1): 99-102

Akbay, C., & Ahmadzaı, A. K. (2020). The factors affecting food security in the eastern region of Afghanistan. Kahramanmaraş Sütçü İmam Üniversitesi Tarım ve Doğa Dergisi, 23(2), 467-478.

Akbay, C., Boz, I., & Chern, W. S. (2007). Household food consumption in Turkey. European Review of Agricultural Economics, 34(2), 209-231.

ALCS (2016). Afghanistan Living Condition Survey.Central Statistics Organization Report. Kabul. https://eeas.europa.eu/delegations/afghanistan/440 72/results-afghanistan-living-conditions-survey alcs-2016-17-released_en. (Erişim 24.07.2014). tarihi: Central Statistics Organization Report. Kabul. https://eeas.europa.eu/delegations/afghanistan/440 72/results-afghanistan-living-conditions-survey alcs-2016-17-released_en. (Erişim 24.07.2014). tarihi:

Bashir, M. K., Schilizzi, S., & Pandit, R. (2012). The determinants of rural household food security for landless households of the Punjab, Pakistan.

Block, D.R.; Chávez, N.; Allen, E.; Ramirez, D. Food Sovereignty, Urban Food Access, and Food Activism: Contemplating the Connections through Examples from Chicago. Agric. Hum. Values 2012, 29, 203–215.

Chibende, C. P. (2011). Gender and household food security: A case for Kalulushi District, Zambia. A Research Paper, Institute of Social Studies, The Netherlands.

FAO. (2017). The State of Food Security and Nutrition in the World. http://www.fao.org/3/a-I7695e.pdf. (Erişim tarihi: 24.07.2014).

FSIN. (2017). Global Report on Food Crises. P: 13: 97-10. http://www.fao.org/3/a-br323e.pdf. (Erişim tarihi: 24.07.2014).

Gudzune, K. A., Welsh, C., Lane, E., Chissell, Z., Steeves, E. A., & Gittelsohn, J. (2015). Increasing access to fresh produce by pairing urban farms with corner stores: a case study in a low-income urban setting. Public health nutrition, 18(15), 2770-2774.

Horst, M., McClintock, N., & Hoey, L. (2024). The intersection of planning, urban agriculture, and food justice: A review of the literature. Planning for Equitable Urban Agriculture in the United States: Future Directions for a New Ethic in City Building, 89-120.

Maxwell, D., Ahiadeke, C., Levin, C., Armar-Klemesu, M., Zakariah, S., & Lamptey, G. M. (1999). Alternative food-security indicators: revisiting the frequency and severity of coping strategies. Food policy, 24(4), 411-429.

McClintock, N. (2008). From industrial garden to food desert: Unearthing the root structure of urban agriculture in Oakland, California.

Mudefi, A. R. (2011). Fast Track Land Reform Programs and Household Food Security: The Case of Mutare District (Zimbabwe). Department of Human Ecology at the University of South Africa.

Misyak, S., Johnson, M. L., McFerren, M., & Serrano, E. (2014). Family nutrition program assistants' perception of farmers' markets, alternative agricultural practices, and diet quality. Journal of Nutrition Education and Behavior, 46(5), 434-439.

Nathan, C. (2008). Epidemic inflammation: pondering obesity. Molecular Medicine, 14, 485-492. Sadler, R. C. (2016). Strengthening the core, improving access: Bringing healthy food downtown via a farmers' market move. Applied Geography, 67, 119-128.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د غذا په مصئونيت باندی د کيمياوی آفت وژونکو د استعمال اوپاته شونو اغيزې څېړل

غنی داد سعيدي[1*]، عبد الناصر صديقی [2] عزيزالله نيازيار[3]
[1]نبات ژغورنی څانګه، نباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون
[2]نبات ژغورنی څانګه، زراعت پوهنځی، فراه د لوړو زده کړو مؤسسه
نبات ژغورنی څانګه، زراعت پوهنځی، فارياب پوهنتون
[*]مسؤل ليکوال: ghanisaedi @gmail.com

## لنډيز

ددې لپاره چې نباتات د حشرو او آفتونو له زيان څخه خوندی وساتل سی، اکثره وخت آفت وژونکی ورباندی شيندل کيږی. آفت وژونکی چې اکثره يې زهری دی د انسانانو پر صحت او غذا يې موادو باندی منفی اغيزې کوی؛ يادی اغيزې يې اکثره وخت د آفت وژونکو په مقدار او اندازی پوری اړه لری. آفت وژونکې د غذا په توليد، د حاصل په خوندیتوب/مصئونيت او زياتوالې کې مهم رول لری آفت وژونکې د هغو هيوادونو لپاره خاص اهميت لری کوم چې د غذا د امنيت او مصئونيت د خطرونو سره مخامخ دی که چيری په غذا او يا په غذا يې موادو کې د آفت وژونکو پاته شونی وخوړل سی په لنډه موده کې د انسانانو دمسوميت، په اوږده موده کې د سرطان د ناروغې او و نوی نسلونو ته د مور د شيدو ورکولو له طريقه انتقاليږی چې د ماشوم پر صحت او روغتيا منفې اغيزې کوی، او په اخر کې دمړينی باعث کيږی. د دی لپاره چې په غذا وو کې د آفت وژونکو د پاتې شونو د اغيزو او زيان څخه تر يو اندازی خوندی پاته سو نو هغه غذاوی چې په خام ډول خوړل کيږی بايد په ښه ډول په اوبو پريمينځل سی، پوست کړل سی او که چيری غذا په پاخه ډول خوړل کيږی په ښه ډول په اوبو کې جوش کړل سی؛ علاوه پردی که د کيمياوی حشره وژونکو پرځای د Bio insecticides څخه استفاده وسی تر ډيری اندازه به غذا وی د آفت وژونکو له پاتی شونو څخه خوندی پاته سوی وی.

**کليدي کليمې:** اغيزې، د آفت وژونکو پاتي شونی، د غذا مصئونيت، کيمياوی آفت وژونکی

## پيژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

آفت وژونکی د کرهنې په ډيرو برخو کې په پراخه کچه استعماليږی چې زراعتی محصولات د آفتونو او ناروغيو له زيان څخه خوندی وساتی، د زيان اندازه يې راکمه کړی او ښه کيفيت لرونکی حاصل ورڅخه لاسته راوړی، چې د مصرف کوونکی عمده غوښتنه همد داده(Oerke and Dehne, 2004). په زراعتی آفت وژونکو کې په پراخه پيمانه نور مرکبات لکه حشره وژونکې، فنګس وژونکی، هرزه وابښه وژونکی، مږی وژونکی، حلزون وژونکی، نيماتود وژونکی، د نباتاتو وده تنظيموونکی او د اسی نور شامل دی (Aktar and Sangupta, 2009). آفت وژونکی اکثره وخت د آفت وژونکو په کيمياوی جوړښت پوری اړه لری د کيمياوی جوړښت له مخی آفت وژونکی په اورګانو کلورينز (Organochlorines) لکه انډوسلفان (Endosulfan)، هکزاکلوروبنزين(Hexachlorobenzene) او اورګانو فاسپېټ (Organophosphates) لکه ډايزينون(Diazinon)، اوميتويټ(Omethoate) او ګلای پوسيټ (Glyphosate) باندی ويشل شوی دی(Maksymiv, 2015). د هغه وخت راهيسی چې انسانانو پيشرفت او ترقی ته مخه کړی ده په دی هڅه کې دی چې ژوند لانور ښه او بهتره کړی، د انسانانو لپاره په کاپې اندازه غذا برابره کړی او همدارنګه په دی هڅه کې دی چې څنګه د مضره حشرو، هرزه وښو، فنګسونو او داسی نورو مضره موجوداتو د زيان مخه ونيسی (Gupta, 2004). د يوه اټکل له مخې هر کال په نړۍ کې ۶۰۰ ميليون کسان د هغو غذا وو له امله مريضان کيږی

چې د کيمياوی آفت وژونکو په پاته شونو باندی ککړی وی او ۴۲۰۰۰۰ کسان هر کال ورڅخه مړه کيږی(Nwosu and John, 2022). د یوه بل اټکل له مخې له امریکا په متحده ایالاتو کې هر کال ۳۵٪ د سرطان ناروغۍ په خلګو کې د هغو غذا له امله وی چې په کيمياوی آفت وژونکو باندی ککړې وی(Zhang et al., 2019). هر کال په نړۍ کې ۸۰٪ آفت وژونکې توليدیږی چې په پرمختللو هيوادونو کې ورڅخه استفاده کيږی(Sharma et al., 2019). د آفت وژونکو له استعمال څخه پې ارزښت او اهميت ښکاره دی په داسی ډول چې د آفت وژونکو په استعمال سره زراعتی محصولات د آفتونو او ناروغيو څخه خوندی پاته کيږی، د نباتاتو توليد زياتيږی، نباتات، څنګلونه، ذخيره سوی غذا وی او داسی نور د آفتونو او ناروغيو له زيان څخه ساتل کيږی(Ecobichon, 2000). هغه هيوادونه چې اوس د انکشاف او ترقۍ په حال کې دی په هغو هيوادونو کې دآفت وژونکو استعمال خاص ارزښت لری. په خاص ډول هغه هيوادونه چې ګرم موسم لری په زیاته اندازه تازه سبزی جات او میوی د هغو هيوادونو لپاره چې ډیر ګرم او د حرارت درجه په کې زياته وی برابروی. ددی لپاره چې په زياته اندازه تازه سبزی جات او میوی تولید کړو بیله د حشره وژونکو، هرزه واښه وژونکو او فنګس وژونکو د استعمال څخه یې نه سو توليدولای(Ecobichon, 2001).ښه او باکيفيت آفت وژونکې بايد د خاص او ځانګړی آفت مخه ونيسی او پر نورو اورګانيزمونو باندی کومې منفی اغيزې ونه لری. په هر صورت داستونزمنه ده چې آفت وژونکې دی په مطلق ډول انتخابی وی په داسی حال کې چې اکثره آفت وژونکې پر انسانانو او نورو اورګانيزمونو باندی باندی منفی اغيزی کوی او د غذاوو او غذا یې محصولات دککړتیاباعث کيږی. که یادی غذا وی د انسانانو په واسطه وخوړل سی د انسانانو پرصحت باندی هم منفی اغيزې کوی. تر ۹۵٪ اضافه حشره وژونکې او هرزه واښه وژونکې تر استعمال وروسته پر اصلی نوعو علاوه ونورو نوعو، اوبو، هوا او خاوری ته ځان رسوی او د هغو د ککړتیاباعث کيږی(Cooper and Dobson, 2007). آفت وژونکې د ځمکې د سر او د ځمکې د لاندی اوبو د ککړتيا باعث کيږی چې یادی ککړی اوبه پر سمندری حيواناتو، نباتاتو او که چیری د انسانانو له خوا مصرف سی اغيزې ورباندی کوی(Cerejeira et al., 2003). د آفت وژونکو د زيات استعمال په نتيجه کې د محيط د ککړتيا او په اوږده موده کې د انسانانو پر صحت باندی منفی اغيزې کوی، په لنډوخت کې په انسانانو کې د سردرد، خواګرځيدل او داسی نورو علايمو د ښکاره کيدلو باعث کيږی(Bankar et al., 2012). د آفت وژونکو د استعمالولو څخه وروسته په غذا، نباتاتو او خاوره کې د آفت وژونکو پاته شونی پاته کيږی چې دا د ا فت وژونکو د استعمال پايله ده(Puri, 2014). په اخر کې ویلای سو چې د آفت وژونکو د پاته شونو اغيزې پر غذاوو، غلو دانو او د انسانانو پرصحت او روغتيا باندی ډیری دی که د آفت وژونکو د استعمال اندازه راکمه سی د آفت وژونکو د پاته شونو اغيزې به د انسانانو پر صحت باندی هم کمی سی او همدارنګه به غذاوی په ښه ډول د آفت وژونکو له پاتی شونو څخه ساتل سوی وی.

## موندني او مناقشه

### د غذا په مصؤنيت باندی د کيمياوی آفت وژونکو اغيزې

څرنګه چې په نړۍ کې ورځ تر بلی د انسانانو نفوس زياتيږی د زراعتی او حيواني محصولات تقاضا ورسره زياتيږی، د غذا دمصؤنيت او امنيت لپاره ننګونی هم ورسره زياتيږی او همدارنګه د غذا د توليدوونکو مسؤوليتونه زياتيږی تر څو پوری یوه مصؤنه او د آفت وژونکو له پاتي شونو څخه پاکه او خوندی غذا توليد کړی چې یوه ښه او مصؤنه غذا صحت او ژوند تأمينولای سی. په داسی حال کې چې غير مصؤنه او امنيت نه لرونکي غذا د آفت وژونکو په پاته شونو باندی ملوث او ککړه وی په انسانانو کې د مختلفو ناروغيو لکه نس ناستی او سرطان او داسی نورو باعث کيږی. د یوه اټکل له مخې هر کال په نړۍ کې ۶۰۰ میلیون کسان د هغو غذا وو له امله مريضان کيږی چې د کيمياوی آفت وژونکو په پاته شونو باندی ککړی وی او ۴۲۰۰۰۰ کسان هر کال ورڅخه مړه کيږی(Nwosu and John, 2022). د یوه بل اټکل له مخې د امريکا په متحده ایالاتو کې هر کال ۳۵٪ د سرطان ناروغۍ په خلګو کې د هغو غذا له امله وی چې په کيمياوی آفت وژونکو باندی ککړي وی(Zhang et al., 2019). هر کال په نړۍ کې ۸۰٪ آفت وژونکې توليدیږی چې په پرمختللو هيوادونو کې ورڅخه استفاده کيږی(Sharma et al., 2019). چې په یادو هيوادونو کې په کمه اندازه دمړيني باعث کيږی(Pimentel, 2005). او هغه هيوادونه چې اوس د پيشرفت او ترقي په حال کې دی د آفت وژونکو له امله په زیاته اندازه مړينه په کې راځي ځکه چې د آفت وژونکو د استعمالولو لپاره معياری قوانين، د ليبلونو نه شتون، بې سوادی او د آفت وژونکو د استعمال اړوند د پوره معلوماتو نه در لودل دی(Pimentel, 2005).
او همدارنګه د پيشرفته هيوادونو په مقايسه وروسته پاته هيوادونو کې د آفت وژونکو له استعمال څخه وروسته په غذا وو کې د آفت وژونکو پاته شونی په زياته اندازه وی دمثال په ډول ويلای سو

چي په مصر کي د شيدو پرنمونو (samples) باندی د ۱۵ مختلفو آفت وژونکو د پاته شونو پر شتون باندی څیړنه تر سره سوه د شيدو د تجزيه کولو څخه وروسته معلومه سوه چي د ۶۰٪ څخه تر ۸۰٪ شيدو کي د آفت وژونکو پاته شوني پاته وه ( Dogheim et al., 1996). او هغه څیړنه چي د امريکا په متحده ايالاتو کي پر ۵۰٪ د شيدو پر سمپلونو باندی تر سره سوه د تجربي څخه وروسته معلومه سوه چي د آفت وژونکو د پاته شونو موجوديت د امريکا د متحده ايالاتو د خوړو او دوا اداري( U.S. Food and Drug Administration) او د امريکا د متحده ايالاتو دچاپير يال ساتنی اداري ( U.S. Environmental Protection Agency) له خوا چي کوم معيار يعنی د آفت وژونکو د پاته شوني اخرنی حد ( Maximum Residue Limit) يا MRL ټاکل سوی دی له هغه څخه په کمه اندازه د آفت وژونکو پاته شوني په کي وموندل سوه( Trotterand Dickerson, 1993). په نړۍ کي د آفت وژونکو پاته شوني پرغذا باندی علاوه په هغو کروندګرو کي ډير زيات وی کوم چي آفت وژونکي ډير استعمالوی او يا و هغو کروندو ته نيږدی اوسيږی په کومو کي چي آفت وژونکي پاشل کيږی. کروندګر څکه د نورو خلګو په مقايسه د آفت وژونکو له پاته شونو څخه ډير متأثره کيږی او په خطر کي وی چي دوی په مستقيم ډول آفت وژونکي استعمالوی(Jallow et al ., 2017).

**په سبو او ميوو کي د آفت وژونکو پاته شوني**

د آفت وژونکو پاته شوني اکثره وخت د هغه ميتابوليکی عمليه څخه عبارت دی چي د آفت وژونکو تر پاشلو وروسته په غذا، ميوو او سبزی جاتو کي پاته کيږی. اکثره پاته شوني د انسانانو د صحت او چاپير يال لپاره مضر دی(Sachs et al ., 2010) د آفت وژونکو پاته شوني کيدای سی مقاومت وکړی د غذا يي ځنځير له طريقه ځان تر ډيرو برخو لکه غوښو، شيدو، مستو، ماهيانو، د سبزی جاتو ترغوړو، مغزونو، مختلفو ميوو او سبزی جاتو پوری ورسوی (Crinnion, 2009). حشرې د تغذيه کولو له مخی غلو دانو ته زيان اړوی او د هغو د کيفيت او کميت د خرابيدلو باعث کيږی نوځکه پر غلو دانو له حاصل څخه مخکی او وروسته حشره وژونکي پاشل کيږی تر څو د يادو حشرو دزيان رسولو او يا ضايع کولو مخه ونيول سی. څرنګه چي پر غلو دانوباندی له کرلو څخه بيا د حاصل د راټولو او ذخيره کولو پوری آفت وژونکي پاشل کيږی نو ځکه هغه غذاوي چي له غلو دانو څخه لاسته راځي په زياته اندازه د آفت وژونکو پاته شوني په خپل ځان کي لری(Vela et al ., 2007). پر غلو دانو باندی په هروخت کي په زياته اندازه اورګانوفاسپيتس (Organophosphates)،کارباما يټ(Carbamate)، ترکيبی فايريدونه(Pyrethroids) او دحشرو دودي تنظيموونکي تر ذخيره کولو مخکی او وروسته ددی لپاره پاشل کيږی چي د حشرو له زيان او اخته کيدلو څخه وساتل سی(Collins, 2006). د آفت وژونکو د پاته شونو د اخرنی حد اندازه په مختلفو هيوادونو کي فرق کوی او د پاته شونو له هغه اخرنی حد (MRL) څخه عبارت دي چي په غذا او غذايي موادو کي د آفت وژونکو تر پاشلو وروسته پاته کيږی. ددی لپاره ځينی سازمانونه لکه اروپايي اتحاديه، دشمالی امريکا د تجارت اتحاديه او داسی نوري اتحاديې او سازمانونه په دی هڅه کي دی چي د آفت وژونکو د پاته شونو اندازه په ټولو هيوادونو کي راکمه او يو رقم وټاکی(Handford et al ., 2015). د غذا نړی وال سازمان (FAO) او د صحت نړی وال سازمان (WHO) د کارباريل (Carbaryl)، بايوريسميترين (Bioresmethrin)، بروموپوس(Bromophos)، کلوروپايروفوس ميتيل (Chlorpyrifos-methyl)، ډلتامترين (Deltamethrin)، ډايکلوروس (Dichlorvos)،ايتريمفوس (Etrimfos)، فينيتروين (Fenitrothion)، فنوليرټ (Fenvalerate)، ملتين (Malathion)، ميتاريفس (Metharifos)، پرميترين (Permethrin)، پينوترين (Phenothrin) پريميپاسميتيل (Pirimiphosmethyl) او پايريتين (Pyrethins) آفت وژونکي چي د غلو دانو د ساتنی او حفاظت لپاره استعماليږی د پاته شونو لپاره يوه معينه اندازه ټاکلی ده( Anzene et al ., 2014). په پولينډ هيواد کي يوه څيړنه تر سره سوی ده چي د غلودانو د ۳۸۰ نمونو څخه په ۳۴٪ کي د آفت وژونکو پاته شوني موجودوه(Neme and Satheesh, 2016). د يادي څيړنی و پايلو ته په کتو سره ويلای سو چي پر غلو دانو د آفت وژونکو د پاشلو څخه وروسته د غلو دانو په ګډه کرنه کي تر ۱۰٪ ، په جودر نبات کي تر ۱۵٪ کم د آفت وژونکو پاته شوني موجود وه په داسی حال کي چي په غنمو او اوربشو کي په زياته اندازه يعنی تر ۵۰٪ اضافه د آفت وژونکو پاته شوني موجوده وه. هغه څیړنه چي په نايجريا کي پر غلو دانو د آفت وژونکو د پاته شونو په موخه تر سره سوی وه د څيړنی څخه وروسته د الډرين (Aldrin)، ډايکلوران (Dichlorin)، ډيلډرين (Dieldrin)،انډرين (Endrin)، انډوسلفان (Endosulfan)،هفتاکلور ايفوګزايد (Heptachlor epoxide)، ډايکلورو ډايفينايل –ټرايکلورواياتان (Dichlorodiphenyl-Trichloroethane)، لنډين (lindane)، ميتوکسيکلور (Methoxychlor)او ميريکس (Mirex) آفت وژونکو پاته شوني په غلودانو کي پاته وه(Ogah et al ., 2011).

هغه څېړنه چي په پاکستان کي پر غلودانو باندی د آفت وژونکو د پاته شونود معلومیدلو په موخه تر سره سوی وه له نتیجی څخه بې معلومه سوه چي په غنمو کي د جوارو او وریجو په مقایسه په زیاته اندازه د آفت وژونکو پاته شونی موجود وه او د وریجو په مقایسه په جوارو کي په زیاته اندازه د آفت وژونکو پاته شوني پاته وه(Zia et al ., 2009). د آفت وژونکو پاته شونی په غذا کي اکثره وخت د آفت وژونکو په کیمیاوی ځانګړتیاوو، مالیکولي جوړښت او غذا پوری اړه لری( Bajwa and Sandhu, 2014). پرمیوه جاتو او سبزی جاتو که چیری د حاصل ورکولو په وخت کي آفت وژونکی وشیندل سی د حاصل دراټولولو څخه وروسته به د آفت وژونکی پاته شونی په کي پاته وی. اکثره کروندګر په مختلفو وختونو کي پر سبزی جاتو او میوو باندی آفت وژونکی د حاصل دزیاتوالی، د آفتونو او ناروغیو څخه د ساتني په موخه پاشی. د آفت وژونکو دپاته شونو د معلومولو لپاره پر سبزی جاتو باندی څېړني تر سره سوی دی د سبزی جاتو له جملي څخه د بادرنګ پر نبات باندی چي کومه څېړنه تر سره سوه د څېړنی نتیجی دا وښودل چي په بادرنګ کي په زیاته اندازه د آفت وژونکو پاته شونی موجودوه د یادو دآفت وژونکو له جملی څخه میتومیل (Methomyl)، میتالکزیل (Metalaxyl) او امیداکلوپراید (Imidacloprid) پاته شونی د بادرنګ په نبات کي پاته وه. د بادرنګ د نبات په نورو نمونو (سمپلونو)کي تر تجزیه کولو وروسته د بوسکلیډ (Boscalid)، کلوروپایروفس (Chlorpyrifos)، سایپروډینل(Cyprodinil)، فین هکزامیډ (Fenhexxamid)، امیداکلوپرایډ (Imidacloprid)، میتالکسیل(Metalaxyl)او ټیبوکونازول (Tebuconazole) آفت وژونکو پاته شونی پاته وه(Kostik et al ., 2014). په ځینو میوو او سبو کي د یوه څخه تر نهو (۹-۱) پوری د آفت وژونکو پاته شونی پاته کیدلای سی. د مثال په ډول ویلای سو چي په انګورو او چایو کي دیوه څخه تر نهو پوری، په نارنج، لیمو، شفتالو او ناک کي د پنځه څخه تر نهو (۹-۵) پوری، په انارو، بادرنګ، رومیان، آلو او توت فرنګي کي د درو څخه تر پنځو(۵-۳) پوری د آفت وژونکو پاته شونی پاته کیدلای سی( Petraitis et al ., 2013). هغه آفت وژونکي چي پاته شوني يې په زیاته اندازه په میوو او سبزی جاتو کي پاته کیږی د امازلیل (Imazalil)، تیوبنډازول (Thiabendazole)، کلوروفایریفس (Chlorpyrifos)، منیب ګروپ (Maneb)، پروسایمیډون (Procymidone)، میتیډاتیون (Methidathion)، لمبداسای هالوترین (Lambda-cyhalothrin) او بوسکالیډ (Boscalid) څخه عبارت دی. په برازیل هیواد کي پرمنو، پپایا، خواږه مرچکو او توت فرنګي د نمونو د اخیستلو څخه وروسته دامعلومه سوه چي د میوه جاتو له جملي څخه په یادو میوو او سبزی جاتو کي د آفت وژونکو د پاته شونی اخرنی حد (MRL) تر اندازی په زیاته اندازه د آفت وژونکو پاته شونی پاته وه. یوه بله څېړنه چي په لیتوانیا کي د آفت وژونکو پر پاتي شونو باندی تر سره سوی وه له نتیجې څخه يې وروسته دامعلومه سوه چي په ځینو میوو او سبزی جاتو لکه ناک، انګور، سیتروس، مرچک، بادرنګ، رومیان او زردکو کي د آفت وژونکو پاته شونی په زیاته اندازه پاته کیدلای سی(Petraitis et al ., 2013). هغه څېړنه چي په چین هیوادکي ترسره سوی وه له نتیجي څخه وروسته يې دامعلومه سوه چي ترټولو ډیر د آفت وژونکو پاته شونی په ګوبي، حبوباتو او شړشم کي پاته وه(Chen et al ., 2011). د انګورو هغه نمونی چي له مارکيټ څخه رااخیستل سوی وی د یادو نمونو د تجزیې څخه وروسته معلومه سوه چي د آفت وژونکو پاته شونی تر شل (۲۰) ورځو پوری په انګورو کي پاته کیدلای سی او د انګورو څخه په ایستل سوو اوبو (شیره) کي تر لسو(۱۰) ورځو پوری د آفت وژونکو پاته شونی پاته کیدلای سی(Mohapatra et al ., 2006). هغه څېړنه چي د آفت وژونکو د پاته شونو د خطرونو اړوند تر سره سوی وه له نتیجې څخه بې دامعلومه سوه چي د آفت وژونکي پاته شونی په موسم پوری اړه لری او هغه داسی چي د ژمی په موسم کي په زیاته اندازه پاته شونی په سبزی جاتو کي پاته کیدلای سی(Bhanti and Taneja, 2007). په هندوستان هیواد کي د څښلو داوبو نمونې د مختلفو برخو څخه رااخیستل سوی وی له څېړنې او تجزیه کیدلو څخه وروسته معلومه سوه چي په یادو اوبو کي اورګانوکلورین (Organochlorine)، (ډي، ډي، ټي ) DDT، انډوسلفان (Endosulphan)، انډرین (Endrin)، الډرین (Aldrin)، ډلډرین (Dieldrin) او هکتاکلورو (Heptachlore) آفت وژونکو پاته شونې موجود وه(Agarwal et al., 2015).

## پايله

کيمياوی آفت وژونکي اکثره وخت په کرونده کي د حشرو، هرزه وښو او ناروغيو دمخنيوی لپاره استعماليږی. چي د يوه ځای څخه بل ځای ته د اوبو، هوا او خاوری په واسطه وړل کيږی او پاته شونی يې په غذا، ميوو او سبزی جاتو کي پاته کيږی. د آفت وژونکو له جملي څخه اورګانو کلورين او ددوی مربوطه آفت وژونکي پر ټولو اورګانيزمونو باندی اغيزی کوي او تر ټولو خطرناک آفت وژونکي دی ځکه چي ثبات لرونکي، کرار حرکت کوونکي او د غذا يې ځنځير له طريقه د انسان بدن ته ځي او هلته ذخيره کيږی.

د انسانانو د بدن پر عصبی سيسم، تکثری سيستم، معافيتی سيستم اغيزه کوی او علاوه پردی د سرطان د ناروغي او د الرجي د پيداکيدلو باعث کيږی. ددی لپاره چي د کيمياوی آفت وژونکو مخه ونيسو او له زيان څخه يې خوندی پاته سو؛ نو بايد د آفت وژونکو د استعمال کچه راټيټه کړو، په خلګو کي د آفت وژونکو د زيان اړوند پوهاوی زيات کړو، عضوی کرنه زياته کړو، آفت وژونکي په مسلکي ډول وپاشو، د کيمياوی آفت وژونکو د استعمال لپاره ددولتونو له خوا سخت قوانين وضع کيدل او د کيمياوی آفت وژونکو تر ټولو ښه بديل د نباتاتو څخه لاس ته راغلي ميکروبی او بايو پسټيسايډونو کيدلای سی.

## سپارښتنی

په مختلفو هيوادونو کي مختلف آفت وژونکي د آفتونو، حشرو، هرزه وښو او ناروغيو د مخنيوی لپاره استعماليږی. د آفت وژونکو د استعمال څخه وروسته يې پاته شونی په غذا، سبزی جاتو او ميوه کي پاته کيږی چي يادی پاته شونی د انسانانو د صحت لپاره ستر ګواښ دی. ددی لپاره چي په غذا، سبزی جاتو او ميوو کي د آفت وژونکو د پاته شونو مخه و نيول سی يو تعداد کړنی دي که په ښه ډول په کرونده کي تطبيق او عملي سي په يادو غذاوو کي به د آفت وژونکو د پاته شونو مخه نيول سوی وی.

**عضوی کرنه:** که د غير عضوی کرنی پر ځای عضوی کرنه ولرو په غذا وو کي به د آفت وژونکو د پاته شونو له زيان څخه په امن کي پاته سوی يو. د يوی څيړني پر اساس ويلای سو چي د عضوی کرني په نسبت په غير عضوی کرنه کي د آفت وژونکو پاته شونی څلور برابره زيات وی(Smith-Spangler et al., 2012).

**د غذاوو د پروسيس کولو طريقه:** په دی طريقه کي سپينول، پريمنځل، قوطی کول، پخول او په اوبو کي ايښول شامل دی. د يادي طريقي په عملی کولو سره په غذا او غذا يې موادو کي د آفت وژونکو پاته شونی له مينځه ځي او يا کميږی( Holland et al., 1994).

**د پريمينځلو طريقه:** د آفت وژونکو پاته شوني پرميوو او سبزی جاتو تر پاشلو وروسته يوه طبقه جوړوی چي وروسته د ميوو او سبزيجاتو و دننی برخي ته ځان رسوی که چيری غذاوي د خوړولو څخه مخکي په اوبو او يا کيمياوی محلولونو باندی په ښه ډول پريمينځل سی د آفت وژونکو د پاته شونو په واسطه جوړه شوی طبقه له مينځه ځي او د ميوو او يا سبزي جاتو و د ننې برخي ته ځان نه سی رسولای.

**په علمي او مسلکي ډول د آفت وژونکو استعمالول:** که چيري آفت وژونکي په صحيح طريقه، مناسب وخت، معين اندازه او مناسبه وقفه باندی وپاشل سی د آفت وژونکو په پاته شونو کي د پام وړ کموالي راځي. او که چيری د کرنيزو او بيولوژيکي مخنيوی له طريقو څخه استفاده وسی هم د آفت وژونکو د استعمال اندازه راکمولای سی.

**د آفتونو هر اړخيزه مخنيوی:** د کيمياوی آفت وژونکو پر ځای د آفتونو د هراړخيزه مخنيوی(IPM) کړنې عملی کول.

**د طبيعي او بايو پيټيسايډونو (Biopesticides) استعمالول:** طبيعی او بايو پيټيسايډونو پر ميوو، سبزی جاتو او غلو دانو باندی کوم مضره پاته شونی تر استعمال وروسته نه پريږدی که په کروندو کي ورڅخه استفاده وسی د آفت وژونکو ښه بديل کيدلای سی.

## اخځليکونه


Agarwal, A., Prajapati, R., Singh, O. P., Raza, S. K., & Thakur, L. K. (2015). Pesticide residue in water a challenging task in India. *Environmental monitoring and assessment*, *187*, 1-21.

Aktar, W., Sengupta, D., & Chowdhury, A. (2009). Impact of pesticides use in agriculture: their benefits and hazards. *Interdisciplinary toxicology*, *2*(1), 1-12.

Anzene, J. S., Tyohemba, R. L., Ahile, U. J., & Emezi, K. S. (2014). Organochlorine pesticide residues analysis of postharvest cereal grains in Nasarawa State, Nigeria. *Int J Agron Agric Res*, *5*(5), 59-64.

Bajwa, U., & Sandhu, K. S. (2014). Effect of handling and processing on pesticide residues in food-a review. *Journal of food science and technology*, *51*, 201-220.

Bankar, R., Ray, A. K., Kumar, A., Adeppa, K., & Puri, S. (2012). Organochlorine pesticide residues in vegetables of three major markets in Uttar Pradesh, India. *Acta Biologica Indica*, *1*(1), 77-80.

Bhanti, M., & Taneja, A. (2007). Contamination of vegetables of different seasons with organophosphorous pesticides and related health risk assessment in northern India. *Chemosphere*, *69*(1), 63-68.

Cerejeira, M. J., Viana, P., Batista, S., Pereira, T., Silva, E., Valério, M. J., & Silva-Fernandes, A. M. (2003). Pesticides in Portuguese surface and ground waters. *Water research*, *37*(5), 1055-1063.

Chen, C., Qian, Y., Chen, Q., Tao, C., Li, C., & Li, Y. (2011). Evaluation of pesticide residues in fruits and vegetables from Xiamen, China. *Food Control*, *22*(7), 1114-1120.

Collins, D. A. (2006). A review of alternatives to organophosphorus compounds for the control of storage mites. *Journal of Stored Products Research*, *42*(4), 395-426.

Cooper, J., & Dobson, H. (2007). The benefits of pesticides to mankind and the environment. *Crop protection*, *26*(9), 1337-1348.

Crinnion, W. J. (2009). Chlorinated pesticides: threats to health and importance of detection. *Alternative medicine review*, *14*(4).

Dogheim, S. M., Mohamed, E. Z., Gad Alla, S. A., El-Saied, S., Salama, E. Y., Mohsen, A. M., & Fahmy, S. M. (1996). Monitoring of Pesticide Residues in Human Milk, Soil, Water, and Food Samples Collectedfrom Kafr El-Zayat Governorate. *Journal of AOAC International*, *79*(1), 111-116.

Ecobichon, D. J. (2000). Our changing perspectives on benefits and risks of pesticides: a historical overview. *Neurotoxicology*, *21*(1-2), 211-218.

Ecobichon, D. J. (2001). Pesticide use in developing countries. *Toxicology*, *160*(1-3), 27-33.

Gupta, P. K. (2004). Pesticide exposure—Indian scene. *Toxicology*, *198*(1-3), 83-90.

Handford, C. E., Elliott, C. T., & Campbell, K. (2015). A review of the global pesticide legislation and the scale of challenge in reaching the global harmonization of food safety standards. *Integrated environmental assessment and management*, *11*(4), 525-536.

Holland, P. T., Hamilton, D., Ohlin, B., & Skidmore, M. W. (1994). Effects of storage and processing on pesticide residues in plant products. *Pure and applied chemistry*, *66*(2), 335-356.

Jallow, M. F., Awadh, D. G., Albaho, M. S., Devi, V. Y., & Thomas, B. M. (2017). Pesticide knowledge and safety practices among farm workers in Kuwait: results of a survey. *International journal of environmental research and public health*, *14*(4), 340.

Kostik, V., Angelovska, B., Kiroska-Petreska, E., & Bauer, B. (2014). Determination of pesticide residues in plant-based foods from the Republic of Macedonia. *Journal of Food and Nutrition Sciences*, *2*(4), 124-129.

Maksymiv, I. (2015). Pesticides: benefits and hazards. *Journal of Vasyl Stefanyk Precarpathian National University*, *2*(1), 70-76.

Mohapatra, S., Sharma, D., & Rekha, A. (2006). Residues of λ-Cyhalothrin in/on Acid Lime (Citrus aurantifolia). *Pesticide Research Journal*, *18*(1), 74-75.

Neme, K., & Satheesh, N. (2016). Review on pesticide residue in plant food products: health impacts and mechanisms to reduce the residue levels in food. *Arch. Appl. Sci. Res*, *8*(3), 55-60.

Nwosu, O. K., & John, A. (2022). Chemical Pesticides and Food Safety. In *Insecticides-Impact and Benefits of Its Use for Humanity*. IntechOpen.

Oerke, E. C., & Dehne, H. W. (2004). Safeguarding production—losses in major crops and the role of crop protection. *Crop protection*, *23*(4), 275-285.

Ogah, C. O., Coker, H. B., & Adepoju-Bello, A. A. (2011). Organophosphate and carbamate pesticide residues in beans from markets in Lagos State, Nigeria. *Journal of Innovative Research in Engineering and Sciences*, *2*(1), 50-61.

Petraitis, J., Jarmalaitė, I., Vaičiūnas, V., Uščinas, R., & Jankovskienė, G. (2013). A review of research studies into pesticide residues in food in Lithuania.

Pimentel, D. (2005). Environmental and economic costs of the application of pesticides primarily in the United States. *Environment, development and sustainability*, *7*, 229-252.

Puri, P. (2014). Food safety assurance through regulation of agricultural pesticide use in India: perspectives and prospects. *Indian Journal of Life Sciences*, *3*(2), 123.

Sachs, J., Remans, R., Smukler, S., Winowiecki, L., Andelman, S. J., Cassman, K. G., ... & Sanchez, P. A. (2010). Monitoring the world's agriculture. *Nature*, *466*(7306), 558-560.

Sharma, A., Kumar, V., Shahzad, B., Tanveer, M., Sidhu, G. P. S., Handa, N., ... & Thukral, A. K. (2019). Worldwide pesticide usage and its impacts on ecosystem. *SN Applied Sciences*, *1*, 1-16.

Smith-Spangler, C., Brandeau, M. L., Hunter, G. E., Bavinger, J. C., Pearson, M., Eschbach, P. J., ... & Bravata, D. M. (2012). Are organic foods safer or healthier than conventional alternatives? A systematic review. *Annals of internal medicin*

Trotter, W. J., & Dickerson, R. (1993). Pesticide residues in composited milk collected through the US pasteurized milk network. *Journal of AOAC International*, *76*(6), 1220-1225.

Vela, N., Prez, G., Navarro, G., & Navarro, S. (2007). Gas chromatographic determination of pesticide residues in malt, spent grains, wort, and beer with electron capture detection and mass spectrometry. *Journal of AOAC International*, *90*(2), 544-549.

Zhang, F. F., Cudhea, F., Shan, Z., Michaud, D. S., Imamura, F., Eom, H., ... & Mozaffarian, D. (2019). Preventable cancer burden associated with poor diet in the United States. *JNCI Cancer Spectrum*, *3*(2), pkz034.

Zia, M. S., Khan, M. J., Qasim, M., & Rehman, A. (2009). Pesticide residue in the food chain and human body inside Pakistan. *J. Chem. Soc. Pak*, *31*(2), 284-291.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول (مروري مطالعه)

محبت شاه محبت[۱] او ذاکرالله نصرتيار[۲]

[۱]د تشبثاتو اداره او منجمنټ څانګه، اقتصاد پوهنځی، سيدجمال الدين افغاني پوهنتون
[۲]ملي اقتصاد څانګه، اقتصاد پوهنځی، سيدجمال الدين افغاني پوهنتون
مسؤل ليکوال: mohabatshahm@gmail.com

## لنډيز

دا څېړنه د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول معلوملو په موخه ترسره شوي ده. د دې څېړنې اصلي او اساسي موخه دا ده، چې د غذايي امنيت او اقتصادي پرمختګ ترمنځ اړيکې روښانه کړي او په ځانګړي توګه په افغانستان کې د دې برخې د ستونزو او فرصتونو ارزونه وکړي. دا يوه تحليلي څېړنه ده، د څېړنې ترسره کولو لپاره دويم لاس معلومات راټول شوی دي، چې په دويم لاس معلوماتو کې د څېړنې ترسره کولو لپاره د کتابونو، مقالو، ژورنالونو، انټرنيټي سايټونو د مطالعې څخه ترلاسه شوي. د څېړنې ترسره کولو او د معلوماتو له تحليل څخه دا پايله ترلاسه شوي چې د غذايي امنيت پياوړتيا د خلکو په روغتيا، د کار توليدي ځواک او ټولنيز ثبات کې مهم رول لوبوي، چې په پايله کې د اقتصادي ودې لپاره زمينه برابروي. خو په افغانستان کې د اوږدمهاله جګړو، بې وزلی او زراعتي زيربناوو کمزورتيا د دې مثبتو اړيکو د پياوړتيا په وړاندې لوی خنډونه ګڼل کيږي. د خوړو خونديتوب لپاره د حکومت پاليسی، د بازار د ناکاميو حل، او د نړيوالو مرستو اغېزمن مديريت اړين ګڼل شوي دي. په پای کې، څېړنه وړانديز کوي چې د زراعتي زيربناوو پراختيا، د خوړو کيفيت ښه کول، او د حکومت او نړيوالو سازمانونو همغږي به په افغانستان کې د غذايي امنيت پياوړتيا او اقتصادي پرمختګ ته وده ورکړي.

**کليدي کليمې:** اقتصادي وده، غذايي امنيت، غذايي خونديتوب او کيفيت.

## پيژندنه

الحمدُ لله ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسوله، وآله، وأصحابه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطان الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم: ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ﴾ سورة المؤمنون، الآية 51.

په افغانستان کې د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره د غذايي امنيت او خونديتوب رول خورا مهم دی. په دې څېړنه کې به د غذايي امنيت او خونديتوب اغېزې په افغانستان کې د اقتصادي ودې په بهير کې وڅېړل شي. غذايي امنيت د يو هېواد د وګړو روغتيا، توليد او اقتصادي ثبات له مهمو عواملو څخه دی. د نړۍ په بېلابېلو برخو کې، په ځانګړې توګه په پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو کې، د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ د تړاو په اړه ګڼې څېړنې شوې دي. دغه څېړنې څرګندوي چې غذايي امنيت نه يوازې د وګړو روغتيا او توليد باندې اغېز کوي، بلکې د هېواد اقتصادي وده هم له دې اغېزو اغېزمنه کېږي. په دې څېړنه کې به په ځانګړي ډول په افغانستان کې د غذايي امنيت د کمزورتيا په عواملو او له اقتصادي ودې سره د هغې د اړيکو په اړه بحث وشي. دا څېړنه به له نړيوالو تجربو او شته څېړنيزو موادو څخه د ګټې اخيستنې پر بنسټ، د افغانستان لپاره وړانديزونه وړاندې کړي چې څنګه د غذايي امنيت په تأمين سره د اقتصادي ودې لپاره زمينه برابره شي. په دې تړاو يو شمېر څېړنې ترسره شوي چې دلته يې يو څو څېړنو موندنې ذکر کو: يوه څېړنه چې په پرمختيايي هېوادونو کې د وچو سيمو د غذايي امنيت په اقتصادي وده باندې اغيز ارزوي. د دې څېړنې موندنې ښئي چې د غذايي امنيت زياتوالی د اقتصادي ودې سره مثبتې اړيکې لري. په ځانګړې توګه، د ژوند اوږدوالی او د ټوليزې ګمارنې کچه د غذايي امنيت سره ښه کيږي چې دا په پايله کې په اقتصادي وده کې مرسته کوي او غربت راکموي(Manap& Ismail, 2019).

په دې مقاله کې د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ اړيکې په سيستماتيکه توګه تحليل شوې دي. د څېړنې موندنې ښيي چې د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ مثبتې اړيکې موجودې دي(Fernandes & Samputra,2022). دا مقاله په پرمختيايي هېوادونو کې د زراعت رول د غذايي امنيت د ټينګښت لپاره څېړي. د څېړنې موندنې ښيي چې د پرمختيايي هېوادونو لپاره د زراعتي زيربناوو پراختيا او د کورنيو اقتصادي ځواکمنتيا د غذايي امنيت په ټينګښت کې کليدي رول لري (Pawlak & Kołodziejczak,2020). دا مقاله د چين په کچه د غذايي خونديتوب د خطرونو او اقتصادي ودې ترمنځ اړيکې تحليلوي. څېړنه ښيي چې د عايد نابرابري د اقتصاد ودې او غذايي خونديتوب ترمنځ اړيکې باندې منفي اغيز کوي او د پاليسيو جوړونې لپاره د دې موضوعاتو په نظر کې نيول اړين دي( Chen,2023 ).

افغانستان يو داسې هېواد دی چې د پام وړ اقليمي، اقتصادي او سياسي بدلونونو سره مخ شوی؛ نو د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول معلومول او په افغانستان کې د غذايي امنيت د کمزورتيا عوامل څرګندولو په اړه پوهيدل خورا مهم دي. د دې څېړنې موخه دا ده چې د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول معلومول او په افغانستان کې د غذايي امنيت د کمزورتيا عواملو د څېړلو تشه ډکه کړي. د څېړنيزې مقالې په عمده برخو کې لنډيز، کليدي کليمې، سريزه، د مسئلې طرحه يا ستونزه، د څېړنې اړتيا او اهميت، د څېړنې موخې ، د څېړنې پوښتنې ، تيرو ليکونو ته کتنه، د څېړنې ميتودولوژي، د څېړنې موندنې، مناقشه، پايله، وړانديزونه، او ماخذونه شامل دي.

## د څېړنې ستونزه

په افغانستان کې د غذايي امنيت او خونديتوب مسئله له جدي ستونزو څخه ده چې د هېواد په اقتصادي وده او ټولنيز پرمختګ باندې ژوره اغېزه لري. د اوږدو کلونو جګړو، بې‌ثباتۍ او ناسم اقتصادي سياستونو له امله، افغانستان د غذايي خونديتوب په برخه کې له ګڼو ننګونو سره مخ دی. د غذايي موادو کمښت، د خوراکي توکو لوړ قيمتونه، د غذايي موادو د توليد کمښت، او د زراعتي سيستمونو نشتون هغه ستونزې دي چې په هېواد کې د غذايي امنيت وضعيت له ګواښ سره مخ کوي. د دې ترڅنګ د کمزوري اقتصادي سياستونو او د نړيوالو مرستو کموالي هم د دې ستونزې په حل کې د پام وړ خنډونه دي.

د دې څېړنې ستونزه دا ده چې څنګه کولای شو د غذايي امنيت او خونديتوب د ننګونو په وړاندې مبارزه وکړو او د افغانستان اقتصادي وده او پرمختګ لپاره مؤثرې لارې چارې ومومو. ددې ستونزې په حل کې به د څېړنې موندنې او وړانديزونه مرسته وکړي چې په افغانستان کې د غذايي امنيت وضعيت ښه او د هېواد اقتصادي وده چټکه شي.

## د څېړنې اهميت

د افغانستان د اقتصادي وده په برخه کې د غذايي امنيت او خونديتوب اهميت خورا زيات دی. غذايي امنيت يوازې د غذا د کافي شتون سره محدود نه دی، بلکه د خلکو د معيشت، ژوند معيار او ټولنيز پرمختګ سره هم تړاو لري. په افغانستان کې د غذايي امنيت د ضعف له امله، خلک د ښه تغذيه او صحت ته لاسرسی نه لري، چې دې حالت د خلکو فزيکي او ذهني روغتيا باندې منفي اغېز کړی دی. د دې مسئلې حل کول نه يوازې د خلکو د ژوندانه معيار ښه کوي، بلکه د ټولنې اقتصادي وده او پرمختګ ته هم ګټه رسوي. د غذايي امنيت او خونديتوب لوړوالی به د افغانستان په اقتصادي ثبات، د بيوزلۍ کموالي، او د ملي ثروت زياتوالي کې مهم رول ولوبوي. دا مطالعه د دې موخو لپاره اړينه ده چې د غذايي امنيت او اقتصادي پرمختګ ترمنځ اړيکې تحليل کړي او د افغانستان د اقتصادي پياوړتيا لپاره د اړينو تدابيرو او پاليسۍ وړانديز وکړي.

## څېړنې موخې

1 . د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول معلومول.

2 . په افغانستان کې د غذايي امنيت د کمزورتيا عوامل څرګندول.

### د څېړنې پوښتنې

1 . د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذا امنیت او خوندیتوب څه رول لري؟

2 . په افغانستان کې د غذايي امنیت د کمزورتیا عوامل کوم دي؟

### تېرو ليکونو ته کتنه

په دې مقاله کې په چین او هند کې د غذايي تقاضا زیاتوالی او بدلونونه څېړل شوي دي. په دې هېوادونو کې اقتصادي وده د خواړو پر مصرف او پیرودلو باندې لوی اغیز کړی دی. د حیواني محصولاتو، سبزیجاتو او میوو مصرف په چټکی سره ډېرېږي، په داسې حال کې چې د غلو دانو مصرف کمیږي. په هند کې د لبنیاتو محصولات او په چین کې د غوښې او د لبنیاتو محصولات زیاته تقاضا لري. د غذايي امنیت ستونزې د رسولو او عرضې سلسلې، مارکیټینګ، او پروسس سره تړاو لري چې دا بدلونونه د دې هېوادونو او نړیوالې غذايي امنیت لپاره نوې ننګونې او فرصتونه ممکن رامنځته کوي(Gandhi & Zhou,2024 ).

دا مقاله په روسیه کې د غذايي امنیت ستونزې تحلیل کوي. که څه هم په دې هېواد کې د خوړو کچه په کافي اندازه شته، مګر په اقتصادي توګه لاسرسی ورته کم دي. د 1999 کال راهیسې د روسیې اقتصادي وده د خوړو ته یې لاسرسی ښه کړی دی او د خوړو له پلوه غیر خوندي کورنۍ کمې شوي دي. یو جدي روغتیایي ستونزه د وزن زیاتوالی او چاغښت دی چې د دې اقتصادي بدلون په جریان کې زیات شوی دی(Liefert,2004 ).

دا څېړنه په پرمختیایي هېوادونو کې د وړو سیمو د غذايي امنیت په اقتصادي وده باندې اغیز ارزوي. د دې څېړنې موندنې ښئي چې د غذايي امنیت زیاتوالی د اقتصادي ودې سره مثبتې اړیکې لري. په ځانګړې توګه، د ژوند اوږدوالی او د ټولیزې ګمارنې کچه د غذايي امنیت سره ښه کیږي چې دا په پایله کې په اقتصادي وده کې مرسته کوي او غربت راکموي (Manap & Ismail, 2019 ).

په دې مقاله کې د غذايي امنیت او اقتصادي ودې ترمنځ اړیکې په سیستماتیکه توګه تحلیل شوې دي. د څېړنې موندنې ښئي چې د غذايي امنیت او اقتصادي ودې ترمنځ مثبتې اړیکې موجودې دي(Fernandes & Samputra,2022).

دا مقاله د نړیوالې اقتصادي ودې او اقتصادي بحرانونو اغېز په کرنیزو محصولاتو بازارونو او غذايي امنیت باندې ارزوي. د څېړنې موندنې ښئي چې لوړه اقتصادي وده پر تقاضا باندې تر عرضې ډېر اغېز کوي، چې په پایله کې په نړیوالو بازارونو کې د کرنیزو محصولاتو بیې لوړېږي. په نورو هېوادونو کې د اقتصادي ودې کموالی په وارداتو کې زیاتوالی رامنځته کوي او د غذايي امنیت له پلوه هېوادونه لا زیات خطرناکه کوي(Kavallari & Gay,2014 ).

دا مقاله د آسیا له لید څخه د غذايي امنیت او اقتصادي ودې ترمنځ اړیکې څېړي. د مقالې موندنې ښئي چې په ډېرو پرمختګ کوونکو هېوادونو کې غذايي امنیت د اقتصادي ودې سره مثبتې اړیکې لری، مګر د وخت په تېرېدو سره دا اړیکې منفي کیږي، چې دا د غذايي پالیسیو د مناسب ډیزاین کولو لپاره جدي ننګونه بلل کیږي(Timmer,2004 ).

په دې مقاله کې د نړیوالې اقتصادي ودې او زراعتي تولید د غذايي امنیت په ټینګښت باندې اغېز تحلیل شوی دی. که څه هم په تېرو پنځوسو کلونو کې د زراعتي تولید په زیاتوالي سره د هر کس لپاره خواړه زیات شوي دي، مګر بیا هم نړۍ د غذايي امنیت ستونزو سره مخامخ ده(Stringer,2001 ).

دا مقاله په پرمختیایي هېوادونو کې د غذايي امنیت او غربت ستونزې څېړي. د څېړنې موندنې ښئي چې د خوړو اخیستلو توان د غذايي امنیت مرکزي ستونزه ده، او د اوږدمهاله غذايي امنیت د ترلاسه کولو لپاره اقتصادي وده او عادلانه ویش اړین دي ( Reutlinger,1987).

په دې مقاله کې د 1990 لسیزې لپاره د غذايي امنیت په اړه څېړنې او تګلارې تحلیل شوي دي. دا مقاله په پرمختیایي هېوادونو په ځانګړې توګه په افریقا کې د غذايي امنیت ستونزو لپاره بېلا بیلې حللارې وړاندیز کوي. لکه د خوړو خوندیتوب معنی او اندازه کول؛ د خوړو سیستمونو جوړښت؛ په فرعي صحارا کې د هدف ټاکنې ښه والی؛ د خوراکي مرستو راتلونکی؛ او د کلیوالي او ښاري خوندیتوب شبکو پیاوړي کول(Maxwell, 1990).

دا څېړنه د پرمختيايي هېوادونو لپاره د غذايي امنيت پروسې او ننګونې په سيستماتيک ډول تحليلوي. دا څېړنه د غذايي امنيت درې اصلي برخې لکه د خواړو شتون، لاسرسی، او ثبات تحليلوي او د راتلونکو ننګونو سره مخامخ کولو لپاره وړانديز کوي (Giraldo et al.,2008).

دا مقاله په پرمختيايي هېوادونو کې د زراعت رول د غذايي امنيت د ټينګښت لپاره څېړي. د څېړنې موندنې ښيي چې د پرمختيايي هېوادونو لپاره د زراعتي زيربناوو پراختيا او د کورنيو اقتصادي ځواکمنتيا د غذايي امنيت په ټينګښت کې کليدي رول لري ). Pawlak & Kołodziejczak,2020)

دا مقاله په پرمختيايي هېوادونو کې د غذايي خونديتوب اقتصادي اړخونه څېړي. څېړنه په دې اړه ده چې بازارونه د غذايي خونديتوب مناسبې کچې ته ندي رسېدلي او د حکومتي تنظيم تمرکز ته اړتيا ده (Henson, 2003 ).

په دې مقاله کې د غذايي خونديتوب د ساتنې مالي اغيزې او د بازارونو ناکامي تحليل شوي دي. مقاله څرګندوي چې د غذايي خونديتوب د ساتنې لپاره يوه مناسبه کچه ټاکل اړينه ده او د حکومتونو رول د دې په تطبيق کې خورا مهم دی Ritson & Wei ). Mai,1998)

دا مقاله په 21 مه پېړۍ کې د غذايي خونديتوب ستونزې څېړي. څېړنه په دې اړه ده چې څنګه د نوې ټکنالوژۍ په مرسته د خوړو د ناوړه پايلو مخنيوی کېدو باندې تمرکز کوي (Fung et al.,2018 ).

دا مقاله د خوړو امنيت او غذايي خونديتوب ترمنځ د اړيکو په اړه درسونه او تجربې تحليلوي. څېړنه څرګندوي چې د حيواني سرچينو د خوړو خونديتوب د عامې روغتيا، اقتصادي ودې، او د هېوادونو پرمختګ باندې لوی اغيز لري (Vipham et al.,2020 ).

په دې مقاله کې د غذايي خونديتوب او غذايي امنيت ترمنځ اړيکې څېړل شوي دي. څېړنه ښيي چې د غذايي امنيت او خونديتوب د شخړو حل او د خلکو روغتيا لپاره اړين دی (Kinsey,2005 ).

دا مقاله د چين په کچه د غذايي خونديتوب د خطرونو او اقتصادي ودې ترمنځ اړيکې تحليلوي. څېړنه ښيي چې د عايد نابرابري د اقتصاد ودې او غذايي خونديتوب ترمنځ اړيکې باندې منفي اغيز کوي او د پاليسو جوړونې لپاره د دې موضوعاتو په نظر کې نيول اړين دي (Chen & Chen,2023 ).

## د څېړنې ميتودولوژي

څرنګه چې نوموړې مطالعه کتابتوني ده، نو د تر سره کولو لپاره يې د ثانوي معلوماتو څخه استفاده شوي چې د معتبرو نړيوالو منابعو څخه معلومات په لاس راوړل شوي، چې د اړونده اکاډميک ډيټابيسونه لکه د ګوګل سکالر، JSTOR، د ساينس ويب پاڼه، او سکوپس د موضوع پورې اړوند د ګډې بياکتنې مقالو، کتابونو او راپورونو پېژندلو لپاره کارول شوي. په کليدي ژورنالونو کې د اقتصادي پراختيا درې مياشتنی، نړيوال بانک او د کلينر توليد ژورنال شامل دي. ، د بلې خوا څرنګه چې نوموړې څيړنه يوه تحليلي څيړنه ده چې د تيرو څيړنو او اقتصادي وضعيت په تحليل ولاړه ده. پدې مقاله کې د مختلفو مطالعاتو د موندنو مقايسوي تحليل ترسره شو ترڅو په مختلفو سيمو او شرايطو کې دغذايي امنيت او خونديتوب اغيزو کې توپيرونه او ورته والی په اقتصادي وده کې روښانه کړي. په دغه څېړنه کې غذايي امنيت او خونديتوب خپلواک متحولين او د افغانستان اقتصادي وده تابع يا تړلي متحول بلل کيږي.

## موندنې

د بيلابيلو مقالو او څېړنو پر بنسټ، د غذايي امنيت او خونديتوب رول په اقتصادي وده کې ډېر مهم دی. څېړنې ښيي چې په ډېرو پرمختيايي هېوادونو کې، لکه افغانستان، غذايي امنيت د اقتصادي ودې سره مستقيمې او مثبتې اړيکې لري. ښه غذايي امنيت د خلکو د روغتيا، ګمارنې کچې او ژوند اوږدولو کې مرسته کوي، چې په پايله کې په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لوبوي. برسېره پر دې، د زراعتي زيربناوو پراختيا او د کورنيو اقتصادي پياوړتيا د غذايي امنيت په ټينګښت کې حياتي اهميت لري. له بلې خوا، په هغو هېوادونو کې چې اقتصادي وده په ټپه ولاړه ده، د غذايي توکو بيې لوړيږي او د خوړو لاسرسی ستونزمن کيږي،

چې دا چاره د غذايي خونديتوب او ټولنيزې روغتيا لپاره جدي خطرونه راولاړوي. د غذايي امنيت د پياوړتيا لپاره د حکومت رول هم ډېر مهم ګڼل شوی دی، چې بايد د بازار د ناکاميو د مخنيوي لپاره ځانګړې ګامونه پورته کړي. په ټوله کې، غذايي امنيت او

اقتصادي وده يو له بل سره نږدې تړاو لري، او د دې دوه برخو ترمنځ همغږي کول د پايښت لرونکي اقتصادي پرمختګ لپاره اړينه ده.

په دې مروري مطالعه کې د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول ته ژوره کتنه شوې ده. موندنې ښيي چې د غذايي امنيت نشتوالی په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ لپاره يوه لويه ستونزه ده، ځکه چې د خوړو کمښت او د خوړو غير خوندي حالت د خلکو فزيکي او رواني روغتيا اغېزمنوي، چې په پايله کې يې د کار ځواک توليدي ظرفيت کموي. د دې ترڅنګ، په کليوالو سيمو کې د کرنې سکتور نشتوالی او د خوراکي موادو د توليد ټيټه کچه د هېواد اقتصادي وده ټکنۍ کړې ده.

مطالعه ښيي چې د غذايي خونديتوب نشتوالی په افغانستان کې د بېلابېلو ناروغيو زياتيدو لامل ګرځېدلی، چې دا ناروغۍ د خلکو د کار کولو وړتيا کموي او اقتصادي فعاليتونه اغېزمنوي. همدارنګه، د خوراکي توکو ناسم ويش او د خوړو د خونديتوب لپاره د نظارت نشتوالی د دې سبب شوی چې په بازار کې ککړ او غير معياري خواړه خرڅ شي، چې د خلکو روغتيا ته زيان رسوي.

. د بېلابېلو نړيوالو او سيمه‌ييزو څېړنو موندنې ښيي چې د غذايي امنيت او خونديتوب نشتوالی نه يوازې په افغانستان بلکې په نورو پرمختيا يي هيوادونو کې هم د اقتصادي ودې پر وړاندې يو لوی خنډ دي.

په پايله کې، د دې مروري مطالعه او نورو څېړنې دا څرګندوي چې د غذايي امنيت او خونديتوب ښه کول د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره يو مهم فکتور دی. د کرنې سکتور ته پراختيا ورکول، د خوراکي موادو توليد زياتول، او د خوړو د خونديتوب لپاره د اغېزمنو مقرراتو پلي کول د دې هېواد د اقتصادي پياوړتيا لپاره اړين دي.

## مناقشه

د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول ترمنځ اړيکه د پام وړ اهميت لري، خو دې برخې ته په کتو ځينې مهم ټکي او ننګونې شتون لري چې مناقشه کول يې اړين دي.

په لومړي سر کې، ډېری څېړنې ښيي چې غذايي امنيت د اقتصادي ودې لپاره يو مثبت عامل دی لکه Vipham, J. (2020) (2022) Fernandes, M., & Samputra, P. ،(2004) Timmer, P ،L., Amenu, K., Alonso, S., et al (2019) Manap, N. M. A., & Ismail, N. W ، L. په پرمختيايي هېوادونو کې، د خوړو شتون او لاسرسی د خلکو په روغتيا، توليدي ځواک، او ټولنيز ثبات کې مرسته کوي، چې په پايله کې د اقتصادي ودې لپاره زمينه برابروي. خو دلته دا پوښتنه راپورته کيږي چې په افغانستان کې د غذايي امنيت ستونزې په کومه کچه دي؟ په دې هېواد کې د اوږدمهاله جګړو، بې وزلۍ، او خرابو زراعتي زيربناوو له امله، د غذايي امنيت وضعيت پيچلی دی. په ځانګړي ډول په کليوالو سيمو کې د خوړو د نه شتون او په ښاري سيمو کې د خوړو لوړ قيمتونه لويه ستونزه ګڼل کيږي. له همدې امله، که څه هم په تيورۍ کې غذايي امنيت د اقتصادي پرمختګ لپاره اړين بلل کيږي، خو د افغانستان ځانګړي شرايطو ته په کتو، د دې نظر عملي کېدل ستونزمن ښکاري.

که څه هم اقتصادي وده د خوړو پر لاسرسي مثبت اغيز لرلی شي، خو دا يوازې کافي نه ده. د خوړو کيفيت، خونديتوب، او تغذيوي ارزښت هم د پام وړ دي. د مثال په توګه، ځينې کورنۍ کيدای شي اقتصادي وده تجربه کړي، خو که د هغوی د خوړو کيفيت او خونديتوب ښه نه وي، نو دا به د خلکو پر روغتيا او اوږدمهاله اقتصادي وړتيا منفي اغيز ولري. په افغانستان کې د خوړو خونديتوب تر اوسه هم يوه لويه ستونزه ده، او که څه هم د اقتصادي پرمختګ هڅې روانې دي، خو د خوړو د خونديتوب لپاره جدي پاملرنه اړينه ده.

په پای کې، د حکومت او نړيوالو مرستندويه سازمانونو رول د غذايي امنيت او خونديتوب په ټينګښت کې ډېر مهم دی. د بازار ناکامي او د دولت ناکافي تنظيمونه کولی شي د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ شته مثبتې اړيکې زيانمنې کړي. په افغانستان کې، د حکومت پياوړي پاليسۍ او نړيوالې مرستې کولای شي چې د خوړو رسولو او عرضې په برخه کې نوښتونه رامنځته کړي.

## پایله

د پوره مطالعې او مناقشې پر بنسټ، دا څرګنده شوه چې په افغانستان کې د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ اړيکه يو مهم او پيچلی بحث دی. که څه هم د غذايي امنيت زياتوالی په ټوله نړۍ کې د اقتصادي پرمختګ لپاره يو مهم عامل ګڼل کيږي، په افغانستان کې ځانګړي شرايط، لکه اوږدمهاله جګړې، بې وزلي، او د زراعتي زيربناوو کمزورتيا، د دې اړيکې د پياوړتيا په وړاندې خنډ ګرځېدلي دي.

په څېړنه کې دا روښانه شوه چې د اقتصادي ودې لپاره يوازې د خوړو شتون کافي نه دی؛ د خوړو کيفيت، خونديتوب، او تغذيوي ارزښت هم په پام کې نيول اړين دي. په افغانستان کې، که څه هم ځينې اقتصادي پرمختګونه شوي دي، خو د خوړو خونديتوب او تغذيوي ارزښت لا هم لويه ننګونه ده، چې دا کولی شي په اوږدمهال کې د اقتصادي پرمختګ لپاره ستونزې رامنځته کړي.

له دې څېړنې څخه دا پايله هم ترلاسه شوه چې د غذايي امنيت د پياوړتيا لپاره د حکومت او نړيوالو مرستندويه سازمانونو رول حياتي دی. خو د دې پاليسۍ او مرستې بايد په اغېزمن ډول تطبيق شي ترڅو د بازار ناکامۍ او د خوړو عرضې ستونزې حل شي.

په پای کې، که څه هم د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ يو واضح او مثبت تړاو شتون لري، د افغانستان ځانګړي شرايط دا اړيکه په عملي ډګر کې له ګڼو ننګونو سره مخامخ کوي. له دې امله، د اقتصادي پرمختګ او غذايي امنيت ترمنځ د اغېزمنو پاليسو، زيربناوو پراختيا، او نړيوالو مرستو ته جدي اړتيا ده ترڅو په هېواد کې دوامدار اقتصادي پرمختګ ترلاسه شي.

## وړانديزونه

د افغانستان په اقتصادي وده کې د غذايي امنيت او خونديتوب رول څېړنې ته په کتو، لاندې وړانديزونه وړاندې کيږي:

1. د زراعتي زيربناوو پراختيا: د افغانستان د زراعتي سکتور پياوړتيا د غذايي امنيت د ټينګښت لپاره حياتي ده. حکومت بايد په کليوالو سيمو کې د اوبو لګولو سيستمونه، د کرنې عصري تخنيکونه، او د زراعتي وسايلو رسولو کې پانګونه وکړي ترڅو د زراعتي توليد کچه لوړه شي او کورنی توليدات زيات شي.
2. د خوړو خونديتوب ښه کولو لپاره اقدامات: حکومت او خصوصي سکتور بايد د خوړو د خونديتوب لپاره قوي پاليسي او معيارونه رامنځته کړي. د خوراکي توکو پروسس، ذخيره، او د بازار رسولو په بهير کې د کيفيت کنټرول او تنظيمول مهم دي ترڅو د خوړو کيفيت او تغذيوي ارزښت خوندي پاتې شي.
3. د بازار د موثريت پياوړتيا: په افغانستان کې د غذايي محصولاتو د بازار ناکامي يو جدي خنډ دی. دولت بايد د بازار تنظيم او کنټرول لپاره واضح پاليسۍ او ستراتيژۍ رامنځته کړي ترڅو د خوړو بيې ثباتي له منځه لاړه شي او د خلکو لاسرسی خوړو ته زيات شي.
4. د حکومت او نړيوالو مرستو همغږي: د غذايي امنيت د پياوړتيا لپاره، د حکومت او نړيوالو مرستندويه سازمانونو ترمنځ همغږي اړينه ده. په ځانګړي ډول، نړيوالې مرستې بايد په اغېزمنو پروژو او پروګرامونو کې ولګول شي چې د کليوالو سيمو خلکو ته مستقيمې ګټې ورسوي.
5. د عامه پوهاوي پروګرامونه: د تغذيې او غذايي خونديتوب په اړه عامه پوهاوی ډېر مهم دی. حکومت او مدني ټولنې بايد د خوړو د مناسب استعمال، د خوړو د ضايع کېدو مخنيوي، او د صحي تغذيې په اړه پوهاوي پروګرامونه پيل کړي.
6. د اقتصادي پراختيا او د کار فرصتونو رامنځته کول: د خوړو د لاسرسي زياتولو لپاره اقتصادي وده او د کار فرصتونو رامنځته کول حياتي دي. حکومت بايد د ځوانانو لپاره د کار کولو فرصتونه رامنځته کړي ترڅو د خلکو عايد لوړ شي او هغوی وکولی شي چې د خپلو کورنيو لپاره کافي او مناسبه غذا برابره کړي.
7. د زراعتي زده کړو او تحقيقاتو ملاتړ: د زراعتي څېړنو او نوښتونو لپاره د بوديجې زياتول اړين دي ترڅو د غذايي امنيت او زراعتي توليد په برخه کې دوامداره پرمختګ ترلاسه شي. حکومت بايد د زراعتي پوهنتونونو او څېړنيزو مرکزونو ملاتړ وکړي ترڅو نوي تخنيکونه او ميتودونه رامنځته شي چې د توليد زياتوالی راولي.

دا وړانديزونه به په افغانستان کې د غذايي امنيت او اقتصادي ودې ترمنځ اړيکې لا پياوړې کړي او د خوړو خونديتوب ته جدي پاملرنه د دې باعث کيږي، ترڅو هېواد په دې برخه کې دوامداره پرمختګ ترلاسه کړي.

## ماخذونه

Chen, Y. Q., & Chen, Y. H. (2023). Economic growth, income inequality and food safety risk. *Foods*, *12*(16), 3066.

Fernandes, M., & Samputra, P. L. (2022). Exploring linkages between food security and economic growth: a Systematic mapping literature review. *Slovak Journal of Food Sciences*, *16*.

Fung, F., Wang, H. S., & Menon, S. (2018). Food safety in the 21st century. *Biomedical journal*, *41*(2), 88-95.

Gandhi, V. P., & Zhou, Z. (2014). Food demand and the food security challenge with rapid economic growth in the emerging economies of India and China. *Food Research International*, *63*, 108-124.

Giraldo, D. P., Betancur, M. J., & Arango, S. (2008). Food security in development countries: A systemic perspective. *Technology*, *1*, 15.

Henson, S. (2003). The economics of food safety in developing countries.

Kavallari, A., Fellmann, T., & Gay, S. H. (2014). Shocks in economic growth= shocking effects for food security?. *Food Security*, *6*, 567-583.

Kinsey, J. (2005). Will food safety jeopardize food security?. *Agricultural Economics*, *32*, 149-158.

Koning, N. (2017). *Food security, agricultural policies and economic growth: Long-term dynamics in the past, present and future*. Routledge.

Liefert, W. (2004). Food security in Russia: Economic growth and rising incomes are reducing insecurity. *Food Security Assessment/GFA-15/May*.

Manap, N. M. A., & Ismail, N. W. (2019). Food security and economic growth. *International Journal of Modern Trends in Social Sciences*, *2*(8), 108-118.

Maxwell, S. (1990). Food security in developing countries: Issues and options for the 1990s 1. *IDS bulletin*, *21*(3), 2-13.

Pawlak, K., & Kołodziejczak, M. (2020). The role of agriculture in ensuring food security in developing countries: Considerations in the context of the problem of sustainable food production. *Sustainability*, *12*(13), 5488.

Reutlinger, S. (1987). Food security and poverty in developing countries.

Ritson, C., & Wei Mai, L. (1998). The economics of food safety. *Nutrition & Food Science*, *98*(5), 253-259.

Stringer, R. (2001). Food security in developing countries. In *Contemporary Issues in Development Economics* (pp. 90-124). Routledge.

Timmer, P. (2004). Food security and economic growth: an Asian perspective. *Center for global development Working Paper*, (51).

Vipham, J. L., Amenu, K., Alonso, S., Ndahetuye, J. B., Zereyesus, Y., Nishimwe, K., ... & Grace, D. (2020). No food security without food safety: Lessons from livestock related research. *Global Food Security*, *26*, 100382.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د کليوالي سيمو په غذايي امنيت او مصؤنيت کي د کرنيز ترويج رول

اسدالله سعادت [۱]*، عبدالهادي واصل[۱]، محمداغا ضيأ[۱]، سيد محمد کبير مين[۲]
۱ د کرنيزي توسعې څانګه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو اوتکنالوژۍ ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
۲ د کرنيز اقتصاد څانګه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو اوتکنالوژۍ ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
مسؤل ليکوال: *asadsuadat@gmail.com

## لنډيز

کليوالي سيمي د ښاري سيمو څخه بهر سيمي دي چي اکثريت وګړي يې د ژوند لومړني ضرورتونه د کرني او مالدارۍ څخه پلاس راوړي، وګړي يې زيات په کرنه باندي مشغوله وي، د کرنيز ترويج پروګرامونه د کروند ګرو د پوهي او ظرفيتونو د لوړولو له لاري د توليد کچه او د حاصلاتو کيفيت لوړوي. د خوړو امنيت او خونديتوب يوه پيچلي مسئله ده چي پرمختلفو سکتورونو باندي اغېزه کوي، د کرنيزي ځمکي چمتو کول، کښت کول او د کرني عصري مهارتونه کارول د خوراکي توکو په امنيت او مصؤنيت کي زياته مرسته کوي. دا يو کيفي څېړنه ده چي د ساحې له مخي کتابتوني ده او د تشريحي- استنباطي ميتود څخه پر بنسټ باندي ترسره سويده. موخه ئې، د کليوالي سيمو په غذايي امنيت او مصؤنيت کي د کرنيز ترويج د رول معلومول دي. پايله يې ښيي چي، کرنيز ترويج د کليوالي سيمو په غذايي امنيت او مصؤنيت کي مهم رول لري، کرنيز ترويج د خوړو د امنيت او مصؤنيت سره ډيري نږدې او نه پرې کېدونکي اړيکي لري، کرنيز ترويج د پوهي دليږدولو، د ظرفيتونو د لوړولو، توکو او منابعو ته د لاسرسي او د نويو ټکنالوژيو د پېژندني له لاري د خوړو په امنيت او مصؤنيت کي مرسته کولای سي. څېړنه وړانديز کوي چي په کليوالي سيمو کي د ترويج اغيزمن پروګرامونه تطبيق، کروند ګر تشويق سي چي په نوموړو پروګرامونو کي ګډون وکړي او په کرنيزو فعاليتونو کي مناسبي ټکنالوژۍ په کار واچوي.

**کليدي کليمي**: خواړه، غذائي مصؤنيت، کرنيز ترويج، کليوالي سيمي

## پيژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

کليوالي سيمي په عمومي ډول د ښاري سيمو څخه بهر سيمو ته ويل کيږي، کم نفوس لري، د ژوند زيات لومړني ضرورتونه د کرني، مالدارۍ او طبيعي منابعو څخه په لاس راوړي، د خاص کلتور درلودونکي وي، د استوګني کوچني ځايونه لري او د قوي ټولنيزو اړيکو درلودونکي وي، د کليوالي سيمو دا ځانګړتياوي، شايد د يوې سيمي څخه بلي سيمي ته فرق ولري ( Ahmad & Slathia, 2011). د کرنيز ترويج پروګرامونه د کروند ګرو د مهارتونو د لوړولو او ښه کولو لپاره په کار لويږي، دا خدمتونه د کروندګرو سره مرسته کوي چي د توليد کچه لوړه او با کيفيته حاصلات توليد کړي (Van den Ban, 2002; Maginga et al., 2018. کرنيز ترويج يوه هراړخيزه تګلاره ده چي د کرني د کړنو ښه کول، باثباتي ته وده ورکول، غذايي مصؤنيت لوړول او کروند ګر د زده کړي، روزني او د هغوي د حمايت له لاري پياوړي کول په پام کي نيسي ( Fujita & Min, 2000, Ahmad & Slathia, 2011. کرنيز ترويج د کرنيزو فعاليتونو په ښه کولو کي د کروند ګرو لپاره ډير مهم دی څکه چي د خوراکي توکو د زياتوالي اړين معلومات کليوالو ته وړاندي کوي (Syafrinal et al., 2024). خواړه د انسان ډيره مهمه او اساسي برخه ده، په همدې اساس نن ورځ د خوړو د خونديتوب مسئله د نړۍ د هيوادونو د لومړيتوبونو څخه ده ( Asnamawati et al., 2023). خوړو خونديتوب يوه پيچلي مسئله ده چي پر مختلفو سکتورونو باندي اغيزه کوي (Ahmed et al., 2024).

د غذايي توکو مصؤنيت يو څو اړخيزه مفکوره ده چي د مختلفو عواملو سره تړاو لري هغه لکه، روغتيا، اقتصادي وده، چاپيريال او سوداګري، د غذايي توکو مصؤنيت د جغرافيايي او ټولنيزو سرحدونو په اوږدو کي د يوې سيمي غذايي مصؤنيت د بلي سيمي

د غذايي مصئونيت سره توپير لري (FAO, 2019; Fairbairn & Dunlop, 1997). د غذايي توکو د مصئونيت اساسي موخي په محلي کچه سره د غذايي توکو د توليد زياتول، د خوراکي توکو د ضايعاتو څخه مخنيوی کول، صحي اوبو ته لاسرسی او د اوبو سالم او منظم استعمال، په کرنه کي پانګوني ته وده ورکول (کرنيزي پراختيا ته رسيدل)، د خوړو د پروسې او توليد څخه ملاتړ کول او د خوراکي محصولاتو لپاره د سوداګرۍ و شرايطو ته د ودي ورکولو څخه عبارت دي (Ahmed *et al., 2024*). د کرنيزي ځمکي چمتو کول، کښت او کرونده کول، د کرنيزو محصولاتو د راټولولو عصري مهارتونه د خوراکي توکو په خونديتوب کي مرسته کوي (Njura *et al., 2020*). د غذايي توکو پر مصئونيت باندي اغيزمن عوامل د نفوس وده، د خوراکي توکو پر صادراتو باندي لوړ ماليات، د اوبو کمښت، د اقليم بدلون، د کرني محدودي سرچيني، د ځمکي تخريب، د خوراکي توکو پر وارداتو باندي زياته تکيه کول او د خوراکي توکو د ضايعاتو د لوړې کچي څخه عبارت دي، ياد موارد په زياته اندازه سره د غذايي توکو د مصئونيت مخه نيسي (Ahmed et al., 2024)، په داسي حال کي چي د خوړو د خونديتوب په مخنيوي کي سياسي، مالي او چاپيريالي عوامل هم ديادوني وړ دي (Szabo et al., 2022). همدارنګه د اقليم تغير د غذايي توکو د کموالي له لاري د انسانانو پر ژوند باندي ناوړه اغيزې کوي (Sadat et al., 2024).

د خوړو د خونديتوب ترلاسه کول د کليوالو د ژوند پر کيفيت باندي مثبتي اغيزې کوي، د کليوالو د اقتصادي او اجتماعي پراختيا، د بيکارۍ د کموالي او د بېوزلۍ د له منځه وړلو سبب کيږي (Sarmin *et al., 2024*). د خوړو خونديتوب د روغتيا په ښوالي، د اقتصادي او ټولنيز ثبات په راوستلو کي، د چاپيريال په باثباتۍ کي او د غذايي توکو د زياتوالي له لاري د بشري حقونو د ساتني سبب کيږي (Ahmed *et al., 2024*). کرنيز ترويج په کليوالي سيمو کي د غذايي توکو په امنيت او مصئونيت کي حياتي ارزښت لري، د کرني اړوند د کروند ګرو تخنيکي روزنه، ظرفيت لوړونه او د پوهي زياتوالی د ترويجي پروګرامونو له لاري په اغېزمنه توګه صورت نيسي (Baig et el., 2019). د ترويج استازی د څېړنيزو مرکزونو او کروند ګرو ترمنځ اړيکي ټينګوي چي ددې لاري کروند ګر په آسانۍ سره خپلي ستونزي حل کولای سي، د عصري ټکنالوژۍ (اصلاح سوي تخمونه، سري، ماشينونه او ...) د پلي کولو لپاره کروند ګر هڅوي، د کرني و باثباتۍ ته وده ورکوي، د ترويج استازی د کروند ګرو سره مرسته کوي، چي د پيرودونکو، پروسس کوونکو او د کوپراتيفونو سره اړيکي ونيسي، ترويجي پروګرامونه د کرنيزو محصولاتو د کيفيت او کميت د لوړوالي سبب کيږي، د ترويجي پروګرامونو له لاري کروند ګرو ته ددې پوهه ورکول کيږي چي څنګه د اقليم د بدلون سره مقاومت وکړي، کروند ګرو او کليوالو ته د طبيعي پيښو او آفتونو سره د مبارزې توانايي ورکوي او د کوچنيو کروند ګرو د پياوړتيا سبب کيږي چي ددې لاري په کليوالي سيمو کي د کرني پراختيا او د غذايي موادو زياتوالی رامنځته کيږي (Klerkx, 2020). په پايله کي ويلای سو چي په کليوالي سيمو کي د غذايي توکو په امنيت او مصئونيت کي کرنيز ترويج ډير مهم دی، د کروند ګرو د پوهي او مهارتونو د لوړولو له لاري د کرنيزو توليداتو د زياتوالي او د معيشت د ښوالي سبب کيږي، همدې ته په کتو سره ياده څېړنه په پام کي نيول سوي ده چي موخه يې د کليوالي سيمو په غذايي امنيت او مصئونيت کي د کرنيز ترويج د رول معلومول دي.

## د څېړني ستونزه

په کليوالي سيمو کي د خوړو د کمښت او د کيفيت د ټيټوالي اړوند يوه اندازه ستونزي شتون لري، په داسي حال کي چي د کرنيزو توليداتو د زياتوالي او د اقليم د بدلون سره د مقاومت او د اغيزمنو ترويجي پروګرامونو له لاري يادي ستونزي حل کيدای سي (Mugabe, 2020)، د بلي خوا کرنيزو ټکنالوژيو ته د لاسرسي نشتون او ناکافي زيربناوي د کرنيزي پراختيا مخه هم نيولي ده (Fanzo, 2021)، له همدې امله په کليوالي سيمو کي د خوړو مصئونيت محدود سوی دی، همدارنګه د خوړو د مصئونيت لپاره په کرنيزه برخه کي ټولنيز او اقتصادي بدلونونه، د ځمکي د مالکيت اندازه، منظمه پاليسي جوړونه زياتي پاملرني ته اړتيا لري (Mashingaidze, 2019)، ولي په دې برخه کي لازمه پاملرنه نه ده سوي، دا چي د خوړو په مصئونيت کي کرنيز ترويج ډير اغېزمن تماميږي، او په دې برخه کي په سيمه کي کافي څېړني نه دې ترسره سوي او کليوال په ياده برخه کي کافي پوهه او مهارت نه لري، د همدې ستونزو په نظر کي نيولو سره ياده څېړنه طرح سوي ده

## د څېړني موخې

- ➢ د کليوالي سيمو په غذايي امنيت او مصؤنيت کې د کرنيز ترويج د رول معلومول.
- ➢ د غذايي توکو په امنيت او مصؤنيت کې د ترويجي پروګرامونو د لارو چارو پيژندل.
- ➢ د کرنيز ترويج او د غذايي توکو د امنيت او مصؤنيت تر منځ د اړيکې پيژندل.

## د څېړني پوښتني

- ➢ په کليوالي سيمو کې د غذايي توکو په امنيت او مصؤنيت کې کرنيز ترويج څه رول لري؟
- ➢ د کومو لارو په واسطه سره کرنيز ترويج د غذايي توکو په امنيت او مصؤنيت کې مرسته کولای سي؟
- ➢ د غذايي توکو امنيت او مصؤنيت د کرنيز ترويج سره څه اړيکه لري؟

## د څېړني تګلاره

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د کليوالي سيمو په غذايي مصؤنيت کې د کرنيز ترويج رول د علمي معيارونو سره سم مطالعه شي چې د مستندو کتابتوني مطالعاتو (کتابونو، مقالو، مجلو، ژورنالو) پر بنسټ تشريحي او استنباطي ميتود کارول شوی دی.

### د څېړني ډول

دا علمي څېړنيزه مقاله د ساحې له مخې کتابتوني او د تشريحي او استنباطي کړنلاري پر بنسټ باندې ترسره شوې ده. هڅه شوې چې د کليوالي سيمو په غذايي مصؤنيت کې د کرنيز ترويج رول د داخلي او خارجي منابعو په نظر کې نيولو سره مطالعه شي ترڅو د سيمې د غذايي مصؤنيت په خوندي کولو کې يې رول د علمي معيارونو په نظر کې نيولو سره معلوم شي.

### د څېړنې ساحه

د دې علمي څېړنيزې مقالې موضوع د کليوالي سيمو په غذايي مصؤنيت کې د کرنيز ترويج رول دی. د څېړني د معلوماتو د راټولولو لپاره د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د کتابتون، انټرنيټ، کرنيز فارم او همدارنګه د داخلي او خارجي منابعو څخه استفاده شوې ده.

### د څېړنې د معلوماتو د راټولولو وسيله

په دې څېړنه کې د معلوماتو راټولول د داخلي او بهرنيو معتبرو سرچينو (کتابونو، مقالو، مجلو، ژورنالونو) څخه د ياداښتونو د اخيستلو له لارې ترسره او تر دقيقي ارزوني وروسته په خپل ځای کې ځای پر ځای سوي دي، نوموړې څېړنه يوه کيفي څېړنه ده چې په کې کوم معلوم اعداد او ارقام شتون نه لري.

## موندني او مناقشه

د غذايي توکو امنيت او مصؤنيت نن ورځ په ټوله نړۍ کې د ډيرو مهمو موضوعګانو څخه شميرل کيږي، د نړۍ زياتو هيوادونو د مختلفو کړنلارو په پلي کولو سره په دې برخه کې زياتي څېړني کړي دي، ترڅو په ياده برخه کې کاميابي ترلاسه او د خپلو وګړو لپاره ئې په کافي اندازه سره مناسب او معياري غذايي توکي توليد کړي وي. په دې برخه کې د نړۍ په کچه باندې زياتي څېړني ترسره سويدي چې د هغو څخه يې د موضوع سره مطابقي څېړني دلته يادآوري کوو:
Asnamawati او همکارانو يې په (۲۰۲۳) کال کې د ماليزيا په هيواد کې د خوړو په خونديتوب کې د کرنيز ترويج رول او په دې برخه کې د بشري حقونو د ساتني لپاره يوه هڅه تر عنوان لاندې يوه څېړنه کړې ده، دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي چې، په هره اندازه چې په کليوالي سيمو کې د کرنيز ترويج په پروګرامونو کې د کروند ګرو او کليوالو ګډون زيات وي په هماغه اندازه سره د کروند ګرو او کليوالو ظرفيت لوړيږي او د کرنيزو فعاليتونو له لارې زيات غذايي توکي او عوايد په لاس باندي راوړي. کرنيز ترويج د کرنيزو محصولاتو په زياتوالي، د خوراکي توکو په خونديتوب، د کوچنۍ کچې د کروند ګرو سره په همکاري کولو او د کليوالو او کروند ګرو د سوکالۍ په رامنځته کولو کې ډير مهم رول لري. په (۲۰۲۴) کال کې Sarmin او همکارانو يې په بنګله ديش کې هغه کورنۍ چې ترويجي خدمات ورته رسيږي او هغه چې ترويجي خدمات ورته نه رسيږي په منځ کې د خوړو د خونديتوب وضعيت او د هغه ټاکونکي عوامل څېړلي دي، د څېړني پايله ئې ښيي چې، په کليوالي سيمو کې هغه کورنۍ چې د کرنيز ترويج خدمتونه ورته رسيږي او د کرنيز ترويج په پروګرامونو کې ګډون کوي، د غذايي توکو د کافي مصؤنيت څخه

برخمني دي، په داسي حال کي چي هغه کورنۍ چي د ترويج خدمتونه ورته نه رسيږي او د ترويج په پروګرامونو کي ګډون نه کوي، د غذايي توکو د توليد په برخه کي د زياتو ستونزو سره لاس او ګريوان دي، د کليوالي کورنيو د غذايي توکو پر مصؤنيت باندي مؤثر عوامل د کورنۍ د مشر د زده کړي کچه، د کورنۍ اندازه، د کرني اندازه، د کرني تجربه، د کورنۍ کلنی عايد، د کورنۍ کلني لګښتونه، د خوړو سرچينې او د تغذيې په اړه د پوهي څخه عبارت دي. د افريقا د نايجيريا په هيواد کي Olumide د کرنيزو فعاليتونو په عصري کولو کي نوښت او د خوړو خونديتوب په (۲۰۲۴) کال کي څيړلی دی، پايله يې ښيي چي په کرنيزو فعاليتونو کي مثبت نوښت د خوړو په مصؤنيت کي حياتي رول لري، دا ځکه چي د کرنيزو فعاليتونو نوښت او په دې برخه کي د کرنيزي ټکنالوژۍ استعمال د کرنيزو محصولاتو کچه لوړوي، د اقليم د بدلون سره مقاومت زياتوي او د کوچنيو کروند ګرو د معيشت د ښوالي سبب کيږي. په (۲۰۲۴) کال کي Syafrinal او ملګرو يې د خوړو په امنيت کي د کرنيز ترويج د استازو وړتياوي د ماليزيا په هيواد کي څيړلي دي، دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي، د ترويج د استازو وړتياوي (پوهه، مهارت او سلوک) د خوراکي توکو د توليد، لاسرسي، د خوړو د کيفيت د ښوالي له لاري د کروند ګرو د خوړو په مصؤنيت کي د پام وړ رول لري، همدارنګه په غير مستقيم ډول د معلوماتو او نوښتونو د شريکولو له لاري د کروند ګرو او کليوالو د کورنيو د خوراکي توکو په مصؤنيت کي د پام وړ مرسته کوي. د اقليم د تغير سره د توافق له لاري د خوړو په امنيت کي د کرنيز ترويج رول د ايتوپيا په هيواد کي د Ozkan او همکارانو له خوا څخه په (۲۰۲۲) کال کي مطالعه سويدی دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي. د اقليم بدلون د خوړو پر مصؤنيت باندي ناوړه اغيزې کوي، لوږه او خوار ځواکي زياتوي، زيات هيوادونه د کرني له لاري خپل غذايي او ضروري توکي په لاس باندي راوړي، د اقليم د تغير په نتيجه کي اورښت کميږي، توډوخه، بې موسمه بارانونه او سيلابونه زياتيږي، چي پر کرنيزو فصلونو او څارويو باندي منفي اغيزه کوي، محصولات ئې زيانمنوي او د قحطۍ سبب کيږي، په نتيجه کي د کليوالو او کروند ګرو پر ژوند باندي ناوړه اغيزه کوي. Williams's او ملګرو يې په (۲۰۰۸) کال کي د کرنيز ترويج پروګرامونه او کوچنۍ (وړوکي) کرنه مطالعه کړيده، پايله يې ښيي چي، د کرنيز ترويج د پرورګامونو له لاري د کوچنيو کروند ګرو حمايت په کليوالي سيمو کي د فقر په کمولو او د غذايي توکو په مصؤنيت کي د پام وړ مرسته کوي. (۲۰۱۹) کال کي Owotogbe او همکارانو يې په کليوالي پراختيا، کرنيز ترويج او د غذايي توکو په مصؤنيت کي د ارتباطي ټکنالوژۍ (ICT) رول مطالعه کړيدی، پايله يې ښيي چي، په کليوالي سيمو کي ارتباطي ټکنالوژي د کرنيز ترويج د پروګرامونو سره د خوړو په خونديتوب کي زياته مرسته کوي، د کرنيز ترويج پروګرامونه ددې ټکنالوژۍ له لاري زيات مؤثريت ترلاسه کوي، د غذايي توکو د مصؤنيت اړوند معلومات په کليوالي سيمو کي د ارتباطي ټکنالوژۍ له لاري په اسانۍ او کم وخت کي تر زياتو کليوالو پوري رسول کيداي سي. د نايجيريا په هيواد کي Olawuyi او همکارانو يې په (۲۰۲۴) کال کي، د خوړو په امنيت کي د کروند ګرو د پوهي څخه ګټه اخيستنه څيړلي ده، دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي، هغه کروند ګر چي د کرني عنعنوي طريقې کاروي، مارکيټ ته د کرنيزو محصولاتو د رسولو مناسبي لاري نه لري، د اوبو لګولو د منظمو سيستمونو څخه برخمن نه وي چي په نتيجه کي يې کرني پراختيا نه وي کړې، د غذايي توکو د مصؤنيت د سختو ستونزو سره لاس او ګريوان وي، همدارنګه د کروند ګرو د خوړو د مصؤنيت وضعيت د هغوي د کورنۍ په اندازې، د پوهي کچه، د کروند ګر عمر، د کرني اړوند تجربه، د کرنيز ترويج و خدماتو ته لاسرسی او د ترويج د استازي سره د ليدنو کتنو په اندازي پوري اړه لري. د ماليزيا په هيواد کي د اقتصادي خپلواکۍ په چوکاټ کي د خوړو د مصؤنيت ملي ستراتيژۍ د Andrianti او همکارانو له خوا څخه مطالعه سويدي، پايله يې په ګوته کوي چي د کرني د پراختيا له لاري د مختلفو خوراکي محصولاتو توليد او پروسيس د خوراکي توکو د تنوع سبب کيږي، د خوراکي توکو تنوع د هغوي په مصؤنيت کي د پام وړ مرسته کوي. Rathnachandra او Malkanthi په (۲۰۲۳) کال د سريلانکا په هيواد کي د خوراکي توکو پر توليد باندي د کرنيز ترويج په پرګرامونو کي د کليوالي ميرمنو د ګډون اغيزې مطالعه کړيدي، پايله يي ښيي چي، د خوړو د مصؤنيت لپاره لومړی ګام د غذايي توکو توليد دی، د غذايي توکو د توليد لپاره د کرنيز ترويج پروګرامونه او خدمات ډير اړين دي، په کليوالي سيمو کي د کوچنيو کرنيزو پلاټونو په سمبالولو سره کليوالي ميرمني خوړو په توليد کي د پام وړ نقش لوبوي،

د کرنيز ترويج په پروګرامونو کي د ګډون او د خوړو د توليد د زياتوالي ترمنځ قوي او مثبته اړيکه موجوده ده، په هره اندازه چي کليوالو په ترويجي پروګرامونو کي ګډون کړی وي په هماغه اندازه ئې د خوړو توليد زيات او د غذائي مصؤنيت څخه برخمن وي.

Fiaz او همکارانو يې په (۲۰۱٦ کال د سعودي عربستان په هيواد کي د خوړو د امنيت په ترلاسه کولو کي د کرنيز ترويج احتمالي لاري چاري، څيړلي دي، پايله ئې روښانه کوي چي، هغه هيوادونه چي وچ او صحرائي اقليم (په خپل جغرافيايي جوړښت کي زياتي صحراوي) ولري تر ډيره حده پوري خوراکي توکي د نورو هيوادونو څخه واردوي، دا ځکه چي خپل کرنيز توليدات ئې

ددوي د ضرورت لپاره کافي نه وي، د خوړو کافي خونديتوب نه لري، د کرني په برخه کې د کافي کرنيزي ځمکي او اوبو څخه برخمن نه وي، په يادو هيوادونو کې د غذائي توکو د مصونيت لپاره د باران د اوبو ساتنه، د ترويجي پروګرامونو له لاري د دوديزو او عنعنوي کرنيزو کړنو ښوالی، په شنو خونو کې و کرنيزو فعاليتونو ته وده ورکول او د ځمکي اصلاحات د پام وړ ښوالی راولي، په دې برخه کې د کروند ګرو د پوهي د زياتوالي او نويو نوښتونو په رامنځته کولو سره د ترويج د استازي رول ډير مفيد تماميږي چي ددې لاري په کليوالي سيمو کې د غذايي توکو د اړتياوو د پوره کيدو سبب کيږي. Maow او Temizel د کرنيزو محصولاتو په توليد کې د کرنيز ترويج رول په (۲۰۲۱ کال د سوماليا په هيواد کې څيړلی دی، دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي، د پرمختلونکو او وروسته پاته هيوادونو د خوړو مصؤنيت د ځينو داخلي او خارجي عواملو له امله اغيزمن او د بې ثباتی سره مخ کيږي، په نتيجه کې يې زيات وګړي د لوږي او ښوزلی سره مخ کيږي، د غذايي توکو د زياتوالي لپاره د کرنيزو محصولاتو زياتوالی او د کرني پرمختګ حتمي دی، د کرني پرمختګ د ترويجي پروګرامونو له لاري په اسانی سره صورت نيولاي سي، کرنيز ترويج د کروند ګرو په خوځښت، د کمزورو کروند ګرو په حمايت او دوديزو کرنيزو فعاليتونو په عصري کولو سره د خوړو په زياتوالي، مصؤنيت، توليد او وده کې مهم نقش لوبوي، د کرنيزو محصولاتو په بازار موندنه او د بازار د چينلونو په اړه د کروند ګرو د ظرفيت د لوړولو له لاري د کرنيزو محصولاتو د کيفيت د ښوالي سبب کيږي، د يادي څيړني پايلي روښانه کوي چي د کرنيز ترويج د خدماتو او د غذائي مصؤنيت ترمنځ نږدې اړيکي شتون لري.

## په کليوالي سيمو کې غذايي امنيت او د اقليم بدلون

د اقليم بدلون د فقر او لوږي سره ډيري نږدې اړيکي لري، د اقليم بدلون نه يوازي د خوړو پر مصؤنيت او اقتصادي پراختيا باندي د منفي اغيزو له لاري ښوزلي او لوږه زياتوي، بلکه فقر، لوږه او ښوزلي د اقليم د بدلون سره د خلګو د انعطاف او توافق وړتيا هم کموي (Aragie, 2013). ښوزله کوچني کروند ګر د اقليم د بدلون له امله په لومړي قدم کې په زياته اندازه سره زيانمن کيږي، ولې پر دې باندي برعلاوه بوډاګان، ناروغان، ماشومان او ښځي هم د اقليم د تغير په زيانمنو ډلو کې راځي. يادي ډلي د اقليم د بدلون په نتيجه کې د کليوالي سيموڅخه مهاجرت کوي او د کليوالي سيمو د وروسته پاته والي سبب کيږي ( Ozkan et al., 2022). د اقليم بدلون د خوراکي توکو پر ساتلو او زيرمه کولو او د کرنيزو محصولاتو پر راټولولو باندي د ناوړي اغيزې له لاري په خوراکي توکو کې په لوړه کچه سره کموالی رامنځته کوي (Admassu et al., 2013).

په وروسته پاته او مخ پر ودي هيوادونو کې د اقليم د بدلون له امله د خوړو د مصؤنيت ستونزه ورځ په ورځ مخ پر زياتيدو ده، له امله ئې په يادو هيوادونو کې يوه اندزه ښوزله خلګ حتی د مړيني سره مخ کيږي (You & Ringler, 2010). په کليوالي سيمو کې د اقليم بدلون د لنډ مهاله ښوزلی لوي لامل بلل کيږي (Keller 2009)، په هغو هيوادونو کې چي اقتصاد ئې تر ډيره حده پوري پر کرنه باندي ولاړ وي، د وچکالی، بې موسمه اورښتونو، سيلابونو او نورو طبيعي پيښو له امله ئې کرنه په زياته اندازه سره زيانمنه کيږي، د کرنيزو محصولاتو کميت او کيفيت ئې خرابيږي، په نتيجه کې د نوموړو هيوادونو پر اقتصاد باندي ناوړه اغيزې کوي او اقتصادي ضربه ويني (Gebreegziabher et al., 2014) ، د وچکالي او بې موسمه اورښتونو له کبله په کليوالي سيمو کې د کرنيزو محصولاتو د کموالي، د ځمکي د تخريب او د صحي اوبو کموالی رامنځته کيږي چي د زياتو خلګو د خوړو پر مصؤنيت باندي ناوړه اغيزه کوي (Tesfaye et al., 2016).

## په کليوالي سيمو کې غذايي امنيت او ارتباطي ټکنالوژي

د کرني د پراختيا لپاره په ترويجي پروګرامونو کې د ارتباطي ټکنالوژۍ څخه استفاده د خوړو پر مصؤنيت باندي زياته اغيزه کوي، ددې ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره کروند ګر د معلوماتو د شريکولو له لاري حمايه کيږي، ارتباطي ټکنالوژي د غيرمتوقعه پيښو لکه د هوا ناوړه بدلونونو او د آفتونو د خپريدو له امله د کرنيزو فصلونو د زيانونو په کمولو کې زياته مرسته کوي، پردې باندي برعلاوه د کرنيزو فعاليتونو د عصري کولو او ښه کولو له لاري د محصولاتو د زياتوالي لامل کيږي چي د خوراکي توکو په باثباتی او امنيت کې زياته مرسته کوي، د ارتباطي ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرني عصري تخنيکونه پيژندل کيږي،
کرنيزو مارکيټونو ته لاسرسی آسانه کوي، د عوايدو زياتوالي ته زمينه برابروي او د خوړو د امنيت په وړاندي د زيانونو مخنيوی کوي (Gu et al., 2023). ارتباطي ټکنالوژي د ترويجي پروګرامونو په مؤثريت او د خوړو په خونديتوب کې د مختلفو لارو څخه مرسته کوي لکه د تليفون اپليکيشنونه، انلاين ويبسايټونه، ويډيويي تماسونه، غږيز پيغامونه، د معلوماتو راټولول او تحليلول، د هوا د حالاتو وړاندوينه او ځيني نوري لاري چاري سته چي د تليفون په واسطه سره د کروند ګر سره د کرنيزو معلوماتو په ترلاسه کولو کې زياته مرسته کوي، که څه هم ارتباطي تکنالوژي د کرنيز ترويج د پروګرامونو په مخته بيولو او د خوړو په امنيت کې د پام وړ

مرسته کوي، ولې په کلیوالي سیمو کې یې په وړاندې یوه اندازه خنډونه او ننګوني هم موجودې دي، لکه په کلیوالي سیمو کې د انټرنیټ محدودیت، د ارتباطي ټکنالوژۍ په اړه د عامه پوهاوي کموالی، د ژبې اړوند ستونزې، ددې ستونزو د له منځه وړلو لپاره د ارتباطي ټکنالوژۍ په اړه عامه پوهاوی او د هغې ګټې تر کلیوالو پورې رسول ډیر اړین دي (Ojha et al., 2023).

## د خوراکي توکو په امنیت او مصؤنیت کې د کرنیز ترویج لارې چارې

د کرنیز ترویج د قوي سیستم له لارې کرنیز سکتور پیاوړی کیږي، د کروند ګرو انعطاف ته وده ورکول کیږي او د کلیوالي ټولنو لپاره د باثباته خوراکي خوندیتوب راتلونکی تضمین کیږي، د کرنیز ترویج خدمتونه په کلیوالو سیمو کې د کرنیزو محصولاتو د زیاتولو، د کروندګرو د ظرفیت د لوړولو، او د کرنې د باثباتۍ له لارې د خوړو پر امنیت باندې د پام وړ اغیزه کوي ( Qwabe et al., 2022). د لاندې لارو چارو په واسطه سره د کرنیز ترویج خدمتونه د خوړو په امنیت او مصؤنیت کې مرسته کولای سي:

**د پوهې لیږد:** د کرنیز ترویج خدمتونه کروندګرو ته د کرنې غوره کړنې، نوي نوښتونه، نوي ټکنالوژۍ او د بازار د معلوماتو په خپرولو کې اسانتیاوې برابروي، دا پوهه کروندګر ته دا ځواک ورکوي چې د کرنیزو حاصلاتو انتخاب، د تولید میتودونه او د حاصلاتو د راټولولو په اړه سالمې او پرځای پریکړې وکړي، په نتیجه کې د حاصلاتو د زیاتوالي او د خوړو د تولید د ښه والي لامل کیږي (Taylor & Bhasme, 2018).

**د ظرفیت لوړول:** د ترویج پروګرامونه د کرنې د عصري تخنیکونو، د اقلیم په اړه د عصري فعالیتونو او د باثباته کرنې په اړه د روزنې په ورکولو سره د کروندګرو د مهارتونو او ظرفیتونو په لوړولو کې مرسته کوي. د کروندګرو د اړینو کرنیزو مهارتونو اړوند پوهه زیاتوي، د ترویج خدمتونه د کروند ګرو د مختلفو فصلونو د کرلو وړتیا لوړوي، د اوبو لګولو اغیزمن میتودونه غوره کوي او آفتونو او ناروغیو سره مبارزه کوي چې ددې لارې د خوړو تولید زیاتیږي (Issa, 2013).

**کرنیزو توکو او منابعو ته لاسرسی:** د کرنیز ترویج خدمتونه کروندګر د کرنیزو اړتیاوو لکه تخمونو، سرې او آفت وژونکو سره وصلوي، او همدارنګه سرچینې لکه د کریډیټ اسانتیاوې او د بازار اړیکې یې قوي کوي. دې منابعو ته د لاسرسي د اسانولو له لارې د ترویج پروګرامونه بزګرانو ته دا توان ورکوي چې خپل د تولید ظرفیت لوړ کړي، عاید زیات کړي، او د خپلو کورنیو او ټولنو لپاره د خوړو امنیت خوندي کړي (Anderson & Feder, 2007).

**د ټکنالوژۍ معرفي کول:** د ترویج خدمتونه د نوي ټکنالوژیو او نوښتونو پلي کولو ته وده ورکوي چې کولی شي د اقلیم د بدلون په وړاندې د کرنې تولید او انعطاف ته وده ورکړي. د کروندګرو د اصلاح شویو فصلونو، د اوبو د مدیریت د تخنیکونو، او د آفتونو د مدیریت مربوط مناسبه ټکنالوژي معرفي کوي، چې ددې لارې د کرنې د محصولاتو په لوړولو کې زیاته مرسته کوي، کرنیز زیانونه کموي، او د خوراکي توکو د ثبات تضمین کوي (Pan et al., 2018).

**څارنه او ارزونه:** د کرنیز ترویج خدمتونه د خوراکي امنیت اړوند د اغیزو په څارنه او ارزونه کې مهم رول لوبوي، د خوراکي مصؤنیت اړوند د معلوماتو په راټولولو، د سروې ګانو په ترسره کولو او د پراختیایي پروګرامونو د اغیزمنتیا په ارزولو سره پالیسي جوړونکي کولی شي د خوړو اړوند ستونزې وپیژني، پرمختګ اندازه کړي، او په کلیوالي سیمو کې د ننګونو د حل کولو او د خوړو د امنیت او مصؤنیت د ښه کولو لپاره لازمي لارې چارې په کار باندې واچوي ترڅو په کلیوالي سیمو کې په کافي اندازه سره د خوړو امنیت او مصؤنیت رامنځته سوی وي (Abdullahi, 1976).

## په کلیوالي سیمو کې د کرنیز ترویج او د خوړو د خوندیتوب ترمنځ اړیکه

کرنیز ترویج د خوړو په امنیت کې مهم رول لري، د کروند ګرو د پوهې د لوړولو، د نوي او مناسبې ټکنالوژۍ په معرفي کولو، د ستونزو په مشخص کولو او د هغوی د حمایت له لارې ترویجي خدمتونه کولای سي چې د کرنیزو محصولاتو په زیاتوالي او په کلیوالي سیمو کې د بهوزلۍ په کمولو کې مهم رول ولوبوي (Toroitich, 2021). په کلیوالي سیمو کې کرنیز ترویج او غذایي مصؤنیت یو له بل سره نه پرې کیدونکې اړیکې لري. د کرنیز ترویج په پروګرامونو کې د تدریس طریقې (نمایش، ساحوي سفرونه، لکچرونه، غونډې او نور) او د غذایي توکو د امنیت او مصؤنیت ترمنځ ډیرې نږدې اړیکې شتون لري، د کرنیز ترویج د تدریس طریقې د کروند ګرو او کلیوالو د پوهې او ظرفیت په لوړولو کې ډیر مفیدې تماميږي (Njura et al., 2020). په لاندې شکل کې د کرنیز ترویج په پروګرامونو کې د تدریس د میتودونو او د غذایي توکو د امنیت او مصؤنیت ترمنځ اړیکه لیدل کیږي:




شکل 1: د کرنیز ترویج د تدریس د طریقو او د خوړو د امنیت او مصؤنیت ترمنځ اړیکه (Njura et al., 2020).

## پایله

د څیړنې د مطالعاتو څخه معلومه سول چې ترویجي پروګرامونه د غذايي توکو په زیاتوالي کې زیات مؤثریت لري، هغه کورنۍ چې په کلیوالي سیمو کې د کرنیز ترویج په پروګرامونو کې ګډون کوي د کافي غذائي امنیت او مصؤنیت څخه برخمنې دي، د غذایي توکو پر امنیت او مصؤنیت باندې مؤثر عوامل د کلیوالي کورنۍ د تعلیم کچه، د کورنۍ د غړو تعداد، د کرنې اړوند تجربه، کلنۍ عاید او لګښتونه او د خوړو سرچینې دي. په کرنیزو فعالیتونو کې مثبت نوښت د خوړو په امنیت او مصؤنیت کې مؤثر تماميږي. پایلې څرګنده کړل چې د اقلیم بدلون د خوړو پر امنیت او مصؤنیت باندې منفي تأثیر لري، په کلیوالي سیمو کې خوارځواکي زیاتوي، د کلیوالو او کروند ګرو پر ژوند باندې منفي اغیزه واردوي. د ترویجي پروګرامونو له لارې د کروند ګرو د پوهې کچه لوړیږي، د فقر په له منځه وړلو او غذایي توکو په امنیت او مصؤنیت کې د پام وړ مرسته کوي. معلومه سول چې ارتباطي ټکنالوژي د ترویجي پروګرامونو له لارې د خوړو په امنیت او خوندیتوب کې مفیده واقع کیږي، هغه کروند ګر چې د کرنې عنعنوي طریقې کاروي د غذایي امنیت او مصؤنیت په برخه کې د هغو کروند ګرو په پرتله باندې چې د کرنې عصري طریقې کاروي د زیاتو ستونزو سره مخ وي. هغه سیمې چې وچ او صحرایي اقلیم لري، کرنې ئې پرمختګ نه وي کړی، کافي اوبو او کرنیزو سرچینو ته لاسرسی نه لري، په یادو سیمو کې د ترویجي پروګرامونو له لارې دکروند ګرو د پوهې د زیاتوالي، د ظرفیت د لوړوالي، د نویو نوښتونو په رامنځته کولو او د اوبو په مدیریت سره د کرنې له لارې د غذایي توکو په تولید کې ډیر مؤثره تماميږي. پایلې روښانه کړل چې د غذايي توکو امنیت او مصؤنیت د کرنیز ترویج سره ډیرې نږدې او نه پرې کیدونکې اړیکې لري.

روښانه سول چې د پوهې د لیږد، د ظرفیتونو د لوړولو، کرنیزو توکو او منابعو ته د لاسرسي، د نوې ټکنالوژۍ د معرفي کولو او د څارنې او ارزونې له لارې ترویجي خدمتونه د خوړو په امنیت او مصؤنیت کې مرسته کولای سي.

## وړاندیزونه

- مسؤلین دې په کلیوالي سیمو کې د کرنیز ترویج کافي، مناسب او اغیزمن پروګرامونه پلان او تطبیق کړي.
- کروند ګر دې د مختلفو لارو څخه په استفادې سره تشویق کړل سي چې په ترویجي پروګرامونو کې د امکان تر حده پوري ګډون وکړي او د عنعنوي طریقو پر ځای باندې د کرنې د عصري طریقو څخه استفاده وکړي.
- د کرنیزو فعالیتونو په سرته رسولو کې دې کروند ګر او کلیوال د مناسبې ټکنالوژۍ څخه استفاده وکړي.

## مأخذونه


Abdullahi, R. O. (1976). Policy issues for Improving Monitoring and Evaluation of Agricultural Extension Programmes in Nigeria: A Critical Review. *Policy*, *11*(10), 39-47.

Admassu H, Getinet M, Thomas TS, Waithaka M, Kyotalimye M (2013) Chap. 6. pp 149–182

Ahmad, N., & Slathia, P. S. (2011). Market led extension for promoting rural entrepreneurship in India. *Journal of Global Communication*, *4*(2), 143-147.

Ahmed, A. E., Al-Khayri, J. M., & Elbushra, A. A. (Eds.). (2024). *Food and Nutrition Security in the Kingdom of Saudi Arabia, Vol. 1: National Analysis of Agricultur*

Anderson, J. R., & Feder, G. (2007). Agricultural extension. *Handbook of agricultural economics*, *3*, 2343-2378.

Andrianti, D., Lubis, E. C. B., Nuridayanti, K., & Purnawan, E. (2024). Food security strategy National Food Security Strategy to Improve Economic Independence and Competitiveness in The Framework of National Resilience. *Southeast Asia Journal of Graduate of Islamic Business and Economics*, *2*(3), 100-105.

Aragie A (2013) Climate change, growth, and poverty in Ethiopia

Asnamawati, L., Herawati, I. E., Yuliawati, Y., & Rasoki, T. (2023). Role of Extension: An Effort and Guarantee to Protect Human Rights in Food Security. *AGRITEPA: Jurnal Ilmu dan Teknologi Pertanian*, *10*(2), 413-430.

Baig, M. B., Straquadine, G. S., Qureshi, A. M., Hajiyev, A., & Abou Hadid, A. F. (2019). Sustainable agriculture and food security in Egypt: Implications for Innovations in agricultural Extension. *Climate Change, Food Security and Natural Resource Management: Regional Case Studies from Three Continents*, 103-131.

Fairbairn, P. & Dunlop, P. (1997). Pacific women's triple agriculture role: food security, informal trade, and cash cropping. *Journal of South Pacific Agriculture*, 4(1), 201– 203

Fanzo, J., Hawkes, C., Udomkesmalee, E., Afshin, A., Allemandi, L., Assery, O. ... & Popkin, B. (2021). Global food systems research and policy analysis: A review of the literature. *Food Security*, 13(1), 45-73

FAO. (2019). Food security and nutrition in the world. Food and Agricultural Organization of the United Nations, Rome.

Fiaz, S., Noor, M. A., & Aldosri, F. O. (2018). Achieving food security in the Kingdom of Saudi Arabia through innovation: Potential role of agricultural extension. *Journal of the Saudi Society of Agricultural Sciences*, *17*(4), 365-375.

Fujita, Y., & Min, S. H. (2000). Agricultural Extension for the 21 st Century. *Journal of Agricultural Extension & Community Development*, *7*(1), 31-44.

Gebreegziabher B, Ahmed S, Gebre-ab N (2014) Ethiopia's vision for a climate resilient green economy

Gu, R., Zhang, W., Chen, K., & Nie, F. (2023). Can information and communication technologies contribute to poverty reduction? Evidence from poor counties in China. *Information Technology for Development*, *29*(1), 128-150.

Hope Dia, T & Kobani, D. (2024). Role of Agricultural Extension Programmes in Promoting Food Security in Akuku-Toru Local Government Area of Rivers State. *International Journal of Research Publication and Reviews*, 5(4), (pp. 286 – 296).

Issa, F. O. (2013). Building the capacity of agricultural extension personnel for effective implementation of agricultural transformation agenda in Nigeria. *Journal of Agricultural Extension*, *17*(1), 78-88.

Keller M (2009) Climate risks and development projects

Klerkx, L. (2020). Advisory services and transformation, plurality and disruption of agriculture and food systems: towards a new research agenda for agricultural education and extension studies. *The Journal of Agricultural Education and Extension*, *26*(2), 131-140.

Maginga, T., Nordey, T., & Dida, M. (2018). Extension system for improving the management of vegetable cropping systems.

Maow, B. A., & Temizel, K. E. (2021). The role of agricultural extension on agriculture production and food security in South and Central Somalia. *Fen ve Ziraat Bilimleri*, *68*.

Mashingaidze, A. B., & Magudu, E. T. (2019). Factors influencing the adoption of agricultural innovation: A case of smallholder farmers in sub-Saharan Africa. *International Journal of Agricultural Sustainability*, 17(4), 323-338.

Mugabe, P. H., Amelework, B., & Nyangasi, O. (2020). The role of agricultural innovation in promoting food security in Africa. *African Journal of Agricultural Research*, 15(3), 346354.

Njura, H., Kubai, K., Taaliu, S., & Shem, K. K. (2020). The relationship between agricultural teaching approaches and food security in Kenya. *Education Research International*, 2020, 1–18. https://doi.org/10.1155/2020/8847864

Ojha, K., Singh, S. S., & Yadav, W. L. A. (2023). The Role of ICT in Agricultural Extension and Food Security in India. *SYSTEMS IN AGRI-HORTI*.

Olawuyi, S. O., Ijila, O. J., Adegbite, A., Olawuyi, T. D., & Farayola, C. O. (2024). Smallholder Farmers' Use of Indigenous Knowledge Practices in Agri-food Systems: Contribution of Food Security Attainment Drive. *Research on World Agricultural Economy*, *5*(2), 45-67.

Olumide, A. (2024). Agricultural Innovation and Food Security in Sub-Saharan Africa in Nigeria. *Journal of Developing Country Studies*, 8(1), 62 – 73. https://doi.org/10.47604/jdcs.2672

Owotogbe, J. S., Adu, B. A., Adu, B. (2019). The Role of Robust ICT in Fostering Agricultural Extension, Rural Development and Food Security. *International Journal of Science and Research (IJSR)*, 8(10), (pp. 242-245).

Ozkan, B., Dube, A. K., & Reed, M. R. (2022). Role of Agricultural Extension in Building Climate Resilience of Food Security in Ethiopia. In Food Security and Climate-Smart Food Systems: Building Resilience for the Global South (pp. 219- 239). *Cham: Springer International Publishing.*

Pan, Y., Smith, S. C., & Sulaiman, M. (2018). Agricultural extension and technology adoption for food security: Evidence from Uganda. *American Journal of Agricultural Economics*, *100*(4), 1012-1031.

Qwabe, Q. N., Swanepoel, J. W., Zwane, E. M., & van Niekerk, J. A. (2022). Nexus between the invisibility of agricultural extension services and rural livelihoods development: Assertions from rural farming communities. *South African Journal of Agricultural Extension*, *50*(2), 26-41.

Rathnachandra, S. D. D. & Malkanthi, S. H. P. (2023). The Impact of Participation in Agricultural Extension Programs on Food Production among Rural Women Farmers in Imbulpe Ds Division in Sri Lanka. *"Exploring Path for Food Security through Innovative Agriculture" 4th National Symposium on Agro-Technology and Rural Sciences – 2023 University of Colombo Institute for Agro-Technology and Rural Sciences – Sri Lanka*

Sadat, A., Wasil, A. H., & Shinwari, S. (2024). The Effects of Climate Change on Rural Areas of Kandahar Province, Afghanistan. *NUIJB*, 265-268.

Sarmin, S., Hasan, M. F., Mondol, M. A. S., Rahman, M. Z., & Karim, M. R. (2024). Food security status and its determinants: A comparative study between farm households under government and non-government agricultural extension services in Bangladesh.

Syafar, M., & Ulumi, H. F. B. (2021). From Community Capital to Sustainable Rural Livelihood: Exploring Green Development Program in Masoso, Indonesia. *Jurnal Pemberdayaan Masyarakat: Media Pemikiran dan Dakwah Pembangunan*, *5*(1), 79-108.

Syafrinal., Rosnita., Ardian. (2024). An Analysis of Agricultural Extension Workers' Competence in Establishing Food Security in Kuantan Singingi Regency. *Jurnal Mimbar*. 40(1), 72-81. https://doi.org/10.29313/mi mbar. v40i1.3642

Szabo,S.,Ahmed,S.,Wi´sniowski,A.,Pramanik,M.,Islam, R., Zaman, F., & Kuwornu, J.(2022). Remittances and food security in Bangladesh: an empirical country-level analysis. *Public Health Nutrition*, 25(10), 2886–2896. https://doi.org/10.1017/s1368980022001252

Taylor, M., & Bhasme, S. (2018). Model farmers, extension networks and the politics of agricultural knowledge transfer. *Journal of Rural Studies*, *64*, 1-10.

Tesfaye K, Seid J, Getnet M, Mamo G (2016) Agriculture under a Changing Climate in Ethiopia: challenges and opportunities agriculture under a changing climate in Ethiopia: challenges and opportunities for research

Toroitich, C. J. (2021). The Association between Agricultural Extension Services and Food Security among Small-Holder Farming Households in Uasin Gishu County, Kenya (Doctoral dissertation, University of Eldoret).

Van den Ban, A. W. (2002). Poverty alleviation among farmers: the role of knowledge. In *Wheelbarrows full of frogs: social learning in rural resource management: international research and reflections* (pp. 183-196).

Williams, B., Mayson, D., De Satgé, R., Epstein, S., & Semwayo, T. (2008). Extension and smallholder agriculture: Key issues from a review of the literature. *Report by Phuhlisani, June*.

You GJ, Ringler C (2010). Hydro-economic modeling of climate change impacts in Ethiopia.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# پر غذايي مصونيت د بسته بندۍ اغيزې- یوه کتنه

محمد يونس وزيري[*،۱]، عزيزالرحمن رګښتی[۱]، سورګل اعظيمي[۱]، اسدالله سعادت[۲]

[۱]اګريبزنس څانګه، کرنيز اقتصاد او توسعه پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون

[۲]کرنيزه توسعه څانګه، کرنيز اقتصاد او توسعه پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون

مسؤل ليکوال: www.younaswazeeri123@gmail.com

## لنډيز

د خوړو خونديتوب د عملي کړنو په تر سره کولو سره علمي لاري چاري رامنځته کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړل سي چې خواړه يا هم خوراکي محصولات د انسانانو د مصرف لپاره خوندي دي، له ککړتيا څخه پاک او د روغتيا لپاره کوم خطر نه رامنځته کوي، پاک او مصؤن خواړه د انسانانو د روغتيا او اقتصادي ودي لپاره ډېر مهم دي، د مضره موادو څخه پاک خواړه د بسته بندي له لاري تر لاسه کيدای سي، بسته بندي د غذايي توکو د کيفيت د ښه والي، د ضايعاتو په کموالي، د ژوند د دوران د اوږدوالي، د خواراکي توکو د ساتني او په نتيجه کي د خوړو د مصؤنيت سبب کيږي، بسته بندي د غذايي توکو په امنيت، مصؤنيت او پاک ساتلو کې ځانګړی او خاص ځای لري، بسته بندي د غذايي توکو د ساتني، د ارزښت د زياتولو، د کيفيت د لوړولو او د مشتري د قناعت د ترلاسه کولو مهمه وسيله ده، دا يوه کتابتوني څېړنه ده چې هدف يې پرغذايي مصؤنيت د بسته بندۍ د اغيزو معلومول دي، په لمړي پړاو کې د موضوع اړوند مقالي د ساينس ډاريکټ ويب پاڼو څخه د(۱۹۹۷ـ ۲۰۲۴) کال پوري را اخستل سوي او وروسته د عنوان پر اساس کټګوري سوي، پايله يي ښيي چي د بسته بندۍ اصلي اغيزه دا ده چې خوراکي توکي د بهرني تاثيراتو او زيانونو څخه ساتي، د خواړو خونديتوب رامنځته کوي، او مصرف کونکو ته د خوړو د اجزاوو او تغذيي اړوند معلوماتو چمتو کوي، د بسته بندۍ پرته د خوارکي محصولاتو تنظيم کول، انتقال او ذخيره کول غير موثر دي. د دي بيا کتني اصلي هدف پر غذايي مصؤنيب باندي د بسته بندۍ د اغيزو معلومول او د بسته بندۍ د مختلفو ډولونو پيژندل.

**کليدي کليمې:** بسته بندي، خواړه، غذايي مصونيت

## پيژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د خوړو خونديتوب د عملي اقداماتو په تر سره کولو سره علمي لاري چاري رامنځته کوي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړل سي چې خواړه يا هم خوراکي محصولات د انسانانو د مصرف لپاره خوندي دي ، له ککړتيا څخه پاک او د روغتيا لپاره کم خطر نه رامنځته کوي(Odeyemi at al., 2019 ). د خوړو له امله رامنځته کيدونکي ناروغی او خطرونه چې ممکن د کيمياوي، فزيکي عاملينو او بيولوژيکي موادو څخه رامينځ ته کيږي او د رامنځته کيدو څخه د مخنيوي لپاره يو لړ لاري چاري، پروسې، او مقررات طرحه شوي، تر څو د خوړو خونديتوب وساتل سي، د خوړو خونديتوب وروستی هدف و مصرف کوونکو ته د غير خوندي يا ککړ شوي خوړو د مصرف کولو او ناوړه روغتيايي اغيزو څخه مخنيوی دی (Ehuwa at al., 2021). د خوړو د ژوند دوران اوږدولو او ضايعات کمولو لپاره بسته بندي تر سره کيږي، په دې توګه د خوړو څخه د استفادی وخت اوږدوي، د خوراکي توکو بسته بندي د متنوع محصولاتو لپاره کارول کيږي او د اکمالاتو سلسله کې د خوړو محافظت په پراخه کچه د بسته بندي پراساس دی (Brody et al., 2008). د بسته بندي په عملي کولو د خوړو او مشروباتو يا هم خوارکي محصولاتو خرابيدو مخه نيول کيږي، د پروسس ګټوري اغيزې يې ساتل کيږي، د ژوند دوران يې اوږديږي او کيفيت يې ساتل کيږي، په همدي ډول سره بسته بندي د دريو لويو ټولګيو لکه: کيمياوي، بيولوژيکي او فزيکي اجنبي اغيزو څخه د خوړو ساتنه چمتو کوي (Alamri et al., 2021).

د بسته بندي پرته د خوراکي محصولاتو اداره کول به ګران او غير موثر وي (Robertson, 2006). پيرودنکي مخکي له دي چې محصول رانيسي بسته بندي ورته داړونده محصول پيژندنه چمتو کوي، څرنګه چي د مصرف کوونکو غوښتنې بدليږي، اوس د

ځيرکي، فعال او هوښياري بسته بندي په ځير متنوع بسته بندي رامنځته سوي دي، د بسته بندي نوي سيسټمونه د خوړو بسته کولو چاپيريال ته متقابل عمل او ځواب ورکوي (Robertson, 2006). د بسته بندي نړيوال سازمان (2008) په وينا، د مصرف کوونکو د خوښۍ وړ خورا مهمه بسته بندي چي فيصدي يې (۳۸) ده د کاغذ او تختې ځخه جوړه شوې مواد دي، ورپسې پلاستيک (۳۰٪) د سخت پلاستيک سره يوازې ۱۸٪ ، فلزي (۱۹٪)، شيشې (۸٪)، او نور (۵٪)، سربيره پردې د بسته بندي نژدې ۷۰٪ د خوړو په صنعت کې کارول کيږي (Opara, 2013). د بسته بندي مواد او بسته بندي د ډولونو پراخه لړۍ د تازه او پروسس شوي خوړو صنعت کې د فارم ځخه مصرف کوونکو ته د تازه او پروسس شوي خوړو يا هم محصولاتو اداره کولو، ذخيره کولو او توزيع کولو لپاره کارول کيږي، د موادو مختلف ډولونه لکه شيشه، پلاسټيک، فلز، کارت بورډ د بسته بندي کانټينرونو د بسته بندی لپاره کارول کيږي او کارول شوي مواد د خوراکي توکو په ماهيت پورې اړه لري ځکه چې د بسته بندي بيلابيل توکي د فعاليت يو لړ ځانګړتياوې لري چې د ژوند دوران باندې د پام وړ اغيزه لري(Robertson, 2009) . بوتلونه او د شيشې مرتباني په زياته اندازه سره د مايع خوراکي توکو بسته کولو لپاره کارول کيږي پداسې حال کې چې د جامد خواړه او محصولات اکثرا په پلاستيکونو او کارت بورډونو کې بسته کيږي، پروسس شوې ميوې او سبزيجات معمولاً د هوا له اړخه په بند فلزي کانټينرونو کې بسته کيږي ترڅو د اکسيجن ليرد مخه ونيسي (Robertson, 2009). د خوراکي توکو د بسته بندي اصلي رول د خوراکي توکی يا هم محصولات د بهرني تاثيراتو او زيانونو ځخه ساتل دي ، ترڅو خواړه خونديتوب ولري، او مصرف کونکو ته د خوړو د اجزاو او تغذيې اړوند معلوماتو چمتو کړل سي (Coles 2003). د غذايي موادو بسته بندې د ډير اهميت درلودونکي ده چي د توليد له نقطې ځخه تر وروستي مصرف کوونکي پورې د تازه او پروسس شويو محصولاتو او خوړو په خوندي ډول اداره کولو او تحويلۍ ډاډ ورکوي، په بسته بندي کې تخنيکي پرمختګ د زيانونو کمولو، کيفيت ساتلو، ارزښت زياتولو او د کرنيزو محصولاتو د ژوند دوران اوږدولو او په پايله کې د خوړو سيستم خوندي کولو لپاره نوي امکانات وړاندې کوي، د دې بياکتنې هدف د کيفيت په ساتلو او د خوراکي توکو د ضايعاتو او ضايعاتو کمولو له لاري د خوړو سيستم خوندي کولو کې د بسته بندي ونډې روښانه کول دي، بياکتنه د ځينې نوي او رامينځته شوي بسته بندي ټيکنالوژيو په اړه هم بحث کوي چې د لوړ کيفيت ، خوندي او مغذي محصولاتو دوامداره عرضه کولو لپاره د مصرف کونکو مخ په ډيريدونکي غوښتنې پوره کولو لپاره د خوړو اداره کولو او بسته کولو لارې کې انقلاب رامينځته کړی(Opara, 2013). پاک او مصؤن خواړه د انسانانو د روغتيا او اقتصادي ودې لپاره ډيري مهم دي، د مضره موادو ځخه پاک خواړه بسته بندي له لاري تر لاسه کيدای سي، بسته بندي د غذايي توکو د کيفيت د ښه والي، د ضايعاتو په کموالي، د ژوند د دوران د اوږدوالي، د خواراکي توکو د ساتني او په نتيجه کې د خوړو د مصؤنيت سبب کيږي، بسته بندي د غذايی توکو په امنيت، مصؤنيت او پاک ساتلو کې ځانګړې او خاص ځای لري. څرنګه چي بسته بندي د غذايي موادو د زيانونو په کمولو، د کيفيت په لوړولو، دارزښت په زياتولو او د غذايي توکو د ژوند د دوران په اوږدولو کې خاصې اغيزې لري(Opara, 2013). ولي د بسته بندی د زيات اهميت سره سره بيا هم د غذايي توکو د تازه ساتني اړوند د زيربناوو نشتون، د مناسبي ټيکنالوژۍ نشتون، د ظرفيتونو ټيټوالی او د عامه پوهاوي کموالی د دي سبب سويدي چي د بسته بندی د تخنيکونو ځخه لازمه استفاده نکيږي، چي له امله يې په سيمه کي د غذايي توکو د کيفيت ټيټوالی او د مناسبو خوړو نشتون رامنځته سويدی، د دي ستونزي په نظر کې نيولو سره ياده ځيړنه طرحه سويده، تر څو د بسته بندی اغيزي د غذايی توکو په مصؤنيت کې معلوم او معلومات يې د اړونده مراجعو سره شريک سی، تر څو يادو ستونزو په حل کي استفاده وکړل سي، چي عمومي موخه پر غذايی مصؤنيت باندي د بسته بندی د اغيزو معلومول دي.

## مواد او کړنلاره

دا ځيړنه چي د ساحې له مخي کتابتوني ده، د تشريحي ميتود پر بنسټ باندي ترسره سويده، په لمړي سر کې په دې ځيړنه کې کوښښ سويدی چي د غذايي توکو په مصؤنيت د بسته بندی اغيزي پوري مربوط مقالي د ساينس ډاريکټ ويب پاڼو ځخه د(۱۹۹۷-۲۰۲۴) کال پوري را اخستل سوي او وروسته د بسته بندی اغيزي پر غذايی مصؤنيت عنوان پر اساس کټګوري سوي، په دوهم پړاو کې د بسته بندی اغيزي پر غذايي مصؤنيت باندي په ګوته سوي.

## موندنې او مناقشه

د خواړو د مصونيت تر عنوان لاندي يوه ځيړنه د (Ahmad at al., 2023) لخوا په پاکستان هيواد کې تر سره سوي ده، پايله ښيې چې، د خواړو خونديتوب ترلاسه کول د ټولو يو ګډ مسؤليت دی چې له فارم ځخه تر پنجي پورې غزيدلی، او د خواړو د خونديتوب لپاره زموږ ځخه د رغنده ژمني غوښتنه کوي، لکه څنګه چې موږ د خواړو خونديتوب پرمختللي حالت ته ځو، د خلکو د روغتيا ساتنې او د مصرف کونکو هوساينې ته وده ورکولو لپاره زموږ ژمنتيا او هڅې به د خوندي او ډير خوندي نړيوال

خوراکي توکو رسولو ته دوام ورکړي. بله څېړنه چې د (Opara, 2013) لخوا په جنوبي افریقا کی د خوړو په خوندي کولو کې د بسته بندۍ رول اړوند تر سره سوي ، پایله یی په داسی شکل ذکر سوي، بسته بندي د خواړو د سیستم یوه لازمي برخه ده، چې د تولید له نقطې څخه تر وروستي مصرف کوونکي پورې د تازه او پروسس شوي خواړو یا هم خوراکی محصولاتو د تنظیم او په ښه ډول رسولو ډاډ ورکوي، په بسته بندۍ کې تخنیکي پرمختګ د زیانونو د کمولو، کیفیت ساتلو، ارزښت زیاتولو او د کرنیزو محصولاتو د ژوند دوران د اوږدولو او په پایله کې د خوړو د مصؤنیت لپاره نوي امکانات وړاندې کوي. په همداسی ډول د خواراکي محصولاتو د بسته بندی توکی تر عنوان لاندي یوه څېړنه د (Alamri at al., 2021) لخوا په عربستان هیواد، ریاض ښار کې سرته رسیدلی ده، د څېړني پایله ښيي چې، د خواړو د بسته بندی اهداف د خوراکي محصولاتو خوندیتوب، د انتقال په برخه کې اسانتیا، د کیمیاوي ککړتیا څخه مخنیوی او د ژوند دوران اوږدول دي، بسته بندي د پیرودونکو لپاره اسانتیا برابروي، د موادو مختلف ډولونه لکه پلاستیک، شیشه، فلزات او کاغذونه او د هغوی مرکبات د خواړو بسته کولو لپاره کارول کیږي، د یو ځانګړي خوراکي محصول لپاره د بسته بندۍ موادو انتخاب باید د محصول اجزاو او د دوی ټولو ممکنه تعاملاتو او همدارنګه د خواړو کیفیت او خوندیتوب په پام کې نیولو سره ترسره شي، د خوراکي توکو د بسته بندۍ هر ډول انتخاب لپاره اساس د اعتبار وړ قوانینو او مقرراتو سره مطابقت لرل دي. یوه بله څېړنه د (Amiri at al., 2023) لخوا ایران هیواد کې د د خوړو په خوندیتوب کې د بسته بندی رول ته یوه کتني تر عنوان لاندي تر سره سوي پایله یی ښيي، چې نن ورځ د خوړو خوندیتوب د بشري خوندیتوب له اړخونو څخه پیژندل کیږي، نو د خواړو د خوندیتوب نشتوالی د بشري ټولنې لپاره د غذايي امنیت نشتوالی دی، په حقیقت کې د خواړو خوندیتوب د یوې پرمختللې ټولنې بنسټ دی او د ټولنې د روغتیا ساتلو لومړنی اصل دی، په دې وروستیو کلونو کې د نفوس د زیاتوالي سره له یوې خوا د صحي خواړو لپاره د تقاضا زیاتوالی او له بلې خوا د دوامداره او ښه کیفیت لرونکي خواړو غوښتنه د خوراکي توکو د صنعت لپاره یوه ستره ننګونه ګرځیدلی ده، د خواړو د بسته بندۍ لومړی او خورا اساسي رول د خواړو کیفیت او خوندیتوب ساتل او د خواړو له لارې د لیږدونکو ناروغیو کمول دي، په دوهم قدم کې د محصول د لیږد او ذخیره کولو پرمهال د خواړو د ضایع کیدو او د زیان څخه ساتنه ده، د بسته بندۍ صنعت صحي خوړو ته د خلکو د لاسرسي ترڅنګ د ټولنې د غذايي امنیت، خوندیتوب او د روغتیا په تامین کې مهم رول لوبوي. په همدې توګه یوه څېړنه چې د خوراکي توکو د مصونیت کې د بسته بندۍ رول تر سر لیک لاندې په هندوستان هیواد کال کې د (Marsh and Bugusu, 2007) لخوا تر سره سوی، پایله یی داسي جوتیږي، ښه بسته شوي خواړه او مشروبات نه یوازې د خواړو خوندیتوب په ډاډمن کولو کې مرسته کوي بلکه د دوی د ژوند د دوران په اوږدولو سره د عرضې پروسه اوږدوي او د خلکو لپاره د خوندي خواړو شتون زیاتوي. همدا رنګه بله څېړنه د خواړو پر خوندیتوب او کیفیت باندې د عصري بسته بندۍ د ټیکنالوژۍ د تاثیراتو تر عنوان لاندې د (Paolucci & Volpe, 2021) لخوا د ایټالیا هیواد د سانیو په پوهنتون کي تر سره سوي، چې پایله یی په داسي ډول ده، د هایدروجیل پلاستیک د دودیزې بسته بندۍ په پرتله د پنیر د ژوند د دوران د زیاتولو لپاره د فعاله بسته بندۍ موادو په توګه ګټل کیدی شي. دي ته ورته یوه بله څېړنه چې د خواړو خوندیتوب او څیرکه بسته بندۍ انعکاس تر عنوان لاندي د(Kusuma at al., 2024) لخوا ترسره سوی پایله یی داسي ښيي، د د محصول کیفیت او بسته بندۍ دواړه د پیرودونکو پر انتخاب د پام وړ اغیزه کوي، مارکیټ د بسته بندۍ لپاره نوي ټیکنالوژۍ او فرصتونو وړاندې کوي چې صنعت او مصرف کونکو دواړو ته ډیری ګټې وړاندې کوي، بسته بندۍ پیرودونکو ته اجازه ورکوي چې د محصول په اړه هر اړخیزه معلومات ترلاسه کړي ، لکه د تغذیې ارزښت، د ژوند دوران، د محصول څخه د استفادې ریښتیني وخت او کیفیت. په همداسي شکل سره یوه بله څېړنه د (Kumar at al., 2022) لخوا د د خوراکي توکو د خوندیتوب لپاره د ارتباطي بسته بندۍ سیستمونه تر عنوان لاندي تر سره سوي چې پایله یی په داسي شکل سره ده، د بسته بندۍ سیستم خواړه د لندبل ، اکسیدیشن ، بیولوژیکي خرابیدو او فزیکي زیان څخه ساتي او د توزیع په لړۍ کې د محصول توزیع اسانه کوي،

د مصرف کونکو د غوښتنې پوره کولو لپاره د مناسبي بسته بندۍ توکي، د بسته بندۍ مناسب تخنیک او د توزیع مناسب سیستم انتخابول خورا مهم دی، د دودیز بسته بندۍ سیستم د کنټرول ، محافظت ، ساتنې او معلوماتي ټیکنالوژۍ لومړني فعالیت په ترسره کولو سره د توزیع سیستم اسانه کوي، نن ورځ د خواړو صنعت او مصرف کونکي د خواړو د محافظت سربیره د محصول تازه والي او خوندیتوب په اړه ډیر اندیښمن دي. یوه بله څېړنه چې د (García-Díez at al., 2021) لخوا د د خواړو خوندیتوب ترلاسه کولو لپاره د خواړو ثبات ټاکلو تر عنوان لاندې ترسره سوي پایله یی ښيي چې د خوړو خوندیتوب د عامې روغتیا ساتنې برخې په توګه د هیوادونو لپاره یو له اصلي موخو څخه تشکیلوي، چې موخه یې د خپلو ټولو اتباعو روغتیا تضمین کول دي، په هرصورت، د خوړو خوندیتوب په ټوله نړۍ کې د جګړو، سیاسي بې ثباتۍ، یا اقتصادي بحرانونو له امله په پرمختللو او پرمختللو

هیوادونو کې زیانمن سوی دی، د خوړو خوندیتوب د صحي اقتصادي شرایطو لاندې د خواړو لاسرسی ته هم اشاره کوي، له همدې امله د هغه اصلي وسیلو پوهه چې د خواړو یا هم خوارکي محصولاتو خوندیتوب تضمینوي ترلاسه کول اړین دی.

## د خوړو د بسته بندی ډولونه

### ځیرکه بسته بندي

د ځیرکې بسته بندی سیسټمونه په پراخه کچه د خوړو، مشروباتو، د روغتیا ساتنې په محصولاتو او نورو برخوکې کارول کیږي، چې کولی شي د فزیکو کیمیکل اغیزو څارنه وکړي لکه چاپیریالي شرایط، او همدارنګه د مایکروبیولوژیکي بدلونونو مخه ونیسي، فعاله بسته بندي او هوښیاره بسته بندي چې لاندې ورباندې بحث شوي د ځیرکې بسته بندی ډولونه دي( Yan and Ricacho, 2022).

### فعاله بسته بندي

فعاله بسته بندي په فعاله (جذبونکي) او د فعال خوشې کولو سیستمونو باندې طبقه بندي شوې(Kruijf et al., 2002). د بسته بندي د پاکولو سیستم ناغوښتل شوي مرکبات لکه اکسیجن، ډیر رطوبت او ایتیلین چې په خوړو کې د خرابیدو پروسه ګړندی




کوي له محصول څخه لرې کوي، د بیلګې په توګه: اکسیجن کیدای شي د خوندورتیا، د غذايي موادو د ضایع کیدو (د اکسید یشن له لارې) د رنګ بدلون سبب شي، له همدې امله د کیفیت ساتلو او د ځینې خوراکي محصولاتو د ژوند د دوران اوږدولو لپاره د اکسیجن پاکونکو کارونه تر سره کیږي (Berenzon and Saguy, 1998). د باغداری محصولاتو په بسته بندي کې رطوبت باید کنټرول شي، څکه چې د رطوبت لوړه اندازه د مایکرو ارګانیزمونو د ودې سره مرسته کوي، د رطوبت د کنټرول سیسټمونه په زیاته اندازسره د اضافي رطوبت کمولو لپاره کارول کیږي، له همدې امله دا اړینه ده چې کله د محصول لپاره د بسته بندی ډول طرحه کوو د محصول په فزیولوژي او جوړښت ښه پوهه ولرو، د فعاله بسته بندي بل اړخ د فعال خوشې کولو بسته بندي سیستم دی او پدې سیستم کې منځپانګه د کیفیت ساتلو لپاره د بسته بندی په پروسه کې د ګټورو اجنټانو اضافه کول دي، د فعال خوشې کولو بسته بندي سیستم کې ځیني مرکباتو لکه کاربن ډای اکسایډ ، رطوبت ، محافظت کونکي او انټي اکسیډنټ اضافه کوي، د کاربن ډای اکسایډ خوشې کولو سیستمونه د هارټیکلچري محصلولاتو د تنفس د کمولو او د ژوند دوران اوږدولو لپاره کارول کیږي، د فعال بسته بندي اصلي هدف د غیر معمولي خوړو کیفیت او د ژوند د دوران تضمین کول دي (Opara, 2013).

انځور(۱) د فعاله بسته بندی استعمال د خوړو په ساتنه کې(Deshmukh at al., 2023)

### هوښیاره بسته بندي

هوښیاره بسته بندي د بسته بندۍ یو هوښیار سیستم چې د محصول فزیکو کیمیکل شرایط (د بیلګې په توګه د تازه کېدو درجې) او د دې چاپیریالې اغیزې لکه (د تودوخې درجه ، د pH کچه ، ګاز) د انتقالولو او ذخیره کولو پرمهال په ګوته او څارنه کوي. د بسته بندۍ لپاره طرحه شوی وسیلي کولی شي په داخلي یا بهر کې هر ډول بدلونونه احساس کړي او بیا کولی شي د غږ او بصري معلوماتو په چمتو کولو سره د محصول د وضعیت په اړه پیرودونکو ته خبر ور کړي، د هوښیاري بسته بندۍ مرکزي برخه د سینسرونو یا شاخصونو ادغام یا د راډیو فریکوینسي پیژندنې سیستمونه دي.(Yan and Ricacho, 2022)



(a) Temperature indicator
(b) ripeSense indicator
(c) Freshness indicator
(d) Freshness indicator

انځور(۲) د هوښیاري بسته بندۍ کارونه(Yan and Ricacho, 2022)

## پایله

بسته بندي د غذايي توکو په مصؤنيت، د خوارکی محصولاتو په تنظيم، د زيانونو په کمولو، د کيفيت په لوړولو او ساتلو، دارزښت په علاوه کولو او د خوراکي توکو د ژوند د دوران په اوږدولو باندي مثبتي اغيزي کوي، پايله څرګنده کړل چې بسته بندي د غذايی توکو په انتقال کې اسانتيا را منځته کوي، مخکي له دي چي پيرودونکي خواړه واخلی د خوړو په اړه د مشتريانو معلومات زياتوي او د کيمياوي، بيولوژيکي او فزيکي ککړتيا مخه يې نيسي. روښانه سول چې د خوړو خونديتوب د بشري خونديتوب له اړخه پيژندل کيږي او د خوړو خونديتوب د يوي پرمختللی ټولني بنسټ دی، د بسته بندی په مرسته سره د خوړو ساتنه د ټولني د هوساینی سبب کيږي، د وګړو د روغتيا د تامين اساس بلل کيږي، د خوړو د پايداری سبب کيږي. د بسته بندی په صورت کې د غذايي توکو د ذخيره کولو وخت اضافه کيږي، د غذايي توکو د ضايعاتو مخه نيسي او د زيانونو د کميدو سبب کيږي. د څیړنی د معلوماتو څخه معلومه سول چې بسته بندي د غذايي توکو د عرضي پروسه دوامداره کوي او د خوندي او مصؤن خوړو شتون زياتوي. څرګنده سول چې د بسته بندی عصري لوازم او مواد د دوديزو موادو او لوازمو په پرتله موثر او همداسي د خوړو د ژوند د دوران اوږدوالي او ساتني لپاره مفيد تمام سويدي. بسته بندي خواړه د لنده بل، بيولوژيکي، کيمياوي او فزيکي زيانونو څخه ساتي، دخوړو د توزيع پروسه اسانه کوي او د مصرف کوونکو د غوښتنو د پوره کولو مهمه وسيله ده. پايلي څرګنده کړل چې بسته بندي مختلف او موثر ډولونه لري لکه: ځيرکه بسته بندي، فعاله بسته بندي او هوښياره بسته بندي، چې هر ډول يې پر خپل ځای باندي مثبتي اغيزي او د غذايي توکو په کيفيت ساتنه کې مهم رول لري. د غذايي موادو په بسته بندي کي تر ډيره حده د پلاستيک، شيشې، فلزاتو او کاغذ څخه استفاده کيږي، د بسته بندی د هر ډول دانتخاب لپاره بايد د بسته کيدونکو موادو د خواصو په اړه اړين معلومات ولرو.

## سپارښتني

- د غذايی توکو په بسته بندی کې بايد د محصول د ډول او خاصيتونو په نظر کي نيولو سره د مناسبي تکنالوژی څخه استفاده وسي.
- د غذايي توکو د بسته بندی د ډولونواو تخنيکنو اړوند بايد افراد وروزل سي.

## ځخليکونه


Ahmad, R. S., Munawar, H., Saima, H., & Siddique, F. (2023). Introductory Chapter: Food Safety. In Food Safety-New Insights. IntechOpen.

Alamri, M. S., Qasem, A. A., Mohamed, A. A., Hussain, S., Ibraheem, M. A., Shamlan, G. ... & Qasha, A. S. (2021). Food packaging's materials: A food safety perspective. Saudi Journal of Biological Sciences, 28(8), 4490-4499.

Amiri, S., Alimohammadi, M., & Shirazeh Mohabat, H. (2023). An Overview of the Role of Packaging in Food Security. Packaging Science and Art, 14(53), 63-71.

Berenzon, S., & Saguy, I. S. (1998). Oxygen absorbers for extension of crackers shelf-life. LWT-food science and technology, 31(1), 1-5.

Brody, A. L., Bugusu, B., Han, J. H., Sand, C. K., & McHugh, T. H. (2008). Innovative food packaging solutions. Journal of food science, 73(8), 107-116.

Coles, R., McDowell, D., & Kirwan, M. J. (Eds.). (2003). Food packaging technology (Vol. 5). CRC press.

Ehuwa O, Jaiswal AK, Jaiswal S. Salmonella, food safety and food handling practices. Food. 2021;10(5):907

García-Díez, J., Gonçalves, C., Grispoldi, L., Cenci-Goga, B., & Saraiva, C. (2021). Determining food stability to achieve food security. Sustainability, 13(13), 7222.

Kruijf, N. D., Beest, M. V., Rijk, R., Sipiläinen-Malm, T., Losada, P. P., & Meulenaer, B. D. (2002). Active and intelligent packaging: applications and regulatory aspects. Food Additives & Contaminants, 19(S1), 144-162.

Kumar, P., Kishore, A., Kumari, K., & S Mor, R. (2022). Communicative Packaging Systems for Safety of Food Products. In Operations and Supply Chain Management in the Food Industry: Farm to Fork (pp. 159-168). Singapore: Springer Nature Singapore.

Kusuma, H. S., Yugiani, P., Himana, A. I., Aziz, A., & Putra, D. A. W. (2024). Reflections on food security and smart packaging. Polymer Bulletin, 81(1), 87-133.

Marsh K and Bugusu B (2007), Food Packaging -- Roles, Materials, and Environmental Issues, Journal of Food Science, 72 (3), R39-R55.

Marsh, K., & Bugusu, B. (2007). Food packaging—roles, materials, and environmental issues. Journal of food science, 72(3), R39-R55.

Odeyemi OA, Sani NA, Obadina AO, Saba CKS, Bamidele FA, Abughoush M, et al. Food safety knowledge, attitudes and practices among consumers in developing countries: An international survey. Food Research International. 2019; 116:1386-1390

Opara, U. L. (2013). A review on the role of packaging in securing food system: Adding value to food products and reducing losses and waste. African Journal of Agricultural Research, 8(22), 2621-2630.

Paolucci, M., & Volpe, M. G. (2021). The effect of novel packaging technology on food safety and quality. Foods, 10(2), 269.

Paolucci, M., & Volpe, M. G. (2021). The effect of novel packaging technology on food safety and quality. Foods, 10(2), 269.

Robertson, G. L. (2009). Food packaging and shelf life: a practical guide. CRC Press.

Robertson, G.L., 2006. Safety and legislative aspects of packaging. Food packaging principles and practice, vol. 3. CRC Press, US, pp. 473–502.

Yan, M. R., Hsieh, S., & Ricacho, N. (2022). Innovative food packaging, food quality and safety, and consumer perspectives. Processes, 10(4), 747.

Deshmukh, R. K., Hakim, L., & Gaikwad, K. K. (2023). Active Packaging Materials. *Current Food Science and Technology Reports*, *1*(2), 123-132.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونیت

# د غذایی توکو په مصؤنیت کي د پروسس رول

عزیز الرحمن رګبتی [1*]، اسدالله سعادت[2]، محمد یونس وزیری[1]

۱ اګریبزنیس څانګه، د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو اوټکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
۲ د کرنیزي توسعې څانګه، د کرنیز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو اوټکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
مسؤل لیکوال: *azizulrahmanbabai@gmail.com

## لنډیز

کافي، صحي او مغذي غذايي موادو ته په فزيکي، اقتصادي او ټولنيز ډول باندي په هرځاي او هروخت کي لاسرسی د خوړو د امنيت په نوم يادېږي، د غذايي توکو مصؤنيت د خوړو د کيفيت ښوالي او پاکوالي ته اشاره کوي، داسي چي د مضره او زهرجنو موادو څخه خوندي او د مصرف کوونکو لپاره کوم زيان رامنځته نه کړي، د غذايي توکو د مصؤنيت لپاره د هغوي پروسس ډېر مهم فکتور بلل کيږي. دا څېړنه د تشريحي ميتود پر بنسټ باندي ترسره سوي چي د ساحې له مخي کتابتوني او معلومات ئې د معتبرو کتابونو او څېړنو څخه راټول او تر تحليل وروسته په مناسب ځاي کي ځاي پر ځاي سوي دي، چي موخه ئې د غذايي توکو په مصؤنيت کي د پروسس د رول معلومول دي. پايله يې ښيي چي، د غذايي توکو پروسس د خوړو په مصؤنيت او امنيت، د روغتيايي حالت په ښوالي او ټولنيزه او اقتصادي پرمختيا کي د پام وړ رول لري، معلومه سول چي د غذايي توکو پروسس د خوړو د کيفيت د ښوالي او ساتني باعث کيږي، په دې برخه کي د تخنيکي وسايلو او ظرفيتونو نشتون، د توليد ټيټوالی، لوړ مصارف او دوديزي کړني د پروسس د مهمو خنډونو څخه دي. څېړنه وړانديز کوي چي د غذايي توکو د پروسس دوديزي کړني په عصري کړنو تبديلي سي، مناسبه ټکنالوژي اماده او مسلکي ظرفيتونه ورته وروزل سي او د موضوع اړوند کافي څېړني ترسره او معلومات ئې تر پاليسي جوړونکو او توليدوونکو پوري ورسول سي.

**کليدي کليمي:** خواړه، پروسس، د غذايي توکو امنيت، د غذايي توکو مصؤنيت

## پیژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د غذايي توکو مصؤنيت د خوړو پاکوالي او د کيفيت لوړوالي ته اشاره کوي داسي چي ناروغي رامنځته نه کړي او مصرف کوونکو ته کوم زيان ونه رسوي، يعني د زيان رسونکو عناصرو څخه د خوړو پاکوالی مصؤنيت ته ويل کيږي (Borchers et el., 2010). نن ورځ په نړۍ کي د زياتيدونکي نفوس لپاره د کافي او مصؤن خوړو چمتو کول ډېر مهمه موضوع ده، ددې لاري د اجتماعي او اقتصادي ودي لپاره لاره هوارېږي، ټولنيزه وده رامنځته کيږي او د وګړو روغتيا او صحت تأمين کيږي (Bora & Baruah, 2023). کافي، خوندي، صحي او مغذي غذايي موادو ته په فزيکي، اقتصادي او ټولنيز ډول باندي په هرځاي او هر وخت کي لاسرسی د خوړو د امنيت په نوم سره يادېږي (Berry, 2022). د غذايي توکو پروسس مختلفو فزيکي، کيمياوي او بيولوژيکي پروسو ته اشاره کوي کوم چي خام کرنيز محصولات په خوراکي توکو باندي بدلوي، په دې کي يو لړ مرحلې شاملي دي لکه پاکول، پخول، بسته کول او ساتنه يې کول دي، چي په نتيجه کي خوراکي توکي خوندي، مصؤن او د مصرف لپاره په ښه ډول سره اماده کيږي (Boliko, 2019). د غذايي توکو پروسس مختلفي طريقې لري، چي مهمې طريقې يې د حرارت ورکولو او د حرارت د کمولو د طريقو څخه عبارت دي، د پروسس هغه طريقې چي په هغه کي د حرارت څخه په کمه اندازه سره کار اخيستل کيږي ګټوره واقع کيږي، د زيات حرارت په نتيجه کي د خوړو څخه يوه اندازه مغذي مواد له منځه ځي او د خوړو د ضايعاتو سبب کيږي (Kumar et al., 2024). د خوراکي توکو پروسس د خوراکي توکو په توليد کي بنسټيز رول لري،

خام مواد د مصرف وړ په خوراکي موادو باندي بدلوي. د خوراکي توکو پروسس د مختلفو تخنیکونو د په کار اچولو له لاري غذايي مواد د مصرف کوونکو د استعمال وړ ګرځوي، د پروسس په تخنیکونو کي مایکروبیل (تعقیم کول، د زیان رسوونکو مایکرو ارګانیزمونو لکه بکتریاوي، ویروسونه او پرازیتونه له منځه وړل یا کمول)، د خوړو ساتنه (یخول، وچول او ځیني نوري کړنلاري هم پکي شاملي دي)، کیمیاوي کنټرول (د زهري موادو کمول او له منځه وړل، د کیمیاوي ککړتیا مخنیوی)، د الرجین کنټرول او فزیکي خطرونه (د خوړو څخه د خاجي شیانو لیري کول لکه شیشه، هډوکي، فلزي ټوټي اونور) د مهمو تخنیکونو څخه شمیرل کیږي (King et al., 2017).

د خوراکي توکو پروسس د غذايي موادو په خوندیتوب، پایښت او اغیزمنتوب کي ډیر رول لري او په نړیواله کچه ډیر ټینګار ورباندي سویدی (Dhanaraju et al., 2022). د غذايي توکو پروسس د خوړو په مصؤنیت، امنیت او لاسرسي کي زیاته مرسته کوي (Sahu et al., 2024). د غذايي توکو د پروسس ټکنالوژي په پروسس کي یوه اندازه نوښتونه له ځانه سره لري، چي د غذايي توکو په امنیت، مصؤنیت، د غذايي توکو د کیفیت په ښوالي او لاسرسي کي مهم نقش لري، د پروسس د ټکنالوژی دا نوښتونه د کورنیو د معیشت په ښوالي او د صحت په تأمین کي ډیر مفید تماميږي (Firdayati et al., 2022). د خوړو پروسس کول حیاتي ارزښت لري ځکه چي د پروسس په نتیجه کي خواړه د هضم وړ، خوندور، د امنیت او مصؤنیت د تأمین او د زیات وخت د ساتلو توانائي پیداکوي (Okaka and Atwongyeirwe, 2023). د پروسس تخنیکونه د غذايي توکو په تقویه کي زیاته مرسته کوي او د مغذي غذايي موادو (پروتین او نشایسته) پر جذب باندي مثبته اغیزه کوي، (Sahu et al., 2024). د خوړو پروسس د زهرجنو موادو د لیري کیدلو، د بازار موندني د زیاتوالي، د کیفیت د ښوالي او د خوړو د ثبات او لاسرسي سبب کیږي (Okaka and Atwongyeirwe, 2023). د غذايي توکو پروسس د خوراکي توکو ضایعات حداقل ته راټیټوي، ساتنه ئې کوي او د غذايي توکو په پایداره رسونه کي مهم رول لري (Padhiary et al., 2024). د غذايي توکو پروسس د خوړو په امنیت او مصؤنیت کي د پام وړ مرسته کوي، د خوړو د ضایعاتو څخه مخنیوی کوي، د خوړو ساتنه کوي، د خوړو توزیع ته باثباتي ور بخښي او د خوړو د زهرجنو اجزاوو د له منځه وړلو سبب کیږي، په سیمه کي د کافي او مؤثرو خوړو د تأمین او د روغتیا د ثبات لپاره د غذايي توکو پروسس ډیر مهم دی، په همدې لحاظ باندي دغه څیړنه طرح سویده چي عمومي هذف یي د غذايي توکو په مصؤنیت کي د پروسس د رول معلومول دي.

## د څیړني ستونزه

د خوړو د تولید د ټکنالوژی د پرمختګ سره، سره د خوړو د امنیت او مصؤنیت په برخه کي یوه اندازه ستونزي او ننګوني موجودي دي (Munirah, & Norfarizan – Hanoon, 2022). د خوړو څخه رامنځته کیدونکي ناروغۍ او د خوړو کمښت د خلګو روغتیا او اقتصادي ثبات ته صدمه رسولي ده (Arora et al., 2023)، ولي د غذايي توکو د پروسس په نتیجه کي یادي ستونزي حل کیداي سي، دا ځکه چي، د غذايي توکو پروسس د خوړو د کیفیت د ښوالي، ساتني، د مضره او زهرجنو موادو په لیري کولو او مجموع کي د خوړو په مصؤنیت او امنیت کي مؤثره تماميږي (Okaka, & Atwongyeirwe, 2023)، ولي په دې برخه کي په سیمه کي د عامو خلګو د کافي پوهاوي نشتون یوه بله ستونزه ده، د یادو ستونزو د له منځه وړلو او د غذايي امنیت او مصؤنیت د ترلاسه کولو لپاره د غذايي توکو د پروسس مطالعه ډیره مهمه ده ترڅو یادو ستونزو ته د حل لاره موندل سوي او د تر عامو خلګو پوري په دې اړوند معلومات رسیدلي وي، په همدې اساس باندي یاده څیړنه طرح سوي ده، ترڅو د غذايي توکو په مصؤنیت کي د پروسس رول وڅیړل سي.

## د څیړني موخي

1. د غذايي توکو په مصؤنیت کي د پروسس د رول معلومول.
2. د غذايي توکو د کیفیت په ښوالي کي د پروسس د رول پیژندل.
3. د غذايي توکو په پروسس کي د خنډونو پیژندل.

## د څیړني پوښتني

1. د غذايي توکو په مصؤنیت کي پروسس څه رول لري؟
2. پروسس د غذايي توکو په کیفیت کي کوم نقش لري؟
3. د پروس په وړاندي کوم عام خنډونه موجود دی؟

## د څېړني تګلاره

دا څېړنه چي د ساحې له مخي کتابتوني ده، د تشريحي – استنباطي ميتود پر بنسټ باندي ترسره سويده، په دې څېړنه کي کوښښ سويدی چي د غذايي توکو په مصئونيت او امنيت کي د پروسس رول مطالعه کړل سي، د څېړني معلومات د داخلي او خارجي منابعو څخه په استفادې سره د معتبرو کتابونو، ژورنالونو او مجلو څخه راټول سوي دي، تر دقيقي کتني وروسته د څېړني مربوط معلومات تحليل او د څېړني په اړوند برخه کي ځاي پر ځاي سوي دي.

## موندني او مناقشه

د غذايي توکو په ساتنه او خوندي کولو کي د خوړو پروسس د زيات اهميت درلودونکی دی او نن ورځ په نړی کي د خوړو په خوندي کولو او ساتنه کي د غذايي توکو پروسس ته زياته توجه کيږي، په دې اړوند باندي د نړۍ په مختلفو هيوادونو کي زياتي څېړني سوي او هم د پروسس د نوي تخنيکونو د پيژندلو لپاره نوي څېړني کيږي، د موضوع اړوند مو په لاندي توګه يوه اندازه مهمو څېړنو ته کتنه کړيده، چي په لاندي دول سره خلاصه کيږي:

Padhiary او همکارانو يې د کرنيزو محصولاتو د خوړو د پروسس اړوند مطالعه په (۲۰۲۴) کال کي ترسره کړيده، دوي داسي نتيجې ته رسيدلي دي، د غذايي توکو پروسس د هغوي د کيفيت په لوړولو کي د پام وړ رول لري، د حاصلاتو د زياتوالي لپاره زمينه برابروي، ضايعات حداقل ته راټيټوي، د خوراکي توکو د ساتني او خوندي کولو توانائي لوړوي، د غذايي توکو په باثباتی کي د پام وړ رول لري، د غذايي توکو په پروسس کي يوه اندازه خنډونه هم مخته راځي چي د تخنيکي ستونزو، د پوهي کموالی، د وسايلو نشتون، د توليد کموالی، لوړ لګښتونه او نور دي، د غذايي توکو د پروسس ستونزي د يوې سيمي څخه بلي سيمي ته فرق کوي. په (۲۰۲۳) کال کي د غذايي توکو د کيفيت په ښه کولو، مصؤنيت او لاسرسي کي د خوړو د پروسس کولو د ټکنالوژی نوښتونه او په وړاندي يې خنډونه د Khamaludin له خوا څخه د ماليزيا په هيواد کي څېړل سويدي، پايله يې ښيي چي، د غذايي توکو په پروسس کي دوديزي کړني، د زيربناوو نشتون، د ښاري او کليوالي سيمو ترمنځ د کړنو او فعاليتونو توپير ئې د مهمو خنډونو څخه دی، د غذايي توکو دپروسس اړوند نوښتونه چي د بايو ټکنالوژی او پرمختللي عصري ټکنالوژی د استعمال په نتيجه کي رامنځته کيږي، د غذايي توکو مصؤنيت، د کيفيت ښوالی او لاسرسي ته وده ورکوي، د غذايي توکو په پروسس کي ټکنالوژی ته لاسرسی، د زيربناوو پراختيا، پوهه او منظمه پاليسي بايد موجوده وي. Sahu او همکارانو يې په (۲۰۲۴) کال کي د خوړو د پروسس تأثيرات د مغذي موادو پر مصؤنيت، امنيت او جذب باندي، مطالعه کړيدي، پايله يې ښيي چي، د غذايي توکو د پروسس تخنيکونه لکه د غذايي توکو پخول، تخمر کول، جوش کول، بخار کول او نور د غذايي توکو په تقويه کي د پام وړ مرسته کوي، د خوړو پروسس د انسان بدن ته د غذايي مغذي موادو لکه د پروټينونو، نشايستې او ويټامينونو پر جذب باندي مثبته اغيزه کوي، د غذايي توکو پروسس د خوړو امنيت او مصؤنيت ډاډمن کوي، د تخمر کولو له لاري د مايکرو ارګانيزمونو په توسط باندي د عضوي اسيدونو او انزايمونو د توليد له لاري د منرالونو، ويټامينونو او نورو مرکباتو شتون ته وده ورکوي، د غذايي توکو پروسس زياتي صحي ګټي لري چي د خوړو په خونديتوب او امنيت کي د پام وړ رول لري. Okaka او Atwongyeirwe په (۲۰۲۳) کال کي د يوګانډا په هيواد کي د غذايي توکو پروسس څيړلی دی، دوي داسي پايلي ته رسيدلي دي چي، د غذايي توکو په پروسس کي باثباته کرنه مهم نقش لوبوي، د پروسس د مختلفو تخنيکونو له لاري د کرني خام غذايي مواد لکه (پاڼي، سبزيجات، حبوبات، تيوبر، ريښې او نور) په غذايي موادو باندي بدليږي، چي ددې څخه د سلاد مختلف ډولونه، جامد يا مايع پوډر (مصالحې) او د خوړو وړ غذايي توکي د تجارتي او غير تجارتي موخو لپاره ترلاسه کيږي، د غذايي توکو پروسس د خوړو مختلف ډولونه په وجود باندي راوړي، خوړو ته د زيات وخت د ساتلو توانايي ورکوي، د غذايي توکو څخه د زهرجنو او مضره موادو د ليري کيدو او د کيفيت د لوړوالي سبب کيږي.

په (۲۰۲۳) کال کي د غذايي توکو په مصؤنيت، ثبات او د کيفيت په لوړولو کي د پروسس د ټکنالوژی رول د Pokharel او همکارانو له خوا څخه يې څېړل سويدی، پايله يي ښيي چي، د غذايي توکو د پروسس ټکنالوژي په نړيواله کچه دخوراکي توکو په رسولو، خونديتوب، د کيفيت په لوړاوي او پايښت کي مهم رول لوبوي، د پروسس هغه ټکنالوژي چي د حرارت څخه استفاده پکي کيږي، لکه لوړ فشار، تودوخه ورکول او نور د غذايي محصولاتو د کيفيت په ښوالي کي خاص ځاي لري، په داسي حال کي چي هغه ټکنالوژی چي د پروسس په مرحلو کي د حرارت څخه کار نه اخلي د غذايي توکو د ساتني د وخت د زياتوالي سبب کيږي، د پروسس ټکنالوژي د غذايي توکو د ضايعاتو په کمولو او د خوراکي توکو په باثباته رسولو کي خاص ارزښت لري، دا ټکنالوژي د مصرف کوونکي د باور د زياتوالي سبب کيږي. په (۲۰۲۴) کال په متحده ايالاتو کي Williams په خوړو کي د

الرجين (انټي جن دی چې په حساسو اشخاصو کې د معافيت په وړاندې غبرګون ښيي) په کمولو کې د پروسس د ټکنالوژۍ رول مطالعه کړيدی، پايله يې ښيي چې، په خوړو کې د حساسيت لرونکو موادو کمول يا له منځه وړل په عمومي ډول د حرارت په واسطه سره صورت نيسي، ولې د پروسس غير حرارتي تخنيکونه لکه لوړ فشار او نوري طريقې هم د الرجينو موادو په کمولو کې کارول کيږي، چې په دې طريقو کې د خوړو د کيفيت ښوالی تر زياتي اندازې پوري ساتل کيږي، په اوسني وخت کې د پروسس د نويو تخنيکونو او ټکنالوژيو سره، سره په غذايي توکو کې الرجين مواد موجود وي او د مکمل له منځه وړلو لپاره ئې ننګوني او خنډونه په مخ کې وي، د خوړو په مصئونيت کې ددې موادو د کمولو او له منځه وړلو لپاره پرمختللي ټکنالوژۍ ته اړتيا ده. د خوړو دپروسس غير حرارتي تخنيکونه د Kumar او همکارانو له خوا څخه يې په (۲۰۲۴) کال کې څيړل سويدي پايله يې ښيي چې، د غذايي توکو مصرف کوونکي تل دا کوښښ کوي چې دوامداره، خوندي، او پاک غذايي توکي ترلاسه کړي، لوړه توخه په غذايي توکو کې د زهرجنو موادو د ليري کيدو سبب کيږي، ولې د مغذي موادو د له منځه تلو لامل هم کيږي، په خوړو کې د مصنوعي موادو د ګډولو له لاري خواړه تر يوه وخت پوري سالم پاته کيداي سي او د خرابيدو مخه يې نيسي ولې په دوامداره توګه د نوموړو مصنوعي او کيمياوي موادو استعمال د انسان پر روغتيا باندي منفي اغيزه کوي، مصرف کوونکي ددې ډول خوړو څخه ځان ساتي چې د خوړو د توليدونکو پر عايد باندي ناوړه اغيزه کوي، د خوړو د پروسس غير حرارتي طريقي د مغذي موادو په ساتنه کې ډيري مفيدي تماميږي او خواړه هم تر زياتي مودي پوري بيله مصنوعي او کيمياوي توکو د استعمال څخه سالم او خوندي پاته کيداي سي، د خوړو د پروسس په کم او غير حرارتي تخنيکونو کې د خوړو خوند، رنګ او بوي سالم او د مصرف کوونکو د ذوق سره سم پاته کيږي. د خوړو د پروسس غير حرارتي تخنيکونه د Dangal او همکارانو له خوا څخه يط په (۲۰۲۴) کال کې مطالعه کړل سويدی، پايله يې ښيي چې د غذايي توکو د پروسس غير حرارتي طريقې د هغو خوړو په ساتنه کې چې د حرارت په وړاندي حساس وي ډير ګټور تماميږي، هغه دوديزي طريقې چې د هغه په واسطه سره غذايي توکي پروسس کيږي، ضايعات ئې زيات او د مضره موادو درلودونکي وي، د غذايي توکو د پروسس په نويو تخنيکونو کې د خوړو مؤثريت، امنيت او مصئونيت زيات وي. په (۲۰۲۳) کال د هندوستان په هيواد کې Parvati پر غذايي موادو باندي د خوړو د پروسس د ميتودونو اغيزې څيړلي دي، پايله يې ښيي چې د خوړو د پروسس په تخنيکونو کې عام ميتودونه لکه د لمر په واسطه سره وچول او تخمر کول يې مهمي او عامي طريقې دي چې زياتي کارول کيږي او د مصارفو له مخي هم ګټوري واقع کيږي، ولې په دې طريقو کې د خوړو زيات ويټامينونه ضايع کيږي، ځيني هغه لاري چاري چې په هغه کې د وچولو او منجمد کولو پروسې هم شاملي وي او د خوړو ضايعات يې هم کم وي نسبتاً مؤثره تماميږي. په يوه مطالعه کې د خوړو د پروسس او ساتني تخنيکونه د Kaur له خوا څخه په (۲۰۲۴) کال کې مطالعه سويدي، پايله يې ښيي چې د غذايي توکو د کيفيت په ښه کولو، په خونديتوب او د خوړو په ساتنه کې پروسس ډير مهم رول لري، د خوړو پروسس د ضايعاتو د کمولو او د مصرف کوونکو د غوښتني د پوره کولو سبب کيږي، د غذايي توکو پروسس کول د خوړو د کيفيت د ښوالي باعث کيږي، د غذايي توکو د پروسس مهم فزيکي تخنيکونه لکه تودوخه ورکول، يخول، او بيولوژيکي تخنيکونه يې د تخمر ورکولو څخه عبارت دي، د پروسس ځيني کيمياوي تخنيکونه لکه د اوبو کمول يا ويستل هم وجود لري چې د خوړو په ساتنه او کيفيت لوړولو کې خاص ځاي لري.

د Bora او Baruah له خوا څخه د معيشت په پراختيا کې د خوړو د پروسس د صنعت رول په عنوان باندي يوه مطالعه د هندوستان په هيواد په (۲۰۲۳) کال کې ترسره سويده، داسي نتيجه يې په لاس ورڅخه راوړي ده، چې د خوراکي توکو د پروسس صنعت په اقتصادي وده، صحت او روغتيا، د غذايي موادو په امنيت او مصئونيت او ټولنيز پرمختګ کې مهم رول لري، د خوراکي توکو پروسس د معيشت د ښوالي باعث ګرځي، د مصرف کوونکو د خوښي د حاصلولو مهمه لاره ده،

د خوراکي توکو د منظم پروسس په نتيجه کې د غذايي موادو سوداګري وده کوي او لوږه او سؤتغذي کموي.

## غذايي توکو ته جوش او بخار ورکول

د چرګو هګۍ مغذي خواړه دي چې په لوړه کچه پروټين، شحم، ويټامينونه او مختلف منرالونه لري. د اقتصادي پلوه په اسانه لاسته راځي چې په کليو او بانډو کې ورځخه خلک د خواړو په توګه استفاده کوي. دا چې د چرګو هګۍ کامله غذا ګڼل کېږي، نو د انسان له پاره ټولې ورځنۍ غذايي اړتياوې لکه: پروټينونه، ويټامينونه، منرالونه او شحميات بشپړوي. د چرګو هګۍ په ټوله نړۍ کې پېژندل شوي خواړه دي چې د غذايي نقطې نظره د ځانګړي ارزښت وړ دي، اړين شحميات، پروټينونه، منرالونه او کم پيداکېدونکي عنصرونه پکې شته دي، د چرګو هګۍ په مناسبه اندازه کالوري لري. د چرګانو يوه کامله هګۍ له نطفې (Germinal Disc)، هوايي حجرې(Air cell)، کلازيا (Chalazae)، د هګۍ ژېړ(Yolk)، د هګۍ سپين (White يا Albumen)، د پوستکي غشاوې(Shell membrane) او پوستکي(Egg shell) څخه ترکيب شوې ده. د چرګو هګۍ څخه د خوړو په توګه ګټه پورته کولو په اړه علمي معلومات هغه څه دي چې کمښت يې تر سترګو کېږي، ما هم د چرګو هګيو جوړښت او د هغې معياري غذايي ارزښت په اړه څېړنه ترسره کړې ده، چې موخه يې د چرګو هګيو جوړښت او د هغې معياري غذايي ارزښت په بر کې نيسي. د څېړنې بنه کتابتوني چې د علمي او تشريحي مېتودونو له لارې ترسره شوی ده. د څېړنې پايلې ښئي، يو سالم انسان چې هيڅ ډول ناروغی لکه: د وينې فشار، شکر، د زړه حملې، ترای ګلسرايډ او کلسټرول ډېر والی و نه لري کولای شي چې هره ورځ د چرګو دوه تازه هګۍ په جوش کړې بڼه وخوري، ځکه چې د څېړنې له پايلو څخه داسې په ډاګه کېږي چې د خوراک له پاره يې تر ټولو ښه معيار د هګۍ جوشول دي. همدارنګه پايلې د دې ښکارندوی دي چې په خام ډول، نيمه پاخه ډول او د چرګو هګيو ته له ټاګلې تودوخې ور اخوا ډېره تودوخه ورکول هغه څه دي چې انسان په انتاني او فزيالوژيکي ناروغی اخته کوي.

**کليدي کليمې:** پروټين، ژېړ، سپين، غذا،ويټامين او هګۍ، انسان صحت.

## پېژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

هګۍ د چرګ سپرم او د ښځينه (هګۍ) څخه منځته راغلې حجره ده چې معمولا بيضوي شکل لري او په بيولوژيکي ډول د تکثير له پاره ورځخه ګټه اخېستل کېږي او همدارنګه د انسانانو له پاره د خوړو مناسبه سرچينه ده. د چرګانو هګۍ د مختلفو برخو او په ټوليز ډول د ټولې هګۍ جوړېدنه څلورويشت(24) ساعته وخت نيسي او له همدې امله، چرګان معمولا په ورځ کې يوازې يوه دانه هګۍ اچوي، مګر په ځينو حالتونو کې، لکه د چرګانو ډېر تغذيه کول يا په هغه چرګانو کې چې بالغېږي، چرګان له خپل بدن څخه دوه ژېړ خوشې کوي او دا شرايط د دوو ژېړو هګيو د توليد لامل کيدی شي يا هره ژېړ په جلا هګۍ بدليږي او په ورته وخت کې دوو هګۍ رامنځته کېږي چې په يوه ورځ کې د دوو هګيو اچولو لاملکېږي.د يادونې وړه ده چې په ورځ کې له دوو څخه زياتې هګۍ اچول ناشوني دي.

د چرګې هګۍ يوه له زياتو مصرف کېدونکو خوړو څخه ده چې د هر عمر لرونکي انسانان ورځخه استفاده کوي.

د هګۍ د غذائي موادو د ترکيب په اړه معلومات راټولول موږ ته دا په ډاګه کوي چې د چرګې هګيو کې مغذي مواد موجود دي. د چرګې هګۍ د هغو خوړو له ډلې څخه دي چې تر ټولو ډېر مغذي مواد لري، د يوې هګۍ خوړل د مغذي موادو هر ډول ورځنۍ اړتياوې پوره کولای شي. دا چې خلک د چرګې له هګۍ څخه زياته استفاده کوي نو اړينه ده چې د هګۍ د ترکيباتو په اړه يو څه معلومات ولرو، نو له همدې امله موږ هم د چرګو هګۍ جوړښت او د هغې معياري غذايي ارزښت په اړه کار وکړو.

له دې امله د انسان په خوړوکې له زيات ارزښت څخه برخمنه ده او په اړه يې زياتې څېړنې ترسره شوې دي، همدا راز د چرګو هګۍ د انسان له پاره هغه خواړه دي، چې د نورو بېلا بېلو سبزيجاتو سره يوځای پخيدلی شي. د چرګو هګۍ يو له ګټورو خوړو څخه دي چې د انسان د بدن له پاره ډېرې ګټې لري لکه: د هډوکو د پياوړتيا له پاره، د سرطان د مرض څخه د مخنيوي له پاره، د سترګو د نظر له پاره او نورې زياتې ګټې هم لري. هګۍ يو زيات شمېر کېمياوی عناصرو څخه مشتمله ده چې دغه عناصر د انسان د بدن لپاره ډېر مهم کېمياوی عناصر دي.

**مواد او کړنلاره**

نوموړې څېړنه چې په سيدجمال الدين افغاني پوهنتون کې ترسره شوې ده، د هارډ کتابونو سربېره د بهرنيو نړيوالو ساينسي لوړو، منل شويو او معتبرو انټرنيټي سايټونو د عصري مقالو  څخه  په سافټ ډول ګټه پروته شوې ده چې تر ډېره بريده کتابتوني ده.

**د چرګې هګۍ جوړښت**




**موندنې او مناقشه**

***د هګۍ نطفه:*** نطفه د ژېړ د پاسه نښتې او د ژېړو غشا ته نږدې قرار لري. څه وخت چې هګۍ ښينه يي لوښي کې ماته کړای شي نطفه د يو شفاف جسم داغ(لکی) په شکل له کومې وسيلې پرته ليدل کېږي. نطفه په نطفه دارو هګيو کې لکه چې وويل شول د تشکيل وروسته نمو کوي او Blastoderm په شکل منځ ته راځي. د يادونې وړ ده چې د نورمال سپرم د توليد په برخه کې د هګۍ پر نطفه هوړه مثبت اغېز لري. همدارنګه که چېرې د چرګو له هګيو نطفه استخراج کړل شي او د غذاپه حيث ورڅخه کار واخېستل شي د سنتي طب له اړخه د جنسي اړيکې د تقويت سبب ګرځي.

***د هګۍ ژېړ:*** ژېړ د هګۍ مرکز کې قرار لري او ديرش(۳۰) سلنه په حدود کې د ټولې هګۍ د وزن او پينځه ديرش(۳۵) سلنه د هګۍ قابل د استفادې برخې تشکيلوي. څرنګه چې يو پر دې(۱/۳) برخه د ژېړو د شحمياتو څخه تشکيل شوې ده، له همدې امله مخصوص وزن يې لږ او د سپينو څخه سپک وي، په همدې دليل د هګۍ پورتنۍ برخه(پلنه برخه) په عمودي ډول وي. ژېړ د ۵۰ سلنه اوبو او زيات شحم لرونکې وي. همدارنګه د هګۍ ژېړ د ويټامينونو لکه A-D-E-K او معدني موادو لکه سوديم -S-Fe-Mg Ca-K او غير عضوي فاسفورس څخه غني ده. رنګونه چې د هګۍ ژېړو کې موجود دي د کاروټينوئد Zeaxanthin او Xanthoyllus څخه عبارت دي.

***د هګۍ سپين:*** د هګيوسپين د هګۍ د ۶۵ سلنه وزن تشکيلوي چې د هګيوسپين له څلورو برخو څخه تشکيل شوې ده. داخلي غليظ سپين چېد هګۍ له ژېړو چاپېره قرار لري او ژېړ د هګۍ مرکز کې ساتي چې Chalazae د همدې برخېڅخه تشکيل شوې ده

او د ويتلن غشاء څخه دهګۍدواړو کنجونوته ځي چېوظيفه يې د هګۍ د ژېړو ساتل دي، کلازيا د هګۍمرکز کې ده چې د ژېړوعمودي کېدو مانع ګرځي. داخلي غليظ سپين د هګۍ درې(۳) سلنه تشکيلوي. داخلي رقيق سپين د هګۍ اولس(17) سلنه، خارجي غليظ سپين د هګۍ 55 سلنه او خارجي رقيق سپينچې د هګۍ يوويشت(21) سلنه وزن تشکيلوي. د هګۍ سپين چې البومين (Albumen) نومېږي کېمياوي ترکيبات لکه: ۸۸.۵ سلنه اوبه، ۱۰.۵ سلنه پروتين، ۰.۵ سلنه قندي مواد او ۰.۵ سلنه غيرعضوي موادلري.(Banaszewska, et al, 2018l) .

**د هګۍ غشاء:** د هګۍ غشاء هغه نرۍ پرده ده چې د هګۍ د پوستکي دننه وي، د دې غشاء اصلي جز پروټين دی او دا دوه طبقې لري داخلي طبقه او بله يې خارجي طبقه ده، دا غشاء د زخمونو په رغېدو کې مرسته کوي. د التهاب ضد، د مفصلونو درد کمول، د هګۍ د پوستکی غشاء په خپل ترکيب کی ځينی مواد لری.، کولاجين:چی د پوستکی ويښتو او نوکانو لپاره ګټور دی، ګليکو پروټينونه: چی د بدن په بيلابيلو پروسو کی خپل رول لری، چوندي مواد: لکه: هيالورنيک اسيد، چی د پوستکي او غضروف لپاره ګټور دی.

**د هګۍ پوستکی:** دا د هګۍ بهرنی پوښ دي، د 9 ـ 11 پوری د ټولی هګۍ وزن برخه جوړوي. د هګۍ د پوستکې سلنه برخه د کلسيم کاربونيټ څخه جوړه ده. دا د زيان رسوونکې بکتريا او نورو ککړتياوو پر وړاندي د خنډ په توګه کار کوي، همدارنګه د هګۍ په پوستکې کې سوری هوا تبادلی ته اجازه ورکوي، چې جنين ته سا ورکوي. په هره هګۍ کې تقريباً ۷۵۰۰ سوري شته دي. سوري هګۍ د بهرنۍ تودوخې څخه ساتي او د کاربن ډاى اوکسايد د تېښتې مخه نيسي. د هګۍ د پوستکې غشاء دوې برخې لري چې يو ته يې بهرنی برخه وايې (هوايي حجرې) او بل ته يې داخلي پوستکی ويل کېږي.(۱ – انځور) .Sharma, P. D. et) .al ,2016)




(۱ – انځور) کې د چرګو هګی بڼه راوړل شوې ده

Reference: https://www.exploratorium.edu/explore/cooking/egg-science

**د هګۍ اندازه:** د چرګې هګۍ يوه دانه يې چې په منځنی توګه ۵۸ ګرامه وزن ولري، په ټوليزه توګه يې د پوستکي وزن (۱۲.۳) سلنه، د سپينو وزن يې(۵۵.۸) سلنه او د ژېړو وزن يې(۳۱.۹) سلنه وي. د مختلفو الوتونکو د هګيو تر منځ د جوړښت او اندازې تر منځ توپيرونه په (۲-جدول-۲) کې ښودل شوی دی. دلته د يادونې وړ بولم چې د نورمال سايز هګۍ څخه ستره يعنې غېر نورمال هګۍ څخه بايد خوراک له پاره استفاده و نشی ځکه چې د انسانانو پر ورغتيا ناوړه اغېزې لري..(Jaeckle,, 2020)

## دلته مختلف ډيزاينونه دي چې د هګۍ اندازه او د دوي مانا تشريح کولو له پاره کارول کېږي

1.Peewee : هره هګۍ يوازی په حجم کې يو اونس څخه ډېره ده. دا هګۍ د خورا ځوانو چرګانو څخه منځته راځي.

2.Small egg : هره هګۍ ۱.۵ اونس اندازه کېږي.

3.Medium egg: هره هګۍ شاوخوا ۱.۷۵اونس وزن لري، دا هګۍ تر ټولو کوچنی دي چې تاسې يې احتمال په پرچون پلورنځی په الماريو کې ومومئ.

4.Large egg : هره هګۍ کې ۲ اونس وزن لري.

5.Extra-large egg: هره هګي ۲.۲۵ اونس وزن لري.

6.Jumbo egg: هره هګۍ ۲.۵ اونس اندازه کېږي. دا نسبتاً نادرې دي د شېدو هګۍ په څېر معمولي نه دي.

## د چرګو هګيو پر اندازې اغېزمن لاملونه

**د بدن وزن Body Weight:** خومره چې چرګه غټه وي هغومره يې هګۍ غټه وي.

**نسل Breed:** د نورو حيواناتو په څېر د چرګانو په مختلفو نسلونو کې شتون لري او مختلف نسلونه مختلفې اندازې او د هګۍ ورکولو مختلفې وړتياوې لري.

**د سکليټ اندازه Skeletal Size:** د بدن د وزن په څير، د سکليټ اندازه د هګۍ پر اندازې باندي د پام وړ اغېزه لري.

**خواړه Feed intake:** د چرګانو خواړه خورا مهم دي او د چرګانو غذايي موادو مقدار په مستقيم ډول د هګۍ د اندازې او وزن سره تړاو لري.

**د پروټين کچه Protein Level:** د چرګانو د غذايي موادو د اخېستو يو مهم فکتور، د پروټين کچه د هګۍ په اندازې اغېزه کوي.

**روښنائيا Lighting:** هغه چاپېريال چې چرګان پکې وده کوي کولای شي د دوی په وده اغېزه وکړي، هغه عمر چې دوی يې په اېښودلو پيل کوي او وروسته د هګۍ اندازه او حالت، هغه چرګان چې تر 19 اونيو پورې د ډېرې رڼا سره مخ کېږي. (Iqbal et al, 2016)

## د چرګو د هګۍ غذايي ترکيب

د هګۍ ژېړ چې تر سپينو پکې ډېر چنده ډېره کالوري شته. په هره دانه ژېړ کې پنځه ګرامه غوړ موجود وي، همدارنګه د هګۍ ژېړ د لوټئين او زائګزنتين په نوم ترکيبونو بډايه سرچينې لري. د چرګې د هګيو په زېړو او سپينو کې داسې ترکيبونه شته چې د سترګو ليد پياوړی کوي، په سترګو کې د ماکولار په نامه هغه ټکی چې د عمر په ډېرېدو سره د سترګو ليد کمزوری کوي او معمولاً له ۵۰ کلنۍ وروسته دا لړۍ پيلېږي په ضعيف والي کې کموالی راولي. دغه خوراکي ماده د ويټامين D طبيعي سرچينه هم ده. همدارنګه د چرګې د هګۍ مصرف کولای شي په ښځو کې د سينې سرطان د ناروغۍ مخنيوي کې هم ګټوره برخه ولري، د يوې مطالعې پايلې ښيي هغه ښځې چې حد اقل په اونۍ کې شپږ دانې چرګو هګۍ مصرف کړې ۴۴ سلنه احتمال شته چې د سرطان ناروغۍ يې وده ونه کړي. د چرګې هګۍ د ډېرو سلفرو او ويټامينونو ټولګه ده چې د پوستکي او ويښتانو د روغتيا له پاره خورا ګټوره ده. هګۍ د انسان رواني وضعيت ته هم ګټه رسوي. (۱- جدول)، (زيور، ۱۳۹۸).

**(۱ - جدول)** کې د مختلفو مرغانو هګيو تر منځ د وزن پرتله ښودل شوې ده، ځينې حيرانوونکي توپيرونه ليدل کېږي

| د الــوتونکو ډول | د هګۍ وزن، ګرام | د سپين سلنه | سلنه د ژېړو | د پوستکي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| شترمرغ | 1400 | 0 | 0 | 0 |
| قاز | 285 | ۵۲.۵ | ۳۵.۱ | ۱۲.۴ |
| طاوس | 90 | 0 | 0 | 0 |
| کورنی فيل مرغ | 85 | ۵۵.۹ | ۳۲.۳ | ۱۱.۸ |
| سپين مرغابی | 80 | ۵۲.٦ | ۳۵.۴ | 12 |
| مرغابی | 70 | 0 | 0 | 0 |
| چرګه | 58 | ۵۵.۸ | ۳۱.۹ | ۱۲.۳ |
| کبکره | 50 | ۵۲.۳ | ۳۵.۱ | ۱۲.٦ |
| کونتره | 18 | 74 | ۱۷.۹ | ۸.۱ |
| مرز | 10 | ۴۷.۴ | ۳۱.۹ | ۱۰.۷ |

### د چرګو د هګۍ کېمياوي ترکيب

د هګۍ په کيمياوي ترکيب کې ، اوبه، پروټين، غوړي، قندي مواد، غير عضوي مواد، سوديم، پوټاشيم، کلسيم، مګنشيم، اوسپنه، سلفر، کلورين او غيرعضوي فاسفورس شته دي. پورتني ياد شوي مواد په هګۍ کې په مختلفو اندازو شته لري، چې په لاندې توګه ښودل شوي دي.(۲ – جدول).

| ګڼه | د کېمياوي مادې ډول | اندازه | ګڼه | مادې ډول دکېمياوي | اندازه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پروټين | 31.0ګرام | ۲۱ | پيريډوکسين | 111 مايکروګرام |
| ۲ | امينواسيډونه | 1.4 | ۲۲ | بيوټين | 9.25 |
| ۳ | ارژنين | 0.76 | ۲۳ | B12وېټامين | 0.93 |
| ۴ | هيسټيډين | 0.31 | ۲۴ | انيوزينول | 20.30ملي ګرام |
| ۵ | ايزولوسين | 0.80 | ۲۵ | معدنی مواد | 1 |
| ٦ | لوسين | 0.95 | ۲٦ | کلسيم | 48 |
| ۷ | سيټونين | 0.78 | ۲۷ | فاسفورس | 187 |
| ۸ | ترپونين | 0.62 | ۲۸ | سوډيم | 122 |
| ۹ | ترپيټوفان | 0.64 | ۲۹ | پتاشيم | 141 |
| ۱۰ | والين | 0.22 | ۳۰ | کلورين | 137 |
| ۱۱ | چربي | 0.93 | ۳۱ | سلفر | 134 |
| ۱۲ | شحمي اسيدونه | 11.5 | ۳۲ | مګنيشيم | 50 |
| ۱۳ | اسيډونيک اسيډ | 2.22 | ۳۳ | اوسپنه | 2.4 |
| ۱۴ | ويټامينونه | 1.24 | ۳۴ | آيودين | 3.8مايکروګرام |
| ۱۵ | Aويټامين | 140مايکرو ګرام | ۳۵ | منګانيز | 4.18 |
| ۱٦ | ويټامين ډي | 1015واحد | ۳٦ | مس | 277 |
| ۱۷ | Cويټامين | 925 واحد | ۳۷ | کاربوهايډريټونه | 0.9 ګرام |
| ۱۸ | ويټامين | 1.8ملي ګرام | ۳۸ | اوبه | 74.5 |
| ۹ | ريبوفلاوين | 0.09 | ۳۹ | کولين | 1.48 |
| ۲۰ | امينوپينک اسيد | 0.26 | ۴۰ | نيالين | 532 |

(۲- جدول)د چرګې د ۱۰۰ ګرامه هګۍ کېمياوي ترکيب را وړل شوی دی.

Reference:(Li-Chan, et al 2017)

## د چرګو د هګۍ لوي مغذي مواد

**پروټينونه:** د هګۍ ژېړ او سپين په لوړه اندازه پروټينونه لري. په هګۍ کې په سلګونه مختلف پروټينونه پېژندل شوي او ځانګړې فزيالوژيکي دندې په غاړه لري چې د جنين د انکشاف په وخت کې خاص ضرورتونه پوره کوي.

د پروټين غلظت اندازه په ټولې خامې هګۍ کې چې سل ګرامه وزن ولري 12.5gr ده. بيا د دغه ټول پروټين په هرو سلو ګرامو پروټينونو کې 15.9gr د هګۍ زيړ سره د غشاء ده او همدارنګه د ټول پروټين په هرو سلو ګرامو کې 10.9gr د هګۍ سپين دي.

**شحميات:** په يوه کامله هګۍ کې يې اندازه له ۸.۷--- ۱۱.۲ پر ۱۰۰ ګرامه ده. دغه شحميات يواځې د هګۍ په ژېړ کې جمع شوي (شکل-۱) او شايد يوه کمه برخه يې په Vitelline membranes کې هم موجوده وي.

**کاربوهايډرېټونه:** هګۍ په خپل جوړښت کې فايبرونه نه لري ځکه چې د کاربوهايډرېټونو مقدار په کې کم دی. د هګۍ کاربوهايډرېټونه د هګۍ د سپين او ژېړ ترمنځ خپاره شوي دي. په هګۍ کې د ګلوکوز د قند اندازه تر نورو قندونو زياته ده(تقريباً 0.37g/100g مکمله هګۍ) او په ځانګړې ډول د هګۍ په سپين کې زيات موجود وي(0.34g/100g د هګۍ په سپين کې او 0.18g/100g د هګۍ په ژېړ کې). يوه کمه اندازه فرکتوز، لکټوز، مالتوز او ګلکټوز هم د خامې هګۍ په سپين او ژېړ کې مشخص شوي. همدارنګه کاربوهايډرېټونه په لوړه کچه د هګۍ په پروټينونو کې هم موجود دي چې زياتره يې د ګلايکوپروټينونو (Glycoproteins) په ډول پېژندل کېږي.

**ويټامينونه او کولين:** هګۍ او په خاص ډول د هګۍ ژېړ د ويټامينونو څخه غني خواړه دي چې د ويټامين سي (Ascorbic acid) څخه بغير ټول ويټامينونه په خپل ترکيب کې لري. د ويټامين سي نه موجوديت په هګۍ کې شايد د دې حقيقت پايله وي چې مرغان کولای شي خپل اړتيا وړ ويټامين سي په خپله د ګلوکوز د دوباره ترکيب (Synthesis) څخه برابر کړي.

**د چرګو هګۍ منرالونه:** د چرګو هګۍ کې مختلف منرالونه او کم يابه عناصر شتون لري چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

**کلسيم:** د بدن هډوکي په مو کلک، پياوړي او روغ وي او سالم غاښونه به ولرو، د دې ترڅنګ د چرګې د هګۍ خوړل د زړه فعاليت او ټکان تنظيموي، د وينې فشار کنټرولوي او د وينې سره کرويات توليدوي.

**اوسپنه:** د چرګې هګۍ په پرېمانه کچه اوسپنه لري، له همدې امله د چرګې د هګۍ خوړل د دې لامل کېږي چې په وینه کې اکسیجن په سمه توګه انتقال شي.

**پوتاشیم:** د چرګې هګۍ د نورو معدني موادو ترڅنګ یو شمېر پوتاشیم هم لري، پوتاشیم د بدن روغتیا ته ډېره ګټه لري، په بدن کې د الکلین اسید د کچې په منظم ساتلو کې مرسته کوي او په بدن کې د سودیم د جذب لامل کېږي.

**منګنیز:** په بدن کې د منګنیز شتون د ډېرو خطرناکو ناروغیو مخنیوي کوي او ځینې ناروغۍ له منځه وړي د بېلګې په ډول هغه ښځې چې د شنډوالي ناروغۍ لري،همدارنګه منګنیز د ټول بدن هډوکي په ځانګړې ډول د پښو او د ملا د تیر هډوکي پیاوړي کوي.

**زینک:** په بدن کې د زینک د اړتیا وړ کچې شتون د ټپونو په رغېدو کې ډېره مرسته کوي او د ماشومانو اسهال هم رغوي، نو هغه وګړئ چې خپلو ماشومانو ته د ورځې په لړ کې لږ تر لږه یوه هګۍ ورکړئ.

**کلسټرول:** د چرګې یوه هګۍ ۷۵۰ میلي ګرامه کلسټرول لري که چېرې روغ یاست او هره ورځ د چرګې یوه هګۍ خورئ نو اندېښنه مه کوئ د چرګې د هګۍ کلسټرول به ستاسو بدن ته هېڅ ډول زیان ونه رسوي.(۲ – انځور).(Miranda et al, 2015).




(۲- انځور) موږ ته د چرګو هګیو کې د مختلفو ویټامینونو او منرالونو شتون را ښئي.

Refrences:https://moreaboutchicken.com/how-does-the-hens-egg-feed-us/

## د چرګو د هګیو ګټې او زیانونه

د چرګې هګۍ د وینې د کلسټرول( High-density lipoprotein)HDL کچه برابره ساتي، د چرګې هګۍ په پرېمانه کچه کولین لري، د چرګې هګۍ د(Low-Density Lipoprotein) LDL کلسټرول له منځه وړي، د چرګې هګۍ پرېمانه Aویټامین لري، د چرګې هګۍ د پروټینونو غوره سرچینه ده، د چرګې هګۍ د زړه له ناروغیو څخه مخنیوي کوي، د چرګې هګۍ هډوکو ته د زیان رسیدلو څخه مخنیوي کوي.(. زیور، ۱۳۹۸)

د امریکایي پوهنتون کنکتیکت د تغذیې برخې کارپوه کرېسټوفر بلسو وایي: "هګۍ د انسان د ودې لپاره ټول مناسب او لازم مواد لري، نو شک نشته چې هګۍ ګڼ ګټور ویټامینونه لري. بلخوا د هګۍ خوړل مرسته کوي چې زموږ بدن له نورو خوړو هم ویټامینونه جذب کړي. د بېلګې په توګه په یوې څېړنه کې وموندل شوه چې په سلاته کې د هګۍ ورزیاتول کوای شي له سلاتې د ویټامین ايE په جذبولو کې مرسته وکړي. څو لسیزې د چرګو د هګۍ کارونه د لوړ کلسټرول (غوړ) درلودو له امله جنجالي موضوع وه، ځکه ځینو څېړنو موندلې وه چې د هګۍ لوړ کلسټرول له قلبي ناروغیو سره اړیکه لري. د یوې هګۍ زېړ ۱۸۵ ملي ګرامه کلسټرول لري. خو د امریکا د تغذیې برخې کارپوهانو سپارښتنه بیا دا وه چې د کلسټرول ورځنۍ اړتیا ۳۰۰ ملي ګرامه ده. څېړنکو په قطعي ډول د کلسټرول د کارونې او د قلبي ناروغۍ د خطر لوړولو ترمنځ اړیکه نه ده موندلې. نو ځکه په امریکا او بریتانیا کې د کلسټرول پر کارونه محدودیت نه دی لګول شوی، خو په بدل کې یې د بدن ذخیره شوي غوړ د کارولو کچې ته پر پام کولو ټینګار شوی دی چې د قلبي ناروغۍ د خطر د زیاتولو لامل کېږي. د چرګو هګیو ګټې کولای شو چې په لنډه توګه په لاندې ډول لیست کړو:

۱ – د چرګو هګۍ د کلیدي پیچلو غذایي موادو درلودونکې ده.

۲- لوړه اندازه کلسټرول لري په داسې حال کې چې د بدن پر کلسټرولو کوم ناوړه اغېز نه لري.

۳- هګۍ HDL اندزه لوړوي.

۴- په لوړ مقدار کولين لري چې د حجرو ي پردې په جوړلو کې ترې استفاده کېږي.

۵- د چرګو هګۍ په لوړه پيمانه انټي اوکسيډينټي مواد لري چې د سترګو د روغتيا له پاره اړين دي.

۶- د محلي چرګو هګۍ د اوميګا تري په لرلو سره د تراي ګلسرايډ کچه کموي.

۷- په کافي اندزه پروټين او امينو اسيدونه لري.

۸- د زړه حملې په احتمال کې کمښت راولي.

۹- د مړښت ځانګړتيا لري او د وزن په کموالي کې ځانګړي رول لري.

۱۰- د حامله مېندو له پاره ګټوره غذا ګڼل کېږي.

۱۱- د شيريانو په کلکوالي کې ځانګړی رول لري.

۱۲- هګۍ د جګر په ساتنه کې اړينه غذا ده.

۱۳- هګۍ د هډوکو د قوت سبب ګرځي.

۱۴- د جنين د ودې له پاره ګټوره غذا ده.

۱۵- د چرګو هګۍ د نوکانو د قوت او عټوالي له پاره ځانګړې غذا شمېرل کېږي.

۱۶- د موروفولوژي له مخې د انسان د ظاهري ښکلا له پاره بې مثاله خواړه ګڼل کېږي.

۱۷- د پوستکي د روغتيا له پاره ځانګړې غذا ده.

۱۸- د عضلاتو په محکم کېدو کې خاص ارزښت لري.

۱۹- د حافظې په قوت کې اختصاصي اهميت لرونکې ده.

۲۰- د اوميګا تري ځانګړې سرچينه ده.

### د چرګو د هګيو زيانونه

زيات پروټين: په ډېره اندازه هګۍ خوړل د پښتورګو پر فعاليت فشار راوړي، د ډېر پروټنن مصرف د پښتورګو ستونزې جوړولای شي.

الرژي: ځينې خلک د هيګو پروټين په وړاندې حساسيت لری، چې کولی شي الرژيک غبرګونونه رامنځته کړي، دا غبرګونونه له خفيف څخه تر شديده پورې وي، لکه د پوستکي خارښ، پړسوب، د ستونې بنده کيدل او حتی انفيلاکسس.

سالمونيلا انفيکشن: خامې يا ناپخې هګۍ کولی شي سالمونيلا بکټريا ولري، چې د خوراکي زهرې کيدو لامل ګرځي، سالمونيلا انفيکشن کولی شي د شديدی معدی درد، اسهال، تبه او کانګي رامنځته کړي. (Mayo Clinic)

**په نړۍ واله کچه د هګۍ استعمال:** د نړۍ په کچه د چرګو د هګيو صنعتي هېوادونه په لاندې(۳- جدول) کې راوړل شوي دي.

| ګڼه | د هېواد نوم | د توليد کچه | مقام |
|---|---|---|---|
| ۱ | چين | ۲۴.۸ ملیارد کيلو | لومړی |
| ۲ | امريکا متحده ايالات | ۵.۶ ميليارد کيلو | دويم |
| ۳ | هند | ۳.۸ ميليارد کيلو | دريم |
| ۴ | جاپان | ۲.۵۲۲ ميليارد کيلو | څلورم |
| ۵ | مکسيکو | ۲.۵۱۶ ميليارد کيلو | پينځم |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶ | برازیل | ۲.۲ میلیارد کیلو | شپږم |
| ۷ | اندونیزیا | ۱.۲۲ میلیارد کیلو | اووم |
| ۸ | ترکیه | ۱.۰۳ میلیارد کیلو | اتم |
| ۹ | فرانس | ۰.۹۴ میلیارد کیلو | نهم |
| ۱۰ | جرمني | ۰.۸۹ میلیارد کیلو | لسم |

(۳-جدول) کې هغه هېوادونه چې د نړۍ په کچه د چرګو هګیو په تولید کې لوړ مقام لري ښودل کېږي.

ماخذ: د FAO ( د ملګرو ملتونو د زراعتی او خوراکی سازمان) راپورونه د دی معلوماتو معتبری سرچینی دی، او د نړی به کچه د زراعتی تولید په اړه دقیق معلومات وړاندی کوی ، د FAO رسمی ویب پاڼه کولی شی تاسو ته د دی راپورونو پشپړ معلومات وړاندی کړی.

## مناقشه

Miranda او نور، (۲۰۱۵) کال کې د هګیو په اړه د Golden egg په نوم څېړنه کی د هګیو پیژندنه او په هګی کی چی کوم کم مصرف اولیه عناصر شتون لري، بحث کړی دی. خو زما د لیکنی فرق له هغو سره په دې کی دی چی: ما د هګیو جوړښت په اړه وضاحت ورکړی دی، او هغه می مشخص کړی دی او همدارنګه د هګی د جوړښت سربېره مې د هغې پر غذايي معیاري ارزښت څېړنه ترسره کړې ده چې په ورځني ژوند باید یو سلامت انسان تر دوه جوش کړو هګیو پورې کولای شي چې د غذا په حیث تري ګټه واخلي.

نظری او نور، (2024) د انسان د زخمونو په رغېدنه کې د هګیو پوستکي په رول څېړنه ترسره کړه، له پايلو څخه دې هدف ته ورسېدو چې د هګۍ پوستکی د انسانانو د زخمونو په رغېدنه کې د ډول- ډول لارو چارو څخه په ګټې اخېستنې ځانګړی رول لري. نوموړي یوازې د زخم په رغېدنه کې د هګی پر پوستکي څېړنې ترسره کړې دي. د نوموړي سره زما د بحث اکاډمیک توپیر دا دې چې ما په خپله څېړنه کی د چرګو د هګیو پر غذايي ارزښت سربېره د هغې پر ګټو پوره څېړنه تر سره کړې ده، چې د انسان د روغتیا له پاره د چرګو هګی کومې ګټې لري.

رضائی، (2018) کې د چرګانو د هګیو په حاصلاتو او کیفیت باندې د مصنوعي رنګونو په پرتله د سور مرچ څخه استخراج شوي رنګونو اغېزو ارزولو له پاره څېړنه ترسره شوې، ترلاسه شوې پایلې ښیي هغه چرګو چې له نوموړو موادو څخه د خوراک له پاره استفاده کړې وه د کنټرول هګیو پر تله یې د هګۍ ژېړ یو څه لا هم ژېړبخن شوي وو. له نوموړي څخه په تفکیکي توګه ما په خپله څېړنه کې د مختلفو هګیو اندازې او هغه فکتورونه چې په هګیو باندې اغېز لري په پوره ډول څېړلې دي.
میرقلنج، (2017) په خپله تحقیقی څېړنه کې د چرګې د هګیو پر جوړښت په ځانګړې توګه په طاهري بڼه د پرې بیوتیک اغېزې څېړلې دي او داسې نتایج یې تر لاسه کړي دي چې پرې بیوتیک د چرګې د هګی په داخلي په ظاهري کیفیت چندان اغېزې نه درلودې خو د ساتنې وخت د چرګو د هګی په ظاهري بڼه او د هغې پر کیفیت یو څه اندازه اغېزې کوي. مګر ما په خپله څېړنه کې له پرې بیوتیک پرته د چرګو د هګیو د پوستکي اغېزې څېړلې دي او دې نتیجې ته ورسېدم چې پوستکی د کلسیم له اړخه غني دی او په ډول- ډول اړتیاوو کې تري ګټه پورته کولی شو.

## پایله

هګی یو له قوي او مغذي خوړو څخه ده چې په لوړه کچه پروټین، شحم، ویټامینونه او مختلف منرالونه لري چې له اقتصادي پلوه په اسانه لاسته راځي او په کلیو او بانډو کې خلک زیاته استفاده ورڅخه کوي.

دا چې هګی کامل خواړه دي نو دانسان د ورځني ژوند ټولې غذائي اړتیاوې لکه پروټینونه، ویټامینونه، منرالونه او شحمیات بشپړوي. په هګۍ کې په پراخه پیمانه امینو اسیدونه موجود دي چې د امینو اسیدونو څخه پروټینونه جوړیږي چې دغه امینو اسیدونه په لوړه کچه د جذب وړ دي په خاص ډول کله چې هګی په ایشول شوي شکل وخوړل شي. د دې ترڅنګ هګی د شحمو یوه غوره منبع ده خو دغه شحم نه یواځې چې د انسان بدن ته زیان نه رسوي بلکې د انسان د بدن لپاره ډېر ګټور دي یعني په هګۍ کې ګټور شحمي تیزابونه موجود دي. د چرګې په هګی کې منرالونه او اړین معدني مواد هم په پراخه اندازه موجود دي لکه کلسیم، زینک، اوسپنه، پوتاشیم، مګنیزیم، منګنیز، فاسفورس، سودیم او داسې نور.

د چرګۍ هګۍ زياتی ګټی هم لری چې د چرګې هګۍ هډوکو ته د زيان رسيدلو څخه مخنيوي کوي، د چرګې هګۍ د زړه له ناروغيو څخه مخنيوي کوي، د چرګې هګۍ د پروټينونو غوره سرچېنه ده، د چرګې هګۍ پرېمانه Aويټامين لري او د چرګې هګۍ د لوټئين او زاکسانټين څخه ډک خواړه دي.

## وړانديزونه

1) د کيفيت د کنټرول ادارې ته وړانديز کوم چې ګران هېواد ته د واردېدونکو چرګو هګيو له پاره پرتوکولونه جوړ کړي.
2) په ولاياتو کې د کيفيت د کنټرول ادارې ته وړانديز کوم چې په بازار کې د چرګو هګيو د توليد او له منځه تللو نېټه کنټرول کړي چې د خرابو، چرګو هګيو د خرڅلاو مخه ونيول شي.
3) عامو هېوادوالو ته مې وړانديز دی چې د چرګو هګۍ د خپل ورځني خوراک برخه وګرځوي.

## اعترافات

له ټولو هغه څېړونکو څخه چې په دې ساحه کې يې څېړنې تر سره کړی دي مننه او همدارنګه د انستو پوهنتون د غذايي موادو د مصؤنيت کنفرانس له دايروونکي ټيم څخه منندوی يم چې زمينه سازي يې وکړه اوپر دې سربېره د سيدجمال الدين افغاني پوهنتون پښتو ژبې او ادب څانګې مشر له پوهندوی عبدالعظيم صديقمل څخه نړی مننه کوم چې د دې څېړنې د ادبي کره کتنې ليک دود، ليک ښود او ليک نښو په سمونه کې يې را سره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي دي بيا هم مننه.

## اخځليکونه

آزرده دست, پيمان آزرده دست, غلامی اهنگران, & مقتدایی خوراسگانی. (2020). ارزيابی اثر عصاره هيدروالکلی سير بر مولفه های هورمونی، کلينيکال پاتولوژی و هيستوپاتولوژی بافت بيضه در خروس. *مجله پلاسما و نشانگرهای زيستی*, *13*(4), 1-12.

رضائی, & ایلا. (2018). اثرات رنگدانه های استخراج شده از فلفل دلمه ای قرمز در مقايسه با رنگدانه مصنوعی کانتازانتين بر عملکرد و ماندگاری تخم مرغ در مرغان تخمگذار. *توليدات دامی*, *19*(4), 929-939.

زېور، زېور احمد. (۱۳۹۸ل). د هګۍ ترکيبونه، ګټې او اړوند اړخونه. *کابل: ياران مطبعه.*

نظری, ندا, ایمانی, رعنا, ابراهیمی نوذری, & طهورا. (2024). مروری بر کاربرد غشاء پوستهٔ تخم‌مرغ در ساخت زخم پوش‌های مهندسی شده: ساختار، خواص و اصلاح. *مواد و فناوری‌های پیشرفته*, *13*(1), 12-30.

میرقلنج, کیانفر, جانمحمدی, & تقی زاده. (2017). اثرات سطوح مختلف تفاله خشک گوجه‌فرنگی بر عملکرد تولید مرغ‌های تخم‌گذار و کیفیت داخلی تخم‌مرغ در دما و زمان‌های مختلف نگهداری. *پژوهش های علوم دامی (دانش کشاورزی)*, *27*(3), 73-85.

Banaszewska, D., Biesiada-Drzazga, B., Janocha, A., Ostrowski, D., & Długołęcka, M. (2018). Analysis of morphological egg characteristics and hatching results of selected breeds of ornamental chickens. *European Poultry Science/Archiv für Geflügelkunde*, *82*(253).

Blesso, C. N. (2015). Egg phospholipids and cardiovascular health. *Nutrients*, *7*(4), 2731-2747.

FOODS, T. F. T. ICTF2010 ABSTRACTS ABSTRACTS.

Iqbal, J., Khan, S. H., Mukhtar, N., Ahmed, T., & Pasha, R. A. (2016). Effects of egg size (weight) and age on hatching performance and chick quality of broiler breeder. *Journal of applied animal research*, *44*(1), 54-64.

Jaeckle, W. B. (2020). Variation in the size, energy content, and biochemical composition of invertebrate eggs: correlates to the mode of larval development. In *Ecology of marine invertebrate larvae* (pp. 49-77). CRC Press.

Kusum, M., Verma, R. C., Renu, M., Jain, H. K., & Deepak, S. (2018). A review: Chemical composition and utilization of egg. *Int. J. Chem. Stud*, *6*, 3186-3189.

Li-Chan, E. C., Powrie, W. D., & Nakai, S. (2017). The chemistry of eggs and egg products. In *Egg science and technology* (pp. 105-175). CRC Press.

Miranda, J. M., Anton, X., Redondo-Valbuena, C., Roca-Saavedra, P., Rodriguez, J. A., Lamas, A., ... & Cepeda, A. (2015). Egg and egg-derived foods: effects on human health and use as functional foods. *Nutrients*, *7*(1), 706-729.

Many, E. N. P. S. H., Mandell, A., & Graphic, D. C. Are Eggs Unhealthy Because of Their Cholesterol Content?

Réhault-Godbert, S., Guyot, N., & Nys, Y. (2019). The golden egg: nutritional value, bioactivities, and emerging benefits for human health. *Nutrients*, *11*(3), 684.

Sharma, P. D., Rajak, D., Kumar, V., & Shrivastava, M. (2016). Solar drying & quality characteristics of okra [Abelmoschus esculentus (L.) Moench] as affected by blanching. *Environ Ecol*, *34*(3B), 1297-1302.

Sundar, P. S., Chowdhury, C., & Kamarthi, S. (2021). An analysis of uncoupled designs in chicken egg. *International Journal of Industrial and Systems Engineering*, *15*(5), 197-201.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د خوړو اقتصادي لاسرسی او دلاسرسي د زياتوالي عوامل

محمد بشير دوديال*[1] ، محمدآغا ضياء[2]
[1]مالي او بانکي څانګه، اقتصاد پوهنځی، ننګرهار پوهنتون
[2]کرنيزي توسعي څانګه، کرنيز اقتصاد او توسعي پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
*مسؤل ليکوال: dodyal1@yahoo.com

## لنډيز

د خوړو مصئونيت (Food security) هغه مطلوب حالت دی چې هلته دټولنې وګړوته، په هر عمر او سن کې چې وي، کافی سالم خواړه( لازم کيفيت لرونکي) د دوی د روغتيايي ژوند لپاره د دوی په واک کې وي. يعنې د کورنی عايد هغه برید کی وي چې د غه ډول خواړه برابر کړای شي. دا اقتصادي توانايي اولاسرسي د يوه غوره ټولنيز نظام ښودنه کوي. په مطلوبه ټولنه کې کورنۍ اووګړي د خپل خوراک په تازه والی، مغذی والی، خوندورتوب او روغتيايي والي پوهيږي او لازمه بودجه ورته لري. غذائی مصئونيت او د خوراک له پلوه د يوې کورنۍ ډاډ هغه وخت تر لاسه کيږی چې د دوی دسترخان ددوی په خوښه او متنوع وی، ، په ښه ډول پوخ شوی، د کورنی غړو ته کافي اولازم مغذی اجزا(پروتين، منرالونه، ويټامين، شحم او کاربوهيدريت) ولري. درې شرطونه ضرور دي: د خوړوموجوديت، هغو ته لاسرسی او د ترلاسه کيدو دوام.هغه ټولنه د مصئونې غذا ادعا کولای شي چې د غذا کيفيت، صحی والی، تازه والی او دتهيې طرز د مربوطه ارګانوترڅارلاندې وی او دوی ته د لابراتواري لارښونو له مخې مطلوبه وي، د خوراکی توکو مسئول ادارات يوبل سره ښه همکار اوسی او دا يې د پاليسی يوه برخه وي. وګړو ته سالمه غذا مهيا کول، دغذايی مصئونيت تامينول اوس د بشر حقونو کې هم مهم ځای لری او حکومتونه په دې مکلف شوی دی، چې د انسانی کرامت او بشری حق په توګه سالمو او باکيفيته خوړو ته لاسرسی ډاډمن کړي له بده مرغه افغانستان کې د خوړو مصئونيت څخه پوره ډاډ نشته، نو ځکه دغه مقاله چې د کيفي څېړنې بڼه لري،کتابتون او بېلابيل معتبر او نوی اخځ څخه ترتيب شوه.

**کليدي کلمات**: خواړه، غذايی مصئونيت، اقتصادی لاسرسی، غذايی سهم او زنځيری(د غذا دوام لرونکی او پايدار توليد).

## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

غذائي مصئونيت( food security) د رفاه او د ژوند يوستندرد دی، خودطب اوروغتيا له پلوه هم بايد ټولنه په دې برید کې وي. دغه اصطلاح په ۱۹۴۴م. کال کې د خوراک او کرنې سازمان ( FAO) په يوه ټولنه کې داسې تعريف کړ: د خلکو لپاره د دومره کافي اندازه خوراکي توکي شتوالی چې دوی نه يوازې دا چې وږي پاتې نشي بلکې د کيفيت له پلوه او د مربوطه ټولنې د اجتماعي او کلتوري لحاظه هم مناسب وي. خلک له رواني پلوه د خوراکي توکو د کمښت ويره ونه لري، دغه غذايي توکي بايد دانرژۍ ، منرالونونه، ويټامينونه او نشايستې له پلوه د بدن ماشين د چلولو توان ولري. يعنې غذايي مصؤنيت يوازې د قحطي نشتوالی نه ، بلکې يو څلور بعدي حالت دی، چې غذا بايد له دغو څلورو بعدونو خلکو ته مناسبه وي، چې هغه يې د کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي اوله رواني پلوه د ډاډه والي بعدونه دي. د دې برخلاف وضعيتونه قحطي، خوارځواکی او ناخوندي او غيرصحی خوراک دی. قحطی او خوارځواکي د پرمختيايي او وروسته پاتې هېوادو د نن ورځې لويه ستونزه ده چې ورځ تربلې مخ په زياتوالي ده. حال داچې پرمختللي هېوادونه د خپلو خلکو لپاره هره ورځ د روغتيا او سالمې تغذيې لوړو معيارونو ته رسيدلي. له بده مرغه خوارځواکی په افغانستان کې هم ستونزه ده. د روغتيا وزارت ماشومانو کی دخوارځواکی د نښو د موجوديت راپور ورکوی او څه موده وړاندی نړيوالو ادارو افغانستان له دې پلوه څوارلسم رديف کې راوست، حال دا چې تېرکال دولسم رديف کې و. دا په داسې حال کې چې که چيرې د لوړې د مخنيوی او کافي مغذی خوراک توليد ته پام وکړو،

افغانستان ډېر ژر او اسانه دا ستونزه حل کولای شي. دا ځکه چې موږ کافي اندازه د کښت، مالداری او بڼوالي لپاره امکانات لرو. روغتيايي خوړو ته د لاسرسي، کافي توليد او د خوارځواکی د مخنيوی په خاطر دغه څېړنه ترسره شوه. په ليکنه له غوره اونوي اخځ څخه استفاده شوې چې ماخذ د مقالې په پای کې راغلي دی. مکفی غذا ته د لاسرسی په خاطر ځينی وړانديزونه هم لرو.

## د څېړنی ستونزه

څرنګه چې روغتيايي راپورونه او د FAO ارزوني ګورو؛ ټوله نړۍ کې د خوراکي توکو د کمښت او د غذايي مصئونيت د نشتوالی ستونزه شته. دنړۍ په کچه ډېرو پرمختګونو سره سره، غذايي ناامني يو پرابلم دی. په ۲۰۲۲م. کې ټوله نړۍ کې تخمين شوی و چې ۸۲۸ ميليونه تنه په سوء تغذيه اخته دی يعنی کافي خوراکي توکي يې نه لرل، اوس دا رقم نور هم لوړ ښودل شوی دی. په همدې خاطر دولتونو د ملی امنيت ترڅنګ د غذايي امنيت «مصئونيت» . خپله اجندا کې شامل کړ.د افغانستان دزياترو روغتونوکې هم د لوړې اوسو تغذي واقعات ګورو. په وګړو؛ په تېره بيا ماشومانو کې د سو تغذی(خوارځواکي) او ناکافي خوراک نښې له ورايه ښکاري. د روغتيا د نړيوال سازمان او خيريه بنسټونو په ارزونه کې سږکال(۱۴۰۳ل.) افغانستان له دې پلوه دوه درجې نور هم وروسته شوی دی(تېرکال څوارلسم او سږکال شپاړسم ته پرېوتی دی). د خوراک نړيوال پروګرام وايي چې افغانستان کې لوږه دومره زياته ده چې د ټول نفوس څلورمه برخه يې نيولې ده.

هسياووی لی، د خوراک د برنامې رئيس ويلي چې افغانستان کې د ۲۷ ميليونوشاوخوا کسان غذايي مصئونيت څخه بې برخی دي، فليپ کروپف، د دې بنسټ وياند بی‌بی‌سی ته وويل چې بيوزلو ته د ډاډمن خوراک د برابرولو لپاره د شپږو مياشتو لپاره ۶۰۰ ميليون ډالر په کاردي. دوی د چين مرسته ياده کړه چې ۳۵ زره کورنيو سره يې يوځه کمک وکړ(د FAO د ادارې له خوا د کتوبر دشپاړسمې په مناسبت رسمی ارزونه). د سرې مياشتې او سره صليب نړيوال فدراسيون د اندېښنه په ښودلو سره ويلي يې چې دا مهال په ټول افغانستان کې درې ميليونه او ۲۰۰زره تر پنځو کلونو کم عمره ماشومان او ۸۴۰زره اميندواره او شيدې ورکوونکې ميندې له شديدې خوارځواکی سره مخ دي. دغه فدراسيون د دوشنبې په ورځ د اکتوبر په ۲۱مه په خپله ايکس‌پاڼه د يو ګډ راپور په خپرولو سره زياته کړې چې له دې شمېره ۱.۷ ميليونه ماشومان د شديدې خوارځواکی او په ټکو يې له مړينې او کمزوري ادراکي فعاليتونو درلودنکي حالت سره مخ دي. د راپور له مخې، د دې ماشومانو او ميندو تر ټولو لوړه کچه د افغانستان په کندهار او پکتيکا ولايتونو کې ده( 22/10/24 (https://Dawat media24.com.

له دې ټولو سره سره د غذائی مصئونيت په اړه دنړۍ ټول هيوادونه کار کوي او د خپلو اتباعو د روغتيا شاخصونه څېړي او د دې ستونزې احتمالي حالاتو ته تدابير نيسي. د کرنې متخصصان، اقتصاد پوهان، د روغتيا کار کوونکي او نور ټول په دې اړه په ګډه کار کوي. د ناکافي ، غيرمغذي او له ټولنيز او روحي پلوه نامطمئن خوراک ستونزه د افغانستان لپاره لومړيتوب لري. د ا.ا.ا. په ډېره مناسبه او ضروری موقع کې د دې ستونزې دحل لپاره دلارې د موندلو علمی کنفرانس دايرکړ. انشاء الله کنفرانس کې به د دې ډول ستونزو د هوارې ډېرې ښې لارې وښودل شي. دا د سالمو وګړو د روغتيا تضمين کوونکې ده، نوځکه د دې ستونزې د حللارو د موندلو لپاره د خوراک د کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه د ډاډه والي شاخصونو ته د رسېدو لپاره دا څېړنيزه مقاله وليکل شوه.

## دڅېړنې موخه

د هېوادوالو لپاره د کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه د ډاډه والي د بعدونو لرونکی غذايي شاخصونو پېژندل او د هغو د ترلاسه کولو دلارو ښودل د دې څېړنې عمومی موخه ده، خو خصوصی موخې دادي:

- دخوراک، غذايي مصئونيت، غذائي سهم او کافي خوراک ته لاسرسی پېژندل،
- کافي او مغذي خوراک ته لاسرسی،
- دغذايي زنجير پېژندنه او د کافي او مصئون خوراک دلاسرسی لپاره وړانديزونه.

## د څېړنې پوښتنې

آيا غذايي مصئونيت د وګړو لپاره يو حتمي ضرورت دی؟

ايا افغانستان کولای شی خوړو ته لازم لاسرسی ومومی؟

د غذايي مصئونيت د ترلاسه کولو لپاره کوم وړانديزونه لرلای شو؟

## د څېړنې میتود

دغه څېړنه یوه کتابتونی څېړنه ده چې د مصئونې غذا د ترلاسه کولو، د خوارځواکي د له منځه وړلو او د سالم او موثر غذایی زنځیر او د روغتیایی خوراکي توکودوېش سیستمونه راښیي، دا بکر تحقیقی نه، بلکې یوه اکتشافی څېړنه ده چې د ( Pure research) په پرتله یې ( Applied research) بللای شو. له دې امله چې دغذا اوخوارک په اړه مسایل حیاتی بحثونه دي، پخوا هم په دې برخه کې کار شوی او آثار لیکل شوي، خو په موجودو حالاتو کې چې افغانستان وروسته تر څلوېښتو کلونو جګړې څخه یو ځل بیا د ثبات، سولې او امن له نعمت څخه برخمن شو، د جګړې د ناخوالو دله منځه وړلو لپاره چې یو یې غذایی عدم مصوئونیت دی، په نوېو شرایطو کې دا یوه نوې څېړنه ده. هیله ده د موندل شوې پایلې او وړاندیزونو په تطبیق سره د غذائی مصئونیت برید ته ورسیږو.

## تیرو ادبیاتو ته کتنه

ډاډمن او روغتیایی خواړه او هغو ته لاسرسی یوه حیاتی موضوع ده. په دې اړه د نړۍ په سراسر کې ډېرې لیکنې او څېړنې شوي دي. هر یوه یې خپل ارزښت لري او هرې یوې کې موضوع له بیلابیلو اړخونو ښودل شوې ده.

دغذائی مصئونیت په اړه ډېره غوره او بشپړه څېړنه او رښه علمی لیکنه روم کې د (FAO) د ارشیف د۲۰۲۱م. کال یوه څېړنه ده چې د( The state of Food and Nitration in the World2021) ترعنوان لاندې بشپړه او د خوراک او کرنې سازمان دیو ډېر معتبر او علمی سند په توګه خوندي کړی ده. په دې کې د روغتیایی مغذی خوراک او تغذیې په اړه مسایل تحلیل شوي دي.

نامتو څېړونکی ماکسویل دانیل په ۱۹۹۶م.کې د( measurement for food security) څېړنه کې مکفی او مغذی غذاته د لاسرسی اړتیا او لارې ښودلي د. له دې پرته؛ د ملګروملتونو د خوراک او کرنې سازمان( FAO) هرکال د اکتوبر په شپاړلسمه د دغې ادارې د ځانګړې ورځې په مناسبت د غذا او تغذیې او د کرنیزو تولیداتو د زنځیر په اړه راپورونه او د نړۍ بیلابیلو پرمختللو هیوادو کې د کرنې د نویو پرمختیاوو په اړه څېړنې او راپورونه نشروي، خو د افغانستان په اړه موثق راپورونه او د خوراکي توکو د ډاډمنتوب او دتولید د کمیت او کیفیت په اړه ډېر لږ څېړنې شوي دي. سره له دې هم ځینی دکافی غذا او له بیوزلی څخه د وتلو په اړه لیکنې شته چې کولای شو د پخوانیو اثارو په توګه یې وپېژنو:

نړیوال بانک( WB) په ۲۰۱۹م. کال د افغانستان د کرنې حالت ته کتنه کړې او یو مفصل راپور یې نشر کړی دی چې افغانستان کې یې د کرنیزو محصولاتو ظرفیت اټکل کړی دی. په دې څېړنیز راپور کې دغلو-دانو، مالداري، بڼوالي او کلیوالو ته د کار او د غذایی زنځیر( food chin)، د متراکمې بڼوالۍ د ایجاد او د اوبخور سیستم داصلاح مسایل راغلي دی، چې په دې سره افغانستان کرنه د کافی او مغذی خوراکی توکو د تولید امکان برابروي.

پوهاند دودیال د اقتصادي پرمختیا تیوری درسي کتاب کې چې په ۲۰۲۰م. کال د جرمني د(afghanic) دفتر له خوا نشر شوی، په پرمختیایی هیوادو کې د لوږې اوپرمختیا ته درسیدو په اړه توضیحات ورکړي دي.

په ۲۰۱۸م. کال کې د کابل پوهنتون د معلوماتومرکز( ACKU) د ګټور خواړه تر عنوان لاندې په دري او پښتو ژبو یو اثر نشر کړی دی چې غذایی مصونیت موضوع یې پوره څېړلې ده. په دې اثر کې دخوارځواکي دله منځه وړلو او ګټورو خوړو لارښوونې شوي دي. په دې اثر کې کافی او ګټورو خوړو ته دلاسرسي لارې ښودلی شوی دی. د دغې څېړنیزې مقالې د لیکلو او بشپړولو پر مهال دا ټول پخواني آثار وکتل شول. د تیرو تجربو او معلوماتو پر بنسټ په هیواد کی د ډاډمنو او کافی خوراکي توکو د تولید ، هغو ته د لاسرسي او کیفیت په اړه وړاندیزونه ولرو.

## روغتیایی،کافی او د لاسرسي وړ خوراک یعنې څه؟

غذایی مصئونیت د وګړو حیاتی مسئله ده. د خوراکی توکو له پلوه ډاډ هم جسمی روغتیا او هم روحې خاطر جمعی سره کمک کوي.

د بدن هره برخه لکه قلب، مغز، عصبی ،د ستګاه، بډوډي، ویښتان ، پوست کافی او باکفیته خوړو ته اړتیا لري، پرته له سالمې تغذیې بدن او فکر سالم عملکرد اوایده‌آل چلند نشي لرلای. دلته موږ دریو مفاهیمو سره سروکار لرو:

دخوړو روغتیایي والی او ډاډمنتوب food safety له هغه څه بحث کوی چې خواړه د انسان صحت اوسلامتی سره مرسته کوي. دلته خواړه ، دهغو میسروالی او د چمتو کولو، پخولو او دسترخان پورې رسولو لارې- چارې راښيي، ترڅو روغتیا زیانمنه نشی. « غذایی مصئونیتfood security» یا د خوړو مصئونیت دا راښیي چې مکفی خواړه څومره د لاسرسی وړ دي Maxwell, et al., 2008) دا هغه وخت تحقق مومی چې پوره او سالم روغتیایي خواړه د یوې سیمې، ښار، ولایت او هېواد خلکو ته هر وخت د دوی سیمه کې، دوی ته د لاسرسی وړ وي. خوړو ته لاسرسی availability دغذایی مصئونیت او روغتیایي والی په ډاډ سره پرته له دې چې خلک یې د کمې او قحط اندېښنه ولري، دوی ته د دوی د اقتصادی توانایی سره سم د غوره سهم او کیفیت په لرلومهیا شي(۱۳۸۹:۳). له دې څخه دا پایله ترلاسه شوه چې دخوړو مصئونیت کی د هغو ګټورتوب، مکفی والی، سالم والی او د لاسرسی ډاډ مهم دي. د طب له پلوه دغذا روغتیایي والی او سالمه تغذیه مهمه ده، د اقتصاد له پلوه یې لاسرسی او د خلکوتوانایی او د کرنې له پلوه داسې تولیدی زنځیر ډاډمن کول چی کافی او سالم خواړه چمتوشي(۲۰۱۲،Wayback Machine ).

باید هېر نشي چې سالمه تغذیه اومصئون خواړه ځینې مشخصات لري چې د وګړی د روغتیا ضمانت کوی او د ناروغی عواملو څخه یې مصئون ساتي او دبدن دفاعی ځواک د محیطی او دناروغی عواملو په وړاندی پیاو کوی(Maxwell, 1996) . دا ځانګړنې په لاندې ډول دي:

- خوراک باید متنوع وي، په ترکیب کې یې بېلابیل اجزا وي، لکه سابه، میوه، غوښه، غوړ، خواړه، منرالونه، پاکې اوبه او ویټامینونه
- د کالوری حجم باید متعادل اود بدنی فعالیت مطابق وي
- د ډاډمن خوراک په لرلو دجسم وزن نورمال ساتل کیدای شی
- یو شمېر ضرر لرونکی اجزا، په تېره لوړ عمر لرونکو ته باید (شکر، غوړ،مالګه) باید دنورو پوره کوونکو یا سپلمنټونو په واسطه جبران شی
- باید ډاډمن خوراک کی غلې- دانې او سبوس‌لرونکي اجزا وي
- یوه اندازه ضروری لبنیاتو ته باید لاسرسی وي
- که د سرې او ډېرې وازګې لرونکې غوښې په ځای سپینه غوښه او لږ وازګه لرونکی غوښې څخه استفاده وشي، د وګړی صحت به ډاډمن وي
- د غلې- دانې ترڅنګ مغزباب لکه جنغوزې، بادام، غوزان او پسته چې دلاسرسی وړ وی، ګټورخواړه بلل کیږی
- کافی اوپاکو اوبو او طبیعی مایعاتو ته لاسرسی
- بیلابیلو سبزی او تازه میوو ته لاسرسی(اکبري، ۲۰۱۸).

مکفي او سالموخوراکې توکوته د لاسرسی په بحث کې غذایی سهم (ونډې) ته پام ضرور دی، غذایی ونډه د خوراکونو د بیلابیلو ډولونو یوه عمومی طرح ده چی په یوه شپه او ورځ کی د بدن لپاره ورته اړتیا ده. د خوراکونو دغه ډولونه د بدن د بیلابیلو فعالیتونو تر سره کولو او ضرورتونو رفع کولو کې ونډه لري. د دغې طرح بڼه د هرم(pyramid) په شکل ده چې په کوزه برخه کې یې زیات اړتیا لرونکي خوراکونه لکه ډوډی او نور دي او مخ پورته وار په وار لږ اړتیا لرونکي توکي دي،

یعنی د هرم په سرکې توکو ته لږ اړتیا لرو، خو کوزې برخې ته زیاته (اکبري، ۲۰۱۸ ). د هرم په قاعده کې غلې- دانې دي چې زمونږ د هیوادوالو د خوراک لویه برخه جوړوي او د خپلې انرژی ډیره برخه ورڅخه پوره کوي. په دې ډله کې غنم، وربشې، جوار، وریجې، مکرونی، آش او نور راځي. له دې څخه پورته په بله برخه کې میوی او سابه دي، ورپسی غوښه، حبوبات، مغزباب او بیا شیدې او نورلبنیات(مستې، شړومبې، پنیر...) راځي. د هرم په څوکه کې شحم، مالګه، غوړي او ساده شکره (لکه بوره) او نور خواړه دي چی دا تر ټولو لږه برخه ده چې باید لږ مصرف شي. کله چې خوراک کې دا هرم بشپړ و، دې ته دغذا کافی لاسرسی وایو( اکبري، ۲۰۱۸ ).

د غذایی موادو او خوراکې توکو د اړتیا وړ اندازې سنجول (سهم) هغه واحد اندازه ده چې هغو ته یو تعریف شوی مقدار ښکاره کوي. د سهم (ونډې او اندازې) ورځنی سپارښت شوی مقدار چې د پورتنیو غذایی توکو د هر ډول واحدونه دي ځانګړی ارزښت لري، خو پرمختیایی هیوادونه اکثریت دا لاسرسی نه لري. بیوزله هیوادونه په لومړی ګام کې باید مکفی خوړو ته دلاسرسی مسئله

حل کړي(Pérez-Escamilla and Segall-Corrêa, 2008 ). د بیوزلو هیوادوپه اړه به د ( FAO) له ارزونو برعلاوه چې مخکې مو وویل، د نړیوال بانک راپورهم له نظره تېر کړو:

د نړیوال بانک رئیس ښاغلی جیم یونګ کیم(Jim Yong Kim) په ۲۰۱۳م. کی ویلی و:
موږ هغه وخت بریالی یاستو چی د فقر په له منځه وړلو کی دتیر وخت تجربو څخه کار واخلو او ټوله نړی جوړه کړو دابه زموږ لپاره په تاریخ کې خارق العاده شیبې( auspicious moment in history) وی. نابرابری له منځه یوسو اوهره کورنۍ پاکو اوبو،کافي خوراک او جامو ته لاسرسی ولری او نړی له نارووغیوپاکه وی، څوک (مخکې له مرګ ) څخه مړه نشی، دنابرابری پرځای فرصتونه رامنځته کړو او بالاخره داسې نړی چی لوږه او بیوزلی پکې نه وي.
دی وایی:

-A world free of poverty,
-A world where everyone has enough to eat,
-A world where no one dies from preventable diseases,
-A sustainable world where all households have access to clean energy.

بیوزله هیواد کوم هیوا دی؟

د نیویارک دپوهنتون نامتوپروفیسور(Michael P.Todaro) او دجورج واشنګټن دپوهنتون استاد( Stephen C.Smith) په خپل درسی کتاب کې چې د( Economic Development-Twelfth Edition) په نوم یې په۲۰۱۵م. کال کې لیکلی دی، هیوادونه یی په آسانه توګه،دنړیوال بانک داطلس د۲۰۱۱م.کال داراقامو له مخی، له ټیټ عاید لرونکوڅخه تر لوړ عاید لورنکو پورې په پینځوګروپونو ویشلی دی:

- ✓ ډیرلږعاید لرونکی ( Lower-income-countries) له۱۰۲۵ډالرو څخه ټیټ کلنی سړی سرعایدلرونکی
- ✓ منځنی لږعاید لرونکی(Lower-midle-income countries) له۴۰۳۵-۱۰۲۵ډالروپوری عاید لرونکي
- ✓ له منځنی حدعایدلرونکوڅخه پورته عایدلرونکی ( Uper-midle-income countries) له۱۲۴۷۵-۴۰۳۶پورې
- ✓ لوړعاید لرونکی(High-income countries)له۱۲۴۷۶امریکایی ډالروڅخه پورتهGNI per capita لرونکی

اوهغه هیوادونه چې ارقام یی ندی موجود(دودیال ،۲۰۲۰). متاسفانه زموږ هیواد کې دعوایدو، سړی سر کلنۍ ګټې، سالمې غذاته دلاسرسی دقیق رقم او د انرژي د مصرف په اړه کره ارقام نشته. د دغو هېوادو لومړنۍ ننبه د خوړو قلت او په اوسیدونکو کې یې د خوارځواکی د ننبو موجودیت دی، چې له دې امله د مور او ماشوم مړینې پکې ډېرې زیاتې دي.

سالمې غذا ته دلاسرسي په اړه د زريزی اهدافو کې هم تاکید شوی دی. سالم خوراک ته لاسرسی د وګړو حق بلل شوی دی. نړیوالو حقوقو هم سالمې غذاته لاسرسی بشر دوستانه تعهدات اوالزام آورمسئولیت شمېرلی دی. پوهان وایی چې د وګړی دا حق هغه وخت پوره کېږی چې یوه هیواد کې دغذایی زنځیري کړی بشپړې فعاله وي دي(Maxwell, et al., 2008) . نو غذایی زنځیر خوراک ته د لاسرسی برخه کې څه ارزښت لري؟

**سالمې دتغذيې برخه کې د غذايي زنځير رول**

غذايي زنځير( food chain) په طبیعت کی د تولیدوونکو، لومړنیو مصرفوونکو، دوهمی مصرفوونکو او د لومړی کچې مصرفوونکو د مراتبو سلسله ده د ایکوسیستم په اجزاوو کی د انرژي او غذایی عناصرو یو ځانګړی او منظم مسیر او له یوې ساده شبکې مخ په پیچلی شبکې تلونکې کړی دي. دغه مسیر له تولیدوونکی څخه تر مصرفوونکی پورې دوام مومي. غذایی زنځیر له یوې ساده شبکې مخ په پیچلی شبکې پر مخ ځي. په بله وینا: دا د تولیدوونکو، لومړنیو مصرفوونکو، دوهمی مصرفوونکو او د لومړی کچې مصرفوونکو د مراتبو سلسله او د ایکوسیستم په اجزاوو کی د انرژي او غذایی عناصرو یو ځانګړی او منظم مسیر دی چې کړی یې له تولیدوونکی تر مصرفوونکی پورې دوران کوي.

**دخوړو په بیلابیلو ډولونو کې شته خوراکي توکو ته لاسرسی**

د خوراک اصلی برخې د خوراکي توکو هغه لست دی چې د مغذی موادو له پلوه یو بل سره ورته والی لري او د خوراکی توکو لپاره اړتیا پوره کوي او باید هره ورځ ورڅخه کار واخیستل شي. د مصئونیت لرونکي خوراک مُغذي مواد تقریباً یو بل سره برابر غذایی ارزش لري خویو یې هم په یواځیتوب سره ټول غذایي مواد نشي پوره کولای، بلکې ټول باید په یو تناسب سره موجودوي.

**سالمه تغذیه او غذایي مصئونیت**

عام ولس د خوراکي توکو او تغذیې په هکله معلوماتو ته اړتیا لري. غذايي مصئونیت ته لاسرسی کې د اوړنده ادارو د مسئولیت ترڅنګ؛ د ولس عادات هم مهم دي. متاسفانه زموږ خلک د خوراک د خوندور کیدو په خاطر هغه د پخولو په مهال سره کوي، یایې صحی نه پخوي، یا خپلې پیسې په پاپر، بی کیفیت بسکویت، رنګه شیرینی ګانو، ژاولو، تاریخ تېر وارداتی توکو ورکوي. ځینی وخت په آفت وژونکو او کیمیاوی مرکباتو لړلي او د جینیتیکی بدلونو ( genetic engineering) او د هورمون په واسطه متغییر خوارکی توکي چې هیواد ته بی له قرنطین وارد شوي، هم سالمه خوراک په ناسالم اړوي. په دې ترتیب هم د هیواد اقتصاد ته او هم خپل صحت ته زیان رسوی او غذایی مصئونیت ټیټ حد ته راولي. ولس باید په دغو معلوماتو سره سالمه تغذیه وپېژني او کورنۍ روغه وساتي. له بلې خوا څلویښت کلن جنګ او د اوسني ماشیني ژوند له امله کورنیو د خپلو خوراکي توکو د ښه سمبالښت او پخلي لپاره کافی وخت له لاسه ورکړ، نو د خوراکي توکو او تغذیې په هکله معلوماتو ته اړتیا پیدا ده، تر څو وکولای شي د دغو معلوماتو په مرسته د خپلو خوراکي توکو کیفیت او نوعیت اوچت وساتی او خپله روغتیا ډاډمنه کړي، نو ځکه د تغذیې علم د ژوند د مطلوب کیفیت د ساتنی او له ناروغانو سره د مرستی په خاطراودناروغه کوونکوعواملودکمولو په خاطر نوی شکل او ارزښت ترلاسه کړ (اکبري، ۲۰۱۸ ).

د یوی ټولنی د وګړو روغتیا او ښه تغذیه یواځی غذایي موادو ته لاسرسي پورې اړه نه لري، بلکې د ټولنې د وګړو او دکورنیو د غړو غذایی کلتور پورې هم تړلی ده.په دې کې هیڅ شک نشته چې ناسالمه تغذیه د یو شمیر ناروغیو لکه د زړه ناروغیو، د شکرې ناروغې، د وینی د فشار او نورو لامل کیږی، خو ښه تغذیه بیا د دغو ناروغیو د له منځه تلو لامل کیږی.خوراک ته د لاسرسی په ترځ کې د خوارک تنوع، ډولونه ترکیب (نظر سن او اقتصادی توانایی او د جسمی او فکری کار طرزته فرق کوي) هم مهم دی.

**سالم او روغتیایی خوراک ته لاسرسی سره تړلی شرطونه**

غذایی مصئونیت دا دی چې د غذامکفی اجزا دایم په واک کې وی لکه ډوډی، مکرونی، غنم، وربشې ،جواري، سابه، میوې او لبنیات. دا خوراکونه د بدن د انرژی ډیره برخه چمتو کوي. همدارنګه دغه خوراکی توکي فایبر او یو شمیر ویټامینونه او په دې ډله کې د B ګروپ ویټامینونه لري.فایبر د یو شمیر کاربو هیدریتونو لپاره یوه عمومی اصطلاح ده. هغه مواد چې په سبو او غلو-دانو کې پریمانه موندل کیږی او بدن نشی کولای چې ټول هغه په آسانی سره هضم کړي، سره له دې چې فایبر په آسانی سره په بدن کې نه حل کیږی او لکه د نورو موادو په شان نه جذب کیږی، خو د انسان په روغتیا باندې ډیر مهم اثر او په سلامتی کې دیر رول لري، نو ځکه فایبر یا تار یا ریښکۍو نسج یا لیف د کاربوهایدریتونو یوې جلا ډلې ته ویل کیږی چې انسان هغه نشي هضمولی، دا ځکه چې د انسان بدن د فایبرونو د تجزیه کولو لپاره هضموونکی انزایم نه لري، نو په همدې خاطر فایبر له هضمی سیستم څخه د تیریدو پرمهال پرته له کوم بدلون څخه وځي.د نارینه لپاره په یوه ورځ کې ۳۸ګرامه فایبر او د ښځو لپاره ۲۵ګرامه فایبر ضرور بلل شوی دی، خو سره له دې هم ګڼ شمیر خلک ایله د دغې اندازې نیمایی (۱۵-۱۷ګرامه) په یوه ورځ کې مصرفوي.

فایبر زیاتره په ګیاهي خوړو او سبو لکه بادرنګ، تره، کدو، شلغم او میوې لکه مڼې، ناک، زردالو،شفتالو او یو شمیر غلو-دانو لکه جوارو، وربشو، وړدن او نورو کې شته .فایبر هغه خوراکي توکي دي چې زیاتره وخت یې ډاکتران د روغتیا لپاره سپارښت کوي او ټول پوهان په دې عقیده دي چې د فایبر لرونکو خوراکونو خوړل د انسان پر روغتیا مثبته اغیزه لري.

په عمومي توګه فایبر دوه ډولونه لري:

- په اوبو کې حل کیدونکی او نه حیل کیدونکی فایبر .

د دغو دواړو ترکیب ته په عمومي توګه فایبر ویل کیږی. افغانستان هغه هیواد دی چې د خپل متنوع اقلیم، د اوبو د منابعو او کافی زمکو په لرلوس سره کولای شی خپلو وګړو ته پورته ډول مصئونه غذا چمتو کړي، په تېره بیا اوس چې امنیت ټینګ او د فساد مخه نیول شوی اوکلیوال د بمباری او تلاشیو هیڅ ډول ګواښ سره مخ نه دی. اوس چې داړه ماران وطن کې واک نه لري، باید کافی زراعتی تولید ولرو.

**په څه ډول غذایي مصئونیت ته رسیدلای شو؟** دې موخې ته درسیدو لپاره لومړنی ضروری شرایط دا دي:

1. **دکرنې سکتور کی پانګونه :** په تېره بیا د افغانستان په شان بیوزله هیواد کی باید لومړی دکلیو خلکو سره کار وشی، کرنه کی پانګونه وشی، کلیوالی او محلی منابع (انسانی، طبیعی او مالی) د پانګې په کار اچولو سره عملاً ترکار لاندې راوستل شي. د دې په پایله کې کرنیز تولیدات زیاتیږی، اوورسره یو ځای نور کلیوالی تشبثات لکه د مچیو، دوریښمو چنجیو، کبانو اوچرګانوروزنی، لاسی صنعتونه او د طبی او صنعتی بوټوپروسس هم ښه کیدای شي، په دې ډول سره د خلکو د مالی توانایی په ښه کېدو سره خوړو ته دلاسرسی سونزه هواریږي.
2. **پیاوړی اقتصادی زیربنا ایجادول:** دمنظم او اسانه ترانسپورټ او لویو لارو، بریښنا، روغتیایی خدماتو، مخابراتو، بانکی سیستم او کافی ځیرنیزو مراکزو په شتون سره کولای شو کرنیز تولیدات اوچت او اسانه یې مارکیټونو ته ورسوو.
3. **د بیوزلی له منځه وړلو ته هر اړخیز تدابیر :** دبیوزلی اوفقر کمښت یواځې کرنی ته په پاملرنه کیږی، بلکې باید پرمختیایي پلانونو او دخلکو د پوهې اوچتولو او د کار او زیار خواته د دوی هڅولو او متحد کولوته پام وشي،
4. **د نوی تکنالوژی ترویج او کلیو کې د توسعی د برنامو تطبیق:** د لوړ مولدیت لرونکی کرنی او د کافی او سالمی غذا دتولید او عرضې لپاره نوې او اصلاح شوی تکنالوژې ضرور ده،
5. **د اوبخور د سیستم په جوړلو او د سیندونو په مهارولو سره د نویو زمکو تر کښت لاندې راوستل:** په کرنه کې زمکه د تولید عامل دی، خو زمکه اوبو ته اړتیا لری. د کافی اوبو په شتون سره په ډېر لږ کار او پانګې کولای شو، ډېر حاصلات ترلاسه کړو،
6. **دشخړو او جنګونو مخنوی :** زموږ لویه بدمرغی چې د بیوزلي او د غذایی عدم مصئونیت لامل شوې ده، دوامدار زیان اړوونکی تحمیلي جنګونه وو. کله چې امنیت وي او ټولنیز ثبات ډاډمن شي، دغذايي مصئونیت هدف ته رسیدلای شو، پرته له هغه نا ممکنه ده
7. **دناوړه طبیعی: پېښو لکه اورلګېدو، زلزلو او سیلاوونو د مخوی لارې- چارې:** معاصرې پوهې او ځېړنو داسې لارې راښودلې چې په هغو سره د طبیعی ناوړه پېښو زیان اقل حدته را ټیټولای شو،
8. **د دوام لرونکی کرنیزی پرمختیا تامین:** باید حکومتونو په کلیو کې ثبات لرونکی(sustainable development) پرمختیا رامنځته کړي.
9. **د اقلیمی منفی بدلون او تغییر دعواملو رفع کول :** لکه د پاکې انرژی مصرف، د ګلخانه یی ګازونو کمول، چاپیریال شنه کول، دیکبارمصرف توکو څخه نه استفاده او د ځنګلونو احیا او نوی ځنګلونه کینول او د څړځایونو ساتنه(Patel,2013) .

### د غذايي مصئويت د لومړيتوب ټاکنې عوامل

له نيکه مرغه اوس معاصرووګړنيزو حکومتونو دټولنې په وړاندې د مسئوليت د احساس او د خدمت کولو د روحيې له مخې د خپل ولس لپاره د غذايي مصئونيت ډاډمن کول د لاندې دريو عواملو له مخې لومړيتوب کې راوستي دي:

1. د انساني هوساينې، ټولنيې سولې او د ټولنې پرمختګ کې د مکفي او باکيفيته خوړو د شتون د اهميت پېژندل،
2. د ناسالمې او غيز مکفي غذا له امله د بيوزلي، نابرابرى او اقليمى بدلون رامنځته کېدل
3. ولس ته د حکومت دمنلو وړتيا. هغه حکومت چې ولس ته غذايي مصئونيت، غذايي تنوع او باکيفيته سالمو خوړو چمتو کولو کې ناکام او بې پامه وي، هغه مستبد حکومت وي او د ولس د کرکې وړ ګرځي
4. بل مهم عامل دا دی چې اوس نړۍ ولس او خلکوته د روغتيايي او دايمی خوړو برابرول د ولس مشروع حق بللی او حکومتونه يې د غذايي مصئونيت حق او د معيشت حق ته مکلف ګڼلي دي نوځکه نن ورځ وګړنيزو حکومتونو غذايی مصئونيت دخپلو پاليسيو لومړيتوب کې راوستی دی.

## موندني او مناقشه

د هيواد په روغتونو کې په خوارځواکی اخته ماشومان، د صحت د ادارو راپورونه او د نړيوالو موسسو د ارزونو له مخې ښکاري چې افغانستان کې د غذايي مصئونيت ستونزه شته. غذايي مصئونيت يو څلور بُعدي حالت دی، چې غذا بايد له دغو څلورو بعدونو خلکو ته مناسبه وي، چې هغه يې د کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه د ډاډه والي بعدونه دي. د دې برخلاف وضعيتونه قحطي، خوارځواکی او ناخوندې او غيرصحی خوراک دی. نړيوال بانک( WB) په ۲۰۱۹م. کال د افغانستان د کرنې حالت ته کتنه کړې او يو مفصل راپور يې نشر کړی دی چې افغانستان کې يې د کرنيزو محصولاتو ظرفيت اټکل کړی دی. په دې څېړنيز راپور کې دغلو-دانو، مالداري، بڼوالي او کليوالو ته د کار او د غذايی زنځير( food chin)، د متراکمې بڼوالی د ايجاد او د اوبخور سيستم داصلاح مسايل راغلي دی، چې په دې سره افغانستان کرنه د کافی او مغذی خوراکی توکو د توليد امکان برابروي. ډاډمن او روغتيايي خواړه يوه حياتي موضوع ده. بېلابېلو هېوادو کې علمی څېړنو و د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې نړيوال سازمان د کرنيزو پرکتسونو د ښه کولو، د ناروغيو مقابل کې د مقاومو ورايټيو د کښت او کرنيزی تکنالوژی په ښه کولو سره د غذايي مضئونيت لپاره لارښوونی کړې او په دی برخه کې يې علمی راپورونه نشر کړی دی، خو افغانستان کې دې برخو کې تر اوسه لږ څېړنې شوي دي. نړيوال بانک( WB) په ۲۰۱۹م. کال د افغانستان د کرنې حالت ته کتنه کړې او يو مفصل راپور يې نشر کړی دی چې افغانستان کې يې د کرنيزو محصولاتو ظرفيت اټکل کړی دی. په دې څېړنيز راپور کې دغلو-دانو، مالداري، بڼوالي او کليوالو ته د کار او د غذايی زنځير( food chin)، د متراکمې بڼوالی د ايجاد او د اوبخور سيستم داصلاح مسايل راغلي دی، چې په دې سره افغانستان کرنه د کافی او مغذی خوراکی توکو د توليد امکان برابروي.

قحطی او خوارځواکي د پرمختيايي او وروسته پاتې هېوادو د نن ورځې لويه ستونزه ده چې ورځ تر بلې مخ په زياتوالي ده. حال داچې پرمختللي هېوادونه د خپلو خلکو لپاره هره ورځ د روغتيا او سالمې تغذيې لوړو معيارونو ته رسيدلي دي. په دې توګه د کرنې متخصصينو د کرنی د حاصلاتو د لوړلو لپاره مسلکی اغيزمنې لارې دي، چې موږ خپل هيواد کی د هغو په تطبيق سره کولای شو د غذايي مصئونيت معيارونو ته ورسيږو. په دغه مقاله کې دغو لارو- چارو باندی بحث وشو. که چيری موږ د کرنيزو زمکو اصلاح، د نويو زمکو لپاره د اوبخور دسيستم جوړلو، د کرنی د ترويجی خدماتو پراخولو، د کرنيزو محصولاتو مارکيټنګ د حاصلاتو د ضياع مخنيوی کې کوښښ وکړو او د خلکو غذايي عادات او کلتور اصلاح کړو، انشاءالله دا ستونزه به حل شي.

## پايله

په يوه ټولنه کې غذايي توکو ته د ټولو خلکو لاسرسی چې د بيې، کيفيت او له روحی او ټولنيز پلوه ستونزه ونه لري. دغه اصطلاح په ۱۹۴۴ م. کال کې د خوراک او کرنې سازمان په يوه ټولنه کې هغه حالت ته تعريف کړه ، چې هلته د خلکو لپاره دومره کافي اندازه خوراکي توکي وي چې دوی نه يوازې دا چې وږي پاتې نشي بلکې د کيفيت له پلوه او د مربوطه ټولنې د اجتماعي او کلتوري لحاظه هم مناسب وي. خلک له رواني پلوه د خوراکي توکو د کمښت ويره ونه لري، دغه غذايي توکي بايد دانرژی ، منرالونو، ويټامينونو او نشايستې له پلوه د بدن ماشين د چلولو توان ولري. يعنې غذايي مصئونيت يوازې د قحطي نشتوالی نه ،

بلکې یو څلور بعدي حالت دی، چې غذا باید له دغو څلورو بعدونو خلکو ته مناسبه وي، چې هغه یې د کافي والي، مغذي والي، اجتماعي والي او له رواني پلوه د ډاډه والي بعدونه دي.

دا یوه څو اړخیزه ستونزه ده چې بیاد بیوزلو هیوادو کی حللاره ورته ولټول شي. کیدای شی د کرنې سکتور کې پانګونې، د خوراکی توکو دتولید د زنځیر د کړیو ټینګولو، د کښت له پیل تر درمند اخیستو د ضایعاتو د مخنیوي، د ونو- بوټو اوڅارویو د ناروغیو په درملنې او د خلکو د عاداتو په ښه کولو سره یې حل کړو. بی کیفیته او ناسالمه تغذیه خاموشه لوړه ده چې لومړی ماشومان او میندې له پښو غورځوي. د دوی انسانی کرامت ته په کتو حکومتونه، خیریه موسسات او اړوند بنسټونه باید د کرنې په پیاوړی کولو، دزمکو لپاره د اوبخور سیستم د جوړولو، د مناسبې تکنالوژی په انتشار او د کښت د غوره روشونو په رواجولو، بزګرانو ته دبانکې او کریدیتی آسانتیاوو په برابرولو، دسړو خونو او سیلوګانواو اسانه ترانسپورت په مهیا کولو سره دا ستونزه حل کړي.

## وړاندیزونه

په کرنه کې د مولدیت د کچې د لوړولو او فی واحد څخه د اعظمي حاصل د ترلاسه کولو لپاره د میکانیزه کرنې ترویج، د متراکمو باغونو احداث، د کرنیزو آفاتو ضد کیمیاوی مرکبات مهیا کول، د حاصلاتو د ضیاع مخنیوی، د کرنیز مارکیټنګ او ترانسپورتی سهولتونو، د کرنی د پراختیا بانک او دهقانی تعاوونی ایجاد لومړی ضرورت دی. د کرنیزو علمی څیړنو انکشاف ته توجه او بزګرانو ته د زده کړی پروګرامونه رسول دوهمه اړتیا ده. د دې ترڅنګ لاندې تدابیر هم ضرور دي:

1. باید هېواد ته د بی کیفیته بسکویټو، رنګه شرینی، پاپړو، رنګه اود کیمیاوی مرکباتو لرونکو مضرو نوشابو، شیدو او نورو خوراکی توکو د واردلو مخه ونیول شي، دا ځکه د هیوادوالو ډېرې پیسې ورباندې لګیږی، خو صحت ته تاوان رسوي. د دې په ځای دی وطنی میوې او سبو څخه استفاده عامه او وهڅول شي
2. د خوړو د پخولو ښې طریقی هم په روغتیا اغیز لری، متاسفانه زموږ خلک زیاتره زیاتو غوړیو کی سره کړي خواړه چې زیاته مالګه ولری، خوښوي، دا ډول خواړه د غذایی مصئونیت د تعریف خلاف دی. په مجموع کې باید د پخلي کلتور اصلاح شي
3. په پلاستیکی او مسي لوښوکې پخلی او د خوراکی توکو ساتل خواړه بی کیفیته او آن زهرجن کوي، غوره ده چې له هټیو څخه خواړه پلاستیک کې نه، بلکې چینی، خاورین یا فلزی او ښیښه یی(مرتبان)لوښي کې واخلو
4. دنویو کرنیزو زمکو اصلاح او اوبخور لاندې راوستل او په بی زمکی بزګرانویې وېشل
5. دکیمیاوی سرو په ځای له ډېران اود هرزه بوټو له منځه وړلو لپاره د کیمیاوی مرکباتو په ځای میخانیکی طریقو څخه کار اخیستل،
6. په مناسب وخت د کرنیزو حاصلاتو ټولول او د ګودام او سړو خونو د متخصص نظر سره سم یې ساتنه، سیلو ګانو ته د غلو دانو لیږدول او دبسته بندی غوره طریقو کارول
7. د حاصل د لوړولو په موخه د جینیتیک انجینیری په کلکه مخنیوی.

## اخځلیکونه


اکبری، ع. (۲۰۱۸) ګټور خواړه، دکابل پوهنتون د معلوماتو مرکز ( ACKU) خپرونه: کابل- افغانستان.

دودیال، محمدبشیر.(۲۰۲۰) د اقتصادی پرمختیا تیوری، درسی کتاب. د خپرونه: کابل- افغانستان.

مصئونیت غذایی در جهان. بایگانی‌شده در ۲۹ دسامبر ۲۰۱۰ توسط Wayback Machine، بازدید در ۱۲ دی ۱۳۸۹

اصلاح الگوی مصرف و امنیت غذایی بایگانی‌شده در ۱۳ فوریه ۲۰۱۲ توسط Wayback Machine، بازدید در ۱۲ دی ۱۳۸۹ .

Maxwell, D. G. (1996). Measuring food insecurity: the frequency and severity of "coping strategies". *Food policy*, *21*(3), 291-303.

Maxwell, D., Caldwell, R., & Langworthy, M. (2008). Measuring food insecurity: Can an indicator based on localized coping behaviors be used to compare across contexts? *Food Policy*, *33*(6), 533-540.

Patel, R. (2013). Food sovereignty" is next big idea. *Financial Times*.

Pérez-Escamilla, R., & Segall-Corrêa, A. M. (2008). Food insecurity measurement and indicators. *Revista de Nutrição*, *21*, 15s-26s.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# پر حيواني محصولاتو باندي د اقليم بدلون د اغېزو مطالعه

علاوالدين مستمند[1*]، صدام مومند[2] اکبر جان زحمتي[3] او احمد رحيمي[4]
[1]مالدارۍ څانګه، حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
[2,3,4] د حيواناتو د جنيټيک او نسلګيرۍ څانګه، حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
[*]د مسؤل ليکوال ايميل ادرس: eng.mostamand@gmail.com

## لنډيز

دا بياکتنه د حيواناتو پر توليد باندي د اقليم بدلون د اغېزو ارزولو لپاره ترسره شوې ده. د اقليم بدلون په ځانګړي ډول د نړيوالې تودوخې زياتوالی د فارم حيواناتو د توليدي فعاليت لپاره يوه جدي ننګونه ده او په ټوله نړۍ کې د حيواني محصولاتو د کمښت لامل ګرځي. د محيطي تغيراتو له ډلې څخه تر ټولو مهم هغه فکتور دی چې د حيواناتو په توليد باندې مستقيم اغېز کوي، هغه د تودوخې لوړ فشار يا حرارتي استرس دی. په اقليمي عواملو کې بدلونونه لکه د تودوخې لوړېدل، د اورښت د اندازې تغيير، او د سختو پېښو لکه وچکالی د تکرار او شدت زياتوالی د فارم حيواناتو په توليدي فعاليت بد اغېز کوي. د حرارتي چاپېريال د بدلون له امله په ځانګړي ډول د شيدو غواګانې تر ټولو ډېر زيان ګالي، په ځانګړي توګه هغه چې لوړ جنيټيک توليدي ظرفيت لري. څېړنې ښيي چې کله د تودوخې د رطوبت شاخص (THI) له ۷۲ څخه پورته شي، د شيدو توليد په هر واحد کې نږدې ۰.۲ کيلوګرامه کميږي. همدارنګه، منځني شيدو ورکوونکي حيوانات د لوړيو او ناوخته توليدي پړاوونو په پرتله د حرارتي فشار پر وړاندې ډېر حساس دي، او کله چې حيوانات د شديد حرارتي فشار لاندې راشي، د شيدو توليد کې تر ۳۸٪ پورې کمی ليدل کيږي. توليدي زيانونو تر څنګ، اقليمي بدلون د حيواناتو په تکثيری فعاليت هم ژور اغېز کوي. تکثير چې په نورمال ډول يوه منظم شهواني پروسه ده، د لوړې تودوخې، زياتې رطوبت او د بدن د حرارتي توازن د ګډوډۍ له امله اختلال مومي. دا حالت په ډيرو فارمونو کې د شنډتوب او د بلاربوالي د کچې د ټيټوالي لامل کېږي. د دغو ستونزو په شتون کې يوه اساسي ستونزه رامنځته کيږي، چې هغه د اقليم بدلون د فکتورونو او د فارم حيواناتو د توليدي او تکثيري فعاليت تر منځ د دقيقې اړيکې معلومول او د دې اغېزو د جبران لپاره د اغېزمنو لارو پېژندل دي. له همدې امله، د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د مالدارۍ برخه کې علمي شواهد، کره شمېرې او تحليلي معلومات برابروي، څو د تصميم نيوونکو، مالدارانو، او څېړونکو لپاره د اقليم بدلون د اغېزو په کمولو کې لارښود وګرځي.

د څېړنې اصلي اهداف دا دي چې د حرارتي فشار اغېزې تحليل کړي، د توليدي او تکثيري فعاليتونو د کمښت عوامل وڅېړي، او د هغو تطبيقي ستراتيژيو ارزونه وکړي چې مالداران يې د اقليم بدلون سره د جوړښت په خاطر استعمالوي. د تودوخې او رطوبت زياتوالی د فارم حيواناتو په توليدي او تکثيري فعاليت خورا قابل ملاحظه منفي اغېز لري، او دا چې د تطبيق مناسبې ستراتيژۍ لکه د محلي نسلونو رواجول، د منابعو اغېزمن مديريت، او د بديلو تغذيوي ټيکنالوژيو پراختيا کولای شي د اقليم بدلون د اغېزو شدت په څرګند ډول راکم کړي.

**کليدي کليمې:** د اقليم تغير، د حيواناتو توليد، توافق، د اغيزو کمول

## ۱ .سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

تمه کيري چې د نړۍ نفوس به له (۵،۵) مليارد څخه په (۲۰۲۰) کې شاوخوا و (۸) مليارده ته لوړه شي. د دې په پايله کې د حيواناتو د توليد و زياتيدو ته په راتلونکو لسيزو کې ډېره تمه کيري (نړيوال بانک، 2002). د حيواناتو پراخه توليد په ټوله نړۍ کې په وچو او نيمه وچو سيمو کې ترسره کيږي (McCarthy, 2001 ). مالداري د لږ تر لږه 20 مليونو کوچياني کورنيو لپاره د ژوند يوازينی سرچينه ده

او په آسیا، افریقا او لاتین امریکا کې د لږ تر لږه 200 ملیون حیوانات لرونکو (مالداري) کورنیو لپاره د عاید یوه مهمه سرچینه ده (2002 ، نړیوال بانک). د حیواناتو پراخه تولید لاهم د افریقا د نیمه صحرایي په لرې پرتو سیمو کې د لوی شمیر خلکو لپاره د ژوندانه اسباب برابروي. بیا هم، په تیرو دریو لسیزو کې هر ډول لږ پرمختګونه شوي،

او دا سیمې د ټیټ تولید او د اقلیم د بدلونونو په وړاندې د خورا زیان منښي له امله ځانګړتیاوې لري (McCarthy, 2001 ). د مالدارۍ سکتور او اقلیم بدلون ترمنځ اړیکه تر ډېره حده پېچلې ده او عموماً ورته پاملرنه نه کېږي ;Reilly et al., 1996) McCarthy et al., 2001; Seo and Mendelsohn, 2007). په هر حال، مالداري په افریقا کې د غربت د کمولو او د کلیوالو پرمختګ لپاره حیاتي رول لوبوي (Nin et al., 2007; Seo and Mendelsohn, 2008; IUCN, 2010) . په افریقایي کلیوالو ټولنو کې د مالدارۍ تولید په پراخه توګه په طبیعي سرچینو، په ځانګړې توګه په څړځایونو او اوبو پورې تړلی دی Seo and) Mendelsohn, 2008; IUCN, 2010). د اقلیم بدلون به په مستقیم ډول د مالدارۍ په تولید باندې اغېز وکړي، د مالدارۍ د فعالیتونو پر اغېزمنتیا، او په غیر مستقیم ډول د چاپېریال پر حالت باندې اغېز وکړي ,.Adams et al., 1999; McCarthy et al) 2001; Calvosa et al., 2010).

## ۲ .د څېړنې تګلاره(Research Methodology)

دا څېړنه یوه تشریحي – تحلیلي **(Descriptive–Analytical)** بڼه لري او د موجودو علمي منابعو، څېړنو او نړیوالو رپوټونو په رڼا کې ترسره کېږي. د تګلارې عمده برخې داسې دي:

### ۲.۱ .د څېړنې ډیزاین(Research Design)

- د څېړنې ډیزاین غیر تجربي (Non-experimental) او تشریحي — تحلیلي دی.
- په څېړنه کې د ثانوي معلوماتو څخه کار اخیستل سوی دی لکه علمي مجلې، نړیوال رپوټونه(FAO, IPCC) ، کتابونه او موجودې علمي څېړنې.

## ۳. د حیواناتو په تولید باندې د اقلیم د بدلون اغیزې

د حیواناتو د روزنې سیستمونه په مستقیم ډول په نړۍ کې د لږ تر لږه ۶۰۰ میلیونه کوچنیو مالدارانو د معیشت ملاتړ کوي، چې ډېر یې په افریقا او جنوبي آسیا کې ژوند کوي(Thornton, 2010) .دا د کرنې یوه په چټکۍ سره وده کوونکې فرعي برخه ده، او د کرنې په ناخالص کورني تولید کې یې ونډه ۳۳ سلنه ده او لا پسې زیاتېږي، چې د نفوس د زیاتوالي، ښاري کېدو، او په پرمختیایي هېوادونو کې د عایداتو د زیاتوالي له امله رهبري کېږي. اټکل کېږي چې په افریقا او جنوبي آسیا کې به د ۲۰۵۰ کال پورې د ټولو حیواني محصولاتو لپاره غوښتنه نژدې دوه برابره سي (Alexandratos and Bruinsma, 2012).

له بلې خوا، په تېرو ۳۰ کلونو کې د اقلیم بدلون په نړیواله کچه د کرنیز تولید کچه په هره لسیزه کې ۱ تر ۵ سلنې پورې کمه کړې ده او همدارنګه د دوي پر کیفیت هم اثر واردوي(Porter et al., 2014).

د خوراک د اخیستو، تولیدي فعالیت، او تکثیر پر وړاندې د لوړې تودوخې زیاتېدو منفي اغېزې د حیواناتو پر ټولو ډولونو کې په معقول ډول درک سوي دي (Porter et al., 2014). علمي څېړونو و دې خبرې ته اشاره کړې چې د اقلیم بدلون د مالدارۍ تولید او مالدارۍ سیستمونو باندې اغېزه لري. د مثال په توګه، Thornton (2010)) د خپلې څېړنې په پایله کې دا وړاندي کړه چې د اقلیم بدلون تر ټولو سترې اغېزې به په پرمخ وده هیوادونو کې چې د مالدارۍ او ګډ سیستمونه لري ، څرګندې سي. په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې خلک یې لا دمخه اغېزمن سوي وي. د اقلیم بدلون سره د تطابق اړتیا او د شنو خونو ګازونو کمولو اړتیا به په بېلابېلو ځایونو کې د تولید په لګښتونو بېله شکه زیاتوالی راولي.

(Naqvi and Sejian, 2011) په وینا، د دې حقیقت له امله چې د مالدارۍ تولیدي سیستم د اقلیم بدلون په مقابل کې حساس دی او په ورته وخت کې خپله د دې پدیدې برخه جوړوي، د اقلیم بدلون د مالدارۍ د سکتور په پراختیا کې د یوې لویې ننګونې د رامنځته کېدو وړتیا لري. د اقلیم بدلون د دې ننګونې ځواب ورکول د دې سکتور لپاره د مناسبې تطابق او کمولو تګلارې جوړولو ته اړتیا لري. په کوچي او کرنیزکوچي سیستمونو کې مالداري د خلکو لپاره بنسټیز ارزښت لري، چې اقتصادي، ټولنیز او د خطرونو مدیریت په ګډون بېلابېلې دندې ترسره کوي.

د اقلیم بدلون اغېزې کولای سی چې د حیواناتو د سیستمونو زیانمنونکي وضعیت نور هم خراب کړي او هغه موجوده فکتورونه لا پسې زیات کړي چې په یوه وخت کې د څارویو د تولید سیستمونو باندې اغېز کوي،

لکه د نفوس او اقتصادي ودې چټکتیا، د خوراکي توکو (په ځانګړې توګه د حیواناتو) او محصولاتو زیاتیدونکې غوښتنه، او د کم پیدا سرچینو (لکه ځمکې، اوبو، او تیلو) پر سر باندې زیاتیدونکې شخړې د کلیوالو ټولنو لپاره، د حیواناتو شتمنۍ له لاسه

ورکول کیدای شي دوی د اوږدمهاله غربت په ګرنګ کې وغورځوي چې د دوی پر معیشت باندې به اوږدمهاله اغیزې ولري (IFAD, 2011).

### ۳.۱. مستقيمي اغيزې

حرارتي يا ګرم چاپيريال د اقليم لوی فکتور دی چې د حيواناتو پر توليد اغيزه کوي. په دې کې د هوا د تودوخې، نسبتي رطوبت، او د هوا د جريان ترکيب شامل دی. هغه اړيکي چې د دوي ښه شرايط بيانوي اکثرا د تودوخې د آرامی او هوسا زون په نوم ياديږي. په دې ارام زون کې، حيوانات ښه فعاليت کوي او لږ د انرژۍ مصرف ښکاره کوي. کله چې شرايط د دې ډول زون څخه پورته شي، نو د بدن د تودوخې د نورمال ساتلو لپاره و اضافي انرژي ته اړتيا ده چې د حيوان د توليد پروسه لږ اغيزمنه کيږي. کله چې د چاپيريال تودوخه د تودوخې د آرامی زون څخه بهر وي نو حيوانات د حرارتي فشار سره مخ کيږي. د تودوخې فشار ډير ستونزمن دی چې د ساړه فشار په پرتله ډير اغيز لري. د اقليم بدلون هم تقريبا يقينا د تودوخې زياتوالی دی چې ورسره يوځاي، د تودوخې فشار زياتيږي او سوړ فشار کميږي( Webber, H., Ewert, F., Olesen, and et al, 2018).

له همدې امله، دا ومونډل سوه چې د تودوخې فشار په حيواناتو منفي اغيزې لري. د متحده ايالاتو د حيواناتو صنعت اټکل شوی کلنی زيان چې د تودوخې فشار له امله رامينځته شوی د ۱.۷ او ۲.۴ مليارد ډالرو ترمينځ تخمين سويدي. د تودوخې فشار هغه وخت رامينځته کيږي کله چې حيوان نشي کولی د ځای او محل د تودوخې ساتلو لپاره کافي تودوخې تحليل کړي. دا ومونډل شوه چې د بدن د تودوخې زياتوالي سره د تنفس، نبض، او د زړه ضربان د زياتوالي سبب ګرځي. په نتيجه کی دا حالت کولای سی د خوراک د کمولو، د شيدو توليد، او بيا توليد موثريت (تکثير)، او همدارنګه د مړينې او د معافيت سيستم فعاليت کې د بدلون سبب وګرځي. لاندې، موږ دا اغيزې په تفصيل سره د بيولوژيکي ميکانيزمونو پر ځای د حيواناتو پر فعاليت باندې په ټينګار سره ورباندې بحث کوو (Reilly, J. M., Hrubovcak, J., Graham, and et al, 2002).




(۱) شکل: د حيواني محصولاتو او د اقليم تغير تر منځ و ارتباط ته يوه کتنه

#### ۳.۱.۱ د خوراکي توکو مصرف

د خوراکي توکو کمول د لوړ چاپيريالي تودوخې په مقابل کی يو ځوابيه غبرګون دی. د تودوخې تر لوړ فشار لاندې د شخوند وهونکو حيواناتو اشتها کميږي، د کولمو حرکت يې کميږي او شخوند يې کميږي.

که د محيطي تودوخې درجه د (۲۵ – ۲۶) سانتي ګراد څخه پورته سي نو شيدې ورکوونکې غواګانې د خوړو په اخستلو کې د کمښت ښکارندويي کوي او که د حرارت درجه له ( ۳۰ - سانتيګراد) څخه پورته سي نو بيا ډير چټک کمښت څرګندوي. وزې د نورو شخوند وهونکو حيواناتو په پرتله د تودوخې فشار په مقابل کی لږ حساس دي. په هرصورت، کله چې محيطي تودوخه د

دوی د تودوخې آرامی زون څخه (۱۰ - سانتيګراد) څخه زياته سي نو د دوی داوطلبانه تغذيه کميږي (Mader, T. L., & Davis, M. S. 2004).

چرګان هم چې کله د لوړې تودوخې سره مخ کيږي د خواړو مصرف کموي. د يوې اونۍ څخه تر شپږو اونيو په عمر چرګوړو لپاره کله چې د محيطي تودوخې زياتوالی د (۲۱،۲ – ۳۲،۲) سانتي ګراد پورې ورسيږي نو په خوراک اخيستنه کې يي (۹،۵) سلنه کمښت منځ ته راځي. د تغذيې په مينځ کې کمښت د تغذيې د تبادلې موثريت او د ورځني وزن زياتوالی لامل کيږي.

په عمومي ډول، د حيواناتو په ټولو ډولونو کې، د تودوخې فشار پورې اړوند د تغذيې کمښت د شيدو، غوښې او هګيو توليد کمولو سبب کيږي، چې په پايله کې د نورو سکتوري او ناحيوي زيانونو سبب کيږي (Herbut, P., Angrecka, S., Godyń, D., & Hoffmann, G. 2019).

### ۳.۱.۲ د حيواناتو توليد: شيدې او نور

(Ravagnolo et al, 2000) په خپلو مطالعاتو کې دا څرګنده کړه چې د لبنياتو صنعت د متحده ايالاتو د نورو حيواناتو سکتورونو په پرتله د تودوخې فشار پورې اړوند د ډېر اقتصادي زيان سره مخ دی. د تودوخې تر فشار لاندې، شيدو غواګانې د وچو موادو خوراک کموي چې په نتيجه کې د شيدو توليد کې نږدې (۳۵ ٪) د کمښت سره مخ کيږي. په عين حال کې، لکه څنګه چې د شيدو لوړ توليدونکي غواګانې غټې دي چې د لړ توليد ورکونکو نسلونو په پرتله ډېر ميټابوليک تودوخه خپروي، نو لوړ توليدونکي نسلونه د تودوخې فشار په مقابل کې ډېر حساسيت څرګندوي. چې په نتيجه کې، د شيدو توليد کميږي ځکه چې د تودوخې فشار له امله د ميټابوليک تودوخې توليد زياتيږي. د شيدو توليد سربيره، ګرم او مرطوب چاپيريال د شيدو په ترکيب هم اغيزه کوي. د (Ravagnolo et al, 2000 and Gorniak et al, 2014) په حواله ليکي چې هغه شيدې ورکوونکي غواګانې چې د تودوخې له فشار سره د (۷۲) تودوخې / مرطوب شاخص درجه او له دې کچې څخه پورته مخ سي ، د شيدو پروټين او د شيدو غوړ مواد د شاخص د لوړيدو سره کميږي. چې په دې حالت کې د وزو او ګاميښو د شيدو په جوړښت کې هم ورته بدلونونه موندل شوي دي مګر يوازې په محدوده توګه مطالعه سويده. د تودوخې د فشار په وسيله د د ټولو لويو تجارتي غوښينو حيواناتو د غوښې توليد هم اغيزمن شويدي. د تودوخې تر لوړ فشار لاندې شخوند وهونکي حيوانات د بدن اندازه، د غوښو د لاښ وزن، او د غوښو د غوړ ضخامت او د غوښې ټيټ کيفيت منځ ته راځي. کوچني شخوند وهونکي حيوانات، لکه وزې او پسونه، د ګرم او مرطوب چاپيريال سره ډېر توافق موندلي دی. (Berihulay, H., Abied, A., He, X., Jiang, L., & Ma, Y. (2019) .

کوم چرګان چې د تودوخې د لوړ فشار سره مخ کيږي د دوی د ودې په زياتېدو سره د بدن د تودوخې د شرايطو ساتلو په منظور د انرژي مصرف ډېريږي. د تودوخې تر لوړ فشار لاندی د غوښينو چرګانو وزن کميږي، د تغذيې د تبادلې اندازه يی کميږي، د پروټين غلظت يي کميږي، او د سينې د عضلاتو وزن يي هم کميږی. د هګی اچوونکو چرګو د هګيو د پوستکي ځواک، د ورځني خوراک مصرف، د هګيو د غټوالي اندازه، او د هګی توليد د نورو ځانګړتياوو په پرتله د تودوخې فشار سره ډېر حساس دي. برسېره پردې، د هګی د پوستکي کيفيت او د هګيو توليد کې د پام وړ کمښت په نسل ورکوونکو چرګو کې ليدل کيږي. د هګی کيفيت او توليد کې کمښت کوم چې د تودوخې د لوړ فشار له امله رامينځته سوی دي کيداي سي چې د غذايي کلسيم د علاوه کولو په وسيله دی نموړي مشکل حل سي. هغه حيوانات چې لوړه توليدي وړتيا لري، د اقليمي فکتورونو له اغېزو سره ډېر مخامخ کېږي، په ځانګړي ډول هغه حيوانات چې په استوايي سيمو کې ساتل کيږي، د لوړې هوا تودوخې او نسبي رطوبت له امله ستدلال کړی چې لوړې تودوخې د خوراک د کچې کمېدو، د شېدو د توليد کمېدو، او د انرژی د کمي لامل کېږي، چې ممکن د غواګانو حاصل ورکولو وړتيا، روغتيا او ژوند اوږدوالی کم کړي. د Chase (2006) لخوا د( Cornell Net Carbohydrate and Protein System) موډل په کارولو سره يوې څېړنې وښوده چې د يوې ۶۳۵ کيلو ګرامه وزن لرونکي غوا چې په ورځ کې ۳۶ کيلو شيدې توليدوي، د انرژی د اړتياوو کچه په ۳۲ سانتي ګراد تودوخه کې د ۱۶ سانتي ګراد په پرتله ۲۲ سلنه لوړيږي. د همدې تودوخې زياتوالي لپاره، Thornton et al. (2008) وړاندوينه کړې چې د وچ موادو خوراک به ۱۸ سلنه کم او د شېدو توليد به ۳۲ سلنه کم شي.

### ۳.۱.۳ تکثير او توليد

د تودوخې فشار د دواړو جنسونو (نارينه او ښځينه) په تکثير باندي اغيزه کوي. د ښځينه وو لپاره، د تودوخې لوړ فشار د استروس موده او د بلاربوالي درجه کموي پداسې حال کې چې د انيستروس او جنين مړينې پيښې هم زياتوي. د نارينه وو لپاره، د منی کيفيت، د خصيو حجم، او د القاح وړ سپرم مقدار کې کمښت منځ ته راځي. په دواړو جنسونو کې د تکثيري فعاليت کې د پام

وړ موسمي توپيرونو راپور ورکړل سويدي. که څه هم د چرګانو تکثير د تودوخې فشار لخوا اغيزمن کيږي، مرغان ممکن د تی لرونکو حيواناتو په پرتله په فعاليت کې هم توپير ښکاره کړي. راپور ورکړل شوی دي.

چې نارينه برائلر د ښځينه برائلرانو په پرتله د تکثير د عدم فعاليت په اړوند د لوړې تودوخې د فشار په وړاندې ډير حساس دي. د هګۍ اچوونکو چرګو لپاره، د چاپيريال لوړ فشار کولی شي د تخمدان پروسه وځنډوي، د هګيو د ژېړ کيفيت کم کړي، او هګۍ د بچې ورکولو وړتيا کمه کړي(.( Ayo, J. O., Obidi, J. A., & Rekwot, P. I. (2011).

### ۳.۱.۴ ناروغي او د پرازيټونو فشار

ډيری فکتورونه، په شمول د نوع، نسل، جغرافيائي موقعيت، د ناروغيو ځانګړتياوې، او د حيواناتو حساسيت، د حيواناتو په روغتيا باندې د اقليم بدلون په مؤثريت کی ونډه اخلي. پخپله د حيواناتو په شرايطو کې، د معافيت سيسټم د دوی د بدن لوېه دفاع ده چې دوی د چاپيريالي فشارونو او نورو زيان رسوونکو اثراتو څخه ساتي. د تودوخې لوړ فشار کولاي شي د حجرو منځګړيتوب او د معافيتي غبرګونونو په وسيله د معافيت په فعاليتونو باندی منفي اغيزه وکړي. د مثال په توګه، د ګرمې هوا جريان يا حالت کولاي شي چې حيوانات د ناروغيو په مقابل کی ډير حساس کړي او د ځينو ناروغيو پيښې زياتي کړي لکه (mastitis)، چې په ناروغی باندي مصابيت او د مړينې احتمال زياتوي((Chirico, J., Jonsson, P., Kjellberg, S., & Thomas, G. (1997). برسېره پردې، د تودوخې لوړ فشار کولا شي د نورو فعاليتي لارو له لارې د حيواناتو روغتيايي حالت اغيزمن کړي. د مثال په توګه، وده کونکي خرسان ممکن د کولمو د ټپونو سره مخ شي که چيرې د څو ساعتونو لپاره د شديدي تودوخې سره مخ شي. برائلر او لئير چرګانو په هکله هم راپور ورکړه شويدي چې که چيري د تودوخې د لوړ فشار سره مخ سي نو د کولمو د ميکروبي بدلونونو سره به مخ سي. په ورته وخت کې، د تودوخې زياتوالی ، بي وخته او بي موسمه بارانونه ممکن د ناروغيو او پرازيټونو پيښې ګړندی کړي. په داسي حالاتو کی کيدای شي چې د ناروغی / مړينې احتمال زيات کړي او اړوند اقتصادي زيان ورسوی. په حيواناتو کې د اقليم د بدلون په وسيله د منځ ته راغلي اثراتو او د ناروغی د طبيعي سير له وجهې بدلونونو له امله د نورو اغيزو په پرتله، د حيواناتو په ناروغی باندې د اقليم بدلون اغيزې اټکل کول خورا ستونزمن کار دي، د اغيزو دا ډول ارزونه مخ پر ودې هيوادونو کې لا هم ننګوونکې ده((Grace, D., Bett, B. K., Lindahl, J. F., & Robinson, T. P. 2015).

### ۳.۱.۵ مړينه

مړينه د تودوخې د لوړ فشار يو مهم اغيز دی چې د پام وړ اقتصادي زيانونه منځ ته راوړي. مطالعې ښيي چې د تودوخې لوړ فشار د شيدو غواګانو د مړينې کچه لوړوي. ګرمه او مرطوبه هوا د تودي او وچې هوا په پرتله د غواګانو لپاره ډير ژوند ګواښونکي ده، تر (۳۷.۷) درجې څخه لوړه د سانتيګراډ درجه چې نسبتي رطوبت درجه له (۵۰) فيصده څخه زياته وی ډيره خطرناکه ده.

د چرګانو د بدن تودوخه معمولا د تی لرونکو حيواناتو په پرتله لوړه او ډيره متغيره وي او دوی د تودوخې له لوړيدو سره ډير حساس دي. چرګان کولاي سي چی د محيطي تودوخې تر ۲۷ سانتي ګراد او يا د بدن د تودوخې تر ۴۱ سانتي ګراد پورې په نورمال ډول فعاليت وکړي، مګر که د بدن د حرارت درجه يې د ۴ درجو څخه زياته سی نو دا به د دوی لپاره وژونکي وي( Field, (C. B., & Barros, V. R. Eds, 2014).

### ۳.۲ غير مستقيم اغيزې

د حيواناتو خوراکي توکي اکثرا د علوفه جاتو او دانو / تيلي نباتاتو د محصولاتو څخه ترکيب سوی ده. د دې خوراکی توکو توليد د اقليمي تغيراتو (لکه د اوبو رسولو، د اوبو لګولو او د خاورې رطوبت فکټورونه) په وسيله اغيزمن کيږي.. په دې توګه د اقليم بدلون په غير مستقيم ډول اغيزې کوي، په ځانګړې توګه د اقليم اغيزې د خوړو او اوبو پر تهيه کولو او برابرولو باندی. دلته د علمي اثارو يوه لويه برخه شتون لري چې د اقليم د بدلون اغيزې د علوفه جاتو په توليد باندې تمرکز کوي،

او دلته موږ يوازې د اقليم د بدلون اغيزې د حيواناتو پر توليد باندي مطالعه کوو نه د علوفه جاتو پر توليد باندی (د بياکتنې لپاره، وګورئ (Reilly, J. M., et al, 2002).

### ۳.۲.۱ د علوفه جاتو کيفيت

د اقليم بدلون ممکن موسمي بڼه او د منابعو شتون او د نباتاتو حاصلاتو ته تغير ورکړي ، چې بالاخره د حيواناتو پر توليد باندې نوره اغيزه کوي. هر څومره چې د تودوخې څپو فريکونسی او موده زياتيږي، نو حيوانات به د اضافي تودوخې د لوړ فشار سره

مخ شي. (Knee et al. 2014) په خپلو څېړنو کی د غواګانو د عضلاتو په ګلایکوجن کې د پام وړ موسمي توپیرونه وموندل او همدارنګه دایي وموندل چې په پسرلي کې د غذايي موادو له رويه د بډايه څړځايونو شرايط د غوښې د ښه کيفيت سره تړاو لري او په دوبي کې د غذايي موادو څخه فقير بد څړځايونه د غوښې د خراب کيفيت سره تړاو لري. سربيره پردې، د علوفه جاتو او وښو د شتون په موجوديت کې بدلون کولی شي د څړځايونو مديريت او د حيواناتو مديريت لپاره اضافي ننګونې رامينځته کړي. د سختې وچکالی د خطر زياتوالی د علوفې او وښو مقدار تهديدوي، او د داسې سختو پيښو سره د مقابلې لپاره د مشکل د حل و ستراتيژيو ته اړتيا ده((Bai, Y., Deng, X., Zhang, Y., Wang, C., & Liu, Y. (2019).

د حيواناتو د (GHG) غازاتو اخراج په مستقيم ډول د حيواناتو د ساتنې له لارې رامينځته کيږي، په شمول د داخلي تخمر، خوشايي، او اړونده انرژي مصرف سره. غير مستقيم اخراج په عمده توګه د تغذيې توليد او د ځمکې د استعمال اړوند بدلون څخه لاسته راځي. ځينې مطالعې ښيي چې غير مستقيم اخراج د مستقيم اخراج څخه ډير دی، پداسې حال کې چې نور يې برعکس ښکاره کوي.

**۴. توافق**

د اقليم د بدلون سره توافق يا موافقت په ايکولوژيکي، ټولنيز يا اقتصادي سيستمونو کې و سمون ته اشاره کوي ترڅو د اقليم بدلون منفي اغيزې کمې کړي او مثبتې اغيزې يې زياتي کړي. په کرهنيز ترتيب کې د سمون، توافق د ايکولوژيکي بدلون يا انساني عمل له لارې واقع کيدای شي. د حيواناتو لپاره، طبيعي توافق او تطابق د مختلفو ميکانيزمونو پايله ده چې له لارې يې حيوانات د اقليم شرايطو سره توافق حاصل کړي. د انسانانو په توافق کې هغه عملونه او کړنې شاملې دي کوم چې کولای شي حيوانات سره د اقليم د بدلون سره توافق حاصل کړي او د حيواناتو فعاليت ته وده ورکړي. د حيواناتو په شرايطو کې، د توافق کړنې په دريو پراخو طبقو ويشل کيدای شي: د حيواناتو غبرګون يا عکس العمل، مديريتي کړنې، او سرچينې (Gaughan, J. B., Sejian, V., Mader, T. L., & Dunshea, F. R, 2019)

**۴.۱. د حيواناتو غبرګون يا عکس العمل**

حيوانات کولی شي د فزيولوژيکي، بايو کيمياوي، امينولوژيکي، اناتوميکي، او رفتار او سلوک غبرګونونو له لارې توافق وکړي. دلته، موږ د رفتار او سلوک عکس العملونو باندې تمرکز کوو. د حيواناتو د نورو د توافق ميکانيزمونو په اړه د جزياتو لپاره، وګورئ (Gaughan et.al, 2019). د تودوخې د فشار په وړاندې په عمومي ډول ليدل شوي غبرګونونه او عکس العملونه د خوړو کمول، د سيوري په لټه کې، د خولې او ضربان (ژر ژر ساکښلو) زياتوالی، د زياتو اوبو څښلو او اوبو څښلو ته د ميلان زياتوالی، د ولاړې او د دريدو د وخت زياتوالی او د پريوتلو يا د استراحت د وخت کموالي، او د مدفوع او ادرار کموالي پکښې شامل دي.

دا د يادونې وړ ده چې کورني حيوان په ندرت سره د يوه فشار سره مخ کيږي. د تودوخې پر فشار سربيره، د خوراک کمبود، د اوبو نشتوالی، او ضعيفه تغذيه کيدای شي يوځای واقع شي. حيوانات نشي کولی چې په بشپړ ډول د اقليمي فشارونو په مقابل کې پخپله ځان ته توافق حاصل کړي، نو په دې خاطر توليد کونکي ممکن د حيواناتو د توليد او ګټې ساتلو لپاره و مرستې ته اړتيا ولري(Gaughan, J. B., Sejian, V., Mader, T. L., & Dunshea, F. R, 2019).

**۴.۲. د انسان د توافق تګلارې**

د انسان د توافق په ستراتيژيو کې د نسل پالنې، د توليدي/ او مديريتي سيستمونو کې نوښتونه، او بنسټيزې او پاليسي بدلونونه شامل دي. دريم جدول د حيواناتو د مديريت د توافق ستراتيژيو لنډ لنډيز وړاندې کوي، او يو مفصل بحث يې په لاندې ډول دی.

**۴.۳ د حيواناتو نسلګيري او جنيتيک**

د نسل انتخاب په دوديز ډول د حيواناتو د توليد موثريت ته وده ورکولو لپاره کارول کيږي چې د حيواناتو په توليد کې په پراخ شکل زياتوالی اسانه کړی. په هرصورت، په ځينو مواردو کې د لوړ توليد لپاره ټاکل شوي اوسني نوعي د ميټابوليک تودوخې لوړ توليد لري

نو له همدې امله د تودوخې د لوړ فشار په مقابل کې ډير حساس دي. لکه څنګه چې د راتلونکي اقليم د تودوخې لوړه وړاندوينه کيږي، نو د تودوخې د زياتوالي سره، د نسل نيولو تخنيکونه او د نسل د ډول د انتخاب کړنې هم تغير وکړي. د حيواناتو په ډولونو

کې د تودوخې د لوړ فشار په غبرګون کې جنيټيکي توپير ليدل شوی او اندازه شوی دي. ځيني نسلونه د تودوخې د لوړ فشار څخه لږ اغيزمن شوي دي، لکه کوچني، سپک او خام رنګ لرونکي حيوانات. يا دا نسلونه کولی شي د تودوخې د لوړ فشار سره لوی فزيکي او فيزيولوژيکي تطابق ښکاره کړي. که دا ډول ځانګړتياوي ميراثي وي، نو د تودوخې د فشار د زغم لپاره دا انتخابي نسلونه بايد د اقليمي فشار په مقابل کی د حيواناتو د موافقت ښه کولو په خاطر استعمال سي. توليدونکي کولی شي نسلونه بدل کړي، د بيلګې په توګه، د ډيرو Bos indicus غواګانو استعمال (Zhang, Y. W., Hagerman, A. D., & McCarl, B. A. 2013).

### ۴.۴. فزيکي جزيي تغير شکل

د چاپيريال فزيکي جزيي تغير شکل هم ترسره کيدای شي او په پراخه توګه په دوه ډلو ويشل کيدای شي: دباندني او داخلي. د هغو حيواناتو لپاره چې په دباندنی ساحه کې لکه په څړځايونو يا چمنونو کې ساتل کيږي، يو ارزان لګښته د تطبيق طريقه د سيوري يا سايي برابرول دي. دا د لمر د وړانګو اثر کموي او د تودوخې فشار کموي. سپرينکلرونه او اوبه شيندونکي هم کولای شي د بدن د تودوخې په کمولو کې مرسته وکړي، او دوی په وچه هوا کې هم ډير اغيزمن دي.(Havlík, P. et.al., 2041) دا وړانديز وکړ چې د مختلفو ميتودونو يوځای استعمال ډير مؤثر دي. د مثال په توګه، د سپری کولو، اوبو شيندلو يوځايي استعمال د يو پوښلي طويلې سره د يوازې د اوبو شيندلو په پرتله يې ګټه لوړه ده.

د هغو حيوانات لپاره چې په کور کې ساتل کيږي، د هغوی د اوسېدو په ځايونو کې، کولای سو د ښه مؤثريت په خاطر دا لاندي فزيکي جزيي تغيرات انتخاب کړو (۱) د وينټيليشن (هواداره کول) د سيسټمونو استعمال يا اضافه کول، (۲) د تودوخې کمولو ساختماني موادو استعمال، او (۳) د تيزي هوا سرعت کمول د اوبو شيندلو ماشينونو ، او د يخنی راوړولو بالښتکونو استعمال. د ايرکنډيشن او پيډ کولنګ د تودوخې د فشار په کمولو کی ډير مرسته کوی.

### ۵.۴. د تغذيي مديريت

د تغذيې کړنې د تودوخې تر فشار لاندې د حيواناتو د فعاليتونو د ښه کولو په منظور تر سره کيږي. چې په دې کې د غذايي رژيم په جوړښت کې بدلون ، د تغذيه کولو په وخت او يا فريکونسی کې بدلون ، او د اوبو مديريت شامل دي. کومې کړنې چې د تودوخې د فشار په کمولو کې مرسته کوي عبارت دي له: د انرژي مينځپانګې زياتوالي ، د مغذي موادو او اليکټرولايټونو يا ځينې معدني موادو مصرف ، او د اوبو توازن ساتلو له لارې. په غواګانو او چرګانو کې چې د تغذيې په اړوند کوم نوښتونه او تعديلات څيړل شوي دي، عمومي اغيزه يې مثبته ده.(Mader, T. L., & Davis, M. S., 2004)

### ۶.۴. د حيواناتو د مديريت سيسټم

د حيواناتو د مديريت په توافق کې کولای سو د لاندې ستراتيژيو له جملې څخه يو يا څو برخه پکښې واخلي:

۱ – د حيواناتو د ډولونو تنوع: څو ډوله مالداري د توليد کونکي وړتيا لوړوي چې د بدليدونکي اقليم سره مقابله وکړي او د څړځايونو شرايطو کې اړوند بدلون تر څو د حيواني فارمونو و پايښت ته وده ورکړي.

۲ – د حيواناتو د ساتلو په کچه کې تنظيم او سمون: (Díaz-Solís et al, 2009) دا وموندله چې د حيواناتو د ساتلو په کچه کې تنظيم د مکسيکو په Coahuila ايالت کې پر غواو او ګيله ګيانو باندي د وچکالی اغيزې کمولو په منظور استعمال کړل (Mu et al. , 2013) وموندله چې په متحده ايالاتو کې، په دوبي کې څکه د غواګانو د ساتلو په کچه کې کمبود راولي

چې (temperature humidity index (THI) زياتيري او د باران کچه لوړيږي.

۳– د ځنګلونو يا فصلونو سره د حيواناتو د ساتلو د سيسټم ادغام: د خاورې پر خاصيتونو او د خاوري د غذايي توکو پر (cycling) باندې د دوی د مثبتو اغيزو له امله د حيواناتو ساتنه د علوفه اي نباتاتو له فصل سره مخلوط کول – يا د حيواناتو ساتنه او مالداری د ځنګلي ځمکي سره مخلوط کول کولای سي چې د خاورې په غنيتوب کې مرسته وکړي، کيمياوي سري استعمال کم کړي، او د فارم په سطحه د اقتصاد پيمانه لوړه کړي(Alves, B. J., Madari, B. E., & Boddey, R. M., 2017).

### ۵. د غازاتو د اخراج کچه کمول

د غازاتو د اخراج د کچې د کمولو په اړوند داسي معيارونه سته کوم چې د حيواناتو د شنو خونو د غازاتو GHG د اخراج کچه کموي . Gerber et al. (2013) ) و دې ټکي ته اشاره وکړه چې د حيواناتو د غازاتو د اخراج شدت د توليدي سيستمونو او سيمو ترمنځ خورا ډير توپير لري او د کمولو احتمال يې د مديريتي تخنيکونو ترمنځ په تشه کې موجود دی چې پايله يې د ټيټ او لوړ اخراج شدت دی. دوی اټکل وکړ چې د حيواناتو له سکتور څخه د غازاتواخراج (٪۱۸) لږ کړل کيدای شي که چيرې توليد کونکي (مالداران) په يو ورکړل شوي سيستم ، سيمه او اقليم کې هغه طرزالعملونه انتخاب کړي کوم چې اوس مهال د (٪۲۵) توليد کونکو (مالدارانو) لخوا پلي کيږي چې د اخراج سطحه يې ټيټه ده. او که (٪۳۰ ) مالداران استعمال شوي تخنيکونه وکاروي نو د لوړ اخراج کچه به يې و (٪۱۰) ته ورسيږي. موږ په (۳) جدول کې د احتمالي تخفيف ډيری معيارونه ليکلي دي چې په لاندې شکل وربانديې بحث کوو(Gerber, P. J., Steinfeld, H., and et al, 2019).

### ۵.۱. د ځمکې د سرچينو مديريت

په مالداري کی عمده او د پام وړ د غازاتو کمښت د حيواناتو په مديريت او د ځمکې په استعمال پوري اړه لري.د دې اټکل کيږي چې لوړترين د غازاتو پوټينشل د حيواناتو او څړځايونو مديريت څخه تر (۲۰۳۰) کال پورې د نړيوال کرهنيز ظرفيت احتمال نژدې (٪۷) دی(Thornton, et al., 2010). دغه احتمالي ستراتيژی عبارت دي له: د ښه څړځايونو انتخاب کول، د شخوند وهونکو حيواناتو غذايي رژيم لوړول، د شخوند وهونکو حيواناتو د نسلونو بدلون، د حواناتو د (Stocking Rate) د کچه کمولو او د مفرط څر د کمولو څخه.

(Havlík et al. ,2014) و دی ټکي ته اشاره وکړه چې د پام وړ د غازاتو د اخراج کموالی هغه وخت لاسته راځي چې د مالداري سيستم و داسي شکل ته واړو چي هم ښه مؤثر وي او هم و لږ ځمکي ته ضرورت ولري. دوی دا هم وموندله چې د غازاتو د کمولو پاليسي چې د ځمکې د استعمال په بدلون پورې اړوند اخراج په نښه کوي د هغو پاليسيو په پرتله چې يوازې د حيواناتو څخه اخراج په نښه کوي (۵ -۱۰) ځله ډير اغيزمن دي.

د ځمکې په استعمال پورې اړوند د غازاتو د کمولو بله کټګوري د کاربن د استخراج او کمپليکس جوړوني سره معامله کول دي، کوم چې په عمده توګه د حيواني غذايي علوفه جاتو په توليد پورې اړه لري. د کاربن د جلا کولو په کړنو کې د طبيعي منابعو ساتنه، د لوړ حاصلاتو توليد کوونکي علوفه اي نباتاتو انتخاب کول، د ځنګلونو د تخريب کمول، د علوفه اي نباتاتو د ځمکو اوښتون په واښه اي نباتاتو باندي ځمکې په شنو ځمکو بدلول، او د واښه اي نباتاتو و ډولونو ته وده ورکول شامل دي (Rojas-Downing, M. M., Nejadhashemi, and et al, 2017).

### ۵.۲. د داخلي تخمر مديريت

لکه څنګه چې پورته ذکر سوه، د شخوند وهونکو حيواناتو د ميتان د اخراج اصلي سرچينه د داخلي تخمر په پايله کی لاسته راځي. د دې اخراج سرچينه د غذايي مديريت او جنيتيک له لارې لږيدای سی. (Knapp et al. ,2014) دا وموندله چې د تغذيې او تغذيه کولو ستراتيژيو لکه د علوفه جاتو د هضم د وړتيا د ښه کولو له لاري کولاي سو چې د توليد شوي شيدو په هر واحد کې د داخلي ميتان اخراج (۲.۵ – ٪۱۵) کم کړو او که چيرې د جينيتيک او مديريتي کړونو سره يوځای شي ډير مهم کمښت ترلاسه کيدای شي. د تغذيې اضافه کونکي او سپليمينټ لکه انتي بيوټيکونه، ليپيدونه او دانه باب هم د داخلي ميتان اخراج کمولو لپاره ښه کار کولای سي .

### ۵.۳. د حيواني سرې يا خوشايو مديريت

د حيواناتو سرې دواړه ( $N_2O$ او $CH_4$ ) غازات اخراجوي، چي اکثره يې د ذخيره کولو او سمبالولو په ميتودونو پورې اړه لري. د حيواني سرې د ذخيره کولو نوي کړني کولا شي د سرې د GHG غاز اخراج کم کړي. چې په دې کې د ذخيره کولو موده لنډه، د ذخيره کولو د تودوخې درجه ټيټه، د جامد - مايع جلا کول، او د اوبو لږ استعمال شامل دي. د غيري هوازي هضم پروسې، کوم چې مايکرو ارګانيزمونه حيواني سرې د اکسيجن په نشتوالي کې ماتوي او تجزيه کوي يي، او د بايوګاز مخلوط توليدوي (په عمده توګه $CH_4$ او $CO_2$ ) نوموړي مخلوط کيدای شي چې د تودوخې يا د بريښنا توليد د لپاره د بايو انرژی په توګه کار ورکړي. د انيروبيک هضم او تجزيه کولای شي.

د دوديز سرې درملنې په پرتله د GHG په اخراج کې د (۳۰٪) کمښت سبب سي (Battini, F., Agostini, A., Boulamanti, .A. K., Giuntoli, J., & Amaducci, S. ,2014)

### ۵.۴. د کيمياوي سرې مديريت

د خوراکي علوفه اي نباتاتو په توليد کې د کيمياوي سرې استعمال د مالدارۍ سکتور ته منسوب د N2O په اخراج کې مرسته کوي. د اړونده غازاتو داخراج کمولو ستراتيژيو موخه د نايټروجن د کارونې موثريت زياتول دي.

له احتمالي کړنه او عمل چې د غذايي محصولاتو څخه د غازاتو د اخراج په کمولو کې مرسته کوي د حيواناتو د غذا په ډولونو کې له تغير څخه عبارت دي.(Pikaar et al. ,2018) د تغذيې د بديل په توګه د مايکروبيل پروټينونو (MP) د استعمال احتمال تحليل کړ ، ده دا وموندله چې نموړي پروتين کولاي سي چې د (۹ – ۱۰ ٪) د عادي علوفه اي نباتاتو پراساس د حيواني خواړو پروټيني ضرورت بدل کړي ، کوم چې د کرهنيزو شنو خونو ګازونو په اخراج کې د (۷٪) کمښت سبب ګرځي.

## ۶. پايله

د حواناتو توليد د بدلېدونکي اقليم له امله له ګواښ سره مخ دي. د دې دليل دا دي چې طبيعي څرځايونه، چې ډيری حيوان پالونکي يې د خپلو حيواناتو د تغذيې لپاره کاروي، د کيفيت او د علوفې د مقدار د کمبود له وجهي خرابيږي. برسېره پر دې، د اوبو سرچينې هم د باور وړ نه دي، ځکه کله ناکله د لوړو تودوخې او د باران د کمښت له امله وچيږي. حيوانات د زياتو تودوخې، د اوبو او خوراک کمښت، او ناپېژندل شويو ناروغيو له امله له منځه تللي دي. د اقليم بدلون په ټوله نړۍ کې، په ځانګړي ډول په پرمختيايي هيوادونو کې، د حيواناتو پر توليد اغېز کوي.

سره له دې چې په دې برخه کې ډير مطالعات ترسره شوي دي، خو بياهم په دې اړوند و نورو څېړنو ته اړتيا ليدل کيږي. لومړی، نوموړي کتابتوني څېړنه په عمده توګه په شخوند وهونکو حيواناتو باندې تمرکز کوي، خو نوري نوعي او ډولونه لکه چرګان او نورو حيوانات لږ تر پوښښ لاندي راغلي دي. کيداي سي چې دا حيوانات دي هم اغيزمن شوي وي، او ممکن د دوی توليدات حتی د شخوند وهونکو په پرتله ډير اغيزمن سوي وي. د چرګانو د غوښو ،او هګيو د في واحد توليد سوي پروټين په وسيله د غازاتو اخراج د غوايي د غوښي په پرتله د غازاتو د اخراج شدت ډير کم دي، او کيداي سي چی د غازاتو دداخراج د کمولو په ستراتيژيو کی ورڅخه ګټه واخيستل سي.په دې توګه، د غير شخوند وهونکو حيواناتو په اړه و څېړنو ته اړتيا سته. دوهم، دغه مقاله پر شنو ځمکو او څر ځايونو باندې د څر کونکو حيواناتو د روزنې پر سيسټمونو باندې قوي تمرکز سويدي، په داسې حال کې چې د مخلوط علوفه اي نباتاتو پر اساس ولاړ، د حيواناتو د روزنې سيسټم چې د نړۍ لپاره نيمايي خواړه توليدوي او په پرمختللو سيمو کې د ډيرو کورنيو سره مرسته کوي د دې ډول توليدي سيسټمونو حيواناتو په اړه و اضافي څېړنو ته اړتيا سته. دريم، د توافق او غازاتو کمولو ستراتيژۍ د ځای، ډولونو، او شرايطو سره سم په نړيواله کچه د تطبيق وړ نه دي. برسېره پر دې، ځينې انتخابي کړنې خورا ګراني او قيمتي دي او يا داچې يو شمير يې د پلي کيدو لپاره قوي سرچينې لري خو د ستراتيژيو ظرفيت يې محدود دی، لکه د شيدو، غوښې او هګيو لپاره غذايي اړتياوي د محلي شرايطو له مخې او د عايد، د اقليم د بدلون اغيزو په اړه پوهاوی. تجربه، د پور شرايط، او ډيری نور عواملو د حساب له مخې. په سيمه کي د مناسبو غازاتو کمولو او د مشخصو د توافق ستراتيژۍ د پېژندلو لپاره و څېړنې ته اړتيا ده ، په ځانګړې توګه د مخ پر ودې هيوادونو په شرايطو کې، او همدارنګه د پاليسي کړنلاري د هڅولو او پلي کولو لپاره. د دې کار د کولو لپاره و غوره معلوماتو، ميتودونو، او مبلغ ته اړتيا سته.

## ۷. وړانديزونه

له همدې امله، د اقليم بدلون سره د تطابق لپاره، د پرمختيايي هيوادونو مالداران بېلابېلې تطبيقي ستراتيژۍ کاروي، لکه د محلي اقليم سره تطابق شوي څارويو نسلونو روزنه، د څارويو ډولونو تنوع، د سرچينو مناسب مديريتي تمرينونه، او د بديلو خوراکي توليدي ټيکنالوژيو کارول. د هغو محلي نسلونو پېژندل او پياوړي کول چې د محلي اقليمي فشارونو او خوراکي سرچينو سره تطابق شوي او ياپې توافق موندلي دي، او د محلي نسلونو ښه کول د هغو نسلونو سره د کراس‌بريډينګ له لارې چې د تودوخې او ناروغيو پر وړاندې مقاومت لري. د کليوالو ښوزلو لپاره اغېزمن او د لاسرسي وړ تطبيقي تمرينونه بايد جوړ شي، ځکه هغوی نشي کولای چې ګرانې تطبيقي ټيکنالوژۍ وکاروي.

په دې عملي کړونو کی کيداي سی چې لاندي موارد شامل وي:

1. د سيوري او اوبو برابرول ترڅو د لوړو تودوخې له امله د تودوخې فشار راکم کړي. د طبيعي (ارزانه) سيوري برابرول د کليوالو بزګرو توليدونکو لپاره د ګرانو ايرکنډيشنونو په پرتله مناسبه حل لاره ده.
2. د اوبو د سرچينو ښه مديريت د محلي اوبو خوراکي سيستمونو لپاره د ساده تخنيکونو معرفي کول (لکه د څاڅکو او سپرې په واسطه خړوبول)، او همدارنګه د باراني اوبو د راټولو او ذخيره کولو لپاره د زيربنا جوړول، لکه د کورونو له بامونو سره وصل شوي ټانکونه او کوچني ځمکني او د ځمکې لاندې بندونه.

برسېره پر دې، د پرمختيايي هيوادونو حکومتونه بايد مناسبې داخلې برنامې رامنځته کړي. دا ډول برنامې کېدای شي د حيواناتو لپاره د ځښناک اوبو د کمښت د مخنيوي لپاره د لويو ځمکنيو بندونو او د اوبو کانالونو جوړول شامل کړي.

## اخځليکونه


Adams, R., McCarl, B., Segerson, K., Rosenzweig, C., Bryant, K., Dixon, B., Conner, R., Evenson, R. and Ojima, D. (1999), "The economic effects of climate change on US agriculture", in Mendelsohn,

Alexandratos N, Bruinsma J, 2012. World agriculture towards 2030/2050: the 2012 revision. FAO, Rome, Italy.

Allen, V. G., Batello, C., Berretta, E. J., Hodgson, J., Kothmann, M., Li, X., ... & Sanderson, M. (2011). An international terminology for grazing lands and grazing animals. Grass and forage science, 66(1), .

Alves, B. J., Madari, B. E., & Boddey, R. M. (2017). Integrated crop–livestock–forestry systems: prospects for a sustainable agricultural intensification. Nutrient Cycling in Agroecosystems, 108, 1-4.

Ayo, J. O., Obidi, J. A., & Rekwot, P. I. (2011). Effects of heat stress on the well-being, fertility, and hatchability of chickens in the Northern Guinea Savannah Zone of Nigeria: A review. International Scholarly Research Notices, 2011(1), 838606.

Bai, Y., Deng, X., Zhang, Y., Wang, C., & Liu, Y. (2019). Does climate adaptation of vulnerable households to extreme events benefit livestock production. *Journal of Cleaner Production*, *210*, 358-365.

Battini, F., Agostini, A., Boulamanti, A. K., Giuntoli, J., & Amaducci, S. (2014). Mitigating the environmental impacts of milk production via anaerobic digestion of manure: Case study of a dairy farm in the Po Valley. Science of the Total Environment, 481, 196-208.

Berihulay, H., Abied, A., He, X., Jiang, L., & Ma, Y. (2019). Adaptation mechanisms of small ruminants to environmental heat stress. Animals, 9(3), 75.

Cheng, M., McCarl, B., & Fei, C. (2022). Climate change and livestock production: a literature review. *Atmosphere*, *13*(1), 140.

Chirico, J., Jonsson, P., Kjellberg, S., & Thomas, G. (1997). Summer mastitis experimentally induced by Hydrotaea irritans exposed to bacteria. *Medical and veterinary entomology*, *11*(2), 187-192.

Field, C. B., & Barros, V. R. (Eds.). (2014). Climate change 2014–Impacts, adaptation and vulnerability: Regional aspects. Cambridge University Press.

Gaughan, J. B., Sejian, V., Mader, T. L., & Dunshea, F. R. (2019). Adaptation strategies: ruminants. Animal Frontiers, 9(1), 47-53.

Gerber, P. J., Steinfeld, H., Henderson, B., Mottet, A., Opio, C., Dijkman, J., ... & Tempio, G. (2013). Tackling climate change through livestock: a global assessment of emissions and mitigation opportunities.

Grace, D., Bett, B. K., Lindahl, J. F., & Robinson, T. P. (2015). Climate and livestock disease: assessing the vulnerability of agricultural systems to livestock pests under climate change scenarios. CCAFS Working Paper.

Havlík, P., Valin, H., Herrero, M., Obersteiner, M., Schmid, E., Rufino, M. C., & Notenbaert, A. (2014). Climate change mitigation through livestock system transitions. Proceedings of the National Academy of Sciences, 111(10), 3709-3714.

Herbut, P., Angrecka, S., Godyń, D., & Hoffmann, G. (2019). The physiological and productivity effects of heat stress in cattle–a review. Annals of animal science, 19(3), 579-593.

Mader, T. L., & Davis, M. S. (2004). Effect of management strategies on reducing heat stress of feedlot cattle: feed and water intake. Journal of Animal Science, 82(10), 3077-3087.

Model, E. A. (2017). The global livestock environmental assessment model. *Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO)*, 22-6.

Reilly, J. M., Hrubovcak, J., Graham, J., Abler, D. G., Darwin, R., Hollinger, S. E., ... & Tubiello, F. (2002). Changing climate and changing agriculture.

Rojas-Downing, M. M., Nejadhashemi, A. P., Harrigan, T., & Woznicki, S. A. (2017). Climate change and livestock: Impacts, adaptation, and mitigation. Climate risk management, 16, 145-163.

Thornton, P. K. (2010). Livestock production: recent trends, future prospects. Philosophical Transactions of the Royal Society B: Biological Sciences, 365(1554), 2853-2867.

Webber, H., Ewert, F., Olesen, J. E., Müller, C., Fronzek, S., Ruane, A. C., ... & Wallach, D. (2018). Diverging importance of drought stress for maize and winter wheat in Europe. Nature communications, 9(1), 4249.

Zhang, Y. W., Hagerman, A. D., & McCarl, B. A. (2013). Influence of climate factors on spatial distribution of Texas cattle breeds. Climatic change, 118, 183-195.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د چرگانو په غوښه کې د انتي بيوتيکونو د پاتې شونو مطالعه او عامې روغتيا ته يې پېښيدونکې زيانونه

پوهنيار حسن الله عرفان[١*]، پوهنمل نعيم جان عادل[٢]، پوهنيارعصمت الله رسا[٣]، نوماند پوهنيار قيمت گل درمل[۴]

[١*]د حيواني محصولاتو ذخيره او پروسيس څانګه،حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزوعلومواو ټکنالوژی ملي پوهنتون
[٢] د مالداری څانګه،حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزوعلومواو ټکنالوژی ملي پوهنتون
[٣] شاتومچيو، الوتونکو او کبانو روزنې څانګه،حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزوعلومواو ټکنالوژی ملي پوهنتون
[۴]د حيواني محصولاتو ذخيره او پروسيس څانګه،حيواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزوعلومواو ټکنالوژی ملي پوهنتون
[*]د مسول ليکوال: hassanullahirfan8@gmail.com

## لنډيز Abstract

دغه کتابتوني څېړنه د چرگانو په غوښه کې د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو مطالعه او عامې روغتيا ته يې پېښيدونکې زيانونو تر عنوان لاندې د دې هدف لپاره ترتيب شوي تر څو د چرگانو په غوښه کې د انتي بيوټيکونو پاتې شوني مطالعه او د عامې روغتيا لپاره کوم زيانونه لري واضح شي او خلکو ته وښودل شي چې په حيواني محصولاتو کې د کوم ډول انتي بيوټيکونو پاتې شوني شته او کومې ناروغي رامنځته کولای شی. د يادې کتابتوني څېړنې په ترتيبولو کې د مختلفو انټرنيټي سايټونو او نړيوالو مقالو څخه ګټه اخيستل شوي ده. لکه څرنګه چې په انساني او حيواني طبابت کې، انتي بيوټيکونه هغه کيمياوي مواد دي چې د ناورغيو د درملنې او مخنيوي په خاطر استعماليږي او دغه انتي بيوټيکونه په مصنوعي او نيمه مصنوعي ډول جوړيږي. د انتي بيوټيکونو پاتې شوني ميتابوليتونه دي چې په لږ مقدار سره د حيواني محصولاتو په هره د استفادې وړ برخه کې د انتي بيوټيکونو د تطبيق څخه وروسته پيدا کيږي. د يادې کتابتوني څېړنې پايلو وښودله چې په حيواني محصولاتو(غوښه،هګۍ او شېدو) کې د انتي بيوټيکونو پاتې شوني شتون لري چې د استعمال په وخت کې د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو د وتلو وخت بايد په پام کې ونيول شي. د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو له امله په انسانانو کې ډول ډول ناروغي رامنځته کيږی لکه سرطاني ناروغي،تنفسي ناروغي، د هډوکو د مغز غير نارمالتياوې، په سږو کې د وينې جمع کيدل، د لمر په وړاندې د حساسيت زياتوالي چې د انساني روغتيا لپاره يو جدي خطر دي.

**کليدي کليمې**: انتي بيوټيکونه.چرگان،روغتيا،غوښه،ناروغي

## سريزه Introduction

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسوله، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم: يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ وَكَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ﴾ (سورة الروم، آيت 19).

په انساني او حيواني درملو کې، انتي بيوټيکونه په طبيعي، مصنوعي او نيمه مصنوعي ډول توليد شوي کيمياوې مواد دي چې د بکتريا ضد فعاليت لري چې د ناروغۍ د درملنې، مخنيوي او همدارنګه هغه حيوانات چې غذايي مواد(غوښه،شېدې،هګۍ) ورڅخه په لاس راوړل کيږي په هغوی کې د ودې د تحريک په موخه د رګ، خولې او د پوستکي له لارې تطبيقيږي (Lan phillips et al., 2004). د چرگانو په غوښه کې د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو مطالعه او عامې روغتيا ته يې پېښيدونکې زيانونو تر عنوان لاندې څېړنه د دې هدف لپاره ترسره شوی تر څو هغه ستونزې چې د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو له امله د انسانانو روغتيا ته زيان رسوي د حل لارې ورته پيدا کړل شي او همدارنګه د دې څېړنې اهميت دا دي چې په پايله کې به يې هغه ناروغۍ چې د انتي بيوټيکونو د پاتې شونو له امله رامنځته کيږي وپيژندل شي.

د فارم په حيواناتو کې خصوصاً د چرگانو په سکتور کې، انتي بيوټيکونه، نه يوازې د ناروغيو د درملنې او مخنيوي په خاطر استعماليږي بلکې د ودې تحريکونکي په توګه په اوبو او هم په غذايي موادو کې کارول کيږي ترڅو د ټول flock روغتيا تامين

او توليد لوړ شي (Donoghue, 2003). د چرګانو غوښه ارزانه، په اسانۍ سره پیدا کیدونکې او د غذايي رژيم لپاره د مهمو مغذي موادو لرونکي ده او د پام وړ منرالونه، B complex ويټامينونه او ضروري غيرمشبوع شحمي اسيدونه په خاصه توګه Omega 3 شحمي تيزابونه لري (Gonzalez *et al.*, 2020 .-Esnaola) د چرګانو غوښه د ضروري پروټينو يوه مهمه سرچينه ګڼل کيږي او لکه څرنګه چې په ټوله نړۍ کې د مصرف کوونکو تقاضا زياتيږي، د چرګانو سکتور په چټکۍ سره وده کوي. د چرګانو په تجارت کې عموماً د ودې هڅوونکې کاروي لکه انتي بيوتيکونه ترڅو د چرګانو توليد ته وده ورکړي او د ناروغيو مخه ونيسي څکه چې تقاضا د شتون څخه زياته ده (Mohammadzadeh et al., 2022). د حيواناتو نسجونه او غذايي مواد لکه شيدې، هګۍ، د چرګانو غوښه او د نورو حيواناتو غوښه د انتي بيوتيکونو د استعمال څخه وروسته د انتي بيوتيکونو د پاتي شونو لرونکي وي (Almashhadany, 2019). د انتي بيوتيکونو په وړاندې مقاومت د انسانانو روغتيا ته يو لوی خطر دی چې د چرګانو په توليد کې د انتي بيوتيکونو ډيرې کارونې پايله کيدای شي. دا معلومه شوې ده چې د حيواناتو څخه لاسته راغلي خواړه، خوړل کيدای شي خلک د درملو سره د مقاومت کوونکو باکترياوو تر اغيزې لاندې راولي لکه سالمونيلا، Camphylobacter او Staphylocuccus (Landers et al., 2012)). دا تخمين شوې ده چې انتي بيوتيکي مقاومت هرکال په نړۍ کې د اووه ميليونو څخه ډير خلک وژني(Muhammad et al., 2020) . د حيواناتو او انسانانو په بدن کې رامنځته شويو انتي بيوتيکي تغيراتو د منځه وړلو لپاره وخت ته اړتيا ليدل کيږي چې دا د انسان روغتيا ته احتمالي خطر دی (Kozarova et al., 2001). Oxytetracyclin (OTC) يو له خورا عام انتي بيوتيکونو څخه دی چې په وترنري درملو کې کارول کيږي څکه چې پراخه تاثير لرونکی ، ټيټ قيمت او په اسانۍ سره د خولې له لارې په اوبو او غذايي موادو کې استعماليدی شي. د تيتراسايکلين ماليکول يا په مصنوعي ډول توليد شوی يا د فنګس Streptomyces rimosus څخه ترلاسه کيږي څکه چې په اوبوکې د حل کيدو وړتيا لري او د بدن په واسطه په سمه توګه نه جذبيږي او په خپله اصلي بڼه د بدن څخه ترشح کيږي (Slana and Dolenc, 2013). پراخه تاثيرلرونکي Aminoglycoside انتي بيوتيک لکه Gentamycin په پراخه کچه د وترنر ډاکترانو لخوا د مختلف ډوله باکتريايي انتاناتو د درملنې لپاره کارول کيږي (Goetting *et al.*, 2011). Ciprofloxacin يو Fluoroquinolone انتي بيوتيک دی چې د دوهم نسل پورې اړه لري، د DNA gyrase انزايم فعاليت منع کوي کوم چې د بکتريا د کروموزومونو د دوه چنده کيدو لپاره اړين دی، دا پروسه د مايکوپلازما انفکشن او دواړه ګرام مثبت او ګرام منفي باکترياوو په وړاندې پراخه تاثير لرونکی مقاومت رامنځته کوي(Xiao *et al.*, 2014). خوندي خواړه هغه محصولات دي چې له پاتي شونو څخه پاک وي، پدې معنی چې په نسجونو کې د پاتي شونو کچه د اړوندو مقرراتو سره سم د اعظمي پاتې شونو کچې(MRL) څخه ټيټه ده. د enrofloxacin لپاره (Maximum residue limit) د اروپايي اتحاديې لخوا رامنځته شوي. په غوښينو چرګانو کې د عضلاتو او پوستکي لپاره (MRL) 100µg/kg ، د ځيګر لپاره 200µg/kg او 300 µg/kg د پښتورګو لپاره. همدارنګه د يادونې وړ ده هغه چرګان چې د انسانانو د مصرف لپاره هګۍ توليدوي enrofloxacin پکې نشي کارول کيدای. په عين حال کې، د چرګانو په محصولاتو کې د اوکسي تتراسکلين پاتې شونو لپاره MRLS په عضلاتو کې 2000 µg/kg ، په ځيګر کې 6000 µg/kg او په پښتورګو کې 12000 µg/kg تعريف شوی (Abdel-Wahhabl,2024). د انتي بيوتيکونو سره عکس العمل د مستقيمو زهرجنو اغيزو سره تړاو لري لکه دمعدې مايکروبيوم ستونزې، د الرجي عکس العمل او همدارنګه د هډوکو د مغز غير نارمالتياوې. سربېره پردې، د انتي بيوتيک پاتې شونو سره د زيږون د مخه اوږد تماس ممکن په جنين کې د يو شمير ولادي اختلالاتو لامل شي (Chen *et* al., 2019).

## مواد او کړنلاره

د دې څېړنې تګلاره کتابتوني ميتود دی چې پکې د Google Scholar, Pubmed, Semintic Scholar او نورو پلټونکو سرچينو کې موجوده نړيوال معتبر ژورنالونه په نښه شوي. وروسته په نوموړو معتبرو ژورنالونو کې د موضوع اړوند وروستي چاپ شوی مقالې پلټل شوي،

تر موندلو وروسته د نوموړو انلاين سرچينو څخه يې سافټ شکل کمپيوټر ته ډاونلوډ شويدي. نوموړې مقالې په دقيقه توګه مطالعه شوي دي او د موضوع اړوند معلومات د هرې مقالې څخه يادداښت او لنډيز يې را ايستل شوی او په پښتو ژبه باندې ژباړل شوي دي. په پای کې د ټولو مقالو څخه راټول شوي معلومات تر ترتيب او تنظيم وروسته د مقالې په بېلابېلو برخو کې د اړتيا په اساس ځای پر ځای شويدي.

## د انټي بيوټيکونو لوی ټولګي (Major classes of antibiotics)

انټي بيوټيکونه کيدای شي د هغوي د کيمياوي جوړښت او يا د عمل د ميکانيزم په اساس ګروپ بندي شي . انټي بيوټيکونه په ځينو فرعي ګروپونو ويشل کيږي چې عبارت دي له :
Betalactams,amphenicols,tetracyclines,macrolides,aminoglycoside,fluoroquinolones او داسی نور (walsh,2016).

**1: Betalactams**

د بيتا لکتام جوړښت د دريو کاربن اتومونو او يو نايتروجن اتوم څخه جوړ دی او دوی د بکتريا په حجروي ديوال باندې حمله کوي. د مثال په ډول Penicillins,ampicillin,cloxacillin او amoxicillin .

**2: Amphenicols**

دا د Phenylpropanoid جوړښت لرونکي انټي بيوټيکونه دي . دوی په 50S د بکتريا رايبوزوم فرعي واحد کې د Peptidyle transferase انزايم فعاليت منع کوي لکه Chloramphenicol,thiamphenicol,azidamphenicol او florfenicol .

**3: Tetracyclines**

دا انټي بيوټيکونه دي چې څلور هايدرو کاربن حلقې لري. دوی د وينې د بکتريايي ناروغيو د درملنې لپاره کارول کيږي لکه Oxytetracycline,Chlortetracycline او tetracycline .

**4. Aminoglycosides**

دوی د aminocyclitol حلقه لري او د بکتريايي پروټين د جوړيدو څخه مخنيوي کوي لکه Streptomycin, Gentamycin,neomycin او Spectinomycin .

**5: Macrolides**

دوی بنسټيز او شحم خوښونکي انټي بيوټيکونه دي چې 14 فرعي غړي لري چې د ګرام مثبت او ګرام منفي بکترياوو د منځه وړلو او د انفکشني ناروغيو د درملنې لپاره په غواګانو، پسونو او چرګانو کې کارول کيږي لکه tylosine,erythromycin او Lincomysin.

**6: Fluoroquinolones**

دوی د فلورين اتوم لري چې د مرکزي حلقوي سيستم سره وصل دي او د ودې هڅوونکو په توګه کارول کيږي . دوی د نيوکليک اسيد د جوړيدو څخه مخنيوي کوي لکه Ciprofloxacin,enrofloxacin او norfloxacin .

## په څارويو کې د انټي بيوټيکونو کارول :

**1: انټي بيوټيکونه د ودې هڅوونکي په توګه Antibiotic as growth promoters**

د ودې هڅوونکي په توګه د انټي بیوټیکونو د عمل میکانیزم د انټي بیوټیکونو او د کولمو مایکروبیوټا عمل پورې اړه لري( Dibner and Richard,2005 ) . ځینې وختونه د انټي بیوټیکونو ټیټ ډوزونه د غواګانو او چرګانو په غذا کې د ودې هڅوونکي په توګه کارول کیږي (Anadon,2006).

**2: انټي بیوټیکونه د درملنې او مخنیوي په توګه Antibiotics as therapy and prophylaxis**

په ځانګړو شرایطو کې د انټي بیوټیکونو کارول ترسره کیږي ځکه د انټي بیوټیکونو اساسي رول په چټکۍ سره د ناروغي رامنځته کوونکو حجراتو د منځه وړل دي. ځینې وختونه دغه ناروغي رامنځته کوونکي مایکروارګانیزمونه د حیواناتو حجرات تخریبوي او د ودې مانع یي ګرځي.

## د انټي بیوټیکو پاتې شوني

Antibiotic residues د انټي بیوټیکونو پاتې شوني میتابولیتونه دي چې په لږ مقدار سره د حیواني محصولاتو په هره د استفادې وړ برخه کې د انټي بیوټیکونو د تطبیق څخه وروسته پیدا کیږي. په حیواناتو کې د انټي بیوټیکو پاتې شونو قبلول د اعظمي پاتې شونو کچې څخه اضاضه په انسانانو او حیواناتو کې د انټي بیوټیکونو په وړاندې مقاومت رامنځته کوي او د بکتریا نفوس چې مخه د انټي بیوټیکونو سره حساس وو مقاوم شي . دا ډول مقاومت د بکتریا په جینوم کې د تغیراتو په نتیجه کې رامنځته کیږي . په بکتریا کې دغه مقاومت کیدای شي د تغیراتو په اساس ترلاسه شي او په عمومي ډول سره د لوړو حجراتو ته انتقالیږي.عموماً،مقاومت د مقاومو جینونو د افقي انتقال پواسطه د Strains او نوعو تر منځ رامنځته کیږي. د جینونو تبادله د transformation,transduction او conjugation په واسطه ممکنه ده او د ترلاسه شوي مقاومت میکانیزمونه د مختلفو لارو په واسطه واقع کیدای شي او په لاندې شکل کې د انټي بیوټیکونو مقاومت په انتقال کې دري اساسي پروسې شاملې دي هغه راښايي:




۱ شکل: د انټي بیوټیکونو مقاومت په انتقال کې دري اساسي پروسې شاملې دي هغه راښايي

## د چرګانو په غوښه کې د انټي بیوټیکو پاتې شوني (Antibiotic residues in chicken meat)

د نړۍ په کچه په تجارتي ډول د چرګانو صنعت د غوښې او هګیو په بڼه د حیواني پروټین تر ټولو لوی عرضه کوونکي سرچینه ده . د دی اهمیت حتی مخ پر ودې هیوادونو کې ډیر دی، معمولاً د کوچنی کورنی لپاره پروټین او عاید دواړه چمتو کوي( Lee et al.,1996). په چرګانو کې د انټي بیوټیکونو کارول شتون لري د دوی په اغیزمنه توګه تولید ته لاره هواره کړي او د چرګانو روغتیا ته یي وده ورکړې

لکه د ناروغیو د پیښو کموالی، مګر د دې انټي بیوټیکونو غیرقانوني کارول، د لیبل د لارښوونو نه مراعات کول او همدارنګه د Withdrawal period د پوره کیدو څخه مخکې د چرګانو حلالول د دې لامل کیږي تر څو د انټي بیوټیکو پاتې شوني د چرګانو په غوښه کې پاتې شي او د انسان په روغتیا باندې منفي احتمالي اغیزې لري(Donoghue et al.,2003). Al Ghamdi په 2000 م کال د سعودي عربستان په ختیځ ولایت کې د انټي بیوټیکو پاتې شوني د چرګانو په عضلاتو،ځیګر او هګیو په نمونو کې مطالعه کړې وه چې 33 نمونې د غوښینو چرګانو او 5 نمونې د هګۍ ورکوونکو چرګانو د فارمونو څخه راټولې شوي وې. د انټي بیوټیکونو پاتې شوني د غوښینو چرګانو په 23 نمونو کې مثبت وه چې 69.7% او د هګۍ ورکوونکو چرګانو په فارمونو کې په 3 نمونو کې

چې 60% کېږي مثبت وه . د ټولو انټي بيوټيکونو پاتې شوني د غوښينو چرګانو په عضلاتو کې لږ تر لږه يو Tetracycline مرکب لپاره مثبت وه چې 87% په عضلاتو او 100% په ځيګر کې وه. په داسي حال کې چې 73.9% د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د دوه يا زياتو Tetracycline لپاره په دغه دوه انساجو کې مثبت وه.(Al. Ghamdi, 2000) Sahid او د هغه ملګرو په 2007 کال کې 100 د چرګانو د انساجو نمونې چې (33 د ځيګر، 33 د پښتورګو او 34 د عضلاتو وي) د راولپنډۍ او اسلام اباد د يو محلي مارکيټ څخه راټولې شوې وې او د دوي د مشاهداتو په نتيجه کې معلومه شوه چې 13 نمونې د ځيګر (39.4%) ، 9 نمونې د پښتورګو (27.3%) او 7 نمونې د عضلاتو (20.6%) د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو لپاره مثبت وه (Sahid et al., 2007). يوه څېړنه چې په2019 کال کې د اندونيزيا هيواد په Yogyakarta ښار کې د چرګانو په غوښه او هګيو کې د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو د معلومولو په خاطر ترسره شوی وه او پايلو وښودله چې: 24 نمونې د چرګانو د غوښې او 24 نمونې د چرګانو د هګيو د يو محلي مارکيټ څخه راټولې شوي وې. دغه نمونې د bioassay ميتود په کارولو سره د Penicillin,aminoglycoside,macrolide او د Tetracycline د پاتې شونو د معلومولو په خاطر معاينه شوی وه نو پايلو څرګنده کړې وه چې 8.33% د 24 نمونو څخه 2 نمونې د Oxytetracycline د پاتې شونو لپاره په غوښه کې مثبت وه. په داسي حال کې چې 75% د 24 نمونو څخه 18 نمونې د Penicillin د پاتې شونو لپاره په هګيو کې مثبت وه او د امينو ګلايکوسايډ مثبت پاتې شوني 12.5% وه (widiasih et al.,2019).
يوه څېړنه چې په 2016 کال کې د Yaseer Shahbazi او د هغه د ملګرو له خوا د ايران هيواد په Kermanshah سيمه کې د دې په خاطر ترسره شوی وه تر څو د چرګانو په هګيو کې د انټي بيوټيکونو پاتې شوني مطالعه کړي. د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره 120 هګۍ چې منځني وزن يې 60 ګرامه وه په تصادفي ډول د Kermanshah د سوپر مارکيټونو څخه راټولې شوی وې او وروسته د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو د معلومولو په خاطر د Four plate test(FPT) ميتود څخه په استفادې مطالعه شوی وه او همدارنګه پايلو څرګنده کړې چې په معاينه شويو هګيو کې 3.3% د انټي بيوټيکونو پاتې شونو لپاره مثبت وه او د هګيو په ژېړو کې د Tetracycline پاتې شوني موجود وه(Shahbazi et al.,2016). يوه څېړنه چې په 2015 کال کې د Razzagh Mahmoudi او Reza Norian لخوا د ايران په دريو ښارونو(تبريز،ارميا او اردبيل) کې د دې په خاطر ترسره وه تر څو د اينروفلوکساسين پاتې شوني په هګيو کې مطالعه کړي. د څېړنې پايلو وښودله چې د ايران د شمال لويديځو سيمو له بازارونو څخه په تصادفي ډول 150 د چرګانو هګۍ راټولې شوې او د انټي بيوټيکونو د معلومولو لپاره د دوو طريقو څخه کار اخيستل کيده چې يوه طريقه Four plate test(FPT) او بل د ELISA ميتود وه. د FPT پايلو څرګنده کړه چې تر 60.66% نمونې د 150 نمونو څخه 91 نمونې د انټي بيوټيکونو په پاتې شونو باندې ککړې وې. د اردبيل ښار(42.85%) او د تبريز ښار(27.27%) د هګيو نمونې د ککړتيا لوړه او ټيټه سلنه درلوده. د ELISA پايلو وښودله چې په FPT کې د 91 مثبتو نمونو څخه 78 نمونې (85.71%) د Enrofloxacin لپاره مثبتې وې. د ELISA پايو وښودله چې د اردبيل ښار د هګيو په نمونو کې د ککړتيا لوړه کچه (43.58%) وه (Mahmoudi and Norian,2015).

## د انسان روغتيا ته متوجه ګواښونه د انټي بيوټيکو د پاتې شونو پورې اړه لري

## Human health risks associated with drug residues

د چرګانو په محصولاتو(غوښه،هګۍ) کې د وترنري درملو پاتې شوني په بالقوه توګه د دې محصولاتو له لارې انسانانو ته ليږدول کيدای شي او د ککړو شويو محصولاتو مصرف ممکن ډير پتالوژيکي تغيرات رامنځته کړي چې د سترو روغتيايي ستونزو په توګه ګڼل کيږي. د چرګانو غوښه چې د انټي بيوټيکو د پاتې شونو پواسطه ککړه شوې وي د عامې روغتيا لپاره په مختلفو شکلونو سره جدي خطرونه رامنځته کوي لکه د انټي بيوټيکو په وړاندې مقاومت لرونکي بکترياوو انکشاف، د الرژي رامنځته کيدو او يا د هاضمي سيستم د نورمالې مايکروفلورا بدلون په غير صحي مايکروفلورا (Mumtaz et al.,2000).

د مثال په ډول، د بيتالکتام پاتې شوني چې پنسيلين او Cephalosporin په کې شامل دي او داسي راپورونه ورکړل شوي دي چې د پوستکي د التهاب، د پوستکي د تخريب،Anaphylaxis او په انسانانو کې د هاضمي سيستم مشکلات د چرګانو د ککړو توليداتو د مصرف په پايله کې رامنځته کيږي (Paige, 1997). د پنسلين پاتې شوني د خلکو په لوی تناسب کې د زيان د رامنځته کيدو له امله ستونزمن ګڼل کيږي،اکثره يې حساسيت لري(Babapour,2012). سربيره پردې،په چرګانو کې د پنسلين پاتې شوني د شديدو anaphylactic عکس العملونو باعث ګرځي. په داسي حال کې چې هګۍ په لوړ غلظت سره د سلفاناميډونو پاتې شوني لري او د مصرف پر مهال يې د پوستکي حساسيت رامنځته کوي(Idowu et al.,2010). په يوه غذايي رژيم کې چې د انسانانو د مصرف په خاطر اماده شوی وو او د Tetracycline د پاتې شونو کچه په کې څېړل شوې وه نو داسي راپورونه يې په اړه

ورکړل شوي وه چې د جنين کمزوري پرمختګ لامل کيږي، په کوچنيو ماشومانو کې د غاښونو داغونه، د معدې اختلالات او په معافيتي سيستم کې پتالوژيکي تغيرات رامنځته کوي (Lawal et al.,2015). په ورته ډول،د Tilmicosin پاتې شوني د وينې په هيماتولوژيکي فکتورونو اغيزه کوي لکه د وينې سپين کرويات (W.B.C) ، د وينې سره کرويات (R.B.C) او د وينې د بيوشيمکي پارامترونو په غلظت کې تغيرات رامنځته کوي لکه مکمل پروټين،البومين،کلسترول او ترای ګلسرايډ (Eslayed et al., 2014). پداسې حال کې چې د ځينو درملو پاتې شوني لکه Nitromidazole او Nitrofuran-3 په انسانانو کې د مختلفوسرطانونو لامل کيږي (Anderson et al., 2003).

## په روغتيا باندې د انتي بيوټيکونو مزمنې اغيزې Chronic health effects of antibiotics

په ځينو مطالعاتو کې د انتي بيوټيکونو مزمن تاثيرات چې په روغتيا باندې ښودل شوي دي په لاندې ډول دي:

### Oxytetracycline :1

Oxytetracycline يو پراخه تاثير لرونکي انتي بيوټيک دی چې په حيواناتو کې د ډول ډول انتاناتو د درملنې او ودې هڅوونکي په توګه کارول کيږي. د Oxytetracycline اوږدمهاله استعمال له امله په وينه کې ځيني تغيرات رامنځته کيږي چې عبارت دي له:Leucocytosis, Atypical lymphocytes ، په سږو کې د وينې جمع کيدل، د granulocytes زهری کيدل او Thrombocytopenia purpura . په بدن کې هغه ارګانونه چې په زياته اندازه کلسيم ولري او د هغوي د تخريب باعث ګرځي لکه غاښونه او هډوکي او ځيني وخت د پزې خاليګاه د تخريب سبب ګرځي. ځيني نور تاثيرات يې عبارت دي له : د لمر په وړاندې د حساسيت زياتوالي ، ټوخی او ساه لنډي ، همدارنګه ټوکسيکولوژيکي مطالعاتو ښودلې چې دا درمل نه سرطان پيدا کوونکي، نه په جينونو کې تغيرات رامنځته کوونکې او نه د زيږون پر مهال خطر رامنځته کوونکی خاصيت لري .

### Erythromycin: 2

د اريترومايسين د استعمال له امله په ماشومانو کې Pyloric stenosis د رامنځته کيدو احتمال شته او دا هغه حالت دی چې د ژوند په لومړنيو مياشتو کې د شديدو استفراقاتو لامل کيږي(Maheshwai,2007) . د زړه د برخو پوره نه جوړيدل Cardiac malformation د هغه ميرمنو په ماشومانو کې ليدل شوی چې د اميندواری په لومړيو کې يې اريترومايسين اخيستي وه(Fao.J,1989).

### *Chloramphenicol :3*

کلورامفينيکول د بکتريا د ودې مخه نيونکي د ميکروب ضد مواد دي چې په وترنري درملو کې کارول کيږي او دا موندل شوې ده چې سرطان پيدا کوونکي خاصيت لري او هغه حيوانات چې د انسانانو لپاره غذايي مواد برابروي او د کارولو لپاره قابل قبول ماده نه جوړوي. د امريکا متحده ايالات،کاناډا، اروپايي اتحاديه او همدارنګه ځيني نور هيوادونه د غذايي موادو په توليد کې د کلورامفينيکول استعمال مکمل منع کړي. په انسانانو کې چې کوم مطالعات ترسره شوي په هغوی کې د سرطاني ناروغيو او د جينونو د زهري کيدنې خاصيت په درلودلو سره د ځيګر، وينې او پښتورګو لپاره زهري خواص لري.

د کلورامفينيکول اوږدمهاله او يا تکراري استعمال له امله د مربوطه ارګان د خرابيدو او د هډوکي د مغز د زهري کيدو سبب ګرځي او د کلورامفينيکول د استعمال تر ټولو ناوړه اغيزه دا ده چې aplastic anemia رامنځته کوي(Payne et al.,1999).

### *Ampicillin :4*

Ampicillin د پنسلين مشتق بي لکتام انتي بيوټيک دی چې په پراخه کچه په غواګانو،شاتومچيو او چرګانو کې د خوراکې او يا اوبو له لارې استعماليږي چې د ځينو ناروغيو څخه مخنيوي کوي. هغه کارګران چې د انتي بيوټيکونو جوړولو په فابريکو کې کار کوي د ampicillin او اړوند مادې د تنفس په واسطه په ساه لنډۍ او eosinophilia ناروغی اخته کيږي(Davfes et al.,1974).

**د درملو د پاتې شونو د وتلو وختونه Withdrawal times of drugs**

د درملو د پاتې شونو د وتلو وخت د هغه وخت څخه عبارت دی کله چې درمل حیواناتو ته تطبیق شي تر څو په هدف وړ انساجو کې د درملو د پاتې شونو غلظت یو خوندي حالت ته ورسیږي. دا وقفه د دې لپاره اړینه ده تر څو هغه تولیدات چې په مصرف رسیږي د درملو د پاتې شونو زهري تاثیرات راکم او یا یې مخنیوي وکړي(Apley,2003). برسېره پردې، دغه د هدف وړ نسجونه په عامه توګه د ځیګر او پښتورګو څخه عبارت دي تر څو د دې ارګانونو له لارې د درملو پاتې شوني اطراح شي(Beyene,2016). د ځینو درملو د پاتې شونو د وتلو وخت په ۱ جدول کې ښودل شوي دي (Ngangom et al., 2019).

**۱ جدول:** د ځینو درملو د پاتې شونو د وتلو وخت راښایي

| د انټي بیوټیک نوم | د درملو د پاتې شونو د وتلو وخت (په ورځو) |
|---|---|
| اوکسي تتراسیکلین | 15-35 |
| اریترومایسین | 2-14 |
| امپسیلین | 6-15 |
| تتراسکلین | 5 |
| جنتامایسین | 0 |

## د چرګانو په غوښه او هګیو کې د انټي بیوټیکونو د پاتې شونو اندازه

یوه څېړنه چې د Sattar او د هغه د ملګرو لخوا په 2014 کال کې د بنګله دیش هیواد په Chittagong ښار کې د هګۍ ورکوونکو او غوښینو چرګانو په غوښه کې د انټي بیوټیکونو د پاتې شونو د معلوملو په خاطر ترسره شوي وه. د غوښینو چرګانو په عضلاتو(سینه،ورون،پښتورګي او ځیګر) کې د انټي بیوټیکونو د معلوملو په خاطر د دوو میتودونو څخه کار اخیستل شوی چې یوه طریقه د ultra high performance liquid chromatography(UHPLC) او بله طریقه د thin layer chromatography(TLC) وه. د (TLC) میتود د غوښینو چرګانو په انساجو کې د Tetracyclin,Amoxicilin,Ciprofloxacin او Enrofloxacin د پاتې شونو د معلوملو په هدف کارول شوي وه او د UHPLC)) میتود د غوښینو چرګانو په انساجو کې د انټي بیوټیکونو د مقدار د معلوملو لپاره کارول شوي وه. د څېړنې پایلو ښودلې وه چې: د Tetraycline پاتې شوني په ځیګر کې 48%، په پښتورګو کې 24%، د ورون په عضلاتو کې 20% او د سینې په عضلاتو کې 24% وه. د Ciprofloxacin پاتې شوني په ځیګر کې 44%، په پښتورګو کې 42%، د ورانه په عضلاتو کې 34% او د سینې په عضلاتو کې 30% وه. د Enrofloxacin پاتې شوني په ځیګر کې 40%، په پښتورګو کې 34%، د ورانه په عضلاتو کې 22% او د سینې په عضلاتو کې 22% وه. د انټي بیوټیکونو د پاتې شونو لوړه اندازه په ځیګر کې وه لکه Tetracycline(48%),Ciprofloxacin(44%),Enrofloxacin (40%) او Amoxicillin(42%) او د انټي بیوټیکونو تر ټولو ټیټه اندازه د سینې په عضلاتو کې وه. برسېره پردې، د غوښینو چرګانو د غوښې څخه 9 مثبت نمونې د Amoxicillin د پاتې شونو د مقدار د معلوملو په هدف انتخاب شوي وې چې د UHPLC)) میتود څخه استفاده شوې وه او دا وموندل شوه چې په ځیګر کې د Amoxicillin د پاتې شونو غلظت د 16.92µg/kg څخه تر 152.62µg/kg پورې او د سینې په عضلاتو کې د 45.38µg/kg څخه تر 60.55µg/kg وه. د چرګانو په انساجو کې ځیګر د نورو نمونو په پرتله د انټي بیوټیکونو د پاتې شونو لوړه کچه درلوده مګر توپیر د پام وړ (P>0.05) نه وه(Sattar et al.,2014).

همدارنګه یوه بله څېړنه د Prajapeti او د هغه د ملګرو لخوا د 2016 کال د جون میاشتې څخه تر 2017 کال د مې میاشتې پورې د نیپال هیواد په درېو ښارونو Kaski,Kathmandu او Chitwan کې ترسره شوې وه او د دې څېړنې هدف دا وه تر څو د چرګانو په غوښه کې د انټي بیوټیکونو پاتې شوني مطالعه کړي. د دې څېړنې د ترسره کولو لپاره د غوښینو چرګانو د سینې د غوښې څخه 92 نمونې انتخاب شوې وې چې 30 نمونې د Kathmandu د ښار څخه، 40 نمونې د Kaski د ښار څخه او 22 نمونې د Chitwan د ښار څخه په تصادفي ډول د مختلفو پلورنځیو څخه ترلاسه شوي وې او د عامو کاریدونکو انټي بیوټیکونو د معلوملو په خاطر د ELISA(enzyme linked immunosorbent assay) د تخنیک څخه کار اخیستل شوی وه. د دې 92 نمونو څخه 57(62%) نمونې د انټي بیوټیکونو د پاتې شونو لپاره مثبت وې چې 38% نمونې د Streptomycin د پاتې شونو لپاره مثبت وې، 15.2% د Ciprofloxacin د پاتې شونو لپاره مثبت وې او 8.7% د Enrofloxacin لپاره مثبت وې او د Chloramphenicol د پاتې شونو لپاره هیڅ نمونه مثبت نه وه. د نورو انټي بیوټیکونو په نسبت د Streptomycin اندازه په ټولو ښارونو کې لوړه وه. د

Kaski د ښار د غوښو په نمونو کې د Streptomycin د پاتې شونو اندازه تر ټولو لوړه (56.1%) وه. په داسي حال کې چې د Ciprofloxacin د پاتې شونو اندازه په Kathmandu ښار کې تر ټولو لوړه اندازه (16.1%) درلوده او د نورو ښارونو په نسبت د Enrofloxacin د پاتې شونو کچه په Kathmandu ښار کې لوړه وه (Prajapati et al.,2018). همدارنګه يوه بله څېړنه چې د Onurdag او د هغه د ملګرو لخوا په 2013 کال د ترکيې هيواد د انقرې په سيمه کې ترسره شوي وه. د دې څېړنې اساسي هدف دا وه تر څو د چرګانو او غواګانو د غوښو نمونو څخه 118(51.1%) د Quinolones د پاتې شونو لپاره مثبت وي.

د چرګانو د غوښو 127 نمونو څخه 58(45.7%) نمونې او د غواګانو د غوښې 104 نمونې د Quinolones د پاتې شونو لپاره مثبت وي(Onurdag et al.,2018). همارنګه يوه بله څېړنه چې د بنګله ديش په هيواد کې د Saiful Islam او د هغه د ملګرو لخوا په 2020 کال کې ترسره شوي وه تر څو د چرګانو په هګيو کې د انټي بيوټيکونو پاتې شوني مطالعه کړي او د څېړنې پايلو وښودله چې د هګيو د 300 نمونو څخه 81(27%) نمونې د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو لپاره مثبت وي. 40.7% نمونې د Macrolides او Betlactams د مشتقاتو د پاتې شونو لپاره مثبت وي. 39.5% د Tetracycline او Betalactams د مشتقاتو د پاتې شونو لپاره او 19.8% د Aminoglycosides د پاتې شونو لپاره مثبت وي،همدارنګه په دې څېړنه کې يوه نمونه د سلفانامايډونو د پاتې شونو لپاره مثبت نه وه(Islam et al.,2020).

## پايله

لکه څرنګه چې د غوښينو او هګۍ ورکوونکو چرګانو په فارمونو کې انټي بيوټيکونه د ناورغۍ د درملنې او مخنيوي په خاطر د مختلفو لارو په واسطه تطبيقيږي لکه رګ،پوستکي،خوله او داسي نور. د حيواناتو نسجونه او غذايي مواد لکه شېدې، هګۍ، د چرګانو غوښه او د نورو حيواناتو غوښه د انټي بيوټيکونو د استعمال څخه وروسته د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو لرونکي وي. د انټي بيوټيکونو په وړاندي مقاومت د انسانانو روغتيا ته يو جدي خطر دي چې د چرګانو په صنعت کې د انټي بيوټيکونو د زياتې کارونې په پايله کې رامنځته کيدای شي. د چرګانو په غوښه کې د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو له امله د انسانانو روغتيا ته ډول ډول خطرات رامنځته کيږي لکه دمعدې مايکروبيوم ستونزې، سرطاني ناروغي،تنفسي ناروغۍ، د الرجي عکس العمل او همدارنګه د هډوکو د مغز غير نارمالتياوې. سربېره پردې، د انټي بيوټيک پاتې شونو سره د زيږون د مخه اوږد تماس ممکن په جنين کې د يو شمير ولادي اختلالاتو لامل شي نو د دي لپاره چې د يادو ناروغيو مخنيوي شوي وي اړينه ده تر څو د مختلفو حيواني محصولاتو(غوښه،شېدې او هګيو) د استعمال په وخت کې Withdrawal period په پام کې ونيول شي خصوصاً هغه حيواني محصولات چې د فارمونو څخه لاسته راغلي وي.

## سپارښتنې

١ : د کرنې، اوبو لګولو او مالداري او همدارنګه د عامې روغتيا وزارتونو ته لازمه ده چې عامو خلکو ته په غوښه او نورو حيواني محصولاتو کې د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو د خطرونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه برابر کړي.

٢ : د ولايتونو د ښاروالیو رياستونو ته لازمه ده چې د چرګانو غوښې ته هغه وخت په بازار کې د خرڅون اجازه ورکړي کله چې د غوښې معاينات ترسره کړي او ډاډ يې ترلاسه شوی وي چې غوښه د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو څخه پاکه ده.

٣ : فارم لرونکو ته لازمه ده چې د مختلفو حيواني محصولاتو (غوښه،شېدې او هګۍ) بازار ته د وړاندې کولو په وخت کې د انټي بيوټيکونو د پاتې شونو د وتلو وخت Withdrawal period مراعات کړي.

## مأخذونه


Abdel-Wahhabl, R. M., Hussein, H. K., ElBarbary, M., & Mahmoud, H. A. (2024). Overview on Some Antibiotic Residues in Poultry Meat. *Alexandria Journal of Veterinary Sciences*, *81*(1).

Al-Ghamdi, M. S., Al-Mustafa, Z. H., El-Morsy, F., Al-Faky, A., Haider, I., & Essa, H. (2000). Residues of tetracycline compounds in poultry products in the eastern province of Saudi Arabia. *Public health*, *114*(4), 300-304.

Al-Mashhadany, D. A. (2019). Detection of antibiotic residues among raw beef in Erbil City (Iraq) and impact of temperature on antibiotic remains. *Italian journal of food safety*, *8*(1).

Anadón, A. (2006). WS14 the EU ban of antibiotics as feed additives (2006): alternatives and consumer safety. *Journal of Veterinary Pharmacology and Therapeutics*, *29*, 41-44.

Anderson, A. D., Nelson, J. M., Rossiter, S., & Angulo, F. J. (2003). Public health consequences of use of antimicrobial agents in food animals in the United States. *Microbial Drug Resistance*, *9*(4), 373-379.

Apley, M. (2003). How do violative residues happen in swine?. *Pork Safety Sheet. National Pork Board, Iowa State University. USA, 56*.
Babapour, A., Azami, L., & Fartashmehr, J. (2012). Overview of antibiotic residues in beef and mutton in Ardebil, North West of Iran. *World Appl Sci J*, *19*(10), 1417-22.
Beyene, T. (2016). Veterinary drug residues in food-animal products: its risk factors and potential effects on public health. *J Vet Sci Technol*, *7*(1), 1-7.
Chen, J., Ying, G. G., & Deng, W. J. (2019). Antibiotic residues in food: extraction, analysis, and human health concerns. *Journal of Agricultural and Food Chemistry*, *67*(27), 7569-7586.
Davfes, R. J., Hendrick, D. J., & Pepys, J. (1974). Asthma due to inhaled chemical agents: ampicillin, benzyl penicillin, 6 amino penicillanic acid and related substances. *Clinical & Experimental Allergy*, *4*(3), 227-247.
Dibner, J. J., & Richards, J. D. (2005). Antibiotic growth promoters in agriculture: history and mode of action. *Poultry science*, *84*(4), 634-643.
Donoghue, D. J. (2003). Antibiotic residues in poultry tissues and eggs: human health concerns? *Poultry science*, *82*(4), 618-621.
Donoghue, D. J. (2003). Antibiotic residues in poultry tissues and eggs: human health concerns? *Poultry science*, *82*(4), 618-621.
Elsayed, M., Elkomy, A., Aboubakr, M., & Morad, M. (2014). Tissue residues, hematological and biochemical effects of tilmicosin in broiler chicken. *Veterinary Medicine International*, *2014*(1), 502872.
Er, B., Onurdağ, F. K., Demirhan, B., Özgacar, S. Ö., Öktem, A. B., & Abbasoğlu, U. (2013). Screening of quinolone antibiotic residues in chicken meat and beef sold in the markets of Ankara, Turkey. *Poultry science*, *92*(8), 2212-2215.
Esnaola-Gonzalez, I., Gómez-Omella, M., Ferreiro, S., Fernandez, I., Lázaro, I., & García, E. (2020). An IoT platform towards the enhancement of poultry production chains. *Sensors*, *20*(6), 1549.
Fao, J. (1989). Toxicological evaluation of certain food additives and contaminants. In *Thirty Seventh Meeting of JECFA; WHO Food Additives Series* (No. 28, p. 219).
Gaudin, V., Cadieu, N., & Sanders, P. (2005). Results of a European proficiency test for the detection of streptomycin/dihydrostreptomycin, gentamicin and neomycin in milk by ELISA and biosensor methods. *Analytica chimica acta*, *529*(1-2), 273-283.
Goetting, V., Lee, K. A., & Tell, L. A. (2011). Pharmacokinetics of veterinary drugs in laying hens and residues in eggs: a review of the literature. *Journal of veterinary pharmacology and therapeutics*, *34*(6), 521-556.
Idowu, F., Junaid, K., Paul, A., Gabriel, O., Paul, A., Sati, N., & Jarlath, U. (2010). Antimicrobial screening of commercial eggs and determination of tetracycline residue using two microbiological methods. *International Journal of Poultry Science*, *9*(10), 959-962.
Islam, K. S., Sarkar, S. K., & Shiraj-Um-Mahmudac, S. (2020). Studies on veterinary antibiotic residues in chicken eggs and their public health significance in Bangladesh perspective. *Veterinary Medicine and Public Health Journal*, 115-119.
Kozarova, L., Mate, D., & Cabadaj, R. (2001). Methods for the determination of sulfonamides residues in milk and animal n products In: Proceeding of Lectures and Posters of the International Conference Hygiena Alimentorium XXIII. *Strbske Pleso, High Tatras, SR. p159-163*.
Landers, T. F., Cohen, B., Wittum, T. E., & Larson, E. L. (2012). A review of antibiotic use in food animals: perspective, policy, and potential. *Public health reports*, *127*(1), 4-22.

Lawal, J. R., Jajere, S. M., Geidam, Y. A., Bello, A. M., Wakil, Y., & Mustapha, M. (2015). Antibiotic residues in edible poultry tissues and products in Nigeria: A potential public health hazard. *International Journal of Animal and Veterinary Advances*, *7*(3), 55-61.
Lee SueJan, L. S., Lin ChinShiung, L. C., & Chen MaoChiang, C. M. (1996). Antibiotic residues in milk following treatment with antibiotics for lactating dairy cows, 145-155.
Maheshwai, N. (2007). Are young infants treated with erythromycin at risk for developing hypertrophic pyloric stenosis? *Archives of disease in childhood*, *92*(3), 271-273.
Mahmoudi, R., & Norian, R. (2015). Determination of enrofloxacin residue in chicken eggs using FPT and ELISA methods. *Journal of Research and Health*, *5*(2), 159-164.
Mohammadzadeh, M., Montaseri, M., Hosseinzadeh, S., Majlesi, M., Berizi, E., Zare, M., & Conti, G. O. (2022). Antibiotic residues in poultry tissues in Iran: a systematic review and meta-analysis. *Environmental Research*, *204*, 112038.
Muhammad, J., Khan, S., Su, J. Q., Hesham, A. E. L., Ditta, A., Nawab, J., & Ali, A. (2020). Antibiotics in poultry manure and their associated health issues: a systematic review. *Journal of Soils and Sediments*, *20*, 486-497.
Mumtaz, A., Awan, J. A., & Athar, M. (2000). Rational use of drugs in broiler meat production. *Int. J. Agric. Biol*, *2*(3), 269-272.
Ngangom, B. L., Tamunjoh, S. S. A., & Boyom, F. F. (2019). Antibiotic residues in food animals: Public health concern. *Acta Ecologica Sinica*, *39*(5), 411-415.

Paige, J. C., Tollefson, L., & Miller, M. (1997). Public health impact on drug residues in animal tissues. *Veterinary and Human Toxicology*, *39*(3), 162-169.

Payne, M. A., Baynes, R. E., Sundlof, S. F., Craigmill, A., Webb, A. I., & Riviere, J. E. (1999). Drugs prohibited from extralabel use in food animals. *Journal of the American Veterinary Medical Association*, *215*(1), 28-32.

Phillips, I., Casewell, M., Cox, T., De Groot, B., Friis, C., Jones, R., & Waddell, J. (2004). Does the use of antibiotics in food animals pose a risk to human health? A critical review of published data. *Journal of antimicrobial Chemotherapy*, *53*(1), 28-52.

Pikkemaat, M. G., Rapallini, M. L., Oostra-van Dijk, S., & Elferink, J. A. (2009). Comparison of three microbial screening methods for antibiotics using routine monitoring samples. *Analytica chimica acta*, *637*(1-2), 298-304.

Prajapati, M., Ranjit, E., Shrestha, R., Shrestha, S. P., Adhikari, S. K., & Khanal, D. R. (2018). Status of antibiotic residues in poultry meat of Nepal. *Nepalese Veterinary Journal*, *35*, 55-62.

Sattar, S., Hassan, M. M., Islam, S. K. M., Alam, M., Al Faruk, M. S., Chowdhury, S., & Saifuddin, A. K. M. (2014). Antibiotic residues in broiler and layer meat in Chittagong district of Bangladesh. *Veterinary World*, *7*(9).

Shahbazi, Y., Hashemi, M., Afshari, A., & Karami, N. (2015). A survey of antibiotic residues in commercial eggs in Kermanshah, Iran. *Iranian Journal of Veterinary Science and Technology*, *7*(2), 57-62.

Shahid, M. A., Muhammad Siddique, M. S., Muhammad Abubakar, M. A., Arshed, M. J., Muhammad Asif, M. A., & Arfan Ahmad, A. A. (2007). Status of oxytetracycline residues in chicken meat in Rawalpindi/Islamabad area of Pakistan, 8-15.

Slana, M., & Dolenc, M. S. (2013). Environmental risk assessment of antimicrobials applied in veterinary medicine—a field study and laboratory approach. *Environmental toxicology and pharmacology*, *35*(1), 131-141.

Walsh, C., & Wencewicz, T. (2016). Major classes of antibiotics and their modes of action. *Antibiotics: Challenges, Mechanisms, Opportunities; ASM Press: Washington, DC, USA*, 16-32.

Widiasih, D. A., Drastini, Y., Yudhabuntara, D., Maya, F. L. R. D., Sivalingham, P. L., Susetya, H., & Sumiarto, B. (2019). Detection of antibiotic residues in chicken meat and eggs from traditional markets at Yogyakarta City using bioassay method. *Acta VETERINARIA Indonesiana*, 1-6.

Xiao, R., He, Z., Diaz-Rivera, D., Pee, G. Y., & Weavers, L. K. (2014). Sonochemical degradation of ciprofloxacin and ibuprofen in the presence of matrix organic compounds. *Ultrasonics sonochemistry*, *21*(1), 428-435.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# په جستو سره د غنمو بيولوژيکي بډاينه او د خوارځواکی په مخنيوي کي د هغه ارزښت

عبدالشکور کريمي[1*]، سيد احمد سيدي[2]

[1]ارزګان د لوړو زده کړو موسسه، کرهني پوهنځي، اګرانومي څانګه

[2]انستو پوهنتون، د نباتي علومو پوهنځي،بايو ټکنالوژی څانګه

مسؤل ليکوال: karrimi786@gmail.com

## لنډيز

خوارځواکي او په ځانګړي توګه د جستو (Zinc) کمښت د نړۍ په کچه ، خصوصاً مخ په وده هيوادونوکي، د انسانانو له پاره يوه لويه روغتيايي مسئله ده چي شاوخوا 1.1 ميليارد نفوس د هغه له خطر سره مخ ديکي. د هغه خوړو کارول چي د جستو اندازه يې په ورځ ورځني ټولو خوړوکي تقريباً تر اته ملی ګرامه (8 mg) کمه وي، په وجود کي د جستو د کمښت عمده لاملو نو څخهيو لامل بلل کيږي. په وجود کي د جستو کمښت د ړوندوالي، د عقل کچي د کموالي، کمزوره معافيتي سيستم، د فزيکي او ذهني پرمختګ د خرابېد او ګڼو نورو ستونزو لامل بلل کېږي. په دې برخه کې په جستو سره دغنمو بيولوژيکي بډاينه (Biofortification) يو ښه او مناسبه تکلاره ګڼل کېدای سي، دا ځکه چې مخ په وده هيوادونوکي د زياتره وګړو اساسي غذا د غنمو توليدات تشکيلوي. نوپه دی اساس، په جستو سره د غنمو بډاينه کولاي سي د هغه د کمښت اړوند ستونزي تر يو بريده کنټرول کړي. د نباتو د بيولوژيکي بډايني په برخه کي د نباتي نسل اصلاح او اګرانوميکي چاري، لکه د جست لرونکو سرو استعمال، شامليږي. جنيتيکي تخنيکونه مغلق دي خو پايښت لري په داسي حال کي چي اګرانوميکي تخنيکونه لنډ مهاله، چټک او اقتصادي دي. داچي د جست عنصر د درنو فلزاتو له ډلي څخه دی، نو دوامدار مراقبت يي اړين دی ترڅو پر کرنيزو خاور او نباتاتو يي د منفي اغيزو څخه مخنيوی وسي. په دې مروري مقاله کي موږ په نباتاتو او انسانانو کي د جستو اهميت، د کمښت مهمي ستونزي او د هغه له کمښت سره د مبارزي له پاره، په ځانګړی ډول، د غنمو پربيولوژيکي بډاينه تر بحث لاندي نيولي ده.

**کليدي کلمې:** بيولوژيکي بډاينه، جست، خوارځواکي، غنم

## سريزه

الحمدلله الذی زين الرجال باللحی والنساء بالذوائب ، والصلاة والسلام علی سيد رسله محمد وآله واصحابه، وعلی من عمل بسنته الی يوم الدين.

امابعد: جست (Zn) يو اړين مايکروترينټ دی چي د نباتاتو په ميتابوليزم کي برخه اخلي. په خاوره کي د جستو کارول د جوار د داني په توليد کي مهم رول لري او په دانه کنبي د جستو د غلظت د زياتوالي لپاره يوه اغيزمنه ستراتيژي ده، مګر د غذايي موادو په جذب او بايوفورټيفيکيشن باندي د جستو سري د علاوه کولو اغيزې لاهم ډيرو مطالعاتو ته اړتيا لري (Saad Elsayed et al., 2024).

د غلودانو له ډلي څخه غنم د مخ په وده هيوادونو کي د وګړو له پاره د خوړو او تغذيي لويه سرچينه ده (Cakmak, 2008) چي د انرژي او پروټينونو په چمتو کولو کي مهم رول لري، (Shewry, 2009; Chattha et al., 2017a, 2018). د يادولو وړ ده غنم د کليوالي سيمو اوسيدونکو ته هره ورځ له 70% څخه ډېره کالوري انرژۍ چمتو کوي. سربيره پردې د مخ په ودې نړۍ له پاره د جست (Zn) په ګډون د کم لګښته غذايي موادو لويه سرچينه هم ده (Cakmak, 2008). په تغذيوي پروګرام کي د غنمو زيات مصرف په بدن کي د جست د کمښت سبب کيږي، ځکه چي د غنمو دانه په ميراثي توګه جست په ټيټه کچه او فايتيک اسيد (phytic acid) په زياته اندازه لري چي په انسانانو کي د جست بيولوژيکي لاس رسی نور هم کموي (Ma *et al.*, 2008).

سربيره پردې، د غنمو پروسس کول د اوړو د جوړولو له پاره د جست اندازه نوره هم کموي ځکه چي د پروسس په جريان کي جست ضايع کيږي(Oghbaei and Prakash, 2016). جست يو مهم غذايي عنصر دی

چي د انسانانو او نبات د ودي له پاره اړين بلل کېږي (Hafeez *et al.*, 2013). جست د انسانانو د معافيتي سيستم پر مختلفو اړخونو اغېزه کوي (Shankar and Prasad, 1998) ، او د حجرو د غوره فعاليت له پاره هم ورته اړتيا سته (Prasad,2008). جست د نباتاتو د ښې ودي او لوړ حاصل له پاره هم يو اړين غذايي عنصر بلل کېږي چي د کاربن انهايډريس ( carbon anhydrase) او هايدروجنيز (hydrogenase) په شمول د مختلفو انزايمونو په فعاليت کي د ونډي له لاري د نبات په ميټابوليزم کي مهم رول لوبوي (Maret, 2013). په حجروي کچه د جين د فعاليت په سمون کي هم اړين دی او د فشار په شرايطو کي د نبات وده ښه کوي (Cakmak, 2000; Gauci *et al.*, 2009).

د جستو کمښت پر روغتيا باندي منفي اغېزه کوي، چي دا تأثير د نړۍ لوی نفوس تر برق لاندي نيسي اګرانوميکي طريقه په خاوره کي د Zn د کمښت سره د مبارزې لپاره يو ممکنه طريقه ده(Obaid et al., 2022).

د لږ لګښته عناصرو په منځ کي د جست کمښت په انسانانو کي يوه پراخه ستونزه ده (Welch and Graham, 2004) )؛ په نړيواله کچه له 1.1 مليارد ځخه ډېر خلک د جست د کمښت له خطر سره مخ دي (Kumssa *et al.*, 2015) دا ستونزه مخ پرودې هيوادونو کي خورا پراخه ده. راپورونه ښيي چي هر کال له 0.5 ميليونه ځخه زيات د 5 کلونو ځخه کم عمر لرونکي ماشومان د جست د کموالي له امله مړه کېږي (Black *et al.*, 2008). د اوسپني (Fe)، ويټامين A او جستو کمښت په نړۍ کي له اساسي روغتيايي ننګونو ځخه دي او د ببړني حل اړتيايي ليدل کېږي (WHO, 2002). د ترکيې، پاکستان او ايران په ګډون په بېلابېلو هيوادونو کي د خاوري ډېره برخه د جست کمښت لري چي په نباتاتو کي د جست کمښت نور هم زياتوي او په پايله کي پر انسانانو باندي منفي اغېزه کوي (Hotz and Brown, 2004). د جست کمښت په پرمختلونکو هيوادونو کي پراخه ستونزه ده په ځانګړې توګه په هغو سيمو کي چيري چي خلک غير متوازن خواړه خوري، د جستو ډېره برخه د غنمو اوړو د جوړولو په وخت کي ضايع کېږي ځکه چي د جست ډېره برخه د داني په پوستکي کي زيرمه وي (Graham *et al.*, 2001)..

بيولوژيکي بډاينه (Bio-fortification) يوه نوې او اړينه تګلاره ده چي د لږلګښته غذايي موادو د کمښت سره په تړلو ستونزو کي مرسته کوي (Dennis and Ross, 2013). په دې تګلاره کي د غذايي موادو د کمښت د ستونزو د حل له پاره د نسل نيوني او اګرانوميکي لارو چارو ځخه کار اخيستل کېږي (شکل 1). د نباتي نسل نيوني طريقه (Breeding approach) چي د جينوټايپونو د پراختيا له پاره کارول کېږي، وخت نيونکي او نسبتاً پيچلې طريقه ده (Bouis *et al.*, 2011). اګرانوميکي تګلاره (Agronomic Strategy) د جست د کمښت ستونزې سره د مبارزې له پاره خورا چټکه حل لاره ده چي په دې تخنيک کي د مختلفو مېتودونو له لاري د لږلګښته غذايي موادو کارول شامل دي، لکه د تخمونو درملنه، د خاوري او د پاڼو پر سر باندي د شندلو لاری چاري (Bouis *et al.*, 2011). بيولوژيکي بډايه سوي نباتاتي محصولات معمولاً د غذايي موادو ډېر غلظت لری، چي په دې برخه کي ډېر مهم نباتات له غنم، وريجی، جوار، کچالو او لوبيا ځخه عبارت دي چي په دې پروګرامونو کي شامل سوی دي ځکه چي دا نباتات په نړيواله کچه د خوړو مهمی سرچينې جوړوي (Dennis and Ross, 2013).




شکل (1): په جينتيکي او اګرانوميکي ډول د غنمو بيولوژيکي بډاينه راښيي.

## د څېړني ستونزي

1. ايا د جستو کمښت په انسانانو کي خوارځواکي رامنځته کوي؟
2. ايا د غنمو حياتي بډاينه کولای سي په انسانانو کي د جستو د کمښت مخه ونيسي

## د څېړني اهميت

د دې مقالې د ليکلو باعث دا دی چې په نن زمانه کې زموږ په ټولنه کې د جستو کمښت په انسانانو کې ډېر ليدل کيږي، دا ستونزه عموما په کوچنيانو کې ډېر زيات تر سترګو کيږي، کله چې سالم ماشوم ټولني ته وړاندي نه سي نو په ټولنه کي صحيح خدمت هم نه سي کولای، نو بنأ د دې مقالې اهميت په دې کې دې چې د ټولني افراد د جستو د کمښت د ضررونو څخه خبر سي او خپل حاصلات د د جستو په وسيله سره په حياتي ډول سره بډايه کړي.

## د څېړني اهداف

د انسانانو پر روغتيا باندي د جستو د کمښت د اغېزو معلومول.

دغنمو پر وده او حـــاصل باندي د جستو د کمښت د اغېزو معلومول.

د جستو پوسيله سره د خوار ځواکي له منځه وړل.

## مواد اوکړنلاره

ددی مقالې د څېړني طريقه کيفي ده، چې مواد يي د قرآنکريم، علمی کتابونو، مقالو او راپورونو په مطالعه او څېړنه باندي ولاړده، دغه منابع موله هغو پېژندل سوو ويبپاڼو او خپرو سوو مقالو علمی ژورنالونو، کتابتونو د کتابونو څخه راټول کړی دي، چې مواد يي د يادو منابعو څخه ترلاسه سوی دئ.

## په انسانانو کي د جست رول

جست د انسانانو په روغتيا کي کليدي رول لري؛ د ټول بدن په حجرو کي موندل کېږي، او د انسان د معافيتي سيستم (Human Immun System) پر مختلفو ځانګړتياو اغېزه کوي (Shankar and Prasad, 1998). جست د حجرو د فعاليت له پاره اړين دی (Prasad, 2008)؛ د کمخونی او کولمو د ګډوډيو مخنيوی کوي (Skrovanek et al., 2014) او په ماشومانو کي د اسهال د زياتوالي مخه نيسي (Haque and Binder, 2006). د جست شتون د اوبو او الکترولیت جذب ته وده ورکوي (Haque and Binder, 2006) او په انسانانو کي د منګالي حجرې (sickle cell) د ناروغی امکانات کموي، او د غير مشخص او ترلاسه سوي معافيت په اغېزو سره د معافيتي سيستم فعاليت متأثره کوي (Bao *et al.*, 2008). په انسان کي د جست کمښت هم د بېلابېلو ستونزو لامل کېږي لکه د معافيتي سيستم ضعيف فعاليت، د پوستکي ستونزې، د IQ ټيټه کچه، د بندونو/مفصلونو درد، د حافظې کمزوره کېدل، د شپې ړوندوالی او د جنسي فعاليتونو اړوند ستونزي (Maret and Sandstead, 2008; Wang and Busbe, 2005). په انسانانو کي که څه هم د جستو د اړتياوړ ورځني اندازه د عمر او جنس له مخي توپير کوي خو تر ډېره بريده لازمه ده چې د ځوانانو له پاره له 8 ملي ګرامه څخه کمه نه وي (shukla et al., 2018). په انسانانو کي د جست کمښت، په غذايي رژيم کي د لږ جست لرونکو زيرمو په کارولو سره رامنځ ته کېږي (Maria et al., 2002). سربيره پردې، هغه خواړه چې لوړ فايتيک اسيد لري هم په انسانانو کي د جست د جذب او ساتلو مخه نيسي (Foster et al., 2012). په انسانانو کي د جست کمښت، په جست سره د بيولوژيکي بډايه سوو غنمو د توليد او استعمال له لاری کنټرولېدای سي (Cakmak, 2002).

## د غنمو په دانو کي د جست د کمښت لاملونه

نباتات د جست په شمول خپل د اړتيا وړ زياتره مواد له خاوري څخه اخلي. هر هغه مواد چې په خاوره کي لږ شتون ولري او يايې جذب محدود وي

په نبات کي هم په کمه اندازه جذب او لږ ذخيره کېږي. په نړيواله کچه د خاوري ټول ډولونه د جست له کمښت سره مخ دي، خو ډېر کمښت يې له معتدلو سيمو څخه تر وچو سيمو پورې ليدل کېږي (Hafeez et al., 2013). هغه مهم عوامل چې د غنمو په دانه کي د جست د کمښت لامل کېږي په لاندي توګه تر بحث لاندې نيسو:

**اصلي مواد:** دا يو له خورا اړينو فکتورونو څخه شمېرل کېږي چې په خاوره کي د جست اندازه ټاکي. د رسوبي ډبرو (sedimentary rock) څخه توليد سوې خاوره په طبيعت کي کلي لري، د کتايونو د بدلون ظرفيت (cation exchange capacity (CEC) يې لوړ، او په نتيجه کي د جست نسبتاً لوړه اندازه لري (Alloway, 2008; Pendies and Pendies, 1992). په خاورو کي د جست غلظت د هغوی په تودوخي پورې اړه لري چې له خاوري څخه ترلاسه کېږي (Alloway, 2008; Rashid

and Ryan, 2008). برعکس، د ګرانايټ (granite) او کوارټ (quart) له ډېرو څخه توليد سوې خاوره کم جست لري ځکه چي دا خاوره په طبيعت کي شګه ده او د جست د ساتلو ظرفيت يې کمزوری دي (Pendies and Pendies, 1992).

**د خاوري pH:** د خاوري pH د خاوري په محلول کي د جست پر موجوديت مهمه اغېزه کوي. لوړ pH لرونکي خاوري د ټيټ pH لرونکو خاورو په پرتله لږ د استفادې وړ جست لري (Sadeghzadeh, 2013). په نړيواله کچه ډېری خاوري د 7 څخه پورته pH لري او د خاوري د pH په زياتوالي سره د خاوري له محلول څخه د جست جذب کميږي. د خاوري د 5 څخه تر 8 پی اچ د خاوري په محلول کي د $10^{-4}-10^{-10}$ موله د جست غلظت کموي(Imtiaz, 1999).

**د خاوري عضوي مواد:** عضوي مواد (organin matter/OM) د جست پر شتون د پام وړ اغېزه کوي. هغه خاوري چي لږ عضوي مواد ولري د جست اندازه يې هم معمولاً ټيټه وي (Ahmad *et al.,* 2012). د خاوري د عضوي موادو په برخه کي ډېر باثباته اجزاوې humic ماده ده چي د جست او فلزي آيونونو د جذب لويه ونډه لري (Kiekins, 1995). د يادولو وړده، هغه خاوري چي ډېر عضوي مواد لري لکه پيټ (peat) خاوري هم د جست له کمښت سره مخ دي ځکه په داسي خاورو کي د هيوميک موادو کچه ډېره لوړه ده چي په نتيجه کي د جست زياته برخه له ځان سره نصبوي (Katyal and Randhawa, 1983).

**د خاوري جوړښت:** د خاوري جوړښت هم د خاوري څخه د نبات ريښو ته د جست پر حرکت د پام وړ اغېزه لري. په آهکي (Calcareous) خاورو کي د جست د چټک نصب (fixation) له امله د جستو لاس رسی لږ وي. په ورته ډول، ځېږ (coarse) سترکچر لرونکي خاوري لکه شګلنه خاوره هم د ټيټ CEC له امله د جست لږ مقدار لري (Hafeez et al., 2013). برعکس، ښه جوړښت لرونکي خاوري لکه د ختو (Clay) خاوره، د کتايونو دلوړ تعويضي ظرفيت (CEC) له امله د جست د ساتلو وړتيا لري ( Singh et al., 2005)Sing).

**په مځکه کي د اوبو ډنډ کېدل:** د اوبو په وسيله د خاوري دوامداره مشبوع کېدل هم د جست د کمښت لوی لامل دی. په زياتو اوبه لرونکو خاورو کي عموماً د جست کمښت د ازادو سلفايډونو سره د جست د تعامل له امله منځ ته راځي ( Mikkelsen and Shiou, 1977)؛ په دې ډول خاورو کي جست په سيسکواوکسايډي رسوباتو (Sesquioxide precipitates) بدليږي چي د جست لويه برخه يې تړلې او د ګټې اخيستني وړ نه وي (Singh and Abrol, 1986). د اوبو په شتون کي د خاوري pH هم بدلون مومي او د هغه له مخي د جست پر شتون اغېزه کوي. په دې شرايطو کي معمولاً د خاوري pH لوړيږي او په پايله کي د جست انحلاليت کموي (Renkou et al., 2003)، او له بله پلوه، د خاوري په محلول کي د Fe او Al سره د ګډون له امله هم د جست جذب کميږي (Moraghan and Mascagni, 1991; Rehman et al., 2012).

## د جست له اړخه د غنمو بيولوژيکي بډاينه

په دې طريقه کي د نباتي نسل نيوني او اګرانوميکي تخنيکونه شامل دي. دا يو اغېزمن او اقتصادي چلند دی چي کولای سي د غنمو په حاصل کي د کيفي لوړوالي ترڅنګ کمي زياتولی هم رامنځ ته کړي (White and Broadley, 2005). د بيولوژيکي بډاينې په کارولو سره کولای سو د کمښت په صورت کي د يو ساحې و ټول نفوس ته جست ورسوو ( Bouis and Welch, 2010). په دې برخه کي دوه عمده مېتودونه شامل دي چي په لاندي ډول ورڅخه يادونه کوو:

## جنتيکي بيولوژيکي بډاينه

د جنتيکي بيولوژيکي بډاينې (Genetic bio-fortification) مېتود د نسل د اصلاح و تخنيکونو ته شامليږي چي په نتيجه کي يې د نبات جنتيکي جوړښت بدلون مومي او د هغه له مخي نبات د دې جوګه کيږي چي له خپل محيط څخه د ټاکلو عناصرو جذب او ذخيره زياته کړي.

دا مېتود د غنمو په برخه کي د لوړ جست او ټيټ فايتيک اسيد د رامنځ ته کولو له پاره کارول کېدای سي (Bouis, 2003)، او د جست له کمښت سره د مبارزې له پاره يو باثباته کړنه ګڼل کيږي (Pfeiffer and McClafferty, 2007). په تيرو وختونو کي د نسل نيوني د پروګرامونو مهمي موخي د بيولوژيکي کتلې او حاصل د شاخصونو زياتوب، او د نبات د لوړ قد دکمولو له لارې د توليد زياتول وه (Trethowan, 2007). خو د دې ترڅنګ، د غنمو د پروټين مقدار او د لږ لګښته عناصرو اندول هم ډېر اړين وګڼل سو. د جوارو او غنمو د اصلاح نړيوال مرکز (CIMMYT) په غنمو کي د جست د اندازې او ناروغيو په وړاندې د مقاومت اړوند څېړني پيل کړې. دوی د جينوټايپونو ترمنځ د لوړ جست د مقدار په پام کي نيولو سره لوی توپيرونه کشف کړل ( Cakmak,

*Triticum aestivum* 2008) او دا یې ثابته کړه چې په غنمو کې د جستو د جذب او ذخیرې وړتیا یو میراثي ځانګړنه ده او د غنمو *T. turgidum ssp* او *ssp* ډولونه د زیات جست د جذب او ذخیرې وړتیا لري (Gomez-Becerra et al., 2010).

غنمو ته د نورو جینونو انتقال (Transgenic) هم د جستو د اندازې ښه کولو له پاره غوره حل لاره کیدای سي (Cakmak, 2008). بېلابېلو لیکوالانو راپور ورکړی چې په غنمو کې فیرېټین پروټینونه (ferritin proteins) په مؤثره توګه د جست او اوسپنې د جذب او په دانه کې د زیاتوالي سبب سوی (Qu *et al.*, 2005; Drakakaki *et al.*, 2005). د مالیکولي مارکرونو (markers) کارول هم د جست د لوړ غلظت په برخه کې د نباتاتو د سمون له پاره یو امید لرونکی چلند دی. ځینو څېړونکو دا په ګوته کړېده چې د غلودانو په حاصلاتو کې د جست کچه د کمیتي ځانګړتیاو له جین ځایونو (Quantitative Trait Loci /QTL) سره تړاو لري او څرګنده یې کړه چې وحشي ایمر غنم (wild emmer wheat) غنم د جست له پاره لوړه الیلي (allelic) تنوع لري ( Xie and Nevo, 2008). د TtNAM-B1 جینونو کلون چې د غنمو له *T. dicoccoides* ډول څخه سرچینه اخلي د جست پر کچه د پام وړ اغېزه کړې ده (Distelfeld et al., 2007).

**د جنتیکي بیولوژیکي بډایني خنډونه:** د دې تخنیکونو پایله که څه هم باثباته ده، خو په عین وخت کې د یو نوي جینوټایپ را منځ ته کول و زیاتې مودې، فعالیتونو او زیرمو ته اړتیا لري. سربېره پردې، د جست په برخه کې د هر نوي تولید سوي جینوټایپ بریالیتوب بیاهم په خاوره کې د جست او عضوي موادو د کافي مقدار په شتون پورې اړه لري ( Cakmak, 2008; Hafeez et al., 2013)، ځکه هغه خاوري چې د عضوي موادو او د جست د نورو طبیعي منابعو لږ مقدار لري په حاصلاتو کې د جست د کمښت لامل سوی (Alloway, 2004).

### اګرانومیکي بیولوژیکي بډاینه

پر خاوره او نبات د جست لرونکو زیرمو کارول تر ډېره بریده په غلودانو کې د جست له کچې سره مستقیمي اړیکي لري. دا مېتود په غذا کې د جست د کمښت له ستونزو سره د مبارزې له پاره ګړندی حل کېدای سیسربېره پردې کولای سي په خاوره کې د جست شتون او د نباتي حاصلاتو کچه هم لوړه کړي (Yadav et al., 2011). اګرانومیکي طریقه په خاوره کې د Zn د کمښت سره د مبارزې لپاره یو ممکنه طریقه ده ((Obaid et al., 2022. په دې برخه کې د جست بېلابېلي زیرمي د کارولو وړ دي چې په لاندي ډول ورڅخه یادونه کوو:

### د نباتاتو له پاره د جست منابع

جست په نباتاتو کې په عضوي او غیر عضوي شکل کارول کېدای سي. په نړۍ کې د جست بېلابېلي سري په نباتاتو کې د جست کچې د لوړولو له پاره کارېږي (Shahid et al., 2010). جست سلفېټ ($ZnSO_4$)، جست کلوراید ($ZnCl_2$) اکثراً د جست د منبع په توګه کارېږي ځکه چې لوړ انحلالیت او ټیټ لګښت لري (Shahid et al., 2010). سربېره پردې جست اوکساید، جست EDTA او جست اوکسي سلفېټ په شکلونو هم کارول کېدای سي. د جست EDTA- په شکل د جست اګرانومیکي موثریت ډېر لوړ دی خو د لوړ لګښت له امله یې استعمال محدود دی (Cakmak, 2008).

## پر نباتاتو د جست تطبیق

جست په بېلابېلو مېتودونو د تطبیق وړ دی، چې بریالیتوب یې تر ډېره بریده د خاوري په شرایطو او ټولنیزو-اقتصادي عواملو پورې اړه لري (Cakmak, 2009). مخ په وده هیوادونو کې ډېر کروندګر د اقتصادي ستونزو له امله د غلو دانو د تولید له پاره جست نه کاروي (Shahid et al., 2010). د یادولو وړده چې، د جست د تطبیق مېتود باید اسانه او اقتصادي وي ( Shahid et al., 2010). د جست د تطبیق له مهمو مېتودونو څخه په لاندي ډول یادونه کوو:

**د تخم خیشتول:** د تخم خیشتول (seed priming/SP)، په اوبو/محلول کې د تخمونو ډوبولو ته وایي تر هغه چې د ټوکیدنې اړوند پروسې پیل سي، خو ریډیکل نه رامنځ ته کېږي (Farooq et al., 2009). د جست سري سره د غنمو دتخم خیشتول د تخمونو په واسطه د جستو جذب د پام وړ زیات کړ. سربېره پردې د (۴.۰ ٪) جست سلفېټ سره د تخم خشتول په مؤثره توګه د غنمو د جست اړتیاوې پوره کوي او له 21% څخه زیات د غلودانو حاصلات د کنټرول په پرتله زیات کړل. سربېره پردې، د جستو له زیرمو سره د غنمو د تخم خیشتولو له امله په حاصلاتو کې د 12% او 29% زیاتوب راپور ورکړل سوی (Harris et al., 2007). په ورته ډول، د وریجو په یو څېړنه کې وموندل سوه چې د جستو priming ډېر اقتصادي و او د جستو په ذخیره او د حاصل پر تولید یې د پام وړ زیاتوالی را منځ ته کړ (Slaton et al., 2005). سربېره پردې، Yilmaz et al. (1997) ولیدل چې له جستو سره

د تخم خيشتول په اغيزمنه توګه د غنمو حاصلات زيات كړي دي دا په هغه صورت كي چي جست په خاوره كي كم وي. د جستو ره زيرمو سره د تخم خيشتول ارزانه، چاپيريال ته بي ضرره، او په پايله كي د پام وړ زياتوالى لامل كيږي؛ په نادره مواردو كي SP غير ګټور ميتود ته ثابت سوى دئ (Farooq et al., 2012).

**په خاوره كي د جست تطبيق:** په خاوره كي د جست كمښت په غلو دانو كي د جست د كمښت لامل كيږي؛ خو د جست د زيرمو په كارولو سره دا ستونزه د حل وړده (Zou et al. 2012; Singh, 2007). كله چي په لويه كچه و جست لرونكو غذايي موادو ته اړتيا وي، په خاوره كي د جست لرونكو زيرمو كارول يو غوره ميتود ګڼل كيږي او كولاى سي د كرنيزو محصولاتو له لاري وګړو ته د جست په دوامداره رسولو او د هغه اړوند ستونو په مخنيوي كي مرسته وكړي (Martens and wester, 1991). په جوه كي د جست كارول (banding placement) د پاشان كارولو (broadcasting) په پرتله درې برابره مؤثريت لري (Sarwar et al., 2017). په خاوره كي د جست ورو حركت په ځانګړې توګه په الكلين او آهكي (calcareous) خاورو كي د چټک نښلولو له امله اغيزمن كيږي (Alloway, 2008). په خاوره كي تطبيق سوى جست د خاوري په پروفايل كي و مختلفو طبقو ته ليږل كيږي او ښايي د نبات د ريښو له ساحې څخه بهر سي (Holloway et al., 2010). داچي په خاوره كي د استعمال سوي جست د مؤثريت كچه د خاوري له ذراتو سره د نښلېدو او منحل كېدو له امله نسبتاً ټيټه ده، د جست د زيرمو و زيات مقدار ته اړتيا لري.

**د پاڼو له لاري د جست تطبيق:** د پاڼو له لاري (Foliar application) د جست تطبيق ډېر اغېزمن ميتود دی او كولاى سي د غنمو په دانه كي د جست كچه زياته كړي. په دې طريقه كي د خاوري د تطبيق په پرتله ضايعات خورا كم دی او غذايي مواد په مستقيم ډول د نباتاتو لخوا جذبيږي (Hussain *et al.*, 2012; Zhang et al., 2012). د پاڼو له لاري د جست تغذيه په غلودانو كي د جست كچه د پام وړ زياتوي او دا زياتوالى په دانه كي د فاسفورس په ذخيره كېدلو كي د كمښت سبب كيږي. داچي د تخمونو د فاسفورس له 60% څخه تر 85% برخه د فايتيک اسيد په بڼه شتون لري؛ نو په دانه د فاسفورس لږ ذخيره كېدل د لږ فايتيک اسيد د توليد لامل كيږي هغه فكتور چي د انسانانو په هضمي سيستم كي د جست بيولوژيكي لاس رسى محدودوي (Cakmak, 2008; (Soltangheisi et al., 2014). د پاڼو له لاري پر غنمو د جست كارول تر ډېره بريده يو اقتصادي ميتود هم دی، خو كله ناكله د ودې د اوږدې مودې او تكراري استعمال له امله ښايي غير اقتصادي تمام سي (Maralian, 2009). د پاڼو له لاري د جست تغذيه د خاوري له لاري د تطبيق په پرتله په دانو كي د جست د كچي په لوړولو كي ډېره مؤثره ده (Cakmak et al., 2010). د ودې په لومړنيو مرحلو كي د جست د پاڼو تغذيه په دانو كي د جست زيات مقدار ساتي (Cakmak, 2008; Cakmak et al., 2010). د يادولو وړده چي په لوړ غلظت سره د جست كارول هم د نباتاتو له پاره زهري تماميږي نو بايد د هغه په كارولو كي له احتياط څخه كار واخيستل داسي نه چي نبات ته زيان ورسوي (Yilmaz et al., 1997).

## پايله

د جست له خوارځواكى سره د انسان مبارزه پيچلې ده، په داسي حال كي چي نړۍ د لوږې له مخ په زياتېدونكي ستونزي سره هم مخ ده. د جست دكمښت ستونزه تر ډېره بريده مخ په ودې هيوادونو كي ډېره ترسترګو كيږي، چيري چي زياتره وګړي د ټيټ اقتصادي وضعيت او پوهاوي د نشتوالي له امله و متوازني غذا ته لاس رسى نه لري. د داسي عمومي ستونزو د حل له پاره اړينه ده چي داسي لاري ولټوو چي اغېزى يې پراخي وي. په دې برخه كي د اساسي غذايي موادو لكه د غنمو بډاينه يو مناسب انتخاب و ګڼل كېداى سي. په جست سره د غنمو بيولوژيكي بډاينه نه يوازي داچي د جست له اړخه د غنمو د دانې كيفيت لوړوي، د غنمو لوړ حاصل هم تضمينوي او كرونده ګرو ته د اقتصادي ګټې سبب كيږي. څېړونو ښودلې ده چي په جست سره د غنمو بيولوژيكي بډاينه چي د نباتي نسل نيوني او اګرانوميكي كړنو ته شامليږي، په دانه كي د جست د كچي زياتولو له پاره يو اغېزمن انتخاب دى اوكولاى سي په وګړو كي د جست د كمښت په كنترول او مخنيوي كي ګټوري پايلي ولري.

## وړانديزونه

د دې لپاره چي په انسانانو كي د جستو د كمښت سره مبارزه وسي نو بايد د غنمو جنيتيكي او اګرانوميكي بيولوژيكي بډاينو څخه استفاده وسى.

جست نه يوازي په خوارځواكي كي مهم رول لرى بلكي د نباتاتو په وده هم د پام وړ اغېزه كوي.

کروند ګروته دي د مايکرو نيوټرينټ سرو د ورکړي لړي پيل سي تر څو له يوي خوا د غنمو په حاصل کي زياتولي راغلي وي له بلی خو به غذايي بډاينه هم رامنځته سوي وي.

## اخځليکونه


Ahmad, W., Watts, M. J., Imtiaz, M., Ahmed, I., & Zia, M. H. (2012). Zinc deficiency in soils, crops and humans: a review. *Agrochm*. pp. 65–97.

Allen, L.H. (1998). Zinc and micronutrient supplements for children: Am. J. Clin. Nutr. Pp 68- 495.

Alloway, B.J. (2004). Zinc in soils and crop nutrition. International Zinc Association Communications. IZA *Publications*, Brussel.

Alloway, B.J. (2008). Micronutrients and crop production. In micronutrient deficiencies in global crop production. 1-39c *Springer Science Business* Media BV.

Bao, B., A.S. Prasad, F.W. Beck, D. Snell, A. Suneja, F.H. Sarkar, N. Doshi, J.T. Fitzgeral and P. Swerdlow. (2008). Zinc supplementation decreases oxidative stress. incidence of infection, and generation of inflammatory cytokines in sickle cell disease patients: *Trans*. 152: 67–80.

Bell, R.W. and B. Dell. (2008). Micronutrients for sustainable food, feed, fibre and bioenergy production: *International Fertilizer Industry Association*, Paris, France. pp. 36-57.

Black, R.E., H.A. Lindsay, Z.A. Bhutta, L.E. Caulfield, D.M. Onnis, M. Ezzati, C. Mathers and J. Rivera. (2008). Maternal and child undernutrition: *Global and regional exposures and health consequences*. Lancet, 371: 243–260.

Bouis, H.E. and R.M. Welch. (2010). Biofortification: A sustainable agricultural strategy for reducing micronutrient malnutrition in the global south. *Crop Sci*. 50: S20–S32.

Bouis, H.E. ( 2003). Micronutrient fortification of plants through plant breeding: Can it improve nutrition in man at low cost. P. Nutr. Soc. 62: 403–411.

Bouis, H.E., C. Hotz, B. McClafferty, J.V. Meenkashi and W.H. Pfeiffer. (2011). Biofortification: A new tool to reduce micronutrient malnutrition. *Food Nutr. Bull*. 32: pp 31–S40.

Cabot, C., S. Martos, M. Llugany, B. Gallego, R. Tolra and C. Poschenrieder. (2019). A role for Zinc in plant defense against pathogens and herbivores. Front. *Plant Sci*. pp 10: 1171.

Cakmak, I. (2000). Role of zinc in protecting plant cells from reactive oxygen species. *New Phytol*. pp146: 185–205.

Cakmak, I. (2002). Plant nutrition research priorities to meet human needs for food in sustainable ways. Plant Sci. 247: pp 3–24.

با این حال، افغانستان با چالش‌های زیادی در مسیر سازگاری با تغییرات اقلیمی مواجه است. در کنار مشکلات اقتصادی و امنیتی، کمبود منابع مالی برای اجرای برنامه‌های سازگاری و محدودیت‌های سیاسی نیز موانع بزرگی در برابر اقدامات مؤثر در این زمینه ایجاد کرده است. علاوه بر این، فقدان اطلاعات و داده‌های دقیق درباره تغییرات اقلیمی و اثرات آن در سطح محلی، مانع از طراحی برنامه‌های مناسب و به‌موقع می‌شود. بر اساس گزارش FAO (2020), عدم هماهنگی بین نهادهای مختلف دولتی و بخش خصوصی نیز بر کارایی برنامه‌های سازگاری با تغییرات اقلیمی تأثیر منفی گذاشته است. برای غلبه بر این چالش‌ها، لازم است که دولت افغانستان به‌طور جدی به مسئله تغییرات اقلیمی پرداخته و همکاری‌های بین‌المللی را برای تامین منابع مالی و فنی جلب کند

## اهداف تحقیق

هدف اصلی این تحقیق بررسی تأثیرات تغییرات اقلیمی بر امنیت غذایی در افغانستان است. اهداف فرعی این تحقیق شامل شناسایی عوامل اقلیمی مؤثر بر کاهش تولیدات زراعتی، تحلیل سیاست‌های کنونی در مقابله با تغییرات اقلیمی و ارائه راهکارهای عملی برای کاهش اثرات منفی این تغییرات بر امنیت غذایی می‌باشد.

## مواد و روش تحقیق

### جمع‌آوری داده‌ها

برای جمع‌آوری معلومات، از منابع مختلفی شامل پایگاه‌های داده بین‌المللی، گزارش‌های سازمان‌های غیردولتی، مقالات علمی و کتاب‌ها استفاده شده است. همچنین، اطلاعات مربوط به شرایط اقلیمی و تولیدات زراعتی افغانستان از سازمان‌های معتبر نظیر سازمان جهانی هواشناسی (WMO) و سازمان خواربار و زراعتی ملل متحد (FAO) استخراج شده است.

دراین تحقیق، تحلیل معلومات به صورت **تحلیل محتوایی (Content Analysis)** و **تحلیل مقایسه‌ای (Comparative Analysis)** و معلومات به شکل سیستماتیک و در عین زمان محدوده زمانی برای مقالات قابل استفاده در نظر گرفته شده است.

### محدودیت‌ها

این تحقیق با محدودیت‌هایی نیز مواجه است. یکی از محدودیت‌ها، دسترسی محدود به داده‌های به‌روز در برخی از مناطق افغانستان است که ممکن است بر جامعیت نتایج تأثیر بگذارد. همچنین، به‌دلیل شرایط امنیتی و اجتماعی در برخی مناطق، امکان جمع‌آوری داده‌ها محدود بوده است.

در نهایت، با استفاده از این روش‌ها و تکنیک‌ها، نتایج تحقیق به‌دقت تحلیل شده و به ارائه پیشنهادات برای سیاست‌گذاری و برنامه‌ریزی در زمینه مقابله با تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی در افغانستان پرداخته می‌شود. این یافته‌ها می‌توانند به تصمیم‌گیرندگان کمک کنند تا راهکارهای مؤثری برای مدیریت بحران‌های غذایی ناشی از تغییرات اقلیمی اتخاذ کنند.

### نتایج و مناقشه تحقیق

این بخش نتایج به‌دست‌آمده به تأثیرات تغییرات اقلیمی بر امنیت غذایی در افغانستان پرداخته و یافته‌ها را در زمینه‌های مختلف مورد بررسی قرار می‌دهد.

### تأثیرات تغییرات اقلیمی بر تولیدات زراعتی

تغییرات اقلیمی به‌ویژه افزایش حرارت و کاهش بارش‌های فصلی، تأثیرات منفی قابل توجهی بر تولیدات زراعتی در افغانستان داشته است. به‌ویژه، تولید گندم و جو که از مهم‌ترین محصولات غذایی در افغانستان هستند، با کاهش ۲۰ تا ۳۰ درصدی مواجه شده است (Rahmani et al., 2022).

### تغییر در الگوهای بارش

تغییر در الگوهای بارش در افغانستان هستند. بر اساس گزارشات، بارش‌های غیرمنتظره و شدید در فصل‌های خاص و همچنین افزایش دوره‌های خشکسالی، باعث کاهش دسترسی دهاقین به آب‌های زیرزمینی و سطحی شده است. این تغییرات منجر به آسیب به زیرساخت‌های آبیاری و کاهش کارایی سیستم‌های آبیاری موجود گردیده است(FAO, 2020).

### نگرانی‌های مربوط به امنیت غذایی

تغییرات اقلیمی باعث افزایش قیمت مواد غذایی و کمبود دسترسی به غذا شده است. به‌ویژه، قیمت گندم در سال‌های اخیر به‌طور متوسط ۲۵ درصد افزایش یافته است. این افزایش قیمت‌ها به مشکلات اقتصادی و فقر بیشتر در جوامع روستایی دامن می‌زند (Hussain & Kazemi, 2021).

### استراتژی‌های سازگاری

اقداماتی را که برای سازگاری با تغییرات اقلیمی در نظر گرفته شود شامل تنوع در کشت محصولات، استفاده از فناوری‌های نوین آبیاری و بهبود روش‌های مدیریت خاک بوده است. که یکتعداد از دهاقین به آموزش‌های لازم برای اجرای این استراتژی‌ها دسترسی دارند (Mustafa & Latif, 2020).

### اثرات اجتماعی و اقتصادی

تغییرات اقلیمی همچنین بر جنبه‌های اجتماعی و اقتصادی زندگی دهاقین تأثیر گذاشته است. ناتوانی در تأمین غذای کافی، فشار بیشتری به زنان و کودکان وارد کرده است و منجر به افزایش سطح کار کودک و نابرابری‌های جنسیتی در جامعه شده است (Behrman & Shapiro, 2020).

### تأثیرات بر تنوع زیستی

تغییرات اقلیمی همچنین به تنوع زیستی در افغانستان آسیب زده است. به‌عنوان مثال، تحقیقات نشان می‌دهند که تغییرات در حرارت و بارش‌ها منجر به کاهش تنوع گیاهی و جانوری در مناطق زراعتی شده است (Zafar & Murtaza, 2022). این مسئله می‌تواند در بلندمدت بر تولیدات زراعتی تأثیر بگذارد و امنیت غذایی را به خطر اندازد.

### نیاز به سیاست‌گذاری و برنامه‌ریزی

نیاز به سیاست‌گذاری و برنامه‌ریزی مؤثر در زمینه تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی در افغانستان وجود دارد. بسیاری از دهاقین خواستار حمایت‌های دولتی برای بهبود زیرساخت‌ها، ارائه آموزش‌های لازم و تسهیل دسترسی به فناوری‌های نوین هستند (World Bank, 2020).

### جمع‌بندی نتایج

در مجموع، تغییرات اقلیمی تأثیرات عمیقی بر امنیت غذایی در افغانستان داشته و این کشور با چالش‌های جدی در این زمینه مواجه است. با توجه به وابستگی شدید جامعه به زراعت، نیاز به رویکردهای جامع و هماهنگ در مدیریت منابع طبیعی و توسعه زراعت پایدار احساس می‌شود. نتایج این تحقیق می‌توانند به عنوان یک راهنما برای تصمیم‌گیرندگان و برنامه‌ریزان در جهت بهبود وضعیت امنیت غذایی و سازگاری با تغییرات اقلیمی در افغانستان مورد استفاده قرار گیرند.

## مناقشه تحقیق

مناقشه‌ها و چالش‌هایی که درارتباط با تأثیر تغییرات اقلیمی بر امنیت غذایی در افغانستان بررسی شده‌اند، نشان‌دهنده نیاز به درک عمیق‌تر و جامع‌تری از روابط پیچیده میان این دو پدیده هستند. در این بخش، به تحلیل این مناقشات پرداخته و عوامل مختلفی را که بر این ارتباط تأثیر می‌گذارند، مورد بررسی قرار می‌دهیم.

### ابعاد مختلف تأثیرات تغییرات اقلیمی

تغییرات اقلیمی نه تنها بر تولید محصولات زراعتی تأثیر می‌گذارد بلکه بر زنجیره تأمین غذا، قیمت‌ها و دسترسی به غذا نیز تأثیرگذار است. مطالعات نشان می‌دهند که افزایش حرارت و کاهش بارش‌ها به‌طور مستقیم بر کمیت و کیفیت محصولات زراعتی تأثیر دارد (Lobell et al., 2011). به‌عنوان مثال، در افغانستان، تغییرات در الگوهای بارش و افزایش حرارت می‌تواند به کاهش تولید گندم و سایر محصولات اصلی منجر شود که این مسئله امنیت غذایی را تحت تأثیر قرار می‌دهد(Rahmani et al., 2022).

### تأثیرات اجتماعی و اقتصادی

تأثیرات تغییرات اقلیمی به ابعاد اجتماعی و اقتصادی نیز نفوذ می‌کند. بر اساس یافته‌های تحقیق، تغییرات اقلیمی باعث افزایش نابرابری‌ها در جامعه شده است. دهاقین کم‌درآمد و زنانی که به زراعت وابسته‌اند، بیشتر تحت تأثیر این تغییرات قرار دارند (Hussain & Kazemi, 2021). در نتیجه، این تغییرات به افزایش فقر و ناتوانی در تأمین نیازهای غذایی منجر می‌شود.

### موانع موجود در سازگاری

با وجود تلاش‌های دهاقین برای سازگاری با تغییرات اقلیمی، موانع زیادی وجود دارد. عدم دسترسی به فناوری‌های نوین، آموزش و اطلاعات کافی در زمینه تغییرات اقلیمی و زراعت پایدار، از جمله مشکلات اصلی در این راستا هستند (Mustafa & Latif, 2020). به‌علاوه، سیاست‌های دولتی ناکافی و عدم همکاری میان نهادهای مختلف، روند سازگاری را کند کرده است.

### نقش حکومت و سیاست‌گذاری

حکومت نقش کلیدی در ایجاد و اجرای سیاست‌های مؤثر برای مقابله با تأثیرات تغییرات اقلیمی دارد. بر اساس نتایج تحقیق، عدم توجه کافی به این مسائل در برنامه‌ریزی‌های دولتی باعث افزایش آسیب‌پذیری جامعه زراعتی شده است. از آنجا که زراعت بخش عمده‌ای از اقتصاد افغانستان را تشکیل می‌دهد، نیاز به توجه ویژه به این حوزه احساس می‌شود (World Bank, 2020).

### ارتباط میان تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی

تحلیل‌ها نشان می‌دهند که تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی به‌طور مستقیم و غیرمستقیم به هم مرتبط هستند. بر اساس مطالعات، تغییرات اقلیمی می‌توانند به شکل‌های مختلف بر امنیت غذایی تأثیر بگذارند. به‌عنوان مثال، افزایش حرارت و کاهش بارش‌ها می‌تواند منجر به کاهش تولیدات زراعتی، افزایش قیمت‌ها و در نتیجه کمبود غذا شود (Zafar & Murtaza, 2022). این ارتباط نیازمند بررسی‌های بیشتر و تحلیل‌های عمیق‌تری است.

## نقش جامعه محلی

یافته‌های تحقیق نشان می‌دهند که جوامع محلی نقش مهمی در مدیریت تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی دارند. دهاقین محلی به‌خوبی از شرایط اقلیمی و منابع آب و خاک منطقه خود آگاه هستند و می‌توانند به‌عنوان منابع اطلاعاتی با ارزش عمل کنند (Behrman & Shapiro, 2020). به‌این‌ترتیب، نیاز به تقویت و حمایت از جوامع محلی برای بهبود وضعیت امنیت غذایی و سازگاری با تغییرات اقلیمی وجود دارد.

## اهمیت آموزش و آگاهی

آموزش و آگاهی دهاقین در زمینه تغییرات اقلیمی و روش‌های زراعت پایدار یکی از عوامل کلیدی در سازگاری با این تغییرات است. دهاقین که در دوره‌های آموزشی شرکت کرده‌اند، بیشتر تمایل به استفاده از روش‌های نوین زراعتی و مدیریت آب دارند (FAO, 2020).این یافته‌ها نشان می‌دهند که ایجاد برنامه‌های آموزشی مؤثر می‌تواند به بهبود سازگاری دهاقین کمک کند.

### چالش‌های پیش‌رو

چالش‌های پیش‌رو در زمینه تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی در افغانستان پیچیده و چندبعدی هستند. این چالش‌ها شامل افزایش تعداد جمعیت، نیاز به منابع غذایی بیشتر، و ناتوانی در تأمین نیازهای غذایی در شرایط اقلیمی متغیر هستند. این مسائل نیاز به رویکردهای جدید و سیاست‌های جامع‌تری در مدیریت منابع طبیعی و زراعت پایدار دارد (Hussain & Kazemi, 2021).

## نتیجه‌گیری

در نتیجه، مناقشات موجود در این تحقیق نشان‌دهنده پیچیدگی و چندوجهی بودن رابطه میان تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی در افغانستان هستند. این مسئله نیازمند توجه و همکاری بین نهادهای مختلف، شامل دولت، سازمان‌های غیردولتی و جامعه محلی است. سیاست‌گذاری‌های مناسب و مؤثر می‌تواند به کاهش آسیب‌پذیری جامعه و بهبود وضعیت امنیت غذایی در برابر تغییرات اقلیمی کمک کند.

### نیاز به تحقیقات بیشتر

با توجه به پیچیدگی‌های موجود، نیاز به تحقیقات بیشتری در زمینه تأثیرات تغییرات اقلیمی بر امنیت غذایی در افغانستان احساس می‌شود. تحقیقات آتی می‌توانند به شناسایی راهکارهای مؤثر برای سازگاری با این تغییرات و بهبود وضعیت امنیت غذایی کمک کنند. در نهایت، ایجاد یک چارچوب جامع برای مدیریت بحران‌های غذایی و تغییرات اقلیمی می‌تواند به بهبود کیفیت زندگی مردم و پایداری اقتصادی در افغانستان منجر شود.

## نتیجه‌گیری کلی

تغییرات اقلیمی به‌عنوان یکی از بزرگ‌ترین چالش‌های جهانی، تأثیرات عمیقی بر امنیت غذایی در افغانستان دارد. این کشور که به‌طور عمده به زراعت وابسته است، به‌دلیل تغییرات اقلیمی، با مشکلات جدی در تأمین نیازهای غذایی خود مواجه است. افزایش حرارت، تغییر الگوهای بارش و بروز پدیده‌های اقلیمی شدید نظیر سیل و خشکسالی، به‌طور مستقیم بر تولیدات زراعتی و در نتیجه بر امنیت غذایی تأثیر می‌گذارد.

مطالعات نشان می‌دهند که کاهش تولید محصولات اصلی مانند گندم و برنج، به‌ویژه در مناطق آسیب‌پذیر، می‌تواند منجر به افزایش فقر و ناتوانی در تأمین نیازهای غذایی شود. این وضعیت نه‌تنها امنیت غذایی را تهدید می‌کند بلکه بر سلامت و رفاه جامعه نیز تأثیر می‌گذارد. برای مقابله با این چالش‌ها، توجه به نقش جامعه محلی، آموزش دهاقین و ایجاد برنامه‌های مؤثر سازگاری ضروری است.همچنین، سیاست‌های دولت و برنامه‌ریزی‌های مناسب می‌توانند به کاهش آسیب‌پذیری جامعه زراعتی و بهبود وضعیت امنیت غذایی کمک کنند. همکاری میان نهادهای دولتی، سازمان‌های غیردولتی و جوامع محلی از جمله راهکارهای کلیدی در این راستا به شمار می‌آیند.

با توجه به پیچیدگی‌های موجود در ارتباط بین تغییرات اقلیمی و امنیت غذایی، نیاز به تحقیقات بیشتر در این زمینه احساس می‌شود. تحقیقات آتی باید به شناسایی راهکارهای مؤثر برای سازگاری با تغییرات اقلیمی و بهبود وضعیت امنیت غذایی بپردازند. همچنین، توجه به اهمیت آموزش و ارتقای آگاهی دهاقین در زمینه تکنیک‌های نوین زراعتی و مدیریت منابع طبیعی باید در اولویت قرار گیرد.در نهایت، تأمین امنیت غذایی در افغانستان در شرایط تغییرات اقلیمی مستلزم همکاری و مشارکت همه‌جانبه است. ایجاد یک چارچوب جامع برای مدیریت بحران‌های غذایی و تغییرات اقلیمی می‌تواند به بهبود کیفیت زندگی مردم و پایداری اقتصادی در این کشور منجر شود.

## مأخذها


Behrman, J. & Shapiro, J. (2020). Social Impacts of Climate Change on Food Security in Afghanistan. *Global Environmental Change*, 32, 95-102.

FAO. (2020). The State of Food Security and Nutrition in the World 2020. Food and Agriculture Organization of the United Nations. Retrieved from FAO Website.

FAO. (2021). *Impact of climate change on agriculture in Afghanistan*. Food and Agriculture Organization of the United Nations. https://www.fao.org/afghanistan/en/

Hussain, I., & Kazemi, S. (2021). The Socio-Economic Effects of Climate Change on Agriculture in Afghanistan. *Environmental Science and Policy*, 45, 32-40.

IPCC. (2022). *Climate change 2022: Impacts, adaptation, and vulnerability*. Cambridge University Press. https://www.ipcc.ch/report/ar6/wg2/.

Mustafa, A., & Latif, A. (2020). Agricultural Innovations and Climate Resilience in Afghanistan. *Journal of Agricultural Science*, 12(4), 101-112.

Rahmani, H., Zafar, A., & Murtaza, M. (2022). Assessing the Impact of Drought on Wheat Production in Afghanistan. *Journal of Arid Environments*, 187, 104-110.

Shahidi, F., & Qaderi, A. (2021). Vulnerability of Afghanistan's Agriculture to Climate Change. *Agricultural Systems*, 187, 102-118.

UNCCD. (2020). *The global land outlook: Land degradation, drought, and desertification in Afghanistan*. United Nations Convention to Combat Desertification. https://www.unccd.int

UNDP. (2020). *Afghanistan's climate change vulnerability and the path to adaptation*. United Nations Development Programme. https://www.undp.org/afghanistan

WMO. (2021). Climate Change and Its Impacts in Afghanistan. World Meteorological Organization. Retrieved from WMO Website.

World Bank. (2020). Afghanistan Climate Change Policy Note. World Bank Publications. Retrieved from World Bank Website.

Zafar, A., & Murtaza, M. (2022). Climate Variability and Its Effects on Agricultural Productivity in Afghanistan. *Environmental Monitoring and Assessment*, 194(1), 1-14.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# په کندهار ولایت کې د تجارتي غوښینو چرګانو په فارمونو کې د انتي بیوټیکونو کارول: انتي مایکروبیال مقاومت او عامې روغتیا لپاره ګواښونه

**محبوب الله احمدي[1*]، فيصل دانش[1]، محمد داود باور[1]، عبدالفهيم سروري[1] و محمد هارون رحماني[1]**

[1]عمومي ديپارټمنت، وترنري علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان

[*]مسؤل لیکوال: Mahboobullahahmadi957@gamil.com

## لنډيز

دا څېړنه د کندهار ولایت مرکز او ولسوالیو د غوښینو چرګانو په ۳۵ بابه تجارتي فارمونو کې د استعمالیدونکو انتي بیوتیکو د ډولونو او د استعمال هدف مطالعه کولو په هدف ترسره شوي ده. معلومات د معیاري پوښتنپاڼو په وسیله د فارمدارانو سره د مخامخ لیدني نتیجه کې را ټول شوي او د MS Excel پوسیله تحلیل شوي دي موندنو وښوده چې په مجموعي ډول ۱۹ ډوله انتي بیوتیک چرګانو ته د دریو عمده موخو (د ناروغیو تداوي، مخنیوي او ودي زیاتوالي) لپاره استعمالیدل. په زیاته اندازه استعمالیدونکي انتي بیوتیک عبارت وو له Enrofloxacin، Amoxicillin، Tylosin او Colistin څخه چې په ترتیب سره ۱۰۰٪، ۹۷٪، ۸۳٪ او ۷۸٪ په اندازه استعمالیدل. غوښینو چرګانو ته انتي بیوتیک په لوړه کچه (۷۴٪) د څښاک اوبو له لارې او علاوه له دي د غذا او زرقي لارې څخه په استفادي سره تطبیق کیږي. په نوموړو فارمونو کې په مجموعي توګه د بازار عرضه کیدو تر وخته في قطعه چرګوړي ته (۴،۲) ګرامه انتي بیوتیک استعمال شوي وو. فارمدارانو په زیاته اندازه (۸۸.۵٪) انتي بیوتیک د وترنر داکتر د نسخي له مخې د درملتونو څخه پیرودل او همدارنګه په کمه اندازه (۳۱.۴٪) فارمدارانو د انتي بیوتیکو د پاته شونو او د هغوي له امله انساني جمعیت ته د پیښیدونکو ګواښونو په اړه پوهاوی درلود. په غوښینو چرګانو کې په زیاته کچه او خپل سري توګه د مختلفو انتي بیوتیک کارونه په چرګانو کې د مقاومو باکتریاوو د رامنځته کیدو او همدارنګه د نوموړو انتي بیوتیکو پاته شوني په انساجو کې ذخیره کیږي. مقاومې باکتریاوې انسانانو ته د مختلفو لارو انتقال او انتي بیوتیکي پاتې شوني د چرګانو اطراحي سیستم له لارې محیط ته خپریږي چې عامه روغتیا ننګوي او انسانانو کې مختلفي روغتیایي ستونزې په شمول د سرطاني ناروغیو، حساسیت، زهریت، میوتیشن او نور رامنځته کولای شي.

**کلیدي کلیمې:** انتي بیوتیک، عامه پوهاوی، غوښین چرګان

## پیژندنه

افغانستان یو کرنیز او مالدار محور هېواد دی، خو د کرنې او مالدارۍ ډېری برخې لا هم په معیاري ډول نه اداره کېږي. په ځانګړي ډول د غوښینو چرګانو په تجارتي فارمونو کې د ناروغیو د مخنیوي او کنترول لپاره د انتي بیوټیکونو غیرمسؤولانه، مکرر او د علمي لارښود څخه پرته استعمال یوه مهمه ستونزه ده. دغه ډول ناسمه استعمال نه یوازې د چرګانو د وده، تولید او بقا پر کیفیت منفي اغېزه کوي، بلکې د اقتصادي تاوانونو د زیاتېدو سبب هم ګرځي؛ ځکه ډېری فارم‌داران د دوا ناسم استعمال له امله د تلفات، کم‌وزنې، او بازار ته د محصول د نه رسېدو له خطر سره مخ کېږي..

د غوښینو چرګانو سکتور په وروستیو لسو کلونو کې په افغانستان کې د غذایي خوندیتوب او اقتصادي ودې لپاره یو مهم صنعت ګرځېدلی، او ګڼ شمېر کورنۍ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د دې سکتور له عاید څخه ګټه اخلي.

خو سره له دې پرمختګ سره سره دا صنعت د ګڼو ننګونو له امله له ثبات او پایدارۍ تولید څخه لرې دی. له بهر څخه د غذا او مورنۍ نسل واردات، د معیاري وترنري پروتوکولونو نه مراعات، د فارمونو د حفظ‌الصحې کمزورتیا، او د فارم‌دارانو د عامه پوهاوي

نشتون هغه عوامل دي چې د ناروغیو د پراخوالي او اقتصادي زیانونو خطر نور هم زیاتوي. د چرګانو د ګلې روغتیا ساتلو لپاره د حفظ الصحي مراعت کول، د ضرورت په اندازه خوراکي موادو برابرول، پاکې اوبه، د روزنې لپاره د مناسبې خونې برابرول او د ناروغیو په مقابل کې د معافیت لوړوالي لپاره د واکسین استعمال یو له مهمو کړنو څخه ګڼل کیږي (Kasabova et al., 2021). که چیري د پورته کړنو باوجود بیا هم د چرګانو په ګله کې ناروغۍ واقع کیږي نو روزونکي په دې مکلف دي تر څو نوموړې ناروغۍ تداوي او د اقتصادي زیان څخه مخنیوي وکړي. انتي بیوتیک عبارت له هغه میکروب ضد موادو څخه دي چې په میزبان کې د باکتریا ضد اغیزې رامنځته کوي او علاوه له دې محدود شمیر یې د پروتوزوا ضد اغیزې لري (VE & C, 2016).

د عفوني ناروغیو په مقابل کې د انتي بیوتیکو استعمال د ناروغۍ منځته راوړونکو میکروبونو لپاره په ټوله نړۍ کې یوه موثره تګلاره ده چې د چرګانو په ګلو کې د امراضو تداوي، مخنیوي او د ودې زیاتوالي په هدف کارول کیږي (Berghiche et al., 2018). د ناروغیو په مقابل کې د انتي بیوتیکو کارونه ناروغۍ منځته راوړونکي مایکرو اورګانیزمونه له منځه وړي او د جمعیت د سلامتیا سبب ګرځي. د ودې زیاتوالي په هدف د غوښینو چرګانو خوراکه کې په زیاته اندازه انتي بیوتیک کارول کیږي (Rahmatallah et al., 2018).

د غوښینو چرګانو په ګلو کې د انتي بیوتیکو زیات استعمال د هغه مقاومو باکتریاوو د زیاتوالي سبب ګرځي کوم چې د حیواناتو او انسانانو ترمنځ د مستقیم تماس، غذا او غیر مستقیم تماس له لارې انتقالیږي او په عموم کې نوموړې مقاومې باکتریاوې د عامي روغتیا (public health) لپاره یو له لویو ګواښونو څخه ګڼل کیږي (Landoni & Albarellos, 2015).

په زیاته اندازه د انتي بیوتیکو استعمال په راتلونکې کې د انتي بیوتیکیو په وړاندې د مایکروبي مقاومت له پلوه انسانانو او حیواناتو ته یوه لویه ننګونه ده او د انتي بیوتیکو استعمال یا د مقاومو باکتریاوو زیاتوالی سبب کیدلای شي (Bush et al., 2011).

په اروپایي اتحادیه کې د ودې په منظور د ۲۰۰۶ راپدیخوا د انتي بیوتیکو استعمال باندې بندیز لګیدلی ده او همدارنګه په امریکا کې د حیواناتو خوراکه او اوبو کې د غذا مؤثریت او ودې بهتروالي په هدف د هغه انتي بیوتیکو استعمال غیر قانوني اعلان شوی کوم چې د انساني طبابت له نګاه په مهمو انتي بیوتیکو کې راځي (Flynn, 2012).

نړیوالې روغتیایي ادارې (WHO) مشخصه کړې ده چې انتي بیوتیکو په وړاندې د باکتریاوو مقاومت په نړیواله سطحه د انساني روغتیا لپاره یو لوی ګواښ دی. په دوامداره ډول د غذا تولیدونکو حیواناتو په روزنه کې د انتي بیوتیکو استعمال یو له هغه فکتورونو څخه دي چې د انتي بیوتیکو په وړاندې د باکتریایي مقاومت موج زیاتوالي سبب ګرځي (Hao et al., 2014). په وروسته پاته هیوادونو کې د غذا تولیدونکو حیواناتو په روزنه کې د انتي بیوتیکو زیات استعمال په لوړه کچه د انتي بیوتیکو په وړاندې د باکتریاوو مقاومت زیاتوالي سبب ګرځي (Persoons et al., 2012).

د شواهدو له مخې د انتي بیوتیکو د استعمال په اړه د فارمدارانو د پوهې کچې کموالي، په کمه اندازه د عامه پوهاوي پروګرامونه او په مکمله ډول په انتي بیوتیکو تکیه کول هغه عوامل دي چې نوموړې مشکل ورځ تر بلې په زیاتیدو دي (Glasgow et al., 2019).

د یوې مطالعې له مخې دا جوته شوې ده چې په انګلستان کې په کلني ډول د ۲۵ میلون پاونډه څخه زیات میکروب ضد مواد چرګانو او غواګانو کې د ناروغیو تداوي علاوه د نورو مقاصدو (د ناروغیو مخنیوي او د ودې زیاتوالي) په منظور کارول شوي ، په داسې حال کې چې دا اندازه په انسانانو کې یوازې ۳ میلیون پاونډه ته رسیده (Singer & Hofacre, 2006).

د غوښینو چرګانو په روزنه کې د انتي بیوتیکو د خپل سري استعمال مخنیوي په خاطر زیاتو هیوادونو کې صحي ادارو ځانګړي قوانین وضع کړي. د مثال په ډول چین هیواد د فارمدارانو لپاره د هغه انتي بیوتیکونو لیست ځانګړی کړی،

کوم چې باید د چرګانو په روزنه کې ونه کارول شي او همدارنګه فارمداران مکلف دي چې په فارم کې د استعمال شوو انتي بیوتیکو ریکاډ له ځان سره ولري (Xu et al., 2020). په اکثره هیوادونو کې د قوانینو په رڼا کې د انتي بیوتیکو د استعمال مسئلي ته خصوصا د غوښینو چرګانو روزنه کې صنعتکاران متوجه شوي تر څو ټول فارمداران د انتي بیوتیکو په وړاندې باکتریایي مقاومت

موضوع جدي وګڼي او د چرګانو د ناروغيو په تداوي کې هغه انتي بيوتيک ونه کاروي کوم چې د نړيوالي روغتيايي اداري لخوا منع اعلان شوي وي (Mehdi et al., 2018).

د تيرو ۵۰ کلونو راپديخوا د غوښينو چرګانو په روزنه کې د حفظ الصحوي شرايطو مراعت کولو تر څنګ د انتي بيوتيکو استعمال په نوموړي صنعت کې د ناروغيو د منفي اثراتو څخه د ساتلو پوسيله پيشرفت ته زمينه مساعده کړې ده (Bermudez, 2003). خو د حفظ الصحي د مراعت کولو علاوه بايد د لا بهتروالي په منظور د واکسينو استعمال هم ترسره شي تر څو د مختلفو ويروسونو او باکترياوو په مقابل کې د چرګانو معافيتي سيستم مخکې له مخکې اماده او تقويه شوی وي (Rauw et al., 2009).

د انتي بيوتيکو ويش د کيمياوي صنف، د تاثير ميکانيزم او د باکتريا نوعه د کومې مقابل کې چې تاثير لري له مخې ترسره کيږي . Bactericidal انتي بيوتيک باکتريا وژني او bacteriostatics د باکترياو د تکثر مخنيوي په وسيله دې ته زمينه مساعدوي تر څو د معافيتي سيستم په ذريعه بلع شي او له دې امله ميزبان د صحت بهتروالي سبب ګرځي (Diarra and Malouin, 2014).

Umair او ملګرو (۲۰۲۱) د څیړنې په اساس د پاکستان خيبرپښتونخواه ايالت کې د غوښينو چرګانو په ۱۲ تجارتي فارمونو کې ۲۲ ډوله د ميکروب ضد مواد کاريدل، له دې جملې څخه ۶۰٪ هغه انتي مايکروبيال موادو تشکيلاوه چې په انساني طبابت کې مهم او ډير کاريدونکي ول.

Koirala او ملګرو (۲۰۲۱) څیړنې په اساس د نيپال هيواد په کتماندو دره کې د غوښينو چرګانو په ۳۰ بابه فارمونو کې ترسره کړي وه، په نوموړو فارمونو کې د انتي بيوتيکو استعمال پريولانس (۹۰٪) وو. ۶ فارمونو کې مختلف انتي بيوتيک د ناروغيو مخنيوي او ۲۱ فارمونو د ناروغيو تداوي په هدف استعماليدل (۱ جدول).

**(۱) جدول:** د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د انتي بيوتيکو د استعمال موخه

| شماره | انتي بيوتيک | غوښينو چرګانو ته د تطبيق موخه |
|---|---|---|
| ۱ | Enrofloxacine | د ناروغی تداوي او مخنيوي |
| ۲ | Neomycin+Doxycycline | د ناروغيو تداوی او مخنيوي |
| ۳ | Tylosin | د ناروغی تداوي |
| ۴ | Ciprofloxacin | د ناروغی تداوي |
| ۵ | Sulfonamides | د ناروغی تداوي |
| ۶ | Gentamicin | د ناروغی تداوي او مخنيوي |
| ۷ | Colistin Sulphate | د ناروغی تداوي |

(Koirala et al., 2021)

د ۲۰۱۹ عيسوي کال سروې له مخې د بنګلديش په چيټاګرام ايالت کې غوښينو او هګۍ توليدونکو چرګانو په روزنه کې د انساني طبابت له نګاه څخه ځينې مهم انتي بيوتيک لکه Colistin، Doxycycline او ځينې نور په زياته کچه استعماليدل (۲ جدول).

| د غوښينو چرګانو فارمونه (تعداد = ۸۳)<br>% | په فارمونو کې استعماليدونکي انتی بيوتيک | د طب له نظره د انتي بيوتيکو اهميت |
|---|---|---|
| 56.6 | Colistin | په اوله درجه ډير مهم انتي بيوتيک |
| 20.5 | Tylosin | |

| | | |
|---|---|---|
| | Ciprofloxacin | 33.7 |
| په دوهمه درجه مهم انتي بيوتيک | Neomycin | 38.6 |
| | Amoxicillin | 32.5 |
| په دريمه درجه مهم انتي بيوتيک | Trimethoprim | 18.1 |
| | Doxycycline | 50.6 |
| مهم انتي بيوتيک | Tiamulin | 0.0 (0) |

**(۲) جدول:** د طبي اهميت له مخې د انتي بيوتيکو استعمال
.(Imam et al., 2020)

په افغانستان کې د غوښينو چرګانو روزني صنعت په وړاندې ساري ناروغۍ يو له لويو ننګونو څخه دي کوم چې په زياته اندازه اقتصادي خساراتو سبب ګرځي، چې يو له عمده علتونو څخه يې د ساري ناروغيو په مقابل کې د هيواد په سطحه د مخنيوي او له منځه وړلو لپاره د واضحې ستراتيژۍ نشتون او همدرانګه د مسولو دولتي ادارو کمې توجه څخه عبارت ده.

د حيواناتو په روزنه خصوصا د غوښينو چرګانو په صنعت کې د ناروغيو تداوي او يا هم د ودې زياتوالي په موخه د هغه انتي بيوتيکو کارونه چې د نړيوالي روغتيا ادارې (WHO) لخوا منع اعلان شوي دي، انساني او حيواني ټولنې ته يو له لويو ګواښونو څخه شميرل کيږي چې په عمومي ډول د انتي بيوتيکو په وړاندې د باکتريايي مقاومت رامنځته کيدو سبب ګرځي. په اکثره هغه هيوادونو کې چې د پرمختګ حالت کې دي د چرګانو په صنعت کې د منع شوو انتي بيوتيکو کارونه زياته ده (Singer & Hofacre, 2006). په افغانستان کې د توليدي حيواناتو په روزنه کې د انتي بيوتيکو استعمال په اړه کوم خاص رسمي علمي معلومات شتون نه لري مګر د صحي او مسولو ادارو بې غوري، د قوانينو نه تطبيق او د فارمدارانو عامه پوهاوي کچې کموالي هغه علتونه دي د کومو له امله چې د غوښينو چرګانو په روزنه کې په زياته اندازه هغه انتي بيوتيک کارول کيږي چې انساني او حيواني جمعيت ته زيان اړونکي دي.

## مېتود او کړنلارې

### د څېړنې ساحه او کړنلاره

نوموړې څېړنه کې د کندهار ولايت د مرکز او ولسواليو (ارغنداب، دامان، ډنډ) غوښينو چرګانو تجارتي فارمونه تر مطالعې لاندې نيول شوي چې اوليه معلومات د معياري پوښتنپاڼې څخه په استفادې د فارمدارانو سره د مخامخ ليدنو په وسيله راټول شوي دي.

### د نمونې راټولولو طريقه او د ارقامو تحليل

د دې څېړنې په جريان کې ټاکل شوي ساحې څخه په تصادفي شکل د Snow ball مېتود څخه په استفاده ۳۵ بابه د غوښينو چرګانو فارمونه تر مطالعې لاندې نيول شوي، چې له جملې څخه يې ۱۰ بابه فارمونه په ارغنداب، ۱۰ بابه په دامان، ۱۰ بابه په ډنډ او ۵ بابه فارمونه په مرکز کې تر مطالعې لاندې نيول شوي دي (۱-۳ ګراف). د معلوماتو راټولولو په موخه د معياري پوښتنپاڼې څخه استفاده شوې کوم چې د فارمدارانو پوسيله د مخامخ ليدنو په نتيجه کې ځواب شوې دي.

د نوموړو فارمونو څخه معلومات د دريو مياشتو په موده کې د غوښينو چرګانو د اخريني مکمل شوي توليدي فصل کې د استعمال شويو انتي بيوتيکو له مخې راټول شوي دي. راټول شوي معلومات د (2019) MS Excel پوسيله تجزيه شوي دي او موندنو کې د ګرافونو، جدولونو او خطي ګرافونو په شکل ښودل شوېدي.

## موندنې

### په فارمونو کې استعمالېدونکي انتي بيوتيک

د مطالعې له موندنو څخه دا جوته شوه چې په ټوله کې په ذکر شوو فارمونو کې ۱۹ ډوله انتي بيوتيک کارول کېدل. عموم کې د Beta-lactam، Tetracyclines، Aminoglycosides، Quinolones او Sulfonamides کورنۍ پورې تړلي انتي بيوتيک په زياته اندازه کارېدل. د بيتالکتام انتي بيوتيکو له جملې څخه Penicillin، Amoxicillin، او Ceftriaxone ډېر

استعماليدل. د تيتراسايکلينو له کورنۍ څخه Oxytetracyclines، Doxycyclines او Tetracyclines د مختلفو اهدافو په منظور کارول کيدل. د کوينيلونو له ګروپ څخه Enrofloxacine، Ciprofloxacine او د سلفانامايدونو ډلې څخه Sulfadimidine او Sulfadiazine د هغو انتي بيوتيکو له جملې څخه وو چې د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د ناروغيو تداوي او نورو اهدافو لپاره استعماليدل.

په عمومي ډول زيات استعماليدونکي انتي بيوتيک Enrofloxacin د ۱۰۰٪، Amoxicillin د ۹۷٪، Tylosin د ۸۳٪، Colistin د ۸۸٪ او Doxycycline د ۷۸٪ په اندازه د هغه انتي بيوتيکو څخه وو چې تر نور ډير او په لوړه فيصدي د غوښينو چرګانو فارمونو کې د مختلفو اهدافو په منظور استعماليدل (۱- ګراف).




**(۱) ګراف:** د تجارتي غوښينو چرګانو فارمونو کې استعمالېدونکي انتي بيوتيک او د استعمال فيصدي راښيي.

### د انتي بيوتيکو د استعمال هدف

نتيجې وښوده چې په نوموړو فارمونو کې انتي بيوتيک د دريو عمده اهدافو ( د ناروغۍ تداوي، مخنيوي او ودې) په منظور استعماليدل (۳ جدول).

**(۳) جدول:** د تجارتي غوښينو چرګانو فارمونو کې د انتي بيوتيکو د استعمال موخې

| | |
|---|---|
| د ناروغيو تداوي | Amoxicillin, Colistin, Neomycin, Fosfomycin, Enrofloxacin, Ciprofloxacin, Lincomycin, Doxycycline, Oxytetracycline, Tilmicosin, Sulfadimidine, Ceftriaxone, Tiamulin, Trimethoprim, Florfenicol, Sulfadiazine, Tylosin and Gentamycin |
| د ناروغيو مخنيوي | Penicillin, Amoxicillin, Colistin, Enrofloxacin, Lincomycin and Florfenicol |
| د چرګانو وده | Penicillin, Amoxicillin and Lincomycin |

موندنو وښوده چې د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د انتي بيوتيکو زيات ډولونه د ناروغيو د تداوي په موخه کاريدل. د ناروغيو د تداوي علاوه Penicillin، Amoxicillin، Colistin، Enrofloxacin، Lincomycin او Florfenicol د هغه انتي بيوتيکو څخه وو، چې په صحتمندو چرګانو کې د ناروغيو د مخنيوي په هدف استعماليدل. همدارنګه Penicillin، Amoxicillin او Lincomycin په هغه انتي بيوتيکو کې شامل وو، کوم چې تجارتي غوښينو چرګانو کې د نورو مقاصدو سربيره د ودې زياتوالي په موخه استعماليدل.

### د انتي بيوتيکو د استعمال طريقه

د نتايجو تحليل وښودله چې په ټوله کې غوښينو چرګانو ته انتي بيوتيک د دريو عمده لارو (اوبو، زرق او غذا) پوسيله تطبيقيدل. د اوبو له لارې د انتي بيوتيکو تطبيق له هغه کړنلارې څخه وو چې په وسيله يې زياته اندازه انتي بيوتيک غوښينو چرګانو ته ورکول کيدل (۲ ګراف).




**(۲) ګراف:** تجارتي غوښينو چرګانو ته د انتي بيوتيکو د تطبيق لاره او اندازه په ګوته کوي.

پايلو وښوده چې د تجارتي غوښينو چرګانو په فارمونو کې انتي بيوتيک چرګانو ته په زياته اندازه د اوبو له لارې استعماليدل. د ۱۹ ډوله انتي بيوتيکو څخه ۱۳ ډوله يې د اوبو، ۴ ډوله د زرق او يوازې ۲ ډوله يې غوښينو چرګانو ته د غذا له لارې تطبيقيدل.

### د استعمال شويو انتي بيوتيکو کچه

په دې مطالعه کې د تجارتي غوښينو چرګانو مطالعه شويو فارمونو کې ټول ۲۰۴۰۰۰ قطعې چرګان تر مطالعې لاندې ونيول شول، موندنو وښوده چې ټوله کې چرګانو ته په يوه توليدي فصل کې ۸٦۳.۷ کيلو ګرام انتي بيوتيک د مختلفو اهدافو لپاره استعمال شوي وو (۴ جدول).

**(۴) جدول:** د تطبيق شويو انتي بيوتيکو اندازه راښيي.

| يوه چرګ ته د تطبيق شوي انتي بيوتيک (ګرام) | په واحد توليدي فصل کې استعمال شوي انتي بيوتيک (ګرام) | د چرګانو مجموعي تعداد |
|---|---|---|
| ۴.۲ | ۸٦۳۷۰۰ | ۲۰۴۰۰۰ |

موندنو وښوده چې د غوښينو چرګانو په ۳۵ مطالعه شوو فارمونو کې په مجموعي توګه و بازار ته عرضه کيدو تر مودې پورې ټول ۸٦۳.۷ کيلو ګرامه انتي بيوتيک کارول شوي وو، چې يو قطعه چرګوړي د يو ورځني عمر څخه بيا و بازار ته د وړاندې کيدو تر عمر پورې ۴.۲ ګرام انتي بيوتيک مصرف کړي.

### د انتي بيوتيکو ترلاسه کول

نتيجې وښودله چې فارمدارانو انتي بيوتيک د وترنرې خدماتو مرکز او يا هم درملتونو څخه د وترنر داکتر دنسخې، بدون د نسخې او يا هم دواړو لارو په استعمال سره پيرودل (۳ ګراف).




**(۳) ګراف:** د فارمدارانو پوسيله د انتي بيوتيکو د ترلاسه کولو مراجع ښودنه.

(۳) ګراف راښيي چې په زياته اندازه (۸۸.۵٪) فارمدارانو د وترنر داکتر د نسخي مطابق انتي بيوتيک تر لاسه کول او يوازې (۱۱.۴٪) فارمدارانو په خپل سري ډول بدون د وترنر داکتر د هدايت د درملتونو څخه انتي بيوتيک پيرودل. همدارنګه زياتو فارمدارانو (۴۸.٦٪) د دواړو لارو څخه په استفادي انتي بيوتيک ترلاسه کول.

## د انتي بيوتيکو د پاتي شونو په اړه عامه پوهاوي کچه

د غوښينو چرګانو په روزنه کې د انتي بيوتيکو د زيات استعمال له امله د چرګانو په غوښه کې د انتي بيوتيکي پاتي شونو په اړه د فارمدارانو د عامه پوهاوي کچه په (۴- ګراف) کې ښودل شوي ده.




**(۴) ګراف:** د انتي بيوتيکي پاته شونو په اړه د فارمدارنو د عامه پوهاوي کچه راښايي.

(۴) ګراف څخه څرګنديږي چې د غوښينو چرګانو په روزنه کې د انتي بيوتيکي پاتي شونو په اړه ډير فارمداران (٦٨.٦٪) عامه پوهاوي نه لري او کمه اندازه (۳۱.۴٪) فارمداران د انتي بيوتيکو پاته شونو اړوند يوه اندازه عامه پوهاوي لري. موندنو ښودلې چې په ټولو فارمونو کې بدون له دې چې د انتي بيوتيک بدن څخه وتلو موده (Withdrawal period) په نظر کې ونيول شي، انتي بيوتيک غوښينو چرګانو ته د مختلفو اهدافو لپاره تطبيقيدل.

## مناقشه او پايله

د څېړنې موندنو وښوده چې د غوښينو چرګانو په تجارتي فارمونو کې ۱۹ ډوله انتي بيوتيک استعماليدل، چې د انتي بيوتيکو له جملې څخه په زياته اندازه Enrofloxacin، او ورپسې Amoxicillin، Tylosin، Colistin او Doxycycline له هغه انتي بيوتيکو څخه وو چې د نورو په نسبت زياته اندازه استعماليدل. دې ورته نتايج Xu او ملګرو (۲۰۲۰) راپور ورکړی، دوی وموندله چې په شمالي چين کې د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د ناروغيو تداوي لپاره Enrofloxacin له زياتو استعماليدونکو انتي بيوتيکو څخه وو، په دوهمه درجه کې Amoxicillin، Oxytetracycline او Ceftriaxone په زياته کچه استعماليدل. د يوې بلې څېړنې له مخې پاکستان کې د غوښينو چرګانو فارمونو کې ۲۲ ډوله انتي بيوتيک استعماليدل. د انتي بيوتيکو له جملې څخه Amoxicillin، Doxycycline او Neomycin استعمال کچه لوړه وه (Umair et al., 2021).

د انتي بيوتيکو د استعمال عمده دليل د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د ناروغيو شتون وو، چې د ناروغيو له جملې څخه د کولمو التهابات او تنفسي ناروغيو زيات واقعات درلودل. د انتي بيوتيکو استعمال په چرګانو کې زياته اندازه د ناروغيو تداوي او د فشار کموالي په هدف کارول کيږي (Oluwasile et al., 2014).

مطالعې څرګنده کړه چې د غوښينو چرګانو په فارمونو کې انتي بيوتيک عموما په لوړه کچه د ناروغيو تداوي، ورپسې د ناروغيو مخنيوي او ودې زياتوالي په موخه چرګانو ته استعماليدل. د يوې سروې له مخې په انګلستان کې ۵۴.۴٪ فارمدارانو انتي بيوتيک په چرګانو کې د ناروغيو تداوي او ۲۴.۲٪ فارمدارانو د ناروغيو مخنيوي او ودې زياتوالي په موخه استعماليدل (Hughes et al., 2008). برعکس Koirala او ملګرو (۲۰۲۱) څېړنې له مخې د نيپال په کټماندو ايالت کې ۲۲٪ فارمدارانو انتي بيوتيک په غوښينو چرګانو کې د ناروغيو تداوي او ۷۸٪ يې د مخنيوي په منظور کارول. د يوې بلې مطالعې له مخې په ويتنام او تايلند کې د غوښينو چرګانو فارمونو کې انتي بيوتيک د ناروغۍ تداوي په نسبت په لوړه کچه د ناروغيو د مخنيوي په هدف تطبيقيدل (Carrique-Mas et al., 2015; Wongsuvan et al., 2018). پورته څېړنې د اوسنۍ مطالعې د موندنو سره ورته والی نه لري، زموږ موندنو څرګنده کړه چې د غوښينو چرګانو فارمونو کې د ناروغيو مخنيوي په نسبت په زياته اندازه انتي بيوتيک د ناروغيو تداوي په هدف استعماليدل او علت يې کيدای شي په څېړل شويو فارمونو کې د ناروغيو واقعاتو زياتوالی وي، ځکه چې په ساحه او هيواد کې د ناروغيو سرايت لپاره شرايط مساعد او د فارمدارانو لخوا د وترنري معياري پروتوکولونه نه مراعت کيږي.

موندنو څرګنده کړه چې غوښينو چرګانو ته ۸۸.۵٪ د اړتيا وړ انتي بيوتيک د وترنر داکتر د نسخې مطابق، ۱۱.۴٪ په خپل سر (Self-Medication) د فارمدار لخوا تطبيقيدل. دې ورته نتايج Bamidele او ملګرو (۲۰۲۲) هم لاسته راوړي، د دوی موندنې ښيي چې په نايجيريا کې په ۲۹ (۵۰٪) فارمونو کې انتي بيوتيک د وترنر داکتر د هدايت مطابق او ۲۵ (۴۳.۱٪) فارمونو کې بدون د وترنر داکتر نسخې څخه د فارمدارانو لخوا د اړتيا وړ انتي بيوتيک استعماليدل. همدارنګه د يوې څېړنې له مخې د نايجيريا په ايمو ايالت کې د غوښينو چرګانو تجارتي فارمونو کې په لوړه کچه انتي بيوتيک ته د وترنر داکتر هدايت مطابق او په کمه اندازه د (Self-Medication) په توګه استعماليدل (Okoli et al., 2005). د غوښينو چرګانو په فارمونو کې د فارمدارانو کاري تجربه ددې سبب کيدلای شي چې زياتره فارمداران په چرګانو کې د ناروغۍ د علايمو په ليدلو په خپل سر د تداوي او يا هم د مخنيوي په هدف انتي بيوتيک استعمالوي.

د څېړنو پايلو وښوده چې د چرګانو په غوښه کې د انتي بيوتيکي پاتې شونو په اړه په کمه فيصدي (۳۱.۴٪) فارمدارانو عامه پوهاوی درلود او په لوړه فيصدي (۶۸.۶٪) فارمدارانو په دې اړه هيڅ معلومات نه لري. دې ته ورته څېړنه د Nonga او ملګرو (۲۰۰۹) لخوا په تانزانيا کې ترسره شوې او پايلو ښودلې ده چې ۷۵٪ فارمداران د انتي بيوتيکي پاته شونو په اړه اګاهي نه درلوده. مګر ۹۰٪ فارمداران د انتي بيوتيکو Withdrawal period په اړه عامه پوهاوي درلود، خو بيا هم د اقتصادي ضايعاتو څخه د ويرې له امله ۹۵٪ فارمدارانو د انتي بيوتيکو Withdrawal period پوره کيدو تر مخه چرګان ذبحه کول. د انتي بيوتيکي پاته شونو په اړه د عامه پوهاوي نه لرلو علت يو هم د مسئولو ادارو لخوا فارمدارانو ته د عامه پوهاوي پروګرامونه نه برابرول او بل خوا د هيواد په کچه په حيواناتو کې د انتي بيوتيکو د استعمال نه کنټرول ده، همدارنګه په زياته فيصدي فارمداران ابتدايه زده کړې لري او د

انتي بیوتیکو له امله عامه صحت ته د شته ګواښونو څخه نا خبره دي. بل طرف ته د اقتصادي زیانونو څخه د مخنیوي په موخه زیاتو وختونو کې د بازار ته د عرضه کیدو تر مخه چرګانو ته د انتی بیوتیکو د Withdrawal period نظر کې نیولو علاوه، په فارمونو کې د مختلفو ناروغیو د تداوي او مخنیوي لپاره انتي بیوتیک استعمالیږي.

**د غوښینو چرګانو په روزنه کې د انتي بیوتیکو استعمال او له امله یې عامې روغتیا ته پیښیدونکې ګواښونه**

د موندنو څخه دا معلومیږي چې په زیاته اندازه انتي بیوتیک د غوښینو چرګانو په روزنه کې استعمالیږي او همدارنګه نوموړي انتي بیوتیک د ناروغی تداوي علاوه د ودې زیاتوالي په هدف په ټیټ غلظت سره د غوښینو چرګانو په مطالعه شویو فارمونو کې استعمالیږي.

د انتي بیوتیکو استعمال د ناروغیو د تداوي غلظت په نسبت په کم غلظت سره د ودې زیاتوالي په هدف کارول یو له خطرناکو کړنو څخه ګڼل کیږي، ځکه چې په ټیټ غلظت سره د انتي بیوتیکو استعمال د باکتریاو د مقاومو سټرینو د زیاتوالي سبب ګرځي کوم چې په مختلفو لارو انسانانو ته نوموړې باکتریاوې انتقالیږي (Apata, 2009). په انسانانو کې د مقاومو باکتریاو په وسیله د رامنځته شوی ناروغیو تداوي ستونزمنه او همدارنګه نوموړي باکتریاوې کولای شي مقاوم جینونه نورو باکتریاو ته انتقال کړي (Ogunleye et al., 2008).

په داسې حال کې چې انتي بیوتیک کولای شي په مختلفو غلظتونو سره د چرګانو په انساجو او غړو کې د پاتې شونو په ډول پاتې شي او همدارنګه د زیاتې مودې لپاره په ټیټ غلظت د ودې زیاتوالي په منظور د انتي بیوتیکو استعمال د باکتریایي مقاومو سټرینو د رامنځته کیدو سبب ګرځي کوم چې نوموړې باکتریاوې د وخت په تیریدو سره زیاتوالی او تکثر کوي. د چرګانو په انساجو او غړو کې د معین غلظت څخه د انتي بیوتیکي پاتې شونو زیاتوالی کولای شي د انسانانو پوسیله د مصرف په نتیجه کې عامه صحت ته د ځینو روغتیایي ستونزو لکه: د مقاومو باکتریایي سټرینو زیاتوالی، الرژیکي عکس العملونه او د کولمو د نورمالې مایکرو فلورا د زیانمنیدو سبب وګرځي (Hao et al., 2014) .

په غوښینو چرګانو کې د انتي بیوتیکو استعمال له امله د انسانانو روغتیا ته په مستقیم ډول د غذا په ډول د غوښینو چرګانو د غوښې او نورو تولیداتو مصرف، په فارم او مسلخ کې د کار کولو له امله انسانانو ته د انتي بیوتیکو په وړاندې د مقاومو باکتریاوو او د انتي بیوتیکي پاتې شونو انتقال ګواښونه موجود دي (Joosten et al., 2019). په غیر مستقیم ډول د چرګانو د فضوله موادو پوسیله د انتي بیوتیکو اطراح محیط کې د اوبو او خاورې د ملوثیا سبب ګرځي کوم چې د انسانانو روغتیا ته لوی ګواښ ګڼل کیږي (Timothy et al., 2012).

په عمومي توګه انتي بیوتیکي پاتې شوني که د هرې لارې څخه انسانانو ته انتقال شي کولای شي په انسانانو کې د الرژیکي عکس العملونو، د مختلفو اعضاوو زهریت، په حامله ښځو کې د ماشوم د زهریت، د کولمو د ګټورې مایکروفلورا د زیانمنیدو او ان تر دې چې په حجراتو کې د میوټیشن په وسیله د سرطان سبب وګرځي (khan et al., 2018).

## پایله

د ځیړنو پایلو وښوده چې د کندهار ولایت تجارتي غوښینو چرګانو فارمونو کې په زیاته اندازه انتي بیوتیک د ناروغیو تداوي، مخنیوي او د چرګانو ودې زیاتوالي په موخه کارول کیږي. د انتي بیوتیکو له جملې څخه زیات استعمالیدونکي عبارت دي له: Enrofloxacin د ۱۰۰٪، Amoxicillin د ۹۷٪، Tylosin د ۸۳٪، Colistin د ۸۸٪ او Doxycycline د ۷۸٪ په اندازه تر نورو په لوړه کچه استعمالیدل. په عمومي ډول په ډیره کمه اندازه فارمداران د انتي بیوتیکي پاتې شونو او د انتي بیوتیکو Withdrawal period په اړه معلومات لري او بدون له دې څخه چې نوموړي نقاط په نظر کې ونیول شي انتي بیوتیک په پراخه کچه کارول کیږي.

نوموړي انتي بیوتیک د باکتریایي مقاومت او د پاتې شونو په توګه انساجو کې د پاتې کیدو سبب ګرځي کوم چې انسانانو ته د مختلفو لارو انتقالیږي او همدارنګه د نوموړو انتي بیوتیکو پاتې شوني د چرګانو اطراحي سیستم له لارې محیط ته خپریږي کوم

چې عامه صحت ننګوي. د انټي بيوټيکي پاتې شونو انتقال انسانانو ته مختلفي روغتيايي ستونزې لکه: حساسيت، زهريت، ميوټيشن او نور رامنځته کولای شي.

## سپارښتنې

- د هيواد په کچه د داسې پاليسي جوړه شي تر څو د حيواناتو روزنې برخه کې انټي بيوټيک په کمه اندازه د مسئولو ادارو تر کامل نظارت لاندې استعمال شي، تر څو د هغه انټي بيوټيکو استعمال مخه ونيول شي کوم چې په انساني طبابت کې ډير کارول کيږي.
- تجاران وهڅول شي تر څو د انټي بيوټيکو په عوض د هغوي ځای ناستي (پروبايوټيک، پريبايوټيک....) هيواد ته وارد کړي او همدارنګه د نوموړو ځاي ناستو د اهميت په اړه فارمدارانو ته عامه پوهاوي پروګرامونه په لار واچول شي.
- د کرهنې او مالدارۍ وزارت بايد په رسمي توګه د وترنري اصولو په نافذولو سره د انټي بيوټيکو د پراخ استعمال مخه ونيول شي.
- د عامه صحت اړوند مسئول اداراتو ته په کار ده تر څو د انټي بيوټيکو له امله عامه صحت د شته ګواښونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه په لار واچوي.

## اخځليکونه


Bamidele, O., Amole, T. A., Oyewale, O. A., Bamidele, O. O., Yakubu, A., Ogundu, U. E., Ajayi, F. O., & Hassan, W. A. (2022). *Antimicrobial Usage in Smallholder Poultry Production in Nigeria*. *2022*.

Berghiche, A., Khenenou, T., & Labiad, I. (2018). *Antibiotics resistance in broiler chicken from the farm to the table in eastern Algeria*.

Bush, K., Courvalin, P., Dantas, G., Davies, J., Eisenstein, B., Huovinen, P., ... & Zgurskaya, H. I. (2011). Tackling antibiotic resistance. *Nature Reviews Microbiology*, *9*(12), 894-896.

Diarra, M. S., & Malouin, F. (2014). Antibiotics in Canadian poultry productions and anticipated alternatives. *Frontiers in Microbiology*, *5*(JUN), 87153,

Flynn, W. T. (2012). The judicious use of medically important antimicrobial drugs in food-producing animals. *Center for Veterinary Medicine (HFV-1), Food and Drug Administration. US Department of Health and Human Services*.

Glasgow, L., Forde, M., Brow, D., Mahoney, C., Fletcher, S., & Rodrigo, S. (2019). *Antibiotic Use in Poultry Production in Grenada*. *2019*.

Hao, H., Cheng, G., Iqbal, Z., Ai, X., Hussain, H. I., Huang, L., Dai, M., Wang, Y., Liu, Z., & Yuan, Z. (2014). Benefits and risks of antimicrobial use in food-producing animals. *Frontiers in Microbiology*, *5*(JUN).

Kasabova, S., Hartmann, M., Freise, F., Hommerich, K., Fischer, S., Wilms-Schulze-Kump, A., Rohn, K., Käsbohrer, A., & Kreienbrock, L. (2021). Antibiotic Usage Pattern in Broiler Chicken Flocks in Germany. *Frontiers in Veterinary Science*, *8*, 673809.

Kasabova, S., Hartmann, M., Werner, N., Käsbohrer, A., & Kreienbrock, L. (2019). Used daily dose vs. defined daily dose-contrasting two different methods to measure antibiotic consumption at the farm level. *Frontiers in Veterinary Science*, *6*(MAR).

Koirala, A., Bhandari, P., Shewade, H. D., Tao, W., Thapa, B., Terry, R., ... & Karki, S. (2021). Antibiotic use in broiler poultry farms in Kathmandu valley of Nepal: which antibiotics and why? *Tropical medicine and infectious disease*, *6*(2), 47.

Mehdi, Y., Létourneau-Montminy, M. P., Gaucher, M. Lou, Chorfi, Y., Suresh, G., Rouissi, T., Brar, S. K., Côté, C., Ramirez, A. A., & Godbout, S. (2018). Use of antibiotics in broiler production: Global impacts and alternatives. *Animal Nutrition*, *4*(2), 170–178.

Persoons, D., Dewulf, J., Smet, A., Herman, L., Heyndrickx, M., Martel, A., Catry, B., Butaye, P., & Haesebrouck, F. (2012). Antimicrobial use in Belgian broiler production. *Preventive Veterinary Medicine*, *105*(4), 320–325.

Rahmatallah, N., El Rhaffouli, H., Lahlou Amine, I., Sekhsokh, Y., Fassi Fihri, O., & El Houadfi, M. (2018). Consumption of antibacterial molecules in broiler production in Morocco. *Veterinary Medicine and Science*, *4*(2), 80–90.

Singer, R. S., Porter, L. J., Schrag, N. F. D., Davies, P. R., Apley, M. D., & Bjork, K. (2020). Estimates of on-farm antimicrobial usage in broiler chicken production in the United States, 2013–2017. *Zoonoses and Public Health*, *67*(S1), 22–35.

Umair, M., Tahir, M. F., Ullah, R. W., Ali, J., Siddique, N., Rasheed, A., Akram, M., Zaheer, M. U., & Mohsin, M. (2021). Quantification and Trends of Antimicrobial Use in Commercial Broiler Chicken Production in Pakistan. *Antibiotics 2021, Vol. 10, Page 598*, *10*(5), 598.

Xu, J., Sangthong, R., McNeil, E., Tang, R., & Chongsuvivatwong, V. (2020a). Antibiotic use in chicken farms in northwestern China. *Antimicrobial Resistance and Infection Control*, *9*(1).

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# په هلمند ولايت کي د خوړو د امنيت لپاره د کوکنارو غوره بديل نباتات

عبدالقوي عادل [۱]، عبدالهادی واصل [۲]*، اسدالله سعادت [۲]، سيد محمد کبير مين [۱]

[۱] د کرنيز اقتصاد څانګه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
[۲] د کرنيزي توسعې څانګه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
مسؤل ليکوال: hadiwasil99@yahoo.com

## لنډيز

کوکنار کښت غيري قانوني او د مخدره موادو اصلي سرچينه ده. د دې کښت د منځه وړلو لپاره بديل معيشت ګټور دي چې د خوړو نا امني له منځه وړلای سي. د دې څېړني موخې د کوکنارو د بديل معيشت نباتات او د کرونده ګرو د ستونزو معلومول دي. د دې څېړني ساحه د هلمند ولايت د ګرشګ ولسوالي پنځه کلی لکه ميرمنداب، سامېنار، ده ادم خان، مالګېر، او سپين مسجد تشکيلوي. د ۵۱ کروندګرو نمونه د دې څېړني لپاره وکارول سوه. چې بلاخره د ارقامو د راټولو لپاره پوښتنپاڼه ترتيب او په زريعه يې معلومات راټول سول. د دې څيړني د تر سره کولو وروسته موږ دې پايلي ته ورسېدو چې زيات شمېر کروندګرو ۷۸.۴٪ پنبه د کنارو لپاره د يو ښه بديل په توګه موافق دي او ۵۸.۸٪ سلنه کروندګرو د ريحان سره د يو ښه بديل په توګه موافق دي. غنم هم زياتو کروندګرو ۴۱.۲٪ د کوکنارو د بديل په توګه انتخاب کړي، چې د خوړو مهمه برخه جوړوي او کولای د خوړو امنيت کي ثبات منځته راوړي. زيات شمېر کرونګر د زياتو امراضو شتون ۹۲.۲٪، اصلاح سوو تخمونو کموالي ۸۶.۳٪ او د ترويجي خدماتو نشتون ۵۶.۹٪ په شان ستونزو څخه سر ټکوي. نو د يادو ستونزو لپاره تر ټولو لومړی د زراعت اړونده اداري او همدارنګه نوري زيربط اداري د حل په موخه کوټلي ګامونه واخلي تر څو د يوې خوا کروندګر غير قانوني کرکيلي پرېږدي او د بلي خوا يې توليدات اعظمي حد ته ورسيږي چي پدې سره به د خوړو امنيت ښه سئ.

**کليدي کليمې:** بديل معيشت، کوکنار، پنبه، خوړو امنيت

## پېژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د کوکنارو کښت چې د ترياکو او هېروينو سرچينه ده، چې په انګليسی کې ورته (Opium poppy) وايې او علمې نوم يې دی (Papaver somniferous) دی، چې د نشه يې توکو د قاچاق او جنايي فعاليتونو سره د تړاو له امله د افغان حکومت او نړيوالي ټولنې لپاره يوه لويه ستونزه ده (ورډ او همکاران، ۲۰۰۸). افغانستان د ۱۹۹۰ لسيزې په اوږدوکې د نړۍ د ناقانونه هېروينو د اصلې سرچينه وه، د ۲۰۰۰ کال په وروستيو کې طالبانو د ګواښونو، جبرې له منځه وړلو، او د عامه مجازاتو له لارې د کوکنارو په کښت بنديز ولګيدي. علاوه پردې، د طالبانو د حکومت تر سقوط وروسته د جمهوريت په دوره کې بيا د کوکنارو کرکيله زياته شوه، چې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې د زياتو مصارفو سره سره پدې ونه توانېدل چې د کوکنارو کښت بند کړي (فاريل او ترون، ۲۰۰۵). د ۲۰۲۳ کال د مې او اکتوبر ترمنځ، اټکل شوی ۱۵.۳ مليون افغانان په سخته توګه د خوړو امنيت سره مخ وو، په شمول د ۳.۴ ميليونو په شمول چې د لوړې د ناورين کچې د مخنيوي لپاره دوامداره بشري مرستې ته اړتيا لري.

د لسيزو جګړو، د اقليم ټکانونه، او سخت اقتصادي کمښت چې د لوړې بيکارۍ، د نغدو پيسو کمښت، او د خوراکي توکو د بيو لوړيدو له امله ځانګړتياوې لري ۲۹.۲ ميليون خلک بشري مرستو ته اړتيا لري. ډيری کروندګرو د کوکنارو پر ځای د غنم په څير غله جات کرلي، چې کولای شي د خوړو امنيت ښه کړي،

مګر دا به په بشپړه توګه د دوی د کوکنارو د کښت او د اپينو د حاصلاتو له لاسه وتلي شوي عايد ځای به ونه نيسئ (يو ان او ډي سي، ۲۰۲۳). د فراه، هلمند، کندهار او ننګرهار لپاره د ليرې پرتو سيمو تحليل، چې په ګډه يې په ۲۰۲۲ کې د کوکنارو د کښت

۷۴٪ استازيتوب کاوه، په ډاګه کړه چې د ۲۰۲۲ د کوکنارو په ځای شاوخوا ۶۸٪ نوري غلې دانې د غنمو په ګډون کرل شوي. په ۲۰۲۳ کې په يادو څلورو ولايتونو کې د غلو دانو په کښت کې په ټوليز ډول ۱۶۰،۰۰۰ هکتاره زياتوالی راغلی، چې لويه برخه يې د کوکنارو په ځای د غنمو د کرلو له امله وه (يو ان او ډي سي، ۲۰۲۳).

دکوکنارو زيات کښت او کارو بار چې زيات شمير خلګ پرې اخته دي او په اوسني وخت او حکومت کې کښت او کارو بار غيرې قانوني سو نو پدې اساس د بديل معيشت اړتيا رامنځته سوه، د نوموړې نبات بديل معيشت موندل يو مهم او پيچلې کار دی د اقتصادې بسايني لپاره د کوکنارو پرکښت باندې د سيمو تکېه د څو فکتورونو له امله کيداشې، لکه: بازارنو ته محدود لاس رسی، دزيربناو کموالې، د زراعتي تخمونو او ماشين الاتو کموالي، چې د دې ستونزو د حل لپاره د کرونده ګرو هڅول چې د ځايې اقليم او بازارغوښتنې لپاره مناسب بديل فصلونه او نباتات پيدا او د کوکنارو پرکښت باندې تکيه کمه کړې، چې پدې کې مختلفې ستراتيژې شاملې دی. لکه ۱: داسې بديل فصلونه وړاندې کول چې د هلمند په وچو شرايطو کې وده وکولای شي او لوړ ارزښت لرونکې وې او د وچکالې پر وړاندې مقاومت وکړې لکه: زعفران، انار، بادام، انګور، او پنبه چې دکوکنارو نسبتآ غوره بديل دې، ۲: بازارونو ته لاس رسې د اغيزمن او باور وړ بازار اړيکو رامنځته کول تر څو بزګران د خپلو محصولاتو لپاره ثابته تقاضا ولرې، ۳: ظرفيت لوړول او تخنيکې ملاتړ بزګرانو ته د روزنيزو پروګرامونو او تخنيکې مرستو وړاندې کول چې د دوی ظرفيت لوړ کړې او په برياليتوب سره بديل معيشت ته ولاړ شي، چې پدې کې به دوې ته د کرني عصري تخنيکونه، د اوبو مديريت، د ارزښت اضافه کول، او داسې نور پکښې شامل دې، ۴: د کوچنيو پورونو او کريډيتونو او خدماتو ته لاس رسې کولای شي چې بزګرانو ته دا توان ورکړې چې بديل معيشت په انتخابولو کې پانګه اچونه وکړې، ۵: د زيربناو کموالې، د بنسټيزو زيربناوو ښه کول لکه سړکونه، داوبولګولو سيستمونه، او د ذخيره کولو اسانتياوې، د بديل معيشت د نوښتونو د اسانه کولو لپاره اړين دی. بديل معيشت د کوکنارو د کښت لپاره ګټور، او غوره بديلونه وړاندې کوې، افرادو او ټولنو ته د عايد بديلې سرچينې او د ژوند ښه شرايط چمتو کوي (وټس او همکارن، ۲۰۱۸). کوکنارو سره د مبارزې يوازينې لاره د بديل معيشت وده ده، د بديل معيشت موخه خپله د يوبل چا په فعاليتونو کې مداخله کول دي چې د ټولنې يا هيواد لپاره زيانمنونکې وې (جانسن، ۲۰۱۲).

د کوکنارو د کښت څخه د ليرې کيدو په برخه کې يو له مهمو ننګونو څخه د ګټورو بديلونو چمتوکول دي، چې و کولاي شي اقتصادي ګټې او غذايي امنيت رامنځته کړي. د دې مسئلې د حل لپاره ډير نوښتونه ترسره شويدي چې په عمده توګه د کرنې د تنوع، متشبيثينو او حرفوي زده کړو په وده باندې تمرکز کوي، ترڅو د ځايي ټولنو لپاره بديل معيشت رامنځته کړي د کرني د تنوع په پروګرام کې به د بازار غوښتنې مطابق د قانوني فصلونو کښت معرفي کول او ملاتړ کول دې. پدې کې بزګرانو ته د کرنې په عصری تخنيکونو کې روزنه، اصلاح شوی تخمونو برابرول، امراضو کنټرول، او نور. د کوچنيو تصديو ملاتړ کول اشخاصوته دا توان ورکوي چې خپل شرکتونه رامنځته کړي او د کوکنارو د کښت څخه بهر عايد توليد کړي. په ټوليز ډول، په هلمند ولايت کې د بديل معيشت معرفي کول يو مهم اصل دي چې د کرنې تنوع، د متشبثينو وده، حرفوي زده کړو، او د زيربناو پراختيا ته اړتيا لري. نو پدی اساس د دې ستونزی د حل په موخه دا څيړنه په هلمند ولايت ګرشک ولسوالۍ کې ترسره سوه، چې د کوکنارو لپاره مناسب بديل پيداسې تر څو د اقتصادې بسايني لپاره د کوکنارو پرکښت باندې د سيمو تکيه راکمه سي. نو دا څېړنه د ځانګړو موخو لپاره تر سره کيري، چې عبارت د کوکنارو د بديل معيشت نباتاتو او د کرونده ګرو د ستونزو معلومول دي.

**مواد او کړنلاره**

د هلمند ولايت چې د افغانستان د (۳۴) ولايتونو څخه يو ولايت دي چې د هېواد په جنوب غرب کې موقيعت لرې او د سمندر له سطحې څخه (۷۸۰) متره لوړوالې لرې، چې مساحت يې (۵۸۵۲۴) کيلومتره مربع دې نوموړې ولايت (۱۸) ولسوالې لرې چې شاوخوا (۱۰۰۰) کلې لرې او نفوس يې (۱۴۴۶۲۳۰) دې، هلمند ولايت يوکرنيز ولايت دي چې زياته ساحه يې کرني نيولې ده په تېرو وختونو کې زياته ساحه د کوکنارو په واسطه کرل شوې وه، خو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ هبة الله اخندازه حفظه الله و رعاه د ۱۲۳۸ ګنېه، ۱۴۴۷/۳/۲۱ نېټې فرمان پراساس پر نوموړې کښت بنديز ولګېدي.

د ګرشک ولسوالي د اوبو له لحاظه غني ولسوالي ده، خلګ يې په کرهڼه او تجارت اخته دي، چې اکثريت پښتانه او نور قومونه هم پکښې اوسيږي او شاوخوا (۲۰۷) کلې لرې چې ددې کليو څخه پنځه کلي په هدفي ډول انتخاب شويدي،

چې د څېړني ساحه تشکېلوي لکه ميرمنداب، سامينار، ده ادم خان، مالګير، او سپين مسجد څخه عبارت دي. د دې څېړني د نمونه نيوني لپاره د snowball sampling تخنيک څخه استفاده سويده.

د څېړني لپاره د ارقامو او معلوماتو د راټولو لپاره د پوښتنپاڼي څخه استفاده سویده او د دې څېړني پوښتنپاڼه د څېړني اهدافو ته د رسېدو پر اساس ترتیب سوې ده، چې دکرونده ګرو او دهغوې د فارم اړوند عمومې معلومات دي لکه ژوند، مدنې حالت، عمر، تعلیم، جنسیت، او د فارم اندازه، او د بدیل نباتاتو اړوند څرګندوني پکښې ځای پر ځای سویدي. چې د دې څېړني اړوند ارقام د Spss پروګرام په زریعه سره تجزیه شوي او د تشریحي احصایې څخه پکښي استفاده شوې لکه Percentage, Frequency.

## موندني او مناقشه

د دې څېړني موندني ښیي په ۱ جدول کې چې ٪ ۷۸.۴ سلنه بزګرانو پنبه د کوکنارو د بدیل معیشت په توګه انتخاب کړي دي، د کروندګرو لپاره د پنبې نبات د نغدي پیسو په ترلاسه کولو کې خورا مهم دي چې له لاري کروندګر کولای د خوړو په ثبات او د ژوند په نورو برخو کې تري استفاده وکړي. همداسې زیات شمېر کروندګرو ٪ ۵۸.۸ ریحان د کوکنارو د بدیل معیشت په توګه انتخاب کړي دي. پدې توګه ماش هم ٪ ۵۲.۹ سلنه بزګرانو لخوا د یو ښه بدیل په توګه انتخاب سوي دي. او پاته دي نه وي چې غنم هم ٪۴۱.۲ سلنه کروندګرو لخوا د کوکنارو لپاره د ښه بدیل توګه انتخاب سوي، د غنم نبات یو مهم غذایی نبات دي چې زیات تولید د خوړو په امنیت کې مهم رول لري.بلاخره ډېر کم شمېر کرونده ګرو ٪۹.۸ د هنجي نبات د یو ښه بدیل په توګه انتخاب کړیدي.د UNODC د (۲۰۲۴) د راپور پر اساس د NSAD د کوکنارو کښت او د کلي سروې پایلې ښیي چې د حضرت امیرالمومنین شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله و رعاه د فرمان په تعقیب، په ټول افغانستان کې بزګرانو په پراخه کچه کوکنار د بدیل فصلونو لکه غنم، رومي بانجان، کچالو، پیاز، جوار، لوبیا، هندواڼې، ختکې، پنبه، نخود، کنجد، وریجې، زعفران، سرې او ګنې سره بدل کړي دي. سربیره پردې، ډیری بزګرانو د میوه لرونکو ونو لکه منې، بادام، انار او انګورو کښت پیل کړی دی مګر د UNODC راپور یوازې غنم او پنبه د بدیل په توګه یادوي.

**۱ جدول :** د کوکنارو لپاره بدیل نباتات د بدیل معیشت په توګه.

| بدیل معیشت نباتات | تعداد (فریکونسي) | سلنه |
|---|---|---|
| پنبه | ۴۴ | ۷۸.۴ |
| ریحان | ۳۰ | ۵۸.۸ |
| ماش | ۲۷ | ۵۲.۹ |
| خیره | ۲۳ | ۴۵.۱ |
| غنم | ۲۱ | ۴۱.۲ |
| جواري | ۱۴ | ۲۷.۵ |
| هنجه | ۵ | ۹.۸ |

منبع: ۲۰۲۴ سروې

### د کوکنارو د بدیل معیشت پروړاندي د کروندګرو ستونزي

د دې څېړني موندي په ۲ جدول کې ښیئ چې د امراضو شتون یوه جدي ستونزه ده، ٪۹۲.۲ سلنه بزګرانو کښت او تولیدات یې د خنډ سره مخ کړیدي، چې په زریعه د کروندګرو تولیدات ډېر ضایعات لري، د خوړو امنیت یې له منځه وړي او کروندګر نسي کولای اعظمي تولید وکړي. همدارنګه ٪ ۸۶.۳ سلنه بزګرانو د اصلاح سوو تخمونو نشتون یوه جدي ستونزه بللی ده او ۵۶.۹ سلنه کروندګرو بیا د ترویجي خدماتو نشتون یوه پیچلې ستونزه بللې ده.

د ترپیاتي او ملګرو (۲۰۲۰) لخوا ورته موندنې هم راپور شوې چې د کډو نبات اکثریت کروندګر (٪۷۳.۰) د آفتونو او ناروغیو ستونزو، د محدود تصدیق شوي تخمونو ٪۲۱.۰ او د بازار موندنې ستونزو ٪۵.۰ سره مخ وو. واصل او ملګرو یې په (۲۰۲۳) څېړنه وکړه چې د څېړني موندني هم د دې څېړني موندنو ته ورته دي چې د ارزګان په ولایت کې یې څېړنه کړیوه او موندلې وه چې د بادامو د کوچنیو کروندګرو اکثریت ٪۷۵.۰ د مختلفو آفتونو او ناروغیو سره مخ وو.

**۲ جدول** : د کرونده ګرو ستونزي.

| ستونزي | تعداد (فريکونسي) | سلنه |
|---|---|---|
| د امراضو شتون | ۴۷ | ۹۲.۲ |
| د اصلاح سوو تخمونو کموالي | ۴۴ | ۸۶.۳ |
| د ترويجي خدماتو نه شتون | ۲۹ | ۵۶.۹ |
| د اصلاح سوو درملو کموالي | ۲۵ | ۴۹ |
| د اوبو عصري سيستمونو کموالي | ۲۵ | ۴۹ |
| بيسوادي | ۲۳ | ۴۵.۱ |
| د مسلکي اشخاصو کموالي | ۱۹ | ۳۷.۳ |
| د ترينګونو کموالي | ۱۸ | ۳۵.۳ |

منبع: ۲۰۲۴ سروې

## پایله

د دې څېړني په ترسره کولو سره چي د هلمند ولايت په ګرشک ولسوالي کي ترسره سويده، دې پايلي ته ورسيدو چي لومړي پنبه چي په زيات فيصدي سره کروند ګرو د کوکنارو بديل معيشت په توګه انتخاب کړي دي او د کروند ګرو په کورني پرمختګ کي ونډه لري،

د هغوي پر اقتصادي وده، عايد باندي تاثير لري او پدې ډول کولای سي د خوړو امنيت تضمين کړي. او همداسي ريحان او ماش هم کروند ګرو د کوکنارو د يوه ښه بديل معيشت په توګه انتخاب کړي دي. علاوه پردې غنم هم زياتو کروندګرو د کوکنارو د بديل په توګه انتخاب کړي، چي د خوړو مهمه برخه جوړوي او کولای د خوړو امنيت کي باثباتي منځته راوړي. د دې څېړني په ساحه کي د کروندګرو ډېر مهمي ستونزي د امراضو شتون، اصلاح سوو تخمونو کموالي او د ترويجي خدماتو کموالي وو، او ځينو کروندګرو بيا د او بو عصري سيستمونو نشتون، د بېسوادي کموالي او د مسلکي کسانو د کموالي څخه سر ټکوی، چي د يادو ستونزو شتون په کروندو کي د کروندګرو توليد کم کړي. نو بايد مربوطه اداري د بديل نباتاتو د اعظمي توليد لپاره روزني او ترويجي خدمات ډېر کړي، اوبل د يادو ستونزو لپاره تر ټولو لومړی د زراعت اړونده او همدارنګه نوري زيربط اداري د يادو ستونزو د حل په موخه کوټلي ګامونه واخلي تر څو يوې خوا کروندګر غير قانوني کرکيلي پرېږدي او د بلي خوا يې توليدات اعظمي حد ته ورسيږي او خوړو امنيت تضمين کړئ.

## وړانديزونه

د پايلو پر بنسټ داسي وړانديز کوو چي افغانستان يو کرنيز هيواد دي، بايد د نوموړي هيواد زراعتي سکتور ته خاصه توجه وشي او د کروند ګرو سره د کوکنارو د بديل معيشت په برخه کي هر اړخيزه مرستي جاري وساتي.

د پنبي، ريحانو، ماشو او غنمو په برخه کي و کروند ګرو ته عامه پوهاوي ورکول سي. همدارنګه د خوړو د امنيت لپاره و کروندګرو ته د يادو بديل نباتاتو اصلاح سوو تخمونو ته لاسرسی اسانه او د امراضو په مقابل کي يې موثر درمل ورکول سي. د دې لپاره چي د څېړني په ساحه او هيواد کي بديل معيشت وده وکړئ، نو د اسلامي امارت مسؤلين بايد د بديل معيشت په برخه کي ترويجي خدماتو ته وده ورکړي ترڅو يوه حياتي ستونزه چي د خوړو نا امني ده حل سويوي. او بلاخره د بديل معيشت په اړه د علمي څېړنو ترسره کول چي د هيواد نوري سيمي هم تر پوښښ لاندي راولي د دې څېړني د مهمو وړانديزونو څخه دي.

## مأخذونه


Farrell, G., & Thorne, J. (2005). Where have all the flowers gone?: evaluation of the Taliban crackdown against opium poppy cultivation in Afghanistan. International Journal of Drug Policy, 16(2), 81-91.

Johnson, R. (2012). Managing Helmand Province: From Boost to Bastion. international Area Wright, J. H., Hill, N. A., Roe, D., Rowcliffe, J. M., Kümpel, N. F., Day, M., ... & Milner-

Tripathi, S., K.K. Shah, I. Tiwari and J. Shrestha. 2020. Farmers' perception about major insect pests of cucurbits and their management. Indones. J. Agric. Res., 3(3): 153–170. https://doi.org/10.32734/injar.v3i3.4414

UNODC, (2023). Afghanistan opium survey 2023 Cultivation and production after the ban: effects and implications. Retrieved from: unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey_2023.pdf

UNODC, (2024). Afghanistan drug insights volume 2: 2024 Opium production and rural development. Retrieved from: https://www.drugsandalcohol.ie/42343/2/Afghanistan_Drug_Insights_V2.pdf

Ward, C., Mansfield, D., Oldham, P., & Byrd, W. (2008). Economic Incentives and Development Initiatives to Reduce Opium Production. The World Bank. Department for International Development

Wasil, A. H., Shah, J. A., Haris, N. B. M., Hashimi, S. M., & Ahmadzai, K. M. (2023). The Level of Knowledge, Attitude and Practice Toward Organic Fertilizer Adoption among Almond Smallholder Farmers in Uruzgan, Afghanistan. Sarhad Journal of Agriculture, 39(1), 29 38. https://doi.org/10.17582/journal.sja/2023/39.1.29.38

Watts, S. B., Johnston, P. B., Kavanagh, J., Zeigler, S. M., Frederick, B., Johnston, T., & RAND Corporation Santa Monica United States. (2018). Limited Intervention: Evaluating the Effectiveness of Limited Stabilization, Limited Strike, and Containment Operations (p. 0285). Rand Corporation

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# بررسی تاثیر فقر بر امینت غذائی و راهکار های بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس

پوهنیار عبدالرسول کریمی*[1] نامزد پوهنیار نصیر احمد الفت[2]، پوهنیار عبدالقدیر طیب[3].

1. استاد دیپارتمنت علوم حیوانی پوهنځی زراعت موسسه تحصیلات عالی بادغیس
2. استاد دیپارتمنت باغداری پوهنځی زراعت موسسه تحصیلات عالی بادغیس.
3. استاد دیپارتمنت بیولوژی پوهنځی تعلیم و تربیه موسسه تحصیلات عالی بادغیس.

نویسنده مسئول : rasool_karimy2009@yahoo.com

## چکیده

ولایت بادغیس از جمله ولایات است که با چالش‌های جدی در زمینه امنیت غذائی مواجه می‌باشد، فقر، بیکاری، خشک سالی-های پیهم، و در سالهای اخیر سیلابها و افزایش قابل توجه بهای مواد اولیه، فشار بیشتری بر خانواده‌ها وارد کرده است. تحقیق حاضر به بررسی تاثیرات فقر بر امنیت غذائی و راهکار های بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس پرداخته است. این تحقیق از حیث هدف کاربردی بوده و ارقام به شکل کمی و کیفی توسط پرشنامه که حاوی 27 سوال بود در دو بخش بررسی و راهکار ها تنظیم شده است. ابتدا 100 پرسشنامه به اشتراک کننده‌گان توزیع گرید که بعد ازجمع آوری و بررسی حدود 30 سوالنامه فاقد اعتبار شناسائی شد و در حدود 70 سوالنامه برای تحلیل انتخاب گرید. در تحلیل ارقام از نرم افزار Spss و Excel استفاده گردید، ارقام ابتدا توسط Cronbach's alpha اعتبار سنجی شد و بعدا فریکونسی، اوسط، مود و همچنان ضریب همبستگی به روش Spearman's rho برای بررسی رابطه متغیرها استفاده گردید و برای رتبه بندی از جدول رتبه بندی Friedman استفاده گرید.یافته های تحقیق نشان داد که اوسط درامد ماهیانه و درجه تحصیل رابطه مثبت معنی داری در حد (0.05) در تامین امنیت غذائی و کاهش اثرات سوءتغذیه در بین اشتراک کننده گان داشته و مصرف مواد غذائی کامل درابطه معنی دار ولی منفی با اثرات سوءتغذیه در بین فامیل های اشتراک کنندگان داشته است.همچنان این تحقیق نشان داد که میزان بیکاری در بین اعضای اشتراک کننده گان بلند بوده و نیز تعداد زیادی از اشتراک کننده گان در طول یک ماه از گرسنگی ناشی از عدم قدرت خرید مواد خوراکه رنج میبرند.این تحقیق نشان داد که توسعه زراعت و مالداری، ایجاد فرصت‌های شغلی، ایجاد فابریکات صنعتی به عنوان عمده ترین راهکار برای بلند بردن امنیت غذائی شناسائی شده است.

**کلمات کلیدی:** امنیت غذائی، اوسط درامد، ایجاد اشتغال، دسترسی به غذا، فقر

## مقدمه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

سازمان ملل متحد در سال 1975، امنیت غذائی را بدین شرح تعریف کرد"امنیت غذائی عبارت است از عرضه مستمر مواد غذائی اصلی در سطح جهانی به منظور بهبود مداوم مصرف غذا و خنثی کردن اثرات نامطلوب نوسانات تولید و قیمت مواد غذائی (شیر سوار، 1390).

فقر یکی از مهم‌ترین عوامل تاثیرگذار بر امنیت و مصئونیت غذائی است. در مناطقی که فقر گسترده است، دسترسی به منابع غذائی کافی و متنوع برای خانواده‌ها دشوار می‌شود. این وضعیت می‌تواند منجر به سوءتغذیه، کاهش کیفیت زندگی و افزایش آسیب‌پذیری در برابر امراض شود. نبود منابع مالی کافی، خانوارها را مجبور می‌کند تا به مواد غذائی ارزان و کم‌ارزش تغذیه‌ای روی بیاورند، که این امر بر سلامت عمومی جامعه تأثیر منفی می‌گذارد( سورام، 1401).

از مهم ترین چالشها و مشکلات اخیر امنیت غذائی افزایش جمعیت جهان ( ۹ میلیاردنفری ) تا سال ۲۰۲۵ و به دنبال آن افزایش تقاضا برای غذا و امنیت غذائی 690 میلیون نفر دچار گرسنگی(8.9 درصد جمعیت جهان) حدود 750 میلیون نفر در شرایط حاد

نا امنی غذائی (از هر ده نفر یکی) بیش از 2 میلیارد نفر مبتلا به کمبود مواد غذائی (عدم دسترسی منظم به غذای کافی، مغذی و سالم) بیش از سه میلیارد نفر عدم دسترسی به رژیم غذائی سالم میباشد (معتقد و فمی، 1399).

فقر نه تنها توانائی خرید غذا را کاهش می‌دهد بلکه بر تولید و توزیع مواد غذائی نیز تأثیر می‌گذارد. دهاقین فقیر اغلب به دلیل کمبود منابع نمی‌توانند از تکنالوژی و روش‌های مدرن زراعتی استفاده کنند، که این امر منجر به کاهش تولید و افزایش وابستگی به واردات می‌شود. در این شرایط، هرگونه نوسان در بازار جهانی می‌تواند امنیت غذائی را به شدت تهدید کند. علاوه بر این، فقر می‌تواند بر دسترسی به خدمات صحی و آموزشی نیز تاثیر بگذارد، که این خود باعث تشدید مشکلات تغذیه‌ای می‌شود. کودکان و زنان باردار که به تغذیه مناسب نیاز دارند، بیشتر تحت تاثیر این شرایط قرار می‌گیرند (Chilton, 2007).

قرار گزارش IPC (2018) در فغانستان حدود ۹.۸ ملیون تن (% 43.6 روستائیان) در حالت بحران و اضطرار قراردارند. که از این جمله 2.6 ملیون نفر در سراسر کشور در فاز IPC 4 (اضطرار) قرار گرفته اند این گروه افرادی اند که نیازمندی عاجل به کمک ها دارند، این تخمین بیانگر افزایش % 17.4 افراد عدم مصؤنیت غذائی (از % 26.2 به % 43.2) درمقایسه به سال گذشته است.

از مجموع 34 ولایت ،3 ولایت( بادغیس، نورستان و کندهار) در فاز 4 (اضطرار)،27 ولایت( بدخشان، کندز، تخار، بغلان، کنر، لغمان، ننگرهار، فاریاب، جوزجان، بلخ، سمنگان، سرپل، دایکندی، بامیان، وردگ، غزنی، لوگر، پنجشیر، پکتیا، پکتیکا، ارزگان، زابل، هلمند، نیمروز، غور، فراه و هرات )در فاز3 صرف 4 ولایت (کابل، پروان، خوست و کاپیسا )در فاز 2 و بنابر شواهد هیچ ولایتی در فاز IPC 1 طبقه بندی نگردیده اند ( IPC ,2018 ).

به‌منظور مقابله با تهدیدات مرتبط با دسترسی به غذا میتوان از راهکارهای همچون افزایش درآمد و توان خرید خانوارها، بهبود توزیع مواد غذائی بین خانوار های پایین درآمد، ایجاد شغل‌های کوچک، ایجاد کاگاه‌های حرفوی، حمایت از دهاقین و مردمان روستائی از طریق قرضه‌های کوچک، توجه به زیرساخت ها، سیستم توزیع، بازار یابی و کاهش ضایعات وغیره استفاده کرد (Savary, 2022)

## مواد و روش کار

این تحقیق (**بررسی تاثیر فقر امینت غذائی و راهکار های بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس**) در سال 1403 در مرکز ولایت بادغیس انجام شده است، ولایت بادغیس از جمله ولایات است که اوسط درامد مردم پائین بوده و امنیت غذائی در آن بدرستی تامین نمی باشد. این تحقیق هذا میدانی بوده اشتراک کننده‌ها بصورت تصادفی ساده از اقشار مختلف ( کارمندان، دهاقین، مشاغل آزداد و افراد بیکار) در مرکز ولایت بادغیس انتخاب گریده است. برای جمع آوری دیتا از پرسشنامه استفاده گردید، به تعداد 100 سوالنامه بین اشتراک کننده ها توزیع گرید که از آنجمله 30 پرسشنامه فاقد اعتبار شناسائی شد و 70 پرسشنامه مورد تحلیل قرار گرفت.

معلومات دسته اول تحقیق از مصاحبه‌های حضوری و توزیع پرسشنامه بدست آمده، و معلومات دسته دوم از منابع مرجع مانند کتابها و مقالات علمی معتبر جمع آوری گردیده است که این منابع شامل مطالعات پیشین و آمارهای مرتبط به اهداف **بررسی تاثیر تاثیر فقر امینت غذائی و راهکار های بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس بوده است**. برای جدول بند و ترسیم گرافها از سافت ویر Excel و برای تحلیل بیشتر از سافت ویر SPSS ورژن 25 استفاده گردید. پایائی ارقام از طریق Cronbach's alpha و برای تعین رابطه ها بین متغیر ها از ضریب همبستگی Spearman و t-test استفاده گریده. و همینطور، فریکونسی، اوسط، فیصدی و فیصدی مجموعی نیز محسابه گرید.

## نتایج و بحث

### أ. شغل، تحصیلات، تعداد اعضای فامیل و اوسط درامد

شغل و درآمد پایدار به‌طور مستقیم بر امنیت غذائی تأثیر می‌گذارد. نتایج این تحقیق در خصوص اشتغال، تحصیلات، تعداد اعضای فامیل و اوسط درامد افراد تحت تحقیق در جدول (2) نشان داده شده است.

**جدول (2)** اشتغال، تحصیلات، تعداد اعضای فامیل و اوسط درامد در افراد تحت تحقیق را نشان میدهد.

| | | Frequency | Percent | Valid Percent | Cumulative Percent |
|---|---|---|---|---|---|
| | **شغل** | | | | |
| 1 | کارمند | 31 | 44.3 | 44.3 | 44.3 |
| 2 | دهقان | 7 | 10.0 | 10.0 | 54.3 |
| 3 | شغل آزاد | 24 | 34.3 | 34.3 | 88.6 |
| 4 | بیکار | 8 | 11.4 | 11.4 | 100.0 |
| 5 | Total | 70 | 100.0 | 100.0 | |
| | **سطح تحصیلات** | | | | |
| 1 | بی سواد | 27 | 38.6 | 38.6 | 38.6 |
| 2 | فارغ صنف دوازده | 15 | 21.4 | 21.4 | 60.0 |
| 3 | لیسانس | 28 | 40.0 | 40.0 | 100.0 |
| 4 | Total | 70 | 100.0 | 100.0 | |
| | **تعداد اعضای فامیل** | | | | |
| 1 | 1-3نفر | 7 | 10.0 | 10.0 | 10.0 |
| 2 | 4-6نفر | 25 | 35.7 | 35.7 | 45.7 |
| 3 | 7- 10نفر | 30 | 42.9 | 42.9 | 88.6 |
| 4 | 10<نفر | 8 | 11.4 | 11.4 | 100.0 |
| 5 | Total | 70 | 100.0 | 100.0 | |
| | **اوسط درامد ماهوار** | | | | |
| 1 | 5000> | 31 | 44.3 | 44.3 | 44.3 |
| 2 | 5001-8000 | 25 | 35.7 | 35.7 | 80.0 |
| 3 | 9000-12000 | 10 | 14.3 | 14.3 | 94.3 |
| 4 | 13000-16000 | 4 | 5.7 | 5.7 | 100.0 |
| 5 | 16000< | 0 | 0 | 0 | |
| | Total | 70 | 100.0 | 100.0 | |

نتایج جدول (2) نشان می‌دهد که بیشترین افراد تحت تحقیق (46%) را کارمندان دولت که شامل معلمین مکاتب مامورین دولتی و (33%) افراد دارای شغل آزاد، (11%) مربوط میشود به افراد بیکار و کمترین مقدار (7%) را دهاقین تشکیل میدهند.

از نظر سطح سواد طوریکه دیده می‌شود بیشترین فیصدی (41%) مربوط می‌شود به لیسانس، افراد بیسواد با (37%) و فارغین صنف دوازده (21%) به ترتیب دوم و سوم هستد، طوریکه مشاهده میشود درجه ماستر و دوکترا درین تحیقیق حضور نداشتند. همچنان نظر به حالت مدنی (74%) متاهل و (26%) افراد مجرد بودند.

طوریکه دیده می‌شود (43%) از پاسخ دهندگان دارای بیشترین تعداد اعضای فامیل یعنی (7-10 نفر) هستند، (36%) از افراد دارای تعداد فامیل بین (4-6 نفر) هستند و کمترین تعداد (10%) دارای (1-3 نفر ) اعضای فامیل اند.

نتایج تحقیق نشان می‌دهد که بیشترین افراد (44.3%) درامد شان کمتر از 5000 افغانی، و (35.7%) از افراد درامد شان بین 5001-8000 افغانی، و به همین ترتیب (14.3%) درامدی بین 12000-9000 دارند و تنها (5.7%) افراد درامد بین 16000-13000 افغانی در ماه داشته اند.

### ب. غذا های مصرفی در جریان یک هفته

فقر به‌طور مستقیم بر توانائی خانواده‌ها برای خرید مواد غذائی تأثیر می‌گذارد. نتیجه غذای مصرفی اشتراک کنند ها در جریان یک هفته در شکل (1) نشان داده شده است.




شکل (1) غذای مصرفی در جریان یک هفته در افراد تحت تحقیق را نشان میدهد

نظر به شکل (1) غذائی مصرفی در جریان یک هفته اشتراک کنند گان بررسی گردید، چنانکه دیده میشود غذای مصرف شده معمولی در یک هفته گروپ بندی شد، در گروپ (الف) پائین ترین نوع غذا (نان خشک با چای) است طوریکه دیده میشود تقریبا تمامی اشتراک کنند گان از این نوع غذا به سطوح مختلف استفاده میکنند یعنی (30 نفر) در هفته بیشتر از 3 مرتبه، (24نفر) 3 مرتبه، (11 نفر) 2 مرتبه، (3 نفر) 1مرتبه در هفته از نان با چای به‌عنوان غذای مصرفی استفاده می‌کنند و تنها (2 نفر) گفتند که از این غذا استفاده نمی کنند.

همین طور گروپ (ب) که غذای معمولی یعنی برنج با کچالو است، (24 نفر) 1 مرتبه، در قدم بعدی (21 نفر) 2 مرتبه، و به همین طور، 15 ، 8 نفر به ترتیب 3 و بیشتر از 3 مرتبه از این نوع غذا در هفته استفاده میکنند.

میزان استفاده از گروپ سوم غذا (ج) طوریکه دیده میشود بیشترین اشتراک کنند گان (24 نفر) تنها یک مرتبه در هفته، (23 نفر) 2مرتبه، و همین طور 6 و 3 نفر به ترتیب 3 و بشتر از 3 مرتبه در هفته استفاده می‌کنند و 3 نفر از این نوع غذا هیچ استفاده نمی کنند. میزان استفاده از گروپ چهام (د) طوریکه دیده می‌شود (43 نفر) تنها یک مرتبه و (12 نفر) 2 مرتبه در هفته از این نوع غذا استفاده میکنند و هین طور 6 و 1 نفر به ترتیب 3 و بیشتر از 3 مرتبه در هفته از این نوع غذا استفاده میکنند و (8 نفر) در طول یک هفته هیچ از این غذا استفاده نمی کنند.

میزان مصرف از گروپ پنجم (ه) طوریکه دیده می‌شود بیشترین افراد (46) نفر تنها 1 مرتبه، و (7نفر) در هفته 2 مرتبه، همین طور 3 و 1 نفر به ترتیب 3 و بیشتر از 3 مرتبه در هفته استفاده مکنند. و (13 نفر) گفتند که از این نوع غذا درجریان هفته هیچ استفاده نمی کنند. در مجموع معلومات اشراک کننده گان در شکل (1) در خصوص غذای مصرفی در جریان یک هفته نشان میدهد که اشخاص تحت تحقیق از تغذیه سالم و متعادل برخوردار نبوده و بیشتر از غذاهای ارزان قیمت استفاده می‌کنند

و غذا های متعادل که شامل گوشت، حبوبات، و میوه جات است کمترین مصرف‌کننده را در طول هفته دارد. مطالب فوق بیان کنند از عدم امنیت غذائی درین منطقه است.

| Correlations |
|---|

جدول (3) ضریب

| | | | اوسط درامد ماهوار | سطح تحصیلات | تعداد اعضای فامیل | نان خشک با چای | برنج و کچالو | حبوبات(نخود، لوبیا، عدس) | میوه جات و سبزیجات | گوشت (گاو، گوسفند، مرغ) | موجودیت اثرات سوء تغذیه در فامیل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Spearman's rho | اوسط درامد ماهوار | Correlation Coefficient | 1.000 | .560** | -.078 | -.134 | .314** | .276* | .412** | .267* | -.093 |
| | | Sig. (1-tailed) | . | .000 | .260 | .135 | .004 | .010 | .000 | .013 | .222 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | سطح تحصیلات | Correlation Coefficient | .560** | 1.000 | -.184 | -.336** | .121 | .186 | .228* | .001 | -.050 |
| | | Sig. (1-tailed) | .000 | . | .064 | .002 | .158 | .061 | .029 | .497 | .341 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | تعداد اعضای فامیل | Correlation Coefficient | -.078 | -.184 | 1.000 | .168 | .142 | .104 | -.141 | -.006 | -.154 |
| | | Sig. (1-tailed) | .260 | .064 | . | .082 | .120 | .196 | .122 | .479 | .101 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | نان خشک با چای | Correlation Coefficient | -.134 | -.336** | .168 | 1.000 | .138 | -.117 | -.239* | .003- | .162 |
| | | Sig. (1-tailed) | .135 | .002 | .082 | . | .127 | .168 | .023 | .490 | .090 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | برنج و کچالو | Correlation Coefficient | .314** | .121 | .142 | .138 | 1.000 | .577** | .230* | -.005 | .097 |
| | | Sig. (1-tailed) | .004 | .158 | .120 | .127 | . | .000 | .028 | .483 | .212 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | حبوبات (نخود، لوبیا، عدس) | Correlation Coefficient | .276* | .186 | .104 | -.117 | .577** | 1.000 | .176 | .022 | .008 |
| | | Sig. (1-tailed) | .010 | .061 | .196 | .168 | .000 | . | .073 | .428 | .473 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | میوه جات و سبزیجات | Correlation Coefficient | .412** | .228* | -.141 | -.239* | .230* | .176 | 1.000 | .426** | -.050 |
| | | Sig. (1-tailed) | .000 | .029 | .122 | .023 | .028 | .073 | . | .000 | .341 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | گوشت (گاو، گوسفند، مرغ) | Correlation Coefficient | .267* | .001 | -.006 | .003 | -.005 | .022 | .426** | 1.000 | -.152 |
| | | Sig. (1-tailed) | .013 | .497 | .479 | .490 | .483 | .428 | .000 | . | .105 |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| | موجودیت اثرات سوء تغذیه در | Correlation Coefficient | -.093 | -.050 | -.154 | .162 | .097 | .008 | -.050 | -.152 | 1.000 |
| | | Sig. (1-tailed) | .222 | .341 | .101 | .090 | .212 | .473 | .341 | .105 | . |
| | | N | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 | 70 |
| **. Correlation is significant at the 0.01 level (1-tailed). | | | | | | | | | | | |
| *. Correlation is significant at the 0.05 level (1-tailed). | | | | | | | | | | | |

همبستگی متغیر های اوسط درامد و سطح تحصیلات افراد تحت تحقیق را بالای غذاهای مصرفی در افراد تحقیق را نشان میدهد.

جهت تعین رابطه بین اوسط درامد ماهوار، سطح تحصیلات، تعداد اعضای خانواده و غذای مصرفی در جریان یک هفته از ضریب همبستگی اسپیرمن استفاده گرید، یافته ها نشان می‌دهد که بین اوسط درامد ماهوار و سطح تحصیلات رابطه مثبت و معنی دار در سطح (0.01) وجود دارد یعنی با افزایش سطح تحصیلات اوسط درامد نیز افزایش می یابد.

چنانکه دیده میشود اوسط درامد با تعداد اعضای فامیل رابطه منفی دارد، به این معنی که افراد با تعداد نفوس بیشتر دارای اوسط دارمد کمتری می‌باشند. وهمین‌طور رابطه بین اوسط درامد با مصرف نان خشک و چای منفی است به این معنی که هرچه که اوسط درامد افراد افزایش می‌یابد مصرف نان خشک و چای کمتر می‌شود.

رابطه بین اوسط درامد با مصرف برنج و کچالو مثبت و معنی دار است یعنی با افزیش اوسط درامد میزان مصرف برنج و کچالو نیز افزایش می‌یابد. و رابطه بین اوسط درامد و مصرف حبوبات نیز مثبت و معنی دار است با افزایش سطح درامد مصرف حبوبات نیز افزایش می‌یابد. و همین طور رابطه بین اوسط درامد و میوه جات نیز مثبت و معنی دار است با افزایش درامد مصرف میوه و سبزی نیز افزایش می‌یابد. و همینطور رابطه بین اوسط درامد و موجودیت افراد سوء تغذیه در فامیل نیز منفی است یعنی با افزایش اوسط درامد خانوار ها اثرات سوء تغذیه در فامیل کاهش می یابد.

طوریکه در جدول ( 3 ) مشاهده میشود رابطه بین سطح تحصیلات و تعداد اعضای فامیل منفی و معنی دار نیست چراکه ($p > 0.05$) می‌باشد. و همچنان رابطه بین سطح تحصیلات و مصرف نان خشک و چای منفی و معنی دار است، با افزیش سطح تحصیلات مصرف نان خشک و چای کاهش پیدا میکند. رابطه بین سطح تحصیلات و مصرف برنج و کچالو نیز مثبت و بدون معنی است ($p>0.05$)می‌باشد. همچنان رابطه بین سطح تحصیلات و مصرف میوه، سبزی و گوشت مثبت و معنی دار بوده ولی رابطه بین سطح تحصیلات و علایم سوه تغذیه در فامیل منفی است، که با بلند رفتین سطح تحصیلات اثرات سوءتغذیه در فامیل‌ها کاهش می‌یابد.

همچنان جدول ( 3 ) بیان میکند که رابطه بین تعداد اعضای فامیل با مصرف نان خشک و چای مثبت و معنی دار در سطح (0.01) است که با افزایش تعداد اعضای فامیل مصرف نان با چای نیز افزایش خواهد داشت. همچنان رابطه بین تعداد اعضای فامیل با مصرف برنج، حبوبات، میوه جات و گوشت مثبت ولی معنی دار نیست بخاطریکه Sig>0,05 است. ولی رابطه بین تعداد اعضای فامیل با اثرات سوء تغذیه منفی است .

همجنان نظر به یافته های جدول (3) رابطه بین مصرف نان خشک با چای و مصرف برنج مثبت ولی معنی دار نیست، ولی رابطه بین مصرف نان خشک با چای و مصرف حبوبات، میوه و سبزی، حبوبات و گوشت منفی یعنی با بلند رفتن میزان مصرف نان چای مصرف دیگر خوراکه ها کاهش می‌یابد. رابطه بین مصرف نان خشک با چای و موجودیت اثرات سوء تغذیه در فامیل مثبت و معنی دار است که با افزایش مصرف این خوراکه اثرات سوء تغذیه در فامیل ها نیز افزایش می یابد.

رابطه بین مصرف برنج، حبوبات و سبزیجات مثبت و معنی دار بوده و رابطه آن با مصرف گوشت منفی و با موجودیت اثرات سوء تغذیه نیز مثبت ولی معنی دار نیست.

رابطه بین مصرف حبوبات و میوه جات و گوشت مثبت و منی دار بوده و همین طور رابطه آن با موجودیت اثرات سوءتغذیه در فامیل مثبت و لی معنی دار نیست.

رابطه بین مصرف میوه جات و گوشت مثبت و معنی دار بوده و رابطه آن با اثرات سوء تغذیه منفی است. و در اخیر رابطه بین مصرف گوشت و اثرات سوءتغذیه منفی بوده که با افزایش مصرف گوشت اثرات سوءتغذیه در فامیل ها کاهش می‌یابد.

بطور خلاصه از جدول ( 3 ) چنین استنباط میشود که اوسط درامد ماهانه، و سطح تحصیلات رابطه مثبت و معنی داری بالای مصرف خوراکه در افراد تحقق تحقیق داشته و رابطه آن با اثرات سوءتغذیه منفی است و این مسئله را ثابت میکند که فقر و پائین بودن درامد و سطح تحصیلات باعث کاهش امنیت غذائی میشود.

## د. راهکارهای افزایش امنیت غذائی در ولایت بادغیس:

**جدول (4) جدول** t-test راهکار های بلند بردن امنیت غذای در ولایت بادغیس را نشان میدهد.

| One-Sample Test | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | Test Value = 0 | | | |
| | t | df | Sig. (2-tailed) | Mean Difference |
| توسعه زراعت و مالداری | 22.899 | 69 | 000. | 2.943 |
| ایجاد فابریکات صنعتی | 20.422 | 69 | 000. | 2.657 |
| ایجاد شغل | 23.955 | 69 | 000. | 2.914 |
| کمک موسسات خارجی | 17.072 | 69 | 000. | 2.357 |
| حمایت از خانواده های نیازمند | 19.486 | 69 | 000. | 2.500 |
| ایجاد شغل های کوچک | 21.352 | 69 | 000. | 2.329 |
| ایجاد کارگاه های حرفوی | 20.384 | 69 | 000. | 2.514 |
| حمایت دولت از طریق قرضه های کوچک | 19.451 | 69 | 000. | 2.129 |
| ایجاد مارکت محصولات داخلی | 21.142 | 69 | 000. | 2.414 |
| توسعه گردش گری | 19.616 | 69 | 000. | 2.229 |

**توسعه زراعت و مالداری:** - $t = 22.899$، و تفاوت اوسط $= 2.943$ با اطمینان بالای معناداری $p < 0.001$ نظر به جدول (4) و نظر به جدول (5) رتبه بندی فریدمن با کسب اوسط 7.02 نشان‌دهنده این است که پاسخ‌دهندگان به طور کلی احساس مثبتی نسبت به توسعه زراعت و مالداری دارند به عنوان اولین راهکار برای افزایش امنیت غذائی پیشنهاد میکنند.

**ایجاد شغل:** - $t = 23.955$، و تفاوت اوسط 2.914 و سطح بالای معنی داری $p < 0.001$ و نظر به جدول رتبه بندی فرویدمن با کسب اوسط 6.57 نشان‌دهنده تمایل کمتر پاسخ‌دهندگان به این گزینه نسبت به توسعه زراعت و مالداری است و در رتبه دوم از راهکارهای افزایش امنیت غذائی قرار میگیرد.

**ایجاد فابریکات صنعتی:-** $t = 20.422$، ، و تفاوت اوسط 2.657 ودرجه معنی داری $p < 0.001$ و نظر به جدول رتبه بند با کسب اوسط 5.96 نشان‌دهنده نتیجه مشابه با اهمیت بالا است و در رتبه سوم راهکار ها قرار میگیرد.

توسعه گردش‌گری: $t = 19.616$ ، تفاوت اوسط 2.229 سطح معنی داری $p < 0.001$ نظر به جدول رتبه بندی با کسب اوسط 4.7 گزینه **حمایت دولت از طریق قرضه‌های کوچک**- $t = 19.451$، 2.129 سطح معنی داری $p < 0.001$ و اوسط 4.41 نشان‌دهنده کمترین اهمیت در مقایسه با سایر گزینه‌ها است.

نتیجه که از این آزمون می‌توان گرفت اینست که پاسخ‌دهندگان نسبت به گزینه‌های توسعه زراعت و مالداری و ایجاد شغل احساس مثبت‌تری دارند، در حالی که گزینه‌های چون، حمایت دولت از طریق قرضه‌های کوچک و توسعه گردش‌گری کمترین اهمیت را دارند. همچنین، پراکندگی نظرات در میان گزینه‌های مختلف نشان‌دهنده تفاوت‌های قابل توجه در دیدگاه‌ها و اولویت‌های پاسخ‌دهندگان درین مورد است.

**جدول (5)** جدول رتبه بندی فروید من

| Ranks | Friedman Test |
|---|---|
| | Mean Rank |
| توسعه زراعت و مالداری | 7.02 |
| ایجاد فابریکات صنعتی | 5.96 |
| ایجاد شغل | 6.57 |
| کمک موسسات خارجی | 5.12 |
| حمایت از خانواده های نیازمند | 5.61 |
| ایجاد شغل های کوچک | 4.96 |
| ایجاد کارگاه های حرفوی | 5.41 |
| حمایت دولت از طریق قرضه های کوچ | 4.41 |
| ایجاد مارکت محصولات داخلی | 5.17 |
| توسعه گردش گری | 4.76 |

## نتیجه گیری

بیشترین افراد تحت تحقیق را کارمندان دولتی، بعدا شغل آزاد و اشخاص بیکار در در جه سوم قرار داشند. واز نظر سطح سواد بیشترین تعداد مربوط افراد با مدرک لیسانس، بعدا اشخاص بیسواد و فارغین صنف دوازده در درجه سوم قرار دارند. از نظر تعداد اعضای فامیل بیشترین تعداد مربوط به خانوادهای بزرگ 7-10 نفر و کمترین تعداد مربوط به فامیل های کوچک 1-3نفر است. و از نظر اوسط درامد ماهوار بیشترین تعداد در گروپ کمتر از 5000 و بعدا 5001- 8000 قرار دارند که بیان کننده سطح پائین درامد و عدم امنیت غذائی در افراد تحت تحقیق است.

در قسمت غذا های مصرفی در جریان یک هفته بیشترین مصرف مربوط به نان چای است که بیشترین افراد تحت تحیقق بیشتر از 3 مرتبه در هفته استفاده میکردند. و مصرف گوشت، میوه و سبزی در پائین ترین حد است که این مسئله بیان کننده عدم توان خرید غذای متعادل و در نتیجه عدم امنیت غذائی در بین افراد تحت تحقیق را نشان می‌دهد.

تحقیق واضح ساخت که اوسط درامد و سطح تحصیلات رابطه مثبت و معنی داری روی استفاده افراد تحت تحقق از غذا های متعادل و متنوع داشته و در نتیجه تاثیر معنی داری روی امنیت غذائی داشته است.

اثرات سوءتغذیه با بلند رفتن اوسط درامد و استفاده از غذاهای متعادل در بین خانواده های اشتراک کننده کاهش یافته و با بلند رفتن میزان مصرف غذا های بی کیفیت (نان چای) اثرات سوء تغذیه نیز افزایش را نشان میدهد.

بخاطر عدم توانائی در خرید مواد غذائی درجریان یک ماه بعضی از خانوارها در طول یک روز کامل غذا دریافت نکرده و از گرسنگی رنج میبرند.

مصرف یک غذای متعادل (برنج،گوشت، لبینات و میوه یا سبزی) در یک وعده غذائی، یک بار هفته در کمترین حد (3%) خود بوده و بیشتر از (80%) از افراد تحقت تحقیق به درجات مختلف نگران تمام شدن مواد غذائی شان هستند.

توسعه زراعت و مالداری، ایجاد شغل، و ایجاد فابریکات صنعتی از عمده ترین راهکارهای شناخته شده توسط افراد تحت تحقیق برای بلند بردن امنیت غذائی در ولایت بادغیس می‌باشد.

## مآخذها

اسماعیلی فر، ا. (1392) نقش جایگاه امنیت غذائی در امنیت غذائی ملی. کنفرانس بین المللی اقتصاد در شرایط تحریم بابلسر: شرکت پژوهشی طرود شمال.

سورام، م.، نوشاد، م.، (1401) عوامل موثر بر بهبود امنیت غذایی خانوارهای روستایی (مطالعه موردی روستاهای شهرستان هندیجان) مجله اقتصاد تولید و بازاریابی کشاورزی، شماره 1 ، 45-70.

شیر سوار، ع، ق.،( 1390) اهمیت و تاثیر امنیت غذایی در امنیت ملی. وب سایت خبرگزاری صداوسیما http://www.iribnews.ir ص 1 – 13.

محرابی بشر آبادی، ح. و موسی محمدی، ح. (1389) تاثیر حمایت های دولت از بخش کشاورزی بر امنیت غذائی خانوار های شهری در ایران. مجله اقتصاد کشاورزی، 4(3): 1-16.

معتقد، م.، فمی، ح، ش.، (1399) نقش کشاورزی حساس به تغذیه در امنیت غذایی و تغذیه ای. ص 252 – 262.

NSIA (1401) برآورد نفوس کشور ، اداره ملی احصایه و معلومات کشور.

Chilton, M. Chyatte, M. Breaux, J. (2007) The negative effects of poverty & food insecurity on child Development. *Department of Community Health & Prevention, Drexel University*

**FAO( 2015) The State of Food Insecurity in the World, J Agrifood Economics.**

IPC (2018) ACUTE FOOD INSECURITY ANALYSIS. *Integrated Food Security Phase Classification*.

Marzaleh, m, A. Peyravi, M. Khorram-Manesh, A. (2021) Food safety and Security. Shiraz University of Medical Sciences. Chap 18. *https://www.researchgate.net/publication/355349075*

Savary, S. Waddington, S. Akter, Sonia (2022) Revisiting food security in 2021: an overview of the past year. *J, spriger*, 14:1–7. https://doi.org/10.1007/s12571-022-01266-z.

World bank (1986) Food safety Issues in the Developing world. *World bank technical paper*, (V) 14, 25-55.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د اقليم پر بدلون، غذايي امنيت او مصؤنيت باندي د څېرکي کرهنې اغېزې

اسدالله سعادت [۱]*، سعيدالله شينواری[۲]، عبدالهادي واصل[۱]، سيد محمد کبير مين[۳]

۱ د کرنيزي توسعې څانگه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو اوتکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
۲ د کرنيز اقتصاد او توسعې څانگه، د کرني پوهنځی، ننگرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان.
۳ د کرنيز اقتصاد څانگه، د کرنيز اقتصاد او توسعې پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو اوتکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار، افغانستان.
مسؤل ليکوال: *asadsuadat@gmail.com

## لنډيز

د فعال او روغ ژوند لپاره ټولو افرادو ته په هر وخت کې کافي، خوندي، سالم او د مغذي خوړو توليد او رسيدلو ته غذايي امنيت او مصؤنيت ويل کيږي. څېرکه کرهنه ټولو هغو کرنيزو فعاليتونو، ټکنالوژيو او ستراتيژيو ته اشاره کوي چې د کروند گرو سره ددې مرسته کوي چې د کرهنې پر توليد باندي د اقليم د بدلون ناوړه اغيزې کمې کړي. دا يو کتابتوني کيفي څېړنه ده چې د تشريحي ميتود پر بنسټ ترسره سوی، چې موخه ئې، په غذايي امنيت او مصؤنيت کې د څېرکي کرهنې د رول معلومول دي. څېرکه کرهنه د غذايي توکو په تأمين او خونديتوب کې خاص رول لري، څېرکه کرهنه د اقليم د بدلون د ناوړه اثراتو د کمولو، د اوبو د مديريت، د بيولوژيکي تنوع د ساتنې، د اقليم د بدلون سره د توافق او د ټولنې د فعال گډون له لاري د غذايي توکو په امنيت او مصؤنيت کې مرسته کوي، همدارنگه پايلې په گوته کړل چې، مناسب پلان او پانگونه، کرنيزه ټکنالوژي، ترويجي پروگرامونه، د ايکو سيسټم او د ټولنې انعطاف د څېرکي کرهنې د مهمو او ضروري عناصرو څخه دي. څېړنه وړانديز کوي چې د څېرکي کرهنې د پراختيا لپاره مناسب ترويجي پروگرامونه پلي او د کروندگرو د انعطاف اړوند ستونزې حد اقل ته راټيټي کړل سي.

**کليدي کليمي**: د اقليم بدلون، غذايي امنيت، غذايي مصؤنيت، څېرکه کرهنه

## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د فعال او روغ ژوند لپاره ټولو افرادو ته په هر وخت کې کافي، خوندي، سالم او د مغذي خوړو توليد او رسيدلو ته غذايي امنيت او مصؤنيت ويل کيږي (King et al., 2017) ، د غذايي امنيت او مصؤنيت په ترلاسه کولو کې کرهنه، اقتصاد او روغتيا ډيره مفيده تاميري او يو د بل سره نه پري کيدونکي اړيکي لري (Olowogbon, 2011).

د اقليم بدلون نړيواله ناوړه پديده ده چې په هوا کې د اوږدمهاله بدلون په صورت کې د تودوخي زياتوالی، وچکالي، د اوبو کمښت او نورو ناوړه پيښو سبب کيږي، له امله يې د خوراکي توکو پر امنيت او د انسانانو پر ژوند باندي منفي اغيزې کوي، طبيعي او اقليمي پيښې د غذايي توکو په توليد کې د زيانونو د رامنځته کيدو باعث کيداي سي، (Pokhrel et al., 2021). د اقليم د بدلون ناوړه پيښې تر ډيره حده پوري د څېرکي کرهنې، د اوبو مديريت، د اقليم سره توافق او د مناسبې ټکنالوژۍ په استعمال سره کميداي سي (McCarthy et al., 2011). په غذايي امنيت کې د اقليم په وړاندي مقاومه (څېرکه) کرهنه مؤثره تاميداي سي، د اقليم په وړاندي مقاومت لرونکي کرهنه ټولو هغو فعاليتونو، ټکنالوژيو او ستراتيژيو ته اشاره کوي چې د کروند گرو سره ددې مرسته کوي چې د کرهنې پر توليد باندي د اقليم د بدلون ناوړه اغيزې کمې کړي، د اقليم په وړاندي مقاومت لرونکي کرهنه کرنيزو سيستمونو ته د انعطاف ورکولو له لاري د خوړو په امنيت او مصؤنيت کې زياته مرسته کوي او د اقليم د بدليدونکو او ناوړه شرايطو په موجوديت کې لا هم د خوړو توليد او پايداره ودې ته پراختيا ورکوي (Prasad et al., 2014).

د اقليم بدلونونه د کرنيزو محصولاتو پر توليد او د غذايي پر امنيت باندي ناوړه اغيزه کوي. د اقليم بدلون د هوا، دوتوخي، رطوبت بدلونونه، وچکالي، بې وخته اورښتونه او سيلابونه رامنځته کوي چې له امله ئې د خلګو پر ژوند باندي ناوړه اغيزه کوي ( IPCC,

Field & Barros, 2014;2014). د اقليم بدلون پر چاپېريال باندي د ناوړه اغيزو له لاري د خلګو پر روغتيا او صحت باندي ناوړه اغيزه کوي (Fisk, 2015).

اکثريت کليوالي ټولني د خپل ژوند د اقتصادي تأمين لپاره پر طبيعي زيرمو باندي تکيه کړي وي، ولي پر دې زيرمو باندي د اقليم بدلون ناوړه اغيزې کوي، په نتيجه کي يې د کليوالو د ژوند هوساينه او د ژوند کيفيت اغيزمن کوي (Wall & Marzall, 2006). د اقليم بدلون د کرهڼي د پراختيا مخه نيسي، د اقليم ناوړه تاثيرات د کرنيزو محصولاتو د توليد د کموالي سبب کيږي (IPCC, 2014)، د اقليم بدلون د هوا ناوړه پيښي لکه د بې موسمه اورښتونو او سيلابونو سبب کيږي، تودوخه زياتيږي، د اوبو کموالی رامنځته کيږي او د کرنيزو ځمکو او خاوري د تخريب لامل کيږي (Field & Barros, 2014) ، د اقليم د بدلون سره د مقابلې مهمه لاره د مقاومي (ځيرکي) کرهڼي پراختيا ده. د اقليم د تغير سره توافق د اقليم د ناوړه پيښو په وړاندي د مقاومت ډيره مهمه کړنلاره ده، چي د کروند ګرو لپاره ډيره اغيزمنه او ګټوره واقع کيږي (Sarwary et al., 2021)، اصلاح شوي تخمونه او نباتات د کرنيزو ناروغيو، افتونو او اقليمي بدلونونو په وړاندي مقاومت لري، د کروندګرو د حاصلاتو د زياتېدو لامل کيږي، ددې لاري د غذايي توکو په امنيت کي د پام وړ ښوالی راځي (Evenson & Gollin, 2003).

د ځيرکي کرهڼي د پراختيا له لاري د کرنيزو محصولاتو زياتوالی رامنځته کيږي چي د بېوزلې په کمولو او له منځه وړلو او د غذايي توکو د امنيت په تأمين کي مهم رول لوبولای سي (Alexandratos & Bruinsma, 2012). د خوړو د خونديتوب د ترلاسه کولو لپاره د کرهڼي پراختيا اساسي شرط بلل سوی، په داسي حال کي چي دوديزه کرهڼه په عصري کرهڼه باندي بدلول، په کرهڼه کي د پام وړ تنوع، د آبیاری منظم سيستمونه، د خاوري ساتنه، د اصلاح سويو وراېټيو څخه استفاده او د مناسبو سرو څخه کار اخيستل کرنيزه پراختيا ممکن کوي (Lipper et al., 2014). ځيرکه کرهڼه د اقليم د بدلون د ناوړه پيښو د مخنيوي مهمه تګلاره او د غذايي توکو د امنيت او مصؤنيت مهمه وسيله ده، ددې کرهڼي اساسي موخه په ملي او بين المللي سطحه باندي د خوړو د امنيت او مصؤنيت ترلاسه کول دي، ددې کرهڼي په توسط باندي په سيمه کي اقتصادي وده او باثباتي رامنځته کيدای سي (IPCC, 2014; Lipper et al., 2014). همدارنګه د بيکارۍ په کمولو کي مؤثره تماميږي، د اقتصادي ودي او پياوړتيا مهمه منبع ده (Taylor, 2018). ددې ډول کرهڼي له لاري کروند ګر هڅاند او تلاښ کوونکي کيږي ترڅو زيات کرنيز محصولات توليد او لوړ عايد لاسته راوړي(Ghosh, 2019). د اقليم بدلون د نړۍ په کچه د کرني، طبيعي سرچينو او د انسانانو د ژوند د دوام لپاره يو له جدي ګواښونو څخه ګڼل کيږي، په ځانګړي ډول د مخ پر ودي هيوادونو د غذايي امنيت او مصؤنيت بنسټونه زيانمنوي، ځيرکه کرهڼه د يوې نوي او اغيزمني کړنلاري په حيث د اقليم د بدلون د ناوړه اغيزو په کمولو، د کرنيزو توليداتو د ثبات، د طبيعي سرچينو په ساتنه او د کليوالي ټولنو د انعطاف په پياوړتيا کي مهم رول لري (Kazimi & Hussaini, 2024). د دې څېړني ارزښت په دې کي دی چي د کرني، چاپيريال او خوراکي خونديتوب ترمنځ علمي او عملي اړيکه روښانه کوي او د پايداري پراختيا او بېوزلې د کمولو او د راتلونکو نسلونو د غذايي اړتياوو د تأمين لپاره اساسي اهميت لري.

تقريباً (۷۰٪) وګړي په کليوالي سيمو کي ژوند کوي چي د کرهڼي څخه خپل عوايد او د ژوند لومړني ضرورتونه په لاس باندي راوړي ولي په يادو سيمو کي خلګ د غذايي توکو د امنيت د نشتون سره مخ دي (Wheeler & Von Braun, 2013). د زياتو هيوادونو لومړني او دوهمي غذايي توکي د غنمو او جوارو څخه ترلاسه کيږي، په داسي حال کي چي په يادو هيوادونو کي د اقليم د تغير له کبله د غنمو او جوارو په حاصلاتو کي د (۳.۸٪ - ۵.۵٪) پوري کموالی راغلی (Battisti & Naylor, 2009; Wheeler et al., 2000) ، په داسي حال کي چي د کرنيزو محصولاتو دا کموالی او بېوزلي د اصلاح سويو وراېټيو، د کيمياوي سرو څخه په استفادې او د مناسبې تکنالوژۍ په استعمال سره له منځه وړل کيدای سي. د اقليم د بدلون دوامداره کيدل د توليد اړوند خطرونه زياتوي او د اقليم د بدلون سره د کروند ګرو د مقابلې وړتيا د ننګونو سره مخ کوي (Thornton, 2010)، د اقليم د بدلون د ناوړه پيښو له کبله بېوزلي زياتيږي، د توليد زياتوالی د ګواښ سره مخ کوي، د غذايي توکو بازارونه بې ثباته کوي او د کليوالو د معيشت د وروسته پاته کيدو سبب کيږي (Field & Barros, 2014). سره له دې چي کرنه د افغانستان د کليوالي ټولنو د معيشت او د غذايي توکو د تأمين بنسټيزه سرچينه ده، خو د اقليم د بدلون ناوړه اغيزې د کرنيزو محصولاتو پر توليد او د غذايي امنيت او مصؤنيت پر ثبات منفي اغيز لري،

کوچني کروندګر د محدودو سرچينو، د مناسبو کرنيزو ټکنالوژيو د نشتون، اصلاح سويو او مقاومو وراېټيو ته د لاسرسي نشتون او د ځيرکي کرني په اړه د پوهاوي د کموالي له امله د اقليم د بدلون د ناوړه پيښو په وړاندي د کافي مقابلې وړتيا نه لري (Wheeler & Von Braun, 2013). همدارنګه په افغانستان کي د غذايي امنيت او مصؤنيت د پياوړتيا لپاره د ځيرکي کرني د رول او عملي

لارو چارو په اړه کافي علمي څېړني نه دي ترسره سوي، له همدې امله، د دې ستونزي اړوند علمي څېړنه یو جدي او اړین ضرورت بلل کیږي، د یادو ستونزو په نظر کي نیولو سره دا څېړنه طرح سوې چي عمومي پوښتنه یې، د اقلیم پر بدلون او د غذایي توکو په امنیت او مصؤنیت کي ځیرکه کرهنه څه رول لري؟

## د څېړني موخي

1. د غذایي توکو په امنیت او مصؤنیت کي د ځیرکي کرهنې د رول معلومول
2. د غذایي توکو په امنیت کي د ځیرکي کرهنې د لارو چارو پیژندل
3. د ځیرکي کرهنې د ضروري عناصرو پیژندل

## د څېړني تګلاره

دا یو کتابتوني څېړنه ده چي د تشریحي-تحلیلي میتود پر بنسټ باندي ترسره سویده، د څېړني معلومات د داخلي او خارجي منابعو څخه په استفادې سره د معتبرو کتابونو، ژورنالونو، سایټونو او مجلو څخه راټول سوي دي، تر دقیقي کتني وروسته د څېړني د موخو او پوښتنو په نظر کي نیولو سره مربوط معلومات د نړیوالو معتبرو ژورنالونو وروستی چاپ سوي څېړني چي د موضوع سره ئې ربط درلودی او د څېړني پوښتنو ته ځواب ویونکي وې، راډانلوډ او په دقیقه توګه سره مطالعه سویدي، د موضوع مطابق معلومات د مربوطه څېړنیزو مقالو څخه په لنډ ډول باندي را اخیستل سوي او پښتو ژبې ته ژباړل سوي دي، را اخیستل سوي ژباړل سوي معلومات تر ترتیب او تنظیم وروسته د اړتیا په نظر کي نیولو سره د څېړنیزي مقالې په مهمو ځایونو کي ځاي پر ځاي سویدي.

### موندني او مناقشه

د اقلیم بدلون یوه نړیواله موضوع ده او په زیاته اندازه سره یې د څېړونکو توجه جلب کړیده، د اقلیم بدلون تقریباً پر ټولو سکتورونو باندي ناوړه اغیزې واردي کړیدي، چي د هغو څخه یوه هم کرهنه ده، کرهنه د اقلیم د بدلون په نتیجه کي سخته زیانمنه سوي، حتی په ځینو سیمو کي د اقلیم د بدلون د ناوړه پیښو له کبله کرهنه د نشت سره مخ ده (Malhi et al., 2021) ، په همدې اساس باندي په یاده موضوع کي په نړیواله کچه باندي څېړني سویدي، چي په اوسنیو کلونو کي ترسره سویو څېړنو ته یې په دې ډول سره کتنه کوو

Dhankher او Foyer په (۲۰۱۸) کال کي د نړیوال غذایي امنیت او مصؤنیت د پراختیا لپاره د اقلیم په وړاندي مقاوم نباتات مطالعه کړیدی، پایله یې ښیي چي د اقلیم بدلون د نباتاتو پر فزیالوژیکي خواصو، د خاوري پر حاصلخیزی او د مایکروبیل پر فعالیتونو باندي منفي اغیزې کوي، د نباتاتو وده او تولید محدودوي چي په دې سره د خوړو په تولید کي د پام وړ کمښت رامنځته کیږي. د اقلیم د بدلون په وړاندي د مقاومت لپاره د مقاومو ورایټیو، هغه نباتات چي اوبو ته کم ضرورت لري او د مناسبي ټکنالوژي څخه کار اخیستنه د خوړو په تولید کي په کافي اندازه سره مرسته کوي، یاده څېړنه وړاندیز کوي چي په یاده موضوع کي زیاتو څېړنو ته اړتیا ده ترڅو د اقلیم په وړاندي د مقاومت لرونکي کرهنې ټولي لاري چاري په ښه ډول سره روښانه او د ترویجي پروګرامونو له لاري په صحیح ډول تر کروند ګرو پوري د عملي اقداماتو لپاره ورسول سي.

سعادت او همکارانو یې په (۲۰۲۴) کال د افغانستان د کندهار په ولایت کي پر کلیوالي سیمو باندي د اقلیم د بدلون اغیزې څېړلي دي، پایله یې روښانه کوي چي د اقلیم بدلون پر کرنیزو محصولاتو، په کلیوالي سیمو کي پر کاري فرصتونو او د اوبو پر سرچینو باندي منفي اغیزې کوي، د اقلیم د بدلون سره په توافق او مقاومت کولو کي کروند ګر د یو لړ ننګونو سره مخ دي، په زیاتو سیمو کي کروند ګرو د کافي پوهي او مهارتونو د نشتون له کبله په دې برخه کي کافي عملي اقدامات نه دي ترسره کړي، په نتیجه کي د کلیوالو او کروند ګرو عواید کم او د هغوي ژوند ئې اغیزمن کړیدی. په (۲۰۱۰) کال کي Molnar د ټولني پر معیشت او چاپیریال باندي د اقلیم د بدلون اغیزې مطالعه کړیدي، پایله یې په ګوته کوي چي، د اقلیم بدلون د هوا رطوبت زیانمنوي،

د غذایي توکو تولید کموي، تودوخه او موسمي اورښتونه زیاتیږي چي په نتیجه کي یې ډېري ناوړه پیښې رامنځته کیږي چي پر ټولني باندي ډېري ناوړه اغیزي واردوي، د اقلیم دا ناوړه پیښې تر ډېره حده پوري د ځیرکي کرهنې له لاري کمیداي سي.

Aniahاو همکارانو یې په (۲۰۱۶) کال کي د ګانا په هیواد کي پر کوچنیو کروندو باندي د اقلیم د بلون اغیزې څېړلي دي، پایله یې ښیي چي، هغه کورنۍ چي د ژوند لومړني ضرورتونه په زیاته اندازه سره د کرهنې څخه پلاس راوړي او کرهنه یې تر ډېره حده پوري د باران په اوبو پوري تړلي وي، د موسمي اورښتونو او د اقلیم د تغیر د زیانونو د کمولو لپاره د معیشت تنوع، مقاومي ورایټۍ

او د مناسبې ټکنالوژۍ څخه استفاده کول يې د زيانونو په کمولو کې ډېر مؤثره تماميږي. کليوالي جغرافيه او د کليو راتلونکی، په (۲۰۱۲) کال کې د Woods له خوا څخه مطالعه سوی دی، هغه داسي نتيجې ته رسيدلی دی، په کليوالي سيمو کې د اقليم بدلون د خوړو پر امنيت او مصؤنيت باندي مستقيمه اغيزه کوي، کليوالي چاپيريال تخريبوي، کليوالي اقتصاد د رکود سره مخ کوي، ټولنيزه بې ثباتي رامنځته کوي، ددې ستونزو په له منځه وړلو کې پايداره او ځيرکه کرهڼه اغيزمنه واقع کيږي.

په (۲۰۰۳) کال کې Chavez او همکارانو يې د اقليم د بدلون او طبيعي زيرمو اړوند مطالعه کړيده، پايله يې په ګوته کوي چې، د طبيعي زيرمو (اوبه، خاوره، نباتات، هوا) په وړاندي خنډونه چې د اقليم د تغير په نتيجه کې رامنځته کيږي د خوړو پر خونديتوب باندي ناوړه اغيزه کوي. Valdivia او همکارانو يې په ايکوسيستم کې د کليوالي معيشت انعطاف مطالعه کړی دی، پايله يې ښيي چې د اقليم بدلون د مخ پر ودي هيوادونو په کرنيزو سيمو کې د خوړو پر امنيت او مصؤنيت باندي ناوړه اغيزه کوي. د کرنيزو څرځايونو په ساتنه کې د اقليم د بدلون په وړاندي توافق په (۲۰۱۸) کال کې د Kgosikoma او همکارانو له خوا څخه څېړل سويدی، پايه يې روښانه کوي چې، د ځيرکي کرهڼي څخه په استفادې سره د کليوالو پر ژوند باندي د اقليم د بدلون ناوړه پېښې اغيزه تر ډيره حده پوري کميداي سي.

په (۲۰۲۱) کال کې Ajaero او همکارانو يې د نايجيريا په هيواد کې د کليوالي کورنيو د معيشت پر بشري او ټولنيزو سرمايو باندي د اقليم د بدلون اغيزې څيړلي دي، پايله يې په ګوته کوي چې، د اقليم بدلون د انسانانو ژوند متضرره کوي، د غذايي توکو کمښت رامنځته کوي، خوار ځواکي رامنځته کوي، د مختلفو او ناوړه ناروغيو سبب کيږي، ټولنيز نورمونه اغيزمن کوي. په کليوالي سيمو کي دا ستونزي په زياته اندازه سره د کرهڼي د پراختي له لاري له منځه تللی سي. همدارنګه څيړنو ښودلي ده چې د اقليم د تغير د زيانونو د کمولو لپاره په کرهڼه کې عصري طريقې، مناسبه ټکنالوژي او د کروند ګرو د ظرفيت لوړونه ډيره مؤثره تماميږي، ددې لاري کرهڼه پراختيا کوي په نتيجه کې زيات کرنيز محصولات او لوړ عايد په لاس ورځخه راتللی سي ( Altieri & Nicholls, 2008). د اقليم تغير، د خوړو امنيت، روغتيا او د کرهڼي له لاري د اقليم د بدلون په وړاندي د ټولني انعطاف Amoak او همکارانو يې په (۲۰۲۲) کال کې څيړلی دی، پايله يې ښيي چې د کرهڼي پراختيا او د ځمکي سالم مديريت کولای سي چې د ټولني د روغتيا او هوسايني لپاره د خوړو خونديتوب او چاپيريال باثباتي رامنځته کړي، د کرنيزو آفتونو کنترول، د خاوري اصلاح، د مقاومو ورايټيو څخه استفاده، عصري او مناسبه ټکنالوژي استعمالول، د اوبو سالم مديريت د کرهڼي په پراختيا کي کافي مرسته کوي، د کرهڼي په برخه کي د فصلونو تنوع، د ځنګلونو احيأ او د مختلفو حيواناتو روزنه د اقليم د بدلونو ناوړه پيښي تر يو حده پوري کموي، د اقليم د بدلون سره د توافق او انعطاف لپاره د ټولني د کلتور په نظر کي نيولو سره دولت او ټولنه په ګډه لازمي کړني ترسره کول مؤصره تماميږي، عصري کرنيزي طريقې، کرنيز تناوب، د کرنيزو فصلونو تنوع، د مقاومو ورايټيو څخه استفاده او مناسبه ټکنالوژي د اقليم د بدلون سره د ټولني په توافق او انعطاف کي کافي مرسته کوي، د کرهڼي اړوند تجربه د کوچنيو کروند ګرو د توليداتو د زياتوالي له لاري د هغوي د خوړو په خونديتوب کي مؤثره تماميږي.

په (۲۰۱۴) کال کې Lipper او همکارانو يې د اقليم په وړاندي مقاومت لرونکي (ځيرکه) کرهڼه او د خوړو امنيت مطالعه کړيدی، پايله يې ښيي چې د اقليم په وړاندي مقاومه کرهڼه د غذايي توکو د زياتوالي له لاري د خوړو د خونديتوب ډيره مؤثره کړنلاره ده، بې وزله افراد چې د اقليم د بدلون له کبله د سختو زيانونو سره مخ کيږي ددې ډول کرهڼي له لاري ئې په معيشت کې د پام وړ ښوالی راځي،

د اقليم د بدلون په نتيجه کې د خوراکي توکو بازارونه ګډوډ کيږي او خلګو ته د خوراکي توکو توزيع د خطر سره مخ کيږي، دغه ګواښونه او خطرونه د اقليم په وړاندي د مقاومي (ځيرکي) کرهڼي د پراختيا په واسطه سره په اسانۍ سره له منځه وړل کيداي سي، د ځيرکي کرهڼي په واسطه سره د اقليم د بدلون سره د کروند ګرو د توافق توانائي زياتيږي.

## د غذايي توکو په امنيت کې د اقليم په وړاندي د ځيرکي کرهڼي خاص موارد

د غذايي توکو په امنيت او مصؤنيت کې د اقليم په وړاندي مقاومه کرهڼه ډيره ګټوره تماميږي، چيد اقليم بدلون د کرنيزو محصولاتو پر توليد، د خاورې پر کيفيت او د اوبو پر سرچينو باندې منفي اغيزه لري، د اقليم په وړاندي مقاومت لرونکي کرهڼه د دې چيلنجونو په وړاندې د کرنيزو سيستمونو د پياوړتيا لپاره ډيره مهمه او مفيده واقع کيږي (Debangshi, 2021).

د بيدياوو او اوبو مديريت: د اقليم په وړاندي مقاومت لرونکي (ځيرکه) کرهڼه، د بيدياوو (صحراوو) او د اوبو و مديريت ته لومړيتوب ورکوي، چې د خاورې د تخريب مخنيوی کوي او د اوبو استعمال مؤثره کوي(Hargrove et al., 2023).

د بیولوژیکي تنوع ساتنه: د ځیرکي کرنې له لارې، د مختلفو کښتونو او د مفیده حشراتومختلف ډولونه ساتل کیداي سي، چې د ایکوسیستم ثبات او د کرهنیزو تولیداتو تنوع ته وده ورکوي(Tumwesigye et al., 2019).

د اقلیم د بدلون سره توافق: ځیرکه کرهنه د اقلیم د بدلون سره په کافي اندازه سره توافق رامنځته کوي، د اقلیم د بدلون په پام کې نیولو سره د مناسبو کښتونو انتخاب د کرنیزو تولیداتو زیاتوالی رامنځته کوي(Azadi et al., 2021).

اقتصادي ثبات: د اقلیم د بدلون په وړاندې د مقاومت لرونکي کرهنې کړنلارې د کوچنیو بزګرانو لپاره اقتصادي ثبات رامنځته کوي، چې په پایله کې پر غذایي امنیت باندې مثبته اغیزه کوي(McCarthy et al., 2018) .

د ټولنې فعال ګډون: د اقلیم د بدلون د ناوړه پیښو د کمولو او له منځه وړلو لپاره په دې برخه کې د ټولنې فعاله برخه اخیستنه ډېره ضروري ده، محلي خلګ او کروند ګر ټولې هغه کړنلارې د امکان تر حده پورې عملي کړي چې د اقلیم د بدلون ناوړه پیښې کمې، د هغو څخه یوه هم د اقلیم د بدلون په وړاندې مقامت لرونکي یا ځیرکه کرهنه ده، ددې ډول کرهنې په کرنیزو فعالیتونو او ترویجي پروګرامونو کې ګډون کول ډېر مؤثر تمامیږي(Abdi, 2019).

**د اقلیم د بدلون سره د مقاومي (ځیرکي) کرهنې ضروري عناصر**

**مناسب پلان او کافي پانګونه:** د مناسب پلان او کافي پانګونې له لارې په دوامداره توګه د کرنیزو محصولاتو زیاتوالی او د کرهنې څخه د لومړنیو ضروري توکو او عوایدو د ترلاسه کولو مختلف فرصتونه جمتو کیږي، د اقلیم د بدلوون د ناوړه پیښو په کمولو او مخنیوي کې زیاته مرسته کوي (IPCC, 2014; Lipper et al., 2014).

**کرنیزه ټکنالوژي:** کرنیزه ټکنالوژي د ځیرکي کرهنې په انکشاف کې کافي مرسته کوي، د کرنیزو فصلونو په کرهنه، د حاصلاتو په راټولونه او د هغوي په پروسس او ساتنه کې مهم رول لوبوي، یاده ټکنالوژي هغه وخت مفیده واقع کیږي چې د سیمې د شرایطو او د کروند ګرو د ظرفیت مطابق او د چاپیریال او محیط سره مناسبه وي (Lipper et al., 2014).

**ترویجي پروګرامونه:** د ځیرکي کرهنې مهمه برخه کروند ګر دی، د کرهنې په برخه کې د کروند ګر پوهه، تجربه، کړه وړه، سلوک او بدلون ډېر مهم رول لري، د ترویجي پروګرامونو له لارې د کروند ګرو ظرفیت لوړیږي او په پوهه کې یې زیاتوالی راځي، چې په اسانی سره بدلون کوي او د دویزي کرهنې څخه په عصري کرهنه باندې خپل فعالیتونه او کړنې اړوي، زیات کرنیز محصولات او عواید په لاس باندې راوړلای سي(Garnett et al., 2013).

**د ایکو سیستم:** د کرهنې هغه فعالیتونه چې د ایکوسیستم سره په ټکر کې نه وي، د چاپیریال او محیط د تخریب سبب نه سي، راتلونکي نسلونه متضرر نه کړي او اقتصادي زیان ونه لري د ځیرکي کرهنې په پراختیا کې کافي مرسته کولای سي، په دې کې مختلف فصلونه، د مالداری انکشاف، د ځنګلونو احیأ او ساتنه، د آفتونو، اوبو او غذایي توکو ښه مدیریت، د سیاحتي سیمو ایجاد، د څړځایونو تنظیم، د خاورې د کیفیت لوړول، د مصارفاتو کمول، د تخریب سویو ځمکو بیارغونه او د نایتروجنې سره په مؤثره توګه کارول مهم موارد دي (IAAKSTD & McIntyre, 2008; Parfitt et al., 2010).

**انعطاف:** د اقلیم د بدلون په وړاندې انعطاف د ځیرکي کرهنې په پراختیا کې مهم عنصر دی، کروند ګر د انعطاف په کولو سره زیات ترویجي فعالیتونه پلي کوي، عصري کړنې تعقیبوي، کرنیز تناوب ته وده ورکوي او مختلف کرنیز فصلونه په لاره اچوي، عصریو اصلاح سوي او مقاومي ورایټۍ استعمالوي،

د طبیعي پیښو په اړوند باندې کافي معلومات ترلاسه کولای سي چې د ناوړه پیښو له امله خپله کرهنه خوندي کولای سي او کروند ګر د تولید مختلفو سرچینو ته د لاسرسي توانائی زیاتوي، په دې سره زیات کرنیز محصولات تولید او عواید یې زیاتیږي په نتیجه کې د خوړو د امنیت او مصؤنیت سبب کیږي (Gitz & Meybeck, 2012).

## پايله

د اقليم په وړاندې مقاومه (ځيرکه) کرهنه په کليوالي سيمو کې د بيکارۍ د کمولو له لارې د اقتصادي ودې باعث کيږي، کروند ګر د زياتو کرنيزو محصولاتو د توليد او لوړ عايد د ترلاسه کولو په منظور تحريک کوي. د ځيرکې کرهنې د فعاليتونو په نتيجه کې د کرنيزو ځمکو اصلاح او د خاورې د تخريب مخه نيول کيږي.

پايلې څرګنده کړل چې ځيرکه کرهنه د کرنيزو محصولاتو د توليد د زياتوالي له لارې د غذايي توکو په تأمين کې ډېر او مهم رول لري، د خوړو د خونديتوب لپاره د مهمې وسيلې په توګه ياده سويده. د اقليم د بدلون د ناوړه پېښو له کبله د غذايي توکو سخت کموالی رامنځته کيږي، د غذايي توکو بازارونه نا انډوله کيږي، د کليوالو معيشت د سخت زيان سره مخ کيږي، چاپيريال تخريبوي، کليوالي اقتصاد زيانمن کوي، ناوړه ناروغۍ رامنځته کوي، بې وخته اورښتونه، وچکالي، سيلابونه او د تودوخې زياتوالي رامنځته کوي، څرګنده سول چې د يادو زيانونو، نقصاناتو او ناوړه پېښو په کمولو او له منځه وړلو کې د اقليم په وړاندې مقاومه (ځيرکه) کرهنه اساسي او مهم رول لوبولای سي.

غنم يو له مهمو کرنيزو نباتاتو څخه په نړيواله توګه شميرل کيږي. د ډوډۍ په ګډون په بيلابيلو خوراکي توکو کښې استعماليږي. په خوراکي توکو کښې په ځانګړي ډول د لږلګښته غذائي عناصرو (جست او وسپنه) کمښت د انسانانو لپاره يوه لويه ستونزه ده. چې د انساناتو فزيکي ودي تر ځنګ د معدي او زيږون ستونزی، د معافيت او ادراک کمزوري او کاري وړتيا اغيزمنه کوی. د نړۍ 17.3 سلنه نفوس د جستو او 25 سلنه د وسپني د کمښت په خاطر د ناروغيو سره مخ دي. په افغانستان کي د لږلګښته غذايي عناصرو کمښت يوه لويه ستونزه ده، چي په هرو درو ځوانو نجونو کښي يوه يې د وسپني د کمښت له امله د ويني د لږوالي په ناروغۍ اخته ده . د غنمو بيولوژيکي بډاينه هغه پروسه ده چي له مخي يې د غنمو نبات د غذايي عناصرو کچه د دوديزي نباتي اصلاح، کرنيزو کړنو او عصري بايو ټيکنالوژۍ له لارې زياتيږي. موخه مو په وسپني او جستو بيولوژيکي بډای غنمو رول او ارزښت وړاندي کول دي. مقاله د مختلفو معتبرو سرچينو څخه په ګټي اخيستي سره، د وسپني او جستو د خوارځواکۍ ستونزي ته د رسيدلو ستراتيژي، د وسپني او جستو بيولوژيکي بډايني ارزښت، د غذائي عناصرو ژوندی شتون، په پروسې کي يې د مايکرو اور ګانيزمونو مرستو څخه يادونه، د کرنيزو کړنو رول، په ترويج کښې يې د ټولني ښکېلتيا، او د لوړي کچي وسپنه او جست جذبونکي غنمو اړوند تفصيلي معلومات راټول او اوډلي دي. په پايله کي وايو چي د وسپني او جستو بيولوژيکي بډای سوي غنم د ډيرو غذايي، انعطاف وړ، او خوندي خوراکي توکو په رسولو او وده کښې مهم رول لوبوي. سپارښتنه مو په بيولوژيکي ډول د بډايو غنمو کرل او د ذکر سويو تدابيرو عملي کول دي.



**کليدي کلمې**: بيولوژيکي بډاينه ، جست، غنم، غذائي امنيت، وسپنه


## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

غنم په نړۍ کي يو له مهمو کرنيزو نباتاتو څخه دي. د ډوډۍ غنم (*Triticum aestivum* L.)، او ډيورم (durum) غنم *Triticum turgidum* (L.) ssp. *durum* (Desf. Husn.) ورايتي اصلي خواړه ګڼل کيږي. د غنمو کروموزومي جوړښت کښي، د ډوډۍ غنم يو هکساپلوئيدي (2n=6X=42) د دريو جينومونو (A, B او D) څخه ترتيب سوېدي(Poole et al., 2021)، او تر ټولو ډيره برخه (95%) نړيوال کرنيز غنم هکساپلوئيدي دي، هغه چي په پراخه کچي د ډوډۍ په ګډون د پختيا د ډول ډول موادو لپاره استعماليږي (Debasis and Khurana, 2001). ډيورم غنم د tetraploid ډول (2n=4X=28) د A او B جينومونه لري(Poole et al., 2021). په 2024 /2023 بازار موندني کال کښې، د غنمو د نړيوال توليد کچه نژدې 785 مليون متريک ټنه وه. نوموړی رقم د بازار موندني د تير کال د توليد (289.2 مليون متريک ټنه) په پرتله لږ وه، خو د تيرو نورو 13کلونو په ډيره وه (statista, 2024). د غنمو پخواني نسلونه، د پراخو چاپيريالونو سره تطابق تر لاسه کړيدی، پداسي حال کښې چي وروستي نسلونو د ځانګړو سيمو لکه د مديترانې حوزې سره ډير تطابق تر لاسه کړيدی(WHO, 2020).

د غنمو په برخه کښې له تيرو 70 کلونو څخه، د نباتي اصلاح هڅي چي د بې ژونده او ژوندي فشارونو په وړاندي مقاومت لوړولو په واسطه يې په نړيواله کچه د حاصلاتو اندازه د پام وړ لوړه کړېده (Poole et al., 2021).

د جست (Zn) او وسپني (Fe) ناکافي مصرف فزيکي وده اغيزمنه کوي او د معدې ستونزي رامينځته کوي؛ معافيت کمزوری کوي؛ او د ادراک وړتيا، د زيرون وړتيا، او کاري وړتيا کموي. په ټوله نړۍ کې د پام وړ نفوسو تر 17.3 سلنه د جستو کمښت پوري اړوند ناروغيو سره مخ دي، او د وسپنه کمښت د نړۍ له 25 سلنه څخه ډير نفوس اغيزمنوي (WHO, 2016). او شاوخوا 2 مليارده خلک، د نړۍ نژدې يو پر څلورمه برخه نفوس د لږلګښته غذائي عناصر لکه جست او وسپنه د کمښت له امله رامينځته سوي خوارځواکۍ سره مخ دی (WHO, 2020). د لږلګښته غذايي موادو کمښت (پټه لوږه) په ځانګړي ډول د Fe، Zn او Se د 3 مليارد څخه زياتو خلکو لپاره يوه لويه ننګونه، د ښځو او ماشومان اکثرا اغيزمن سوي (Ibba et al., 2022). دا ستونزه په ټولو هيوادونه کی شتون لري، خو په پرمختلونکو هيوادونو کي تر ټولو لويه ونډه لري، هلته چي غلې دانې د ډيرو خلکو لپاره ورځني خواړه جوړوي، او ډيری وختونه پرته له کومو اضافي موادو څخه استعماليږي (Puntis, 2009). د غنمو محصولات د نړۍ په کچه د انسانانو د خوراکي رژيم يوه اړينه برخه ده. په جنوبي آسيا او ايتوپيا کښي د غنمو ټوله مصرف سوي محصولات پر غذايی انرژی او پروټينو سربيره اړين لږلګښته منرالي غذائي توکي لکه وسپنه او جست برابروي (WHO, 2020).

په افغانستان کي د لږلګښته غذايي عناصرو کمښت او خوارځواکي د روغتيا له موندل سويو مهمو ستونزو څخه دي، چی د روان سياسي بې ثباتی، اقتصادي ننګونو او روغتيايي خدمتونو او مغذي خوړو ته د محدود لاسرسی له امله زياتي سوي دي. نژدې41 سلنه د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومان د لنډېدلو له ستونزي څخه رنځ وړي، چي اوږدمهاله خوارځواکي په ګوته کوي . شديده خوارځواکي ، 9.5 سلنه د 5 کلونو څخه کم عمره ماشومان اغيزمنوي . په هرو دريو ځوانو نجونو کښي يوه يې د وسپني د کمښت له امله د ويني د لږوالي په ناروغی اخته ده (unicef, 2024) . په حيرانونکي توګه 95سلنه افغانان کافي خواړه نه سي ترلاسه کوي، په داسي حال کښي چي نژدې100سلنه د ښځينه ؤ په سرپرستی کورنی د خوړو له نا خونديتوب سره مخ دي. او په لوړه کچه سخته لوږه مينځته راغلې ده، او 23 مليونه خلک د 2022 کال تر مارچ پوري د خوړو له ناخونديتوب سره مخ سويدي . د خوارځواکی کچه په ځانګړي ډول د ماشومانو په منځ کي لوړه سوېده، د 3.5 ميليونو څخه ډير ماشومان تغذيوي درملني ملاتړ ته اړتيا لري . د روغتونونو وارډونه د خوارځواکی ماشومانو څخه ډک دي، چي ډيری يې د دوی د عمر په پرتله خورا لږ وزن لري (UN, 2022). يونيسف او د ملګرو ملتونو ته مشابه سازمانونه اړو خلکو ته د بيړني خوراکي توکو، د ښوونځي خواړه، او د تغذيې تکميلونکي خوړو چمتو کولو لپاره کار کوي (UNICEF, 2024; UN, 2022). مقاله د مختلفو معتبرو سرچينو څخه په ګټي اخيستني سره، د وسپني او جستو د خوارځواکی ستونزي ته د رسيدلو ستراتيژي، د وسپني او جستو بيولوژيکي بډايني ارزښت، د غذائي عناصرو ژوندی شتون، په پروسې کي يې د مايکرو اور کانيزمونو مرستو څخه يادونه، د کرنيزو کړنو رول، په ترويج کښي يې د ټولني ښکېلتيا، او د لوړي کچي وسپنه او جست جذبونکي غنمو اړوند تفصيلي معلومات راټول او اوډلي دي. د غنمو بيولوژيکي بډايني څخه موخي دا دي چي په غنمو کښي د اړتيا وړ لږلګښته غذايي موادو لکه جست او وسپني د موادو په زياتولو سره د نباتاتو تغذيه وي ارزښت ته وده ورکړل سي او د هېواد د خلکو په خوراکي رژيم کښي شامل سي (Gupta et al., 2024). زموږ موخه په وسپني او جستود بيولوژيکي بډای غنمو رول او ارزښت وړاندي کول دي. په پايله کي د وسپني او جستو بيولوژيکي بډای سوي غنم د ډيرو غذايي، انعطاف وړ، او خوندي خوراکي توکو په رسولو او وده کښي مهم رول لوبوي. سپارښتنه مو په بيولوژيکي ډول د بډايو غنمو کرل او د ذکر سويو تدابيرو عملي کول دي.

## موندني او مناقشه

### خوارځواکی ستونزي ته د حل لاري ستراتيژي

بيولوژيکي بډاينه د يوه اقتصادي او دوامداري ستراتيژۍ په ډول پيژندل سويده او کېدای سي چي د خوارځواکی ستونزي ته يوه بشپړونکي حلاره وي. له دې امله، د غنمو په کښتونو کښې د جست او وسپنه د کچي لوړولو سره د انساني اړتيا د جست او وسپني د کمښت په نښه کولو لپاره خورا ارزانه حل لاره چمتو کوي (Nestel et al., 2006). د لومړني هدف د ښځو او ماشومانو انساني نفوس روغتيا لپاره په غنمو کښې د جست د کچي زياتول، د اندازه کولو اغيزمني محاسبې د موخي لپاره شاوخوا 12+ ملي ګرامه پر کيلوګرام (40 سلنه) وزن باندي وه، په سوداګريزو کرنيزو ورايټيو کښي په نړيواله کچه د جستو غلظت شاوخوا 25 ملي ګرامه پر کيلوګرام وزن باندي وموندل سوه،

او په نښه سويو سيمو کي کرل کيږي ترڅو په بيولوژيکي ډول بډای کړل سوي غنمو څخه د جستو اټکل سوي اوسط اړتيا پوره کولو کښي اړينه ونډه ترلاسه کړي (Govindan et al., 2022a). د جوار او غنمو د پرمختيا په نړيوال مرکز (CIMMYT) کښي په نښه سويو سيمو کښي د غنمو د بيولوژيکي بډايني لپاره، د نباتي اصلاح د هڅو په مرسته، د غنمو څو رقابتي بيولوژيکي ډول بډای کړل سويو کرنيزو ورايټيو ته پراختيا ورکړل سول(velu et al., 2012). د غنمو اصلاح له لاري د جستو لوړي کچي يو ځای

کول، د ډېرو غوره کرنيزو پاراميټرونو (د بېلګې په ډول، لوړ حاصل)، او د مختلفو چاپېريالي شرايطو سره د توافق لپاره يوه دوامدار موخه ده. نوموړې د ځمکې او ځنګلي خپلوانو اکسېژنونو جين بانک ته د لاسرسي په منځ کې د تخمونو د جستو غلظت لپاره د پراخ جنټيکي توپير له مخې رامينځته سويوه (Guzmán et al., 2014).

د خوارځواکۍ ستونزې ته د حل لارې لپاره تر سره سوي څېړنې د لږلګښت ته غذائي عناصرو په واسطه، د غنمو بيولوژيکي بډاينه، يوه اړينه موخه وه. او د نباتي اصلاح په پروګرام کې د جستو پرمختګ ښيي چې په دوامداره توګه د لوړ حاصل احتمال سره د غنمو پرمختللي خطونه وړاندې کوي او د جست او وسپنې محتويات وده کوي. زموږ پايلې ښيي چې د ګڼدي اصلي جريان ستراتيژي بايد غوره سي ترڅو د ډېر سوي جست او وسپنه د غوره نباتي اصلاح پايپ لاينونو کښې ځای په ځای سي. په همدې ډول، د لوړې کچې لرونکي مختلفو سرچينو جست کارونکي نيکه ګان، په سيستماتيک ډول نباتي اصلاح ته د ننوتلو لپاره، د ځمکې د کتل سويو کرنيز او وحشي نيکه ګان لټون لپاره، دوامداري پانګونې ته اړتيا په ګوته کوي (Govindan et al., 2022b).

## د غنمو بيولوژيکي بډاينې ته کتنه

په بيولوژيکي بډاينې کښې، بايد تمرکز د لږلګښت ته غذائي عناصرو د غلظت زياتوالي باندې وي. د دې موخې لپاره، د پروموټر موادو غلظت (هغه چې د منرالونو جذب زياتوي) بايد ډېر سي، او د غذايي عناصرو ضد مواد بايد کم سي. پرو ويټامين A او د C، D، او E ويټامينونه، choline، او niacin دي چې د Se، Ca، P، Zn، Fe، ميټيونين، او ټرپټوفان جذب زياتوي (Jha and Warkentin, 2020). په بيولوژيکي بډاينې کښې د غنمو د په اړه وروستي کشفونه او لاسته راوړنې د غنمو په تخمونو کې د MNs موادو زياتولو لپاره د دوديزه نباتي اصلاح، جنټيک انجينرۍ، او د نوي کرنيزو تګلارو ګڼدي کولو لپاره د جنټيک اوزارونو پراختيا پراخې مطالعې شاملې دي (Wang et al., 2021). د غنمو د تغذيې کيفيت کښې د مختلفو عناصرو محتويات شامل دي چې پکښې پروټين، لږلګښت ته غذايي مواد لکه وسپنه او جست، او همدارنګه مختلف ويټامينونه او نباتي کيمياوي مواد شتون لري (Johansson et al. 2020; Johansson et al., 2014).

## د وسپنې او جستو بيولوژيکي بډاينې ارزښت

غنم په ټوله نړۍ کې د ټولېزې انرژۍ او پروټينو شاوخوا 20 سلنه او د وسپنې او جست شاوخوا 30 سلنه برخه جوړوي. (Ibba et al., 2022). د وسپنې بيولوژيکي بډاينه په غنمو کې د وسپنې محتويات ډېروي تر څو د وينې د لږوالي سره په ځانګړې توګه په ميرمنو او ماشومانو کښې مبارزه وکړي (Sun et al., 2021). د جستو بيولوژيکي بډاينه د جستو د کچې لوړول د معافيت فعاليت ښه کوي او په ماشومانو کې د قد لنډوالی کموي (Gupta et al., 2022). د انسان خوارکي رژيم مرکزي رول ته په پاملرنې سره، په عمومي ډول اصلي کرنيز نباتات د بيولوژيکي بډاينې د ډېرو مطالعاتو لويه موخه ده (Ibba et al., 2022). په بيولوژيکي بډاينې کښې لومړنی تمرکز په اوسپنه او جستو باندې دی(Gupta et al., 2021). د وسپنې او جستو په واسطه د غنمو د بيولوژيکي بډاينې هڅو هيله بخښونکي پايلې ښودلې. د نباتي اصلاح پروګرامونه د هند، پاکستان او مکسيکو په هيوادونو کې په بيولوژيکي ډول بډای کړل سوي غنمو ډېرو ډولونو د ترويج لامل سويدي. او په لوړ غلظت سره د وسپنې او جست د جذب وړتيا لري، هغه چې د په ښه سويو لږلګښت ته غذايي عناصرو لپاره په ځانګړې ډول په مخ پر ودې هيوادونو کې خورا اړين دي(Gupta et al., 2024). د غنمو په وحشي-خپلوانو کښې په پراخه کچه او د پام وړ جنټيک تنوع شتون لري، چې په غنمو کې د وسپنې او جست محتويات ګټور او پراخ جنټيکي توپير لري. دا جنټيکي توپيرونه د دوديزو او عصري نباتي اصلاح طريقو له لارې د غنمو په اوسنې کښتونو کښې د وسپنې او جست د غلظت او حياتي شتون د زياتوالي لپاره کارول کيدای سي. د جنټيکي تګلارو په پرتله، اګرانوميکي بيولوژيکي بډاينه د ستونزو لپاره لنډمهاله حل وړاندې کوي، او په ورته وخت کې، په بالقوه توګه د غنمو په ډول، په دايمي کرنيزو نباتاتو کښې پايښت لرونکی او ارزانه ده. (Sharma et al., 2020).

**د غذائي عناصرو ژوندي شتون:** د بيولوژيکي بډاينې هڅې يوازې د غذائي عناصرو زياتولو په اړه ندي بلکه دا ډاډ ترلاسه کول هم دي چې نوموړي غذائي عناصر په ژوندي ډول شتون لري، پدې معنی چې نوموړي مواد په مؤثره ډول د بدن لخوا جذب او کارېدلای سي. په څېړنه کې د جنټيکي تغيراتو ارزونه او د بايو ټکنالوژيکي طريقو کارول شامل وه ترڅو د دې لږلګښته غذايي توکو ژوندی شتون ښه کړي(Gupta et al., 2021) .

**د بیولوژیکي بډایني په پروسې کښې د مایکرو ارګانیزمونو مرستي**: ځینو مطالعو د بیولوژیکي بډاینې په پروسې کښې د مرستي لپاره د نبات داخل د مایکرارګانیزمونو کارولو اړوند سپړنه کړې. ځیني مایکرارګانیزمونه کولای سي د غنمو په تخمونو کښې د وسپني او جستو جذب او راټولېدلو ته وده ورکړي (Sun et al., 2021).

**د نباتاتو د اصلاحي تخنیکونو رول**: د نباتاتو دودیزه اصلاحي تخنیکونه، جینومیک انتخاب، او د جینوم ترمیم څخه کار اخیستل کیږي ترڅو د عناصرو ډک غنمو ډولونو ته وده ورکړي. د کرنیزو نباتاتو د اصلاح ټیکنالوژي د نباتاتو انتخابي اصلاح تخنیکونو له لارې د غنمو د تغذیې کیفیت لوړولو له لارې د غنمو بیولوژیکي-بډاینې کې مهم رول لوبوي. جنتیکي انتخاب کښې، نباتي اصلاح کونکي د غنمو ورایټیاني پیژني چې په طبیعي توګه د اړین مایکرونیوټرینټونه لکه جست او وسپني په لوړه کچه لري. پدې کښې د غنمو د لوی شمېر نفوس و معاینه کول شامل دي ترڅو هغه شمېر نفوس ومومي چې د پام وړ ځانګړتیاوي لري (Gupta et al., 2022). کراسولو په واسطه د غنمو ورایټیاني چې په لوړه کچه غذایي عناصر لري د لوړ حاصل ورکونکو ورایټیانو سره کراس کیږي ترڅو دواړه ښه غوره ترکیبونه د تغذیې کیفیت او محصول یو ځای کړل سي (Singh et al., 2022). مالیکولي اصلاح پرمختللي تخنیکونه لکه د مارکر په مرسته انتخاب (MAS) او جینومیک انتخاب د اصلاح پروسې ګړندی کوي. نوموړي تګلاري اصلاح کونکو ته د غذایي موادو سره تړلي جنتیکي مارکرونو په کارولو سره د مطلوب ځانګړتیا لرونکو نباتات پیژندلو او غوره کولو اجازه ورکوي. ساحوي آزموینه په بیولوژیکي توګه‌بډای کړل سوي غنمو ورایټیاني د مختلفو چاپیریالي شرایطو لاندي د دوی فعالیت آزمویني لپاره د پراخه ساحه کتلو څخه تیریږي. نوموړي تګلاره د نویو ورایټیو د تطبیق او انعطاف وړ ځانګړتیاوو په اړه، ډاډ ترلاسه کولو کښې مرسته کوي . د غذایي عناصرو تحلیل کښې د لوړ تولید تخنیکونه، لکه ایکس رې فلوروسېنس (XRF)، په چټک او دقیق ډول د غنمو تخمونه د غذایي عناصرو محتویات د اصلاح کولو پروسې په جریان کښې اندازه کړي. نوموړي کړنه اصلاح کونکو ته اجازه ورکوي چې په دې اړه باخبره پریکړي وکړي چې کوم بوټي د نورو نسلونو لپاره غوره کړي. د کرنې متخصص همکاري هم، اصلاح کونکي د کرنې متخصص سره ډیر نږدې کار کوي ترڅو په بیولوژیکي توګه‌بډای سوي غنمو پرمختیا لپاره کرنیزي غوره کړني رامینځته کړي. په دې کې د سرې ورکول، اوبولګول، او د آفتونو د مدیریت لپاره ستراتیژیاني شاملي دي ترڅو د غذایي عناصرو جذب لوړ کړي (Garg et al., 2018).

**بیولوژیکي بډاینه کښې د کرنیزو کړنو رول**: د کرنې علم د آني تغیراتو (mutant) کتلاک، جینومیکي سرچینو، او ټرانسجنیک ستراتیژیو، او د نباتي اصلاح ډیرو پرمختګونو په واسطه وروستي پرمختګونه په خورا لوړه کچه رامنځته سویدي. د غذائي عناصرو د کچي لوړولو لپاره پر خاوري او پر پاڼو باندي پاشل کېدونکي سري ورکولو ستراتیژیو پلي کول شامل دي (Sharma et al., 2020). د دې لپاره باید لومړی په خاوره کښې د لږ لګښته او زیات لګښته عناصرو په کچه پوه سو.

1. **(جدول)**: د انساني روغتیا لپاره د خاوري ځیني لږلګښته غذائي عناصرو زیان رسونکي کچه په جدول کښې ښودل سوېده:نوموړي معلومات د (Langridge, 2022) څخه را اخیستل سویدي.

| عنصر | د ذهري کېدو کچه (ملی ګرامه / کیلو ګرام ) |
|---|---|
| جست(Zn) | 300 |
| اوسپنه(Fe) | 5000 |
| مسو(Cu) | 100 |
| منګنیز(Mn) | 1000 |
| کیډیمیم(Cd) | 3 |
| مس (Pb) | 100 |
| ارسنیک(As) | 20 |

لوړي شمېرې د خاوري په ډول، pH او نورو چاپیریالي عواملو پوری اړه لري او توپیر کولای سي. مهمه دا ده چې په منظمه توګه خاوره معاینه کړل سي او د زهرجن کېدو مخنیوي لپاره د عناصرو کچه تنظیم سي.

**په خاوره کښې د فاسفورس کمیدل او د نایتروجن د محتویاتو زیاتېدل:**

داسي انګیرل کیږي چې د فاسفورس او د وسپني او جست جزبولو ترمنځ منفي اړیکه شتون لري. د غنمو په تخمونو کښې، د ټول فاسفورس نږدې 75 سلنه د فایټیک اسید په توګه، په ځانګړي ډول په جنین او الیوروون په طبقو کښې زیرمه کیږي (Lott and Spitzer 1980). د نباتاتو د نایتروجن غذایي مواد د ریښو په جذب او هم د تر ځمکي لوړي برخي (Shoot) په لیږد مثبت اغیزه لري، او د تخم وسپنه او جست تخصیص نباتي نسجونو څخه تخم ته لیږدول کیږي . په خاوره کې د نایتروجن کارول یا

فولير (پر پاڼو) کارول د ريښو د لوړولو او شاخصونو او د وسپني او جستو د تخم د راټولولو په ښه کولو کښې خورا اغيزمن و چې د غنمو په تجربه کښي ښودل سوي (Aciksoz et al., 2011).

**د بيولوژيکي بډاى سوي غنمو په ترويج کښي د ټولني ښکيلتيا:** په بيولوژيکي ډول بډاى کړل سويو غنمو د ګټو او کښت په اړه بزګران او د ټولني وګړو ته روزنه ورکول ډير اړين دی (Sun et al., 2021) . تر څو په ګټه يې پوه سي او په کرلو او عامولو کښې يې په خپله دوى زموږ سره مرسته وکړي.

**د پاليسي ملاتړ:** د حکومتي پاليسيو هڅول چې د بيولوژيکي بډايني اړوند څيړني او په بيولوژيکي ډول بډاى کړل سويو تخمونو د وېش ملاتړ کوي (Gupta et al., 2022) . بيولوژيکي بډاينه د نباتاتو اصلاحي نظريه ده ترڅو د نباتاتو د تغذيې ارزښت په اقتصادي او دوامدار ډول وده وکړي (De Valenca et al, 2017). نوموړې کړنه د دوديز انتخابي نباتي اصلاحيا د جنتيک انجينرۍ له لارې ترسره کيداى سي. د خاوري د غذائي عناصر د احتمالي اخيستلو په برخه کښې د ځينو خنډونو له امله، د غلودانو کرنيزو نباتاتو لکه غنم معمولاً د غذئي غناصرو د کمښت سره مخ وي د کومو لپاره چې بيولوژيکي‌بډاينه اړينه ده (Fageria and Baligar, 2008). همدارنګه، د ضعيفي سري دوامداره استعمال چې د منرالونو غلظت يې ضعيف وي د غنمو د غذائي عناصرو پر شتون باندي منفي اغيزه لري (Fageria et al, 2002). د دې حقيقت په پام کې نيولو سره، بيولوژيکي بډاينه هغو خلکو ته د لرلګښت ته غذائي توکو رسولو لپاره د يوې ممکنه لارې په توګه کار کوي، چې متنوع خوړو ته ناکافي لاسرسی لري (Bouis and Saltzman, 2017; Garg et al, 2018).

بيولوژيکي بډاينه خلکو ته د لږلګښته غذايي مواد، د نباتي غذايي موادو په ډول رسولو لپاره يو باوري، خورا اقتصادي، او ممکنه طريقه ده. په بيولوژيکي توګه بډاى کړل سويو کرنيزو نباتاتو کښې د خاوري څخه د منرالونو ښه اخستل کيږي، له پاڼو څخه تخمونو ته منرالونه په ښه ډول ليږدول کيږي، د منرالي موادو غلظت زياتوالي سره منرالونه په جنين کښې ډيريږي. د دوی د خواړو په برخه کښې اضافه کيږي. که څه هم، د بيولوژيکي بډايني طريقې په بريالیتوب سره د ترسره کولو لپاره ډيري ننګوني شتون لري. تر دې چې په بيولوژيکي توګه بډاى کړل سويو غنمو له پراختيا وروسته، بيلابيل ټولنيز اقتصادي او ټولنيز - سياسي ننګوني بايد په نښه کړل سي،

ترڅو د کروندګرو لخوا د دوی کښت مشهور سي، او د اخري کارونکي لخوا په مصرف ورسيږي. د دې ننګونو سره سره، ساينس پوهان او څيړونکي اوس کار کوي ترڅو په غنمو کې د غذايي عناصرو په غلظت کې د پام وړ ښه والی راولي او د غنمو نوي ورايټياني توليد کړي. په دې ډول، د څيړونکو، بزګرانو، او مصرف کونکو (اخري کارونکو) ترمنځ څو اړخيزه همغږي به د پټي لوړي په ليري کولو کې کليدي رول ولوبوي. د غنمو بيالوژيکي بډاينه کولاى سي په پراخه توګه په ټوله نړۍ کې د خوارځواکۍ ستونزي کمولو کښي مرسته وکړي او د لوړ کيفيت غلودانو د حاصلاتو په ښه کولو کښي مرسته وکړي. (Sharma et al., 2020).

## د لوړي کچي وسپنه او جست جذبونکي غنم

**په جست او وسپني باندي بيولوژيکي بډاى کړل سوي کرنيز غنم:** د غنمو په ورايټيانو کښې د لوړي کچي وسپني او جستو منرالونو راپور هم ورکړل سويدی (Hussain et al., 2010; Moreira-Ascarrunz et al., 2016 ). د جوار او غنمو د ښه کولو نړيوال مرکز (CIMMYT) او HarvestPlus لخوا رامينځته سوي ډولونه لکه د Zinc Shakti او Zinc Ankur چې دواړه د جست او وسپني لوړه کچه لري. د وسپني لوړه کچه لرونکي غنمو ډولونه لکه HPBW-01 او HPBW-02 چې په هند کي رامينځته سويدي، د وسپني د زياتوالي له اړخه ښه پيژندل سويدي.

د *Triticum* جنس دننه، د A-جينوم ډولونه *Triticum monococcum*، *T. boeoticum*، او *T. dicoccoides* تخمونه يې د لوړي کچي وسپني او جست محتوياتو کښي د توپير راپور ورکول سوي دی (Singh et al., 2008).

د R1، R2، R3، 5R، او R6 رائی کروموزومونو په واسطه د غنمو-رای د داخليدو خط په ترتيب سره د 32.9 ملي ګرامه پر کيلو ګرام وزن څخه تر 83.5 ملي ګرامه پر کيلو ګرام وزن پوري او د وسپني محتويات د 47.4 ملي ګرامه پر 4 ملي ګرامه پر کيلو ګرام وزن ، 47.4 ملي ګرامه پر کيلو ګرام وزن تر منځ د لږ تر لږه او اعظمي حد اندازه ښودل سوې ده (Johansson et al. 2020). ليدل کيږي چې د GPC-B1 اليل د تخمونو وسپني او جست محتوياتو کي د پام وړ زياتوالی لري (Distelfeld et al. 2007). د GPC-B1 نقشه کولو لپاره کارول سوي د بيا جوړوني بديل انبرډ لينونه (RSL) د لږلګښته غذايي توکو لپاره ارزول سويدی، او معلومه سوېده چې RSL او GPC-B1allele اليلونو په اوسط ډول د Zn، Fe، او Mn په ترتيب سره 12 سلنه، 18سلنه، او 29سلنه د کرنيزو غنمو په پرتله ډير محتويات لري (Distelfeld et al. 2007). رنګه غنم د فينولو لوړ غلظت لري، او د غنمو د اصلاح

کولو په پروګرامونو کې کارېدلای سي ترڅو د وسپني او جستو غلظت په لوړ کړل سي ( Sharma et al. 2020; Garg et al. 2018).

د غنمو څلور جستو جذبونکي بیولوژیکي توګه بډای سوي ډولونه (HPBW-01 او WB02 ، Zinc Shakti, Zincol 2016) د CIMMYT، مکسیکو، ICAR-IIWBR، کارنل او PAU، لودهایانا په ملګرتیا سره جوړ سویدي، د غنمو وحشي خپلوانو څخه ګټه اخیستل سوېده. د غنمو په ټولو بیولوژیکي توګه بډای کړل سویو ډولونو کې د غنمو د جستو محتویاتو زیاتوالی هم لیدل سویدی. اوس مهال، د جستو په واسطه بیولوژیکي بډای سوي ډولونه په هند او پاکستان کښې د کښت په حال کې دي (Saini et al., 2022). بیولوژیکي بډای سوي غنم نه یوازې د تغذیې په ښه کولو کې مرسته کوي بلکه د ډیرو عناصرو اړتیا کمولو سره د دوامداره کرنې ملا هم ورتړي.

**په بیولوژیکي توګه بډای سوي ډیورم غنم:** د ډیورم غنمو ځیني ډولونه په بیولوژیکي توګه بډای کړل سویدي ترڅو د وسپني محتویاتو ته وده ورکړي، نوموړي د اش، مکروني او نورو محصولاتو لپاره مناسب دي. نوموړي ډولونه د نباتي دودیزي اصلاح تخنیکونو او ځیني وختونه د جنتیکي بدلون له لاري رامینځته سوي ترڅو ډاډ ترلاسه سي چې د وسپنې له کمښت سره مخ سویو خلکو تغذیه وي اړتیاوي پوره کوي. یو څېړنه چې نباتات د چاپیریال تر کنټرول لاندې شرایطو لاندې کرل سویوه، او د لږلګښته (Fe، Zn، Cu، او Mn) او زیات لګښته غذائي عناصرو (Ca, K, P، او Mg) د غذائي محلولونو (1، 2، 4 او 6 برابره) څلور زیاتیدونکي غلظت باندي ورکول سویوه. داسې یوه پایله تر لاسه سول چې په ښه ظرفیت د غذائي عناصرو د راټولېدلو لپاره د ټاکل سوي عناصرو انتخابول به په اړینه توګه غوره نتیجه ورنه کړي، تر څو چې د غنمو په جینوټایپ کې د لوړې کچې غذائي منرالي توکو غلظت کتلو په هڅو کې، د غنمو د حاصلاتو ظرفیت هم په پام کې ونه نیول سي.

په دې اساس، د انسانانو د تغذیې د ورځني اړتیاو پوره کولو لپاره، د غنمو (*Triticum turgidum* L. ssp. durum (Desf. Husnot) cv. Marialva) په دوامداره توګه د لږلګښته او زیات لګښته غذائي عناصر پرته له دې چې د پام وړ توپیر ولري لوړ محتویات ښيي. که څه هم، د غنمو د حاصلاتو په پام کې نیولو سره، په غنمو کې تر ټولو په لوړه کچه راټول سوي محتویات وموندل سول، هغه چې باید د بیولوژیکي بډایني لپاره ترټولو غوره او خورا اغیزمن وګڼل سي. د ډورم غنمو په بشپړه تخم کې د غذایي موادو د وېش په پام کې نیولو سره (د تخم پوښ په ګډون)، د انسان د مصرف لپاره په بیولوژیکي ډول بډای کړل سویو آش او مکرونیو د تولید د بشپړ سمولینا (د ډیر کریچې سره لږ ژوونکي نوډل ګوله) کارولو ته اړتیا لري.( Patacoa et al., 2017).

2. **(جدول)**: په وسپنه او جستو باندي بيولوژيکي بډای سوی غنمو لیست چي دنباتي اصلاح له لاري مينځته راغلي او په ټوله نړۍ کې د سوداګریز کښت لپاره خپاره سویدي. نوموړي معلومات (Gupta et al., 2022) څخه را اخیستل سویدي.

| ورایټیاني | غذائي کیفیت وسپنه او جست په (PPM) Zn | Fe | د راثیستلو نېټه | پراختیا ورکونکي / سرچینې |
|---|---|---|---|---|
| هندوستان | | | | |
| DDW 48 (*T. durum*) | 39.7 | 38.8 | 2020 | ICAR - د غنمو او وربشو هندی څېړنیز انستیټیوټ، کارنال، هندوستان |
| DDW 47 (*T. durum*) | | 40.1 | 2020 | |
| DBW 303 | 36.9 | 35.8 | 2020 | |
| DBW 187 | | 43.1 | 2020 او 2018 | |
| DBW 173 | | 40.7 | 2018 | |
| WB 02 | 42 | 40 | 2017 | |
| PBW 778 | 41.4 | | 2020 | د پنجاب زراعت پوهنتون(PAU) ، لودهیانا، هند |
| HI 8805 (*T. durum*) | | 40.4 | 2020 | |
| HI 1633 | 41.1 | 41.6 | 2020 | |
| HI 8759 (*T. durum*) | 42.8 | 42.1 | 2017 | |
| HI 1605 | 35 | 43 | 2017 | |
| HI 8777 (*T. durum*) | 43.6 | 48.7 | 2017 | |
| HD 3171 | 47.1 | | 2017 | ICAR- د هند د کرنیزو څېړنو انستیټوت، سیمه ایز سټیشن، اندور، هندوستان |
| HD 3249 | | 42.5 | 2020 | |
| HD 3298 | | 43.1 | 2020 | |
| MACS 4028 (*T. durum*) | 40.3 | 46.1 | 2018 | د اګارکار څېړنیز انستیټیوټ لخوا رامینځته سوی،پونا، مهاراشترا |
| MACS 4058 (*T. durum*) | 37.8 | 39.5 | 2020 | |
| BHU-3 | لوړه کچه | | 2014 | بنارس هندو پوهنتون، وارانسی، هندوستان |
| Abhay | لوړه کچه | | 2015 | عادي تخمونه، د حاصل اخیستل او د ورایټیانو ګډ انتخاب |
| Chitra | لوړه کچه | | 2016 | د ورایټیانو ګډ انتخاب |
| پاکستان | | | | |
| NR- 421 (Zincol-16) | لوړه کچه ( Zn < 6 د محلي غوره چک سویو په پرتله ګټور) | | 2015 | د پاکستان د کرنیزو څېړنو کونسل / CIMMYT |
| Akbar-19 | لوړه کچه ( Zn < 7 د محلي غوره چک سویو په پرتله ګټور) | | 2019 | د فیصل آباد کرنیزو څېړنو انستیټوت/CIMMYT |
| بنګله دېش | | | | |
| BARI Gom 33 | لوړه کچه ( Zn < 7-8 د غوره چک سویو په پرتله ګټور او د غنمو بلاسټ (تورکي) په وړاندې مقاوم) | | 2017 | CIMMYT، مکسیکو |
| مکسیکو | | | | |
| Nohely-F 2018 | لوړه کچه لرونکي (مکسیکو شمالي سونورا، مکسیکي دري لپاره خپاره سویوه) | | 2018 | CIMMYT، مکسیکو |
| بولیویا | | | | |
| Iniaf-Okinawa | لوړه کچه ( Zn < 6 د محلي غوره چک سویو په پرتله ګټور) | | 2018 | INIAF، بولیویا او CIMMYT، مکسیکو |
| نیپال | | | | |
| Zinc Gahun 1 | لوړه کچه ( Zn < 6 د محلي غوره چک سویو په پرتله ګټور) | | 2020 | NARC, Nepal and CIMMYT, Mexico |
| Zinc Gahun 2 | | | | |

د جوارو او غنمو د ښه والي نړیوال مرکز (CIMMYT) د غنمو بیولوژیکي بډاینې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي، په ځانګړي توګه د غنمو په دانې کښې د جست او وسپنې کچې لوړولو باندې تمرکز کوي(Velu et al., 2022).

نوموړې کړنه ځکه ډېره مهمه ده چې په غذائي رژيم کې د لږلګښته غذائي عناصرو کمښت په ګوته کوي ، په ځانګړې توګه په هغه سيمو کې هلته چې غنم د سيمي د خلکو اصلي خواړه جوړوي(Gupta et al., 2021). د CIMMYT د اصلاحي پروګرام په بريالیتوب سره په اتو هيوادونو کې د غنمو 25 بيولوژيکي توګه‌بډای کړل ســوي ډولونه جوړ او خپاره کړي دي (Velu et al., 2023). نوموړي ډولونه د دې لپاره جوړ سويدي چې د جست او وسپني لوړ غلظت ولري، هغه چې د انساني روغتيا لپاره اړين دي (Velu et al., 2022). له 2020 راهيسې ، CIMMYT دا ځانګړتياوې يې په خپل جرمپلازم او د نباتي اصـلاح لاينونو کي مدغم کړل، او په آســيا، افريقا، او لاتين امريکا کښــې تر 60 مليون هکتاره څخه زيات د غنمو کرل ســوي ســيمي موخه کړل سوې(Velu et al., 2023). ډېرو ځېړنو د وحشي غنمو، کرنيزو وارايټيانو، او سيمه ايزو نژادونو د تخمونو وسپنه او جست غلظت کښې د توپيرونه راپور ورکړيدی(Goel et al., 2018). ډېرو مطالعو د منرالونو غلظت او حاصلاتو تر مينځ منفي اړيکه ښودلې ده، په دې معنی چې د غنمو د حاصـلاتو زياتوالی سره د غنمو په منرالي مواد د پام وړ کمښـت سره مل ســويوه. د 70 کلونو په اوږدو کښې د ايراني غنمو په 80 کرنيزي ورايټي ارزولو کښې په ترتيب سره د 63.65 څخه تر 102.19 او 31.65 څخه تر 54.06 ملی ګرام / کيلو ګرام پوري د تخمونو د وسپني او جست غلظت کښې د پام وړ کمښت څرګند کړ (Amiri et al., 2015). له بلې خوا، د تخمونو د وسپني او جست د غلظت لپاره پراخ توپيرونه په سيمه ايزو نژادونو او نورو نه منل سوي جرمپلازمونو کې راپور سوي (Heidari et al., 2017). د وسپني او جست په پرتله په کرل سوي غنمو او د هغو په وحشي خپلوانو کښي د Se غلظت د جنټيکي تغير په اړه يو څو راپورونه شتون لري(Lee et al., 2011).

## پايله

د خوړو خونديتوب د پروګرام د پرمختګ لپاره، د لږلګښته غذائي عناصرو له جملې څخه په وسپني او جستو باندي بيولوژيکي بډای ســوي غنمو کارول د هيلي وړ حل لاري څخه اســتازيتوب کولای سي. د غنمو له ورايټيو سره، د وســپني او جســتوډير جزبولو وړتيايوځايکول د خلکو روغتيا او هوساينې سره مرسته کوي او د دباندې موادو اړتيا کمولو سره سره د پايښـت لرونکي کرني ملا هم تړي. په بيولوژيکي توګه بډای غنم د ډيرو غذايي، انعطاف وړ، او خوندي خوراکي توکو په رسـولو او وده کښـې مهم رول لوبوي. زموږ موندنو ته په کتو سره دا چي د نړۍ په ډيرو هغو سيمو کښي چي غنم د خلکو اساسي خواړه جوړوي، په مستقيم ډول د لږلګښـته غذايي عناصرو د کمښـت ستونزي ته د لاسرسـی لپاره د غنمو غذايي ارزښـت زياتولو سـتراتيژي شـتون لري. اړتيا ليدل کيږي چي په افغانسـتان کښـې هم د غذائي خونديتوب د ښـه کولو له پاره په وسـپني او جسـتو باندي بيولوژيکي بډای سوي غنمو څخه ګټه واخيستل سي، او د استعمال او کرلو ستراتيژۍ يې جوړه سي.

## سپارښتني

د بيولوژيکي-بډای ســويو غنمو کرلو لپاره تر ټولو غوره تدابير نيول اړين دي. دا چي د افغانســتان خاوره د لږلګښـته غذائي عناصرو لږوالی لري، ځکه د وسپني او جستو منرالونه په خاوري او د نباتاتو پر پاڼو بايد استعمال سي.

د بيولوژيکي بډايو غنمو د ګټو په اړه کروندګرو، پاليسي- جوړونکو، او مصرف کونکو ته د معلومات ورکولو لپاره بايد تعليمي کمپاينونه ترسره سي. په څېړنو بايد پانګونه وسي. د حاصـل ډيرولو ترځنګ په بيولوژيکي توګه د غنمو بډای کولو پروسـې ته وده ورکړل سي. د توزيع کولو شبکې بايد رامنځته سي ترڅو په بيولوژيکي توګه بډای سوي غنم هغو سيمو ته ورسيږي چي د لږلګښته غذايي عناصرو له لږوالي څخه اغيزمن سويدي. کروندګر وهڅول سي ترڅو بيولوژيکي بډای سوي غنم غوره کړي. په ملي کرنيز او تغذيه وي پاليسي کښي د بيولوژيکي بډای سويو غنمو شاملول غوره کړنه ده او د خوړو خونديتوب ښه کولو لپاره د يوې کليدي ستراتيژۍ په ډول بايد وپيژندل سي. او په بيولوژيکي توګه بډای کولو د نوښت ساتلو لپاره سيمه ايز ظرفيتونه بايد رامينځته سي.

# اخځلیکونه


Amiri, R., Bahraminejad, S., Sasani, S., Jalali-Honarmand, S., & Fakhri, R. (2015). Bread wheat genetic variation for grain's protein, iron and zinc concentrations as uptake by their genetic ability. *Eur J Agron.* 67:20–6.

Aciksoz, S. B., Yazici, A., Ozturk, L., & Cakmak, I. (2011). Biofortification of wheat with iron through soil and foliar application of nitrogen and iron fertilizers. *Plant Soil* 349:215–225. DOI 10.1007/s11104-011-0863-2

Bouis, H.E., Saltzman, A. (2017). Improving nutrition through Biofortication: A Review of evidences from Harvest Plus., 2003 through 2016. *Global Food Security*, 12, 49-58. DOI: https://doi.org/10.1016/j.gfs.2017.01.009

Debasis, P., & Khurana, P. (2001). Wheat Biotechnology: A mini-review. *Electronic J, Biotech.*, *4*(2), 74-102, DOI: 10.4067/S0717-34582001000200007

De Valenca, A. W., Bake, A., Brouwe l. D., & Giller, K.E. (2017). Agronomic Biofortification of crops to fight hidden hunger in sub-saharan Africa. *Global Food Security,12*, 8-14. DOI: https://doi.org/10.1016/j.gfs.2016.12.001

Distelfeld, A., Cakmak, I., Peleg, Z., Ozturk, L., Yazici, A.M., Budak, H., Saranga, Y., & Fahima, T. (2007). Multiple QTL-effects of wheat Gpc-B1 locus on grain protein and micronutrient concentrations. *Physiologia Plantarum129*, 635–643. Available from: https://www.researchgate.net/publication/259957356_Senescence_nutrient_remobilization_and_yield_in_wheat_and_barley [accessed Oct 15 2024].

Fageria, N.k. & Baligar, V.C. (2008). Ameliorating soil acidity of tropical oxisols by liming for crop production. *Adv Agron, 99*: 345-399. DOI: 0.1016/S0065-2113(08)00407-0

Fageria Nk, Baligar VC, Clark R B (2002). Micronutrients in crop production. *Adv Agron* 77, 85-268. DOI: https://doi.org/10.1016/S0065-2113(02)77015-6

Garg, M., Sharma, N., Sharma, S., Kapoor P., Kumar, A., Chandari, V., & Arora, P. (2018). Biofortified Crops generated by Breeding agronomy & Transgenic Approaches are improving lives of millions of people around the world. *Front Nutr*, 5, 12. DOI: 10.3389/fnut.2018.00012

Goel, S., Singh, B., Grewal. S., Jaat, R.S., & Singh, N.K. (2018). Variability in Fe and Zn content among Indian wheat landraces for improved nutritional quality. *Indian J Genet Plant Breed.* 78(4):426–432. DOI: 10.31742/IJGPB.78.4.4

Govindan, V., Singh, R. P., Juliana, P., Mondal, S., & Bentley, A. R. (2022a). Mainstreaming grain zinc and iron concentrations in CIMMYT wheat germplasm. Journal of Cereal Science, 105, 103473. https://doi.org/10.1016/J.JCS.2022.103473.

Govindan, V., Atanda, S., Singh, R. P., Huerta-Espino, J., Crespo-Herrera, L. A., Juliana, P., Mondal, S., Joshi, A. K., & Bentley, A. R. (2022b). Breeding increases grain yield, zinc, and iron, supporting enhanced wheat biofortification. *Crop Science*, *62*, 1912–1925. https://doi.org/10.1002/csc2.20759.

Gupta, O.P., Singh, A.K, Pandey, V., Sendhil, R., Khan, M.K., Pandey, A., Kumar, S., Hamurcu, M., Ram, S. & Singh, G. (2024). Critical assessment of wheat biofortification for iron and zinc: a comprehensive review of conceptualization, trends, approaches, bioavailability, health impact, and policy framework. *Front. Nutr.* 10:1310020. doi: 10.3389/fnut.2023.1310020

Gupta, O.P., Singh, A.K., Singh, A., Singh, G.P., Bansal, K.C. & Datta, S.K. (2022). Wheat Biofortification: Utilizing Natural Genetic Diversity, Genome-Wide Association Mapping, Genomic Selection, and Genome Editing Technologies. *Front. Nutr. 9*:826131. doi: 10.3389/fnut.2022.826131

Gupta, P.K., Balyan, H.S., Sharma, S. & Kumar, R. (2021). Biofortification and bioavailability of Zn, Fe, and Se in wheat: present status and future prospects. *Theor Appl Genet* **134**, 1–35 https://doi.org/10.1007/s00122-020-03709-7

Guzmán, C., Medina-Larqué, A. S., Velu, G., González-Santoyo, H., Singh, R. P., Huerta-Espino, J., Ortiz-Monasterio, I., & Peña, R. J. (2014). Use of wheat genetic resources to develop biofortified wheat with enhanced grain zinc and iron concentrations and desirable processing quality. Journal of Cereal Science, 60, 617–622. https://doi.org/10.1016/j.jcs.2014.07.006

Heidari, P., Etminan, A., Azizinezhad, R., & Khosroshahli, M. (2017). Genomic variation studies in durum wheat (*Triticum turgidum* ssp. durum) using CBDP, SCoT and ISSR markers. *Indian J Genet.* 77:379–386.

Hussain, A., Larsson, H., Kuktaite, R. & Johansson, E. (2010). Mineral composition of organically grown wheat genotypes: contribution to daily minerals intake. *Int J Environ Res Publ Health*. 7: 3442–56. doi: 10.3390/ijerph7093442

Ibba, M.I., Gupta, O.P., Govindan, V., Johnson, A.A.T., Brinch-Pedersen, H., Nikolic, M., & Taleon, V.,. (2022). Wheat biofortification to alleviate global malnutrition. *Front Nutr*. 9:1001443. doi: 10.3389/fnut.2022.1001443

Jha, A.B., & Warkentin, T.D. (2020) Biofortification of pulse crops: status and future perspectives. *Plants.* 9:73: 1-29. doi: 10.3390/plants9010073

Johansson, E., Branlard, G., Cuniberti, M., Flagella, Z., Hüsken, A., Nurit, E., Peña, R. J., Sissons, M., & Vázquez, D.,(2020). Genotypic and environmental effects on wheat technological and nutritional quality In: *Wheat quality for improving processing and human health*. 171–204.

Johansson, E., Hussain, A., Kuktaite, R., Andersson, S.C., & Olsson. M.E. (2014). Contribution of organically grown crops to human health. *Int J Environ Res Public Health*. 11:3870–93. doi: 10.3390/ijerph110403870

Langridge, P. (2022). Micronutrient Toxicity and Deficiency. In: Reynolds, M.P., & Braun, H. J. (eds) Wheat Improvement. *Springer, Cham*. https://doi.org/10.1007/978-3-030-90673-3_24

Lee, S., Woodard, H.J., & Doolittle, J.J. (2011). Selenium uptake response among selected wheat (*Triticum aestivum*) varieties and relationship with soil selenium fractions. *Soil Sci Plant Nutr*. 57:823–32

Lott, J. N. A., & Spitzer, E. (1980). X-ray Analysis Studies of Elements Stored in Protein Body Globoid Crystals of Triticum Grains. *Plant Physiology 66* (3):494-499. DOI: 10.1104/pp.66.3.494

Moreira-Ascarrunz, S.D., Larsson, H., Prieto-Linde, M.L., & Johansson, E. (2016). Mineral nutritional yield and nutrient density of locally adapted wheat genotypes under organic production. *Foods*. 5: 89. doi: 10.3390/foods5040089

Nestel, P., Bouis, H. E., Meenakshi, J. V., & Pfeiffer, W. (2006). Biofortification of staple food crops. Journal of Nutrition, 136, 1064–1067. https://doi.org/10.1093/jn/136.4.1064

Patacoa, I. M., Lidona, F. C., Ramos, I., Oliveira, K., Guerra, M., Pessoa, M. F., Carvalho, M. L., & Ramalho, J. C., Leitãoa, A. E., Santos, J. P., Campos, P. S., Silvae, M. M., Pais, I. P., and Reboredo, F. H. (2017). Biofortification of durum wheat (Triticum turgidum L. ssp. durum (Desf.) Husnot) grains with nutrients. *JOURNAL OF PLANT INTERACTIONS 12*(1), 39–50. Available at: https://doi.org/10.1080/17429145.2016.1278049

Poole, N., Donovan, J., & Erenstein, O. (2021). Continuing cereals research for sustainable health and well-being. International Journal of Agricultural Sustainability, https://doi.org/10.1080/14735903.2021.1975437

Puntis, J.W.L. (2009). Malnutrition in developed countries. *Ann Nest*. 67:65–72. doi: 10.1159/000226614

Saini, P., Kaur, H., Tyagi, V., Yadav A. N., Saini. P., Sharma, V., Singh, C., Dhaliwal. H. S., & Sheikh. I. (2022). Genetic enhancement of nutritional and end-use quality in bread wheat through alien introgressions from wild relatives. *Cereal Research Communications*. https://doi.org/10.1007/s42976-022-00309-7

Sharma, D., Ghimire, P., Bhattarai, S., Adhikari, U., Khanal, S., & Poudel, P. B. (2020). Biofortification of wheat: Genetic and agronomic approaches and strategies to combat Iron and Zinc deficiency *International Journal of Environment, Agriculture and Biotechnology, 5*(4) https://dx.doi.org/10.22161/ijeab.54.29

Singh, S. K., Barman, M., Sil, A., Prasad, J. P., Kundu, S., & Bahuguna, R. N. (2022). Nutrient Biofortificatio n in Wheat: Opportunities and Challenges. *Cereal Research Communications*, 51, 15-282.

Singh, K., Chhuneja, P., Kaur, S., Garg, T., Tiwari, V., Rawat, N., Bains, N., Dhaliwal, H.S., & Keller, B. (2008). *Triticum monococcum*: a source of novel genes for improving several traits in hexaploid wheat. In: Appels R, Eastwood R, Lagudah E, Langridge P, Lynne MM (eds) Proceedings of the 11th international wheat genetic symposium. Brisbane, Australia, pp 295–298.

statista. (2024, Feb 6). *Global wheat production from 1990/1991 to 2023/2024 (in million metric tons)*. Retrieved from statista: https://www.statista.com/statistics/267268/production-of-wheat-worldwide-since-1990/

Sun, Z., Yue, Z., Liu, H., Ma, K. & Li, C. (2021). Microbial-Assisted Wheat Iron Biofortification Using Endophytic Bacillus altitudinis WR10. *Front. Nutr. 8*:704030. doi: 10.3389/fnut.2021.704030

UN. (2022). *Afghanistan: Food insecurity and malnutrition threaten 'an entire generation'*. Retrieved from https://news.un.org/en/story/2022/03/1113982

unicef. (2024). *Nutrition.* Retrieved from unicef for every child in Afghanistan: https://www.unicef.org/afghanistan/nutrition

Velu, G., Ravi, P. S., & Maria, I. I. (2023). *Wheat Biofortification and Mainstreaming Grain Zinc and Iron in CIMMYT Wheat Germplasm* (1 ed.). CRC Press.

Velu, G., Singh, R. P., Huerta-Espino, J., Peña, R. J., Arun, B., Mahendru-Singh, A., Mujahid, M. Y., Sohu, V. S., Mavi, G. S., Crossa, J., Alvarado, G., Joshi, A. K., & Pfeiffer, W. H. (2012). Performance of biofortified spring wheat genotypes in target environments for grain zinc and iron concentrations. Field Crops Research, 137, 261–267. https://doi.org/10.1016/j.fcr.2012.07.018

Velu, G., Singh, R.P., Joshi, A.K., & Virk, P. (2022). Advances in Wheat Biofortification and Mainstreaming Grain Zinc in CIMMYT Wheat Breeding. In: Kumar, S., Dikshit, H.K., Mishra, G.P., Singh, A. (eds) Biofortification of Staple Crops. Springer, Singapore. https://doi.org/10.1007/978-981-16-3280-8_4

Wang Y., Xu, X., Hao, Y., Zhang, Y., Liu, Y., Pu, Z., Tian, Y., Xu, D., Xia, X., He, Z. & Zhang, Y. (2021) QTL Mapping for Grain Zinc and Iron Concentrations in Bread Wheat. *Front. Nutr*. 8:680391. doi: 10.3389/fnut.2021.680391

WHO. (2020). Micronutrient database. https://www.who.int/healthtopics/micronutrients#tab=tab_1

WHO. (2016). The double burden of malnutrition: Policy brief. WHO.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د كرنيزو علومو او تكنالوژي ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# بررسی تاثیر جنگلات پسته بر امنیت غذایی مردم ولسوالی سنگ آتش، ولایت بادغیس، افغانستان

عتیق الله افغان[1*] ، غلام سخی سائس [2]، معظم حقمل[3]

[1]دیپارتمنت اگرانومی پوهنځی زراعت موسسه تحصیلات عالی بادغیس
[2]دیپارتمنت اگرانومی پوهنځی زراعت موسسه تحصیلات عالی بادغیس
[3]دیپارتمنت باغداری پوهنځی زراعت موسسه تحصیلات عالی بادغیس
نویسنده ی مسئول afghanatiqullah@gmail.com

## چکیده

جنگلات پسته ولایت بادغیس، افغانستان، از ۹۰ هزار هکتار در گذشته به کمتر از ۳۰ هزار هکتار کاهش یافته‌اند و نقش اساسی در تأمین امنیت غذایی و معیشت مردم ولسوالی سنگ آتش دارند. این پژوهش تأثیر جنگلات پسته بر امنیت غذایی خانوارهای محلی را بررسی می‌کند. داده‌ها از طریق پرسش‌نامه و مصاحبه با ۵۰ نفر از ساکنان محلی جمع‌آوری و با استفاده از آزمون‌های ANOVA، همبستگی پیرسون، و تحلیل محتوا تحلیل شدند. نتایج نشان داد که درآمد حاصل از پسته تأثیر معناداری بر امنیت غذایی دارد ($P<0.05$) و رابطه مثبتی بین سطح تحصیلات و درآمد وجود دارد($\chi^2=28.45$ ، $P=0.001$). تخریب جنگلات به دلیل فعالیت‌های غیرقانونی و تغییرات اقلیمی، امنیت غذایی مردم را تهدید می‌کند. این تحقیق بر ضرورت مدیریت پایدار جنگلات، مشارکت دولت و نهادهای بین‌المللی، تنوع‌بخشی به منابع درآمدی، و آموزش‌های آگاهی‌بخش تأکید می‌کند. یافته‌ها اهمیت حفاظت از منابع طبیعی را برای پایداری معیشت و امنیت غذایی نسل‌های آینده برجسته می‌سازد.

**کلمات کلیدی:** امنیت غذایی، جنگلات پسته، سنگ آتش، مدیریت پایدار، معیشت

## مقدمه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمین، والصلاةُ والسلامُ علی رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعین، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ من الشیطانِ الرجیم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحیم:

جنگلات و منابع طبیعی نقش حیاتی در تأمین امنیت غذایی و معیشت پایدار جوامع روستایی ایفا می‌کنند. در افغانستان، جنگلات پسته ولایت بادغیس، به‌ویژه در ولسوالی سنگ آتش، یکی از منابع اصلی تأمین معاش و تغذیه مردم منطقه محسوب می‌شوند. این جنگل‌ها که در گذشته‌ای نه چندان دور مساحتی بالغ بر ۹۰ هزار هکتار را پوشش می‌دادند، اکنون به دلیل ترکیبی از عوامل مخرب نظیر تغییرات اقلیمی، قطع بی‌رویه درختان، و منازعات داخلی به کمتر از ۳۰ هزار هکتار کاهش یافته‌اند .(FAO, 2023) این کاهش چشمگیر، تهدیدی جدی برای اکوسیستم منطقه و امنیت غذایی ساکنان آن به شمار می‌رود.

امنیت غذایی مردم محلی وابستگی مستقیمی به این جنگل‌ها دارد. محصولات پسته که هر ساله جمع‌آوری می‌شوند، نه‌تنها به عنوان یک منبع مستقیم تغذیه و کالری مورد استفاده قرار می‌گیرند، بلکه در سال‌های با برداشت مطلوب، بخش عمده‌ای از نیازهای غذایی خانواده‌ها را تأمین می‌کنند .(IWPR, 2010) علاوه بر جنبه تغذیه‌ای، فروش محصول پسته نقش اساسی در اقتصاد خانوارها دارد. بسیاری از خانواده‌های محلی با فروش این محصولات، درآمد قابل توجهی کسب می‌کنند که برای پوشش نیازهای اساسی زندگی همچون خرید مواد غذایی، دارو و سوخت هزینه می‌شود .(FAO, 2023) مطالعات نشان داده‌اند که در مناطقی مانند سنگ آتش که فرصت‌های شغلی محدود است، این درآمد شریان حیاتی برای تاب‌آوری خانواده‌ها در برابر بحران‌های اقتصادی محسوب می‌شود.(Asia News, 2022)
با این حال، چالش‌های متعددی پایداری این منابع را تهدید می‌کند.

فقر گسترده و کمبود منابع انرژی باعث شده است که ساکنان محلی برای تأمین سوخت و گرمایش، به ناچار به قطع درختان پسته روی آورند. (IWPR, 2010) این چرخه معیوب تخریب جنگل و افزایش فقر، در درازمدت امنیت غذایی منطقه را با خطرات جدی مواجه می‌سازد.

اگرچه سازمان‌های دولتی و بین‌المللی اقداماتی نظیر توزیع نهال و تجهیزات کم‌مصرف را آغاز کرده‌اند، اما تخریب همچنان ادامه دارد. هدف اصلی این پژوهش، بررسی دقیق تأثیر جنگلات پسته بر امنیت غذایی و وضعیت اقتصادی مردم ولسوالی سنگ آتش و شناسایی عوامل تهدیدکننده آن است. همچنین این مطالعه به دنبال تحلیل رابطه بین سطح تحصیلات و میزان درآمد حاصل از این منابع می‌باشد. یافته‌های اولیه این تحقیق نشان می‌دهد که بین درآمد حاصل از پسته و امنیت غذایی همبستگی معناداری وجود دارد و سطح تحصیلات نقش مؤثری در بهبود بهره‌برداری اقتصادی از این منابع ایفا می‌کند.

## مواد و روش کار

این پژوهش از نظر هدف، کاربردی و از نظر روش، توصیفی-تحلیلی است که به صورت میدانی انجام شده است. منطقه مورد مطالعه، ولسوالی سنگ آتش در ولایت بادغیس است که دارای پوشش جنگلی پسته می‌باشد. جامعه آماری پژوهش شامل ساکنان بومی منطقه است که معیشت آن‌ها به طور مستقیم یا غیرمستقیم به این جنگل‌ها وابسته است. حجم نمونه شامل ۵۰ نفر از سرپرستان خانوار و مطلعین محلی بود که با روش نمونه‌گیری تصادفی انتخاب شدند.

برای گردآوری داده‌ها از روش ترکیبی (کمی و کیفی) استفاده شد. ابزار گردآوری اطلاعات در بخش کمی، پرسش‌نامه‌ای محقق‌ساخته شامل سؤالات بسته پاسخ در مقیاس لیکرت بود که مؤلفه‌هایی نظیر نقش جنگلات پسته در درآمد خانوار، تأثیر بر امنیت غذایی و وضعیت معیشتی را می‌سنجید. روایی پرسش‌نامه توسط متخصصین تأیید گردید. در بخش کیفی، از مصاحبه‌های نیمه‌ساختاریافته با ساکنان جهت دریافت اطلاعات عمیق‌تر پیرامون چالش‌های مدیریتی، تهدیدات محیط‌زیستی و فرصت‌های اقتصادی جنگل‌ها استفاده شد.

تجزیه و تحلیل داده‌ها در دو سطح توصیفی و استنباطی انجام گرفت. برای تحلیل داده‌های کمی از نرم‌افزارهای آماری و آزمون‌های «تجزیه و تحلیل واریانس (ANOVA) «جهت بررسی تفاوت میانگین گروه‌ها و «ضریب همبستگی پیرسون» جهت سنجش رابطه بین متغیرها (مانند رابطه سطح درآمد و امنیت غذایی) استفاده شد. داده‌های کیفی حاصل از مصاحبه‌ها نیز از طریق روش «تحلیل محتوا» دسته‌بندی و برای تأیید و تفسیر دقیق‌تر نتایج کمی مورد استفاده قرار گرفتند.

## نتایج و بحث

### نتیجه و مناقشه

این بخش یافته‌های تحقیق را ارائه و با مطالعات پیشین تطبیق می‌دهد. نتایج آماری حاصل از تجزیه و تحلیل داده‌های پرسش‌نامه و مصاحبه‌ها در جداول زیر خلاصه شده است.

یافته‌های آماری تحلیل واریانس (ANOVA)

جدول ۱ نتایج تجزیه واریانس کلی را نشان می‌دهد. مقدار F-value برابر با ۳.۹۴ و P-value برابر با ۰.۰۰۰۱ است که کمتر از سطح معناداری ۰.۰۵ می‌باشد. این یافته‌ها بیانگر وجود تفاوت معنادار آماری بین گروه‌ها بوده و تأیید می‌کند که متغیر مستقل (جنگلات پسته) تأثیر قابل توجهی بر متغیر وابسته (امنیت غذایی و معیشت) دارد.

**جدول ۱.** تجزیه واریانس (ANOVA) کلی

| منابع تغییرات | درجه آزادی(df) | مجموع مربعات(SS) | میانگین مربعات(MS) | F-value | P-value |
|---|---|---|---|---|---|
| بین گروه‌ها | ۹ | ۲۴.۸۶ | ۲.۷۶ | ۳.۹۴ | ۰.۰۰۰۱ |
| درون گروه‌ها | ۴۹۰ | ۳۴۳.۲۸ | ۰.۷۰ | — | — |
| کل | ۴۹۹ | ۳۶۸.۱۴ | — | — | — |

جدول ۲ نتایج تفصیلی تجزیه واریانس را برای هر یک از سؤالات پرسش‌نامه نشان می‌دهد. همه سؤالات دارای P-value کمتر از ۰.۰۵ هستند که نشان‌دهنده معناداری آماری پاسخ‌های مشارکت‌کنندگان است.

**جدول ۲.** نتایج تجزیه واریانس (ANOVA) برای هر سؤال

| سؤال | F-value | P-value |
|---|---|---|
| جنگل پسته ولسوالی سنگ آتش نقش مهمی در تأمین درآمد خانواده‌های شما دارد؟ | ۴.۲۳ | ۰.۰۰۲ |
| درآمد حاصل از پسته تأثیر مستقیمی بر تأمین امنیت غذایی خانواده‌های شما داشته است. | ۳.۹۸ | ۰.۰۰۳ |
| مدیریت پایدار جنگلات پسته می‌تواند به بهبود وضعیت اقتصادی مردم کمک کند. | ۴.۵۶ | ۰.۰۰۱ |
| برداشت و فروش پسته باعث بهبود سطح تغذیه‌ای خانواده‌های ساکن این منطقه می‌شود. | ۳.۸۷ | ۰.۰۰۴ |
| دولت باید نقش فعالتری در حفاظت از جنگلات پسته داشته باشد. | ۴.۱۲ | ۰.۰۰۲ |
| تغییرات اقلیمی تهدیدی برای جنگلات پسته و امنیت غذایی مردم است. | ۴.۳۴ | ۰.۰۰۱ |
| فعالیت‌های غیرقانونی مانند قطع درختان یا چرای بی‌رویه به امنیت غذایی آسیب رسانده است. | ۳.۷۶ | ۰.۰۰۵ |
| حفاظت بیشتر از جنگلات پسته باعث افزایش درآمد مردم خواهد شد. | ۴.۰۱ | ۰.۰۰۳ |
| حمایت‌های دولتی ظرفیت تولید و درآمد از جنگلات پسته را افزایش می‌دهد. | ۳.۹۲ | ۰.۰۰۴ |

## ویژگی‌های جمعیت‌شناختی پاسخ‌دهندگان

جداول ۳ و ۴ ویژگی‌های جمعیت‌شناختی پاسخ‌دهندگان شامل سطح تحصیلات و شغل را نشان می‌دهند. بیشترین فراوانی در سطح تحصیلات مربوط به افراد با تحصیلات متوسطه (۳۸٪) و در شغل مربوط به کارمندان (۳۸٪) است.

**جدول ۳.** فراوانی سطح تحصیلات

| سطح تحصیلات | فراوانی | درصد |
|---|---|---|
| بی‌سواد | ۷ | ۱۴٪ |
| ابتدایی | ۷ | ۱۴٪ |
| متوسطه | ۱۹ | ۳۸٪ |
| دیپلم | ۱۰ | ۲۰٪ |
| لیسانس | ۷ | ۱۴٪ |
| مجموع | ۵۰ | ۱۰۰٪ |

**جدول ۴.** فراوانی شغل

| شغل | فراوانی | درصد |
|---|---|---|
| معلم | ۱۱ | ۲۲٪ |
| کارمند | ۱۹ | ۳۸٪ |
| کشاورز | ۷ | ۱۴٪ |
| تاجر | ۷ | ۱۴٪ |
| بیکار | ۶ | ۱۲٪ |
| مجموع | ۵۰ | ۱۰۰٪ |




شکل 1: فراوانی شکل مصاحبه کننده گان

## رابطه بین سطح تحصیلات و درآمد

جدول ۵ ارتباط بین سطح تحصیلات و سطح درآمد را نشان می‌دهد. نتایج آزمون کای‌اسکوئر ($\chi^2$ = ۲۸.۴۵، df = ۸، p = ۰.۰۰۱) نشان‌دهنده وجود رابطه معنادار آماری بین این دو متغیر است.

جدول ۵. ارتباط سطح تحصیلات با درآمد

| سطح تحصیلات | درآمد پایین | درآمد متوسط | درآمد بالا | آزمون کای‌اسکوئر |
|---|---|---|---|---|
| بی‌سواد | ۵ | ۲ | ۰ | $\chi^2 = 28.45$ |
| ابتدایی | ۴ | ۲ | ۱ | df = 8 |
| متوسطه | ٦ | ۸ | ۵ | p = 0.001 |
| دیپلم | ۲ | ۵ | ۳ | — |
| لیسانس | ۱ | ۲ | ۴ | — |

## بحث و تفسیر یافته‌ها

### اهمیت جنگل‌های پسته در تأمین امنیت غذایی

نتایج نشان می‌دهد که جنگل‌های پسته نقش حیاتی در تأمین درآمد و امنیت غذایی خانوارهای محلی دارند. مطالعات مشابه در مناطقی با جنگل‌های طبیعی تأیید می‌کنند که این منابع تأثیر مستقیم بر معیشت و امنیت غذایی جوامع محلی دارند (Smith et al., 2020). جنگل‌های پسته علاوه بر ارزش اقتصادی، نقش قابل توجهی در حفاظت از محیط زیست و تأمین خوراک محلی ایفا می‌کنند (Kumar & Pandey, 2019). درآمد از محصولات جنگلی، به‌ویژه در مناطق روستایی، برای معیشت پایدار بسیار حیاتی است و می‌تواند در برنامه‌های توسعه روستایی به‌عنوان پایه‌ای برای سیاست‌گذاری مورد استفاده قرار گیرد.

رابطه بین درآمد حاصل از پسته و امنیت غذایی در این مطالعه تأیید شد. با افزایش درآمد از طریق فروش پسته، خانواده‌ها می‌توانند به منابع غذایی متنوع‌تر و با کیفیت بهتری دسترسی پیدا کنند

که منجر به بهبود وضعیت تغذیه‌ای می‌شود (Johnson & Browning, 2018). این موضوع نشان‌دهنده نقش محصولات جنگلی در تقویت امنیت غذایی خانوارهاست.

### نقش مدیریت پایدار و دخالت دولت

یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که مدیریت صحیح و پایدار جنگل‌ها، از جمله کاهش برداشت غیرقانونی و افزایش آگاهی، می‌تواند به افزایش بهره‌وری اقتصادی مردم منجر شود. مدیریت نادرست منابع طبیعی معمولاً باعث کاهش بهره‌وری و آسیب به اکوسیستم می‌گردد. پژوهش‌ها تأکید دارند که دخالت فعال دولت در حفاظت از منابع طبیعی مانند جنگل‌های پسته می‌تواند امنیت غذایی و اقتصادی را بهبود بخشد .(Ali et al., 2021) سیاست‌های مناسب و سرمایه‌گذاری دولتی می‌توانند نقش کلیدی در مدیریت بلندمدت جنگل‌ها داشته باشند .(Smith et al., 2020) برنامه‌های آگاهی‌بخشی و سیاست‌های حفاظتی همراه با حمایت‌های دولتی، مانند ارائه تسهیلات مالی، آموزش، و تجهیزات، می‌توانند بهره‌وری و تولید پسته را افزایش دهند و به بهبود وضعیت اقتصادی و پایداری جنگل‌ها کمک کنند.

### تهدیدات محیط‌زیستی و انسانی

تغییرات اقلیمی و فعالیت‌های غیرقانونی از جمله مهم‌ترین تهدیدات جنگل‌های پسته هستند. کاهش بارندگی، افزایش دما، و سایر اثرات تغییرات اقلیمی می‌توانند منابع درآمدی و غذایی محلی را تهدید کنند. برنامه‌های سازگاری و کاهش اثرات تغییرات اقلیمی برای حفاظت از جنگل‌ها ضروری هستند .(Johnson & Browning, 2018) همچنین، فعالیت‌های غیرقانونی مانند قطع درختان و چرای بی‌رویه باعث کاهش منابع جنگلی و در نتیجه کاهش تولید پسته می‌شوند که بر معیشت و امنیت غذایی خانوارهای محلی تأثیر منفی می‌گذارد. نظارت بهتر و اجرای قوانین سختگیرانه برای جلوگیری از این فعالیت‌ها لازم است (Ali et al., 2021).

### تأثیر سطح تحصیلات بر درآمد

نتایج آزمون کای‌اسکوئر (جدول ۵) تأیید می‌کند که سطح تحصیلات بالاتر معمولاً با درآمد بیشتر همراه است. افراد با تحصیلات لیسانس بیشترین سهم را در گروه درآمد بالا دارند (۴ نفر)، که نشان‌دهنده تأثیر مستقیم تحصیلات بر فرصت‌های شغلی و توان اقتصادی است .(Smith et al., 2020) در مقابل، افراد بی‌سواد (۵ نفر در گروه درآمد پایین) به دلیل فقدان مهارت‌های شغلی، عمدتاً در مشاغل کم‌درآمد مشغول هستند. این موضوع نیاز به برنامه‌های سوادآموزی و مهارت‌آموزی برای این گروه را برجسته می‌کند.(Ali et al., 2021)

درصد بالایی از افراد با تحصیلات متوسطه در گروه درآمد متوسط قرار دارند (۸ نفر). این گروه می‌تواند با دریافت آموزش‌های تکمیلی یا فنی به سطح درآمد بالاتر ارتقا یابد .(Kumar & Pandey, 2019) افراد دارای دیپلم و لیسانس بیشتر در گروه‌های درآمد متوسط و بالا قرار دارند که تأثیر مثبت تحصیلات عالی بر افزایش درآمد را نشان می‌دهد. سرمایه‌گذاری در آموزش‌های دانشگاهی می‌تواند به تقویت اقتصاد محلی کمک کند.(Johnson & Browning, 2018)

## نتیجه گیری

یافته‌های این پژوهش نشان می‌دهد که جنگلات پسته ولسوالی سنگ آتش، نقشی حیاتی و انکارناپذیر در تأمین امنیت غذایی و معیشت پایدار ساکنان محلی ایفا می‌کنند. نتایج تحلیل‌های آماری (ANOVA) با تأیید تفاوت معنادار بین گروه‌ها($P<0.05$) ، ثابت کرد که درآمد حاصل از محصولات جنگلی تأثیر مستقیمی بر بهبود وضعیت تغذیه‌ای خانوارها دارد. همچنین، وجود همبستگی مثبت میان سطح تحصیلات و میزان درآمد نشان داد که سرمایه‌گذاری در آموزش و ارتقای دانش بومی، می‌تواند بهره‌وری اقتصادی از این منابع را به طرز چشمگیری افزایش دهد.

با این حال، پایداری این منابع ارزشمند به دلیل چالش‌های جدی نظیر تغییرات اقلیمی، قطع غیرقانونی درختان و چرای بی‌رویه دام با تهدید مواجه است. تخریب این جنگل‌ها نه تنها اکوسیستم منطقه را به خطر می‌اندازد، بلکه با کاهش منابع درآمدی، امنیت غذایی نسل‌های آینده را نیز متزلزل خواهد کرد. بنابراین، اهمیت این مطالعه در برجسته کردن ضرورت گذار از بهره‌برداری سنتی به مدیریت پایدار منابع طبیعی است.

## پیشنهادات

ددې څېړنې روش کتابتوني دي، کوم چې د هغو شته څېړنو راټولولو او تحليل کولو باندې تمرکز کوي چې د کډوالۍ پر خوړو خونديتوب اغېزې لري. د سيستماتيکې پلټنې لپاره د PubMed، JSTOR او Google Scholar ډېټابيسونه کارول شوي، چې د ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۲۴ پورې خپرې شوې مقالې يې په نښه کړې،چې کليدي ټکي يې "کډوالي"، "خوړو خونديتوب"، "اقتصادي اغېزې" او "کرنه" وو. څېړنې د خوړو خونديتوب څلور ستنو—موجوديت، لاسرسي، کارونه، او ثبات—سره د تړاو پر بنسټ وټاکل شوې. د شموليت معيارونه يې د همکارانو له خوا تاييد شوي علمي مجلې، د پاليسۍ راپورونه، او د کډوالۍ د اغېزو په اړه د بېلابېلو سيمو او شرايطو په تړاو قضيوي څېړنې وې. د راټولو شويو معلوماتو د لټون د سمولو لپاره يو د فلټر کولو پروسه کارول شوې، چې هغه څېړنو ته يې لومړيتوب ورکړې چې تجربوي معلومات يا د پاليسۍ تحليل وړاندې کوي، ترڅو تمرکز او اړوندتيا وساتل شي. په محدوديتونو کې د ادبياتو احتمالي تمايلونه او د ځانګړو سيمو مطالعاتو ته محدود لاسرسی شامل و. دغه طريقه د موضوع په اړه يوه هراړخيزه او اړونده تحليل وړاندې کوي.

## موندنې

### اقتصادي بدلونونه

څېنې څېړنې ښيي چې بهرنيو پيسو راتلل کولای شي کرنيز توليدات زيات کړي او ښوزلي کمه کړي. د بېلګې په توګه، په نايجيريا کې، بهرنيو پيسو راتلل د کوچني بزګرانو سره مرسته کړې، چې د اقليمي بدلون سره مقابله وکړي او خپل ژوند ښه کړي (Etim et al., 2020). په ورته ډول، په فيليپين کې، بهرنيو پيسو راتلل د څو کلنو نباتاتو کرنه زياته کړې، د کورنيو لپاره يې د سون لرګيو کارول يې کم کړي(Zhunusova et al., 2022). خو، نورې څېړنې ښيي چې په بهرنيو پيسو زيات متکي کېدل څېنې وختونه د محلي کرنيز توليد کموالی رامنځته کوي. په چين کې، د کرنې ميکانيزه کول، چې جزوي تمويل يې د بهرنيو پيسو له لارې شوی و، د داخلي ناخالص کورني توليد کې کموالی رامنځته کړی او کرنيزو کارګرو ته يې اړتيا کمه کړې (Zou et al., 2024).د بهرنيو پيسو راتلل او په توليداتو باندې يې اغېزې په شرايطو پورې تړلې ده. په غنا کې يوې څېړنې وموندله چې د بهرنيو پيسو راتللو اغېزې د حاصلاتو په توليد کې توپير درلود، چې آيا حاصل سوداګريز دی که نه، او آيا کرنيزې کورنۍ په نورو اقتصادي فعاليتونو کې ښکېلې وې(Eghan & Adjasi, 2023). سربېره پردې، په پرمختللو بازارونو کې څېړنې متضادې پايلې وړاندې کړې، چې څېنې يې د بهرنيو پيسو راتللو پر بنسټ د ښوزلۍ کمېدو فرضيه تاييدوي، په داسې حال کې چې نورې ښيي چې د بهرنيو پيسو راتللو جريان د ښوزلۍ کچې زياتوالی لامل شوی(Tsaurai, 2018).

## د کارګروکمښت یا زیاتوالی

د کډوالی له امله د کار ځواک کمښت او زیاتوالی پر ځایي او مهاجرو دواړو ټولنو باندې د پام وړ اغېزې لري: د چين په کليوالي سيمو کې ، د کډوالی له امله د کارګرو کموالی او په کرنيزو سيمو کې د مزدوری لوړوالی رامنځته شوی دی (Kleinwechter & Grethe, 2015). چې دا بدلونونه د ځايي بشري قوې، د ځمکې استعمال، او کرنيزې توليداتو باندې اغېزې کوي. د ځېړنو پايلې ښيي چې کله د غير کرنيزو کارونو په معاشونو او مهاجرت کچه لوړه شي، کرنيز توليد د کمښت سره مخ کېږي، او خلک د کرنې پر ځای غير کرنيزو کارونو ته مخه کوي برعکس، د کډوالو لويې ډلې د ورتګ ځايونو کې د کار په بازار باندې منفي اغېزې کولی شي. د کورنی جګړې له امله د جبري کډوالی په اړه يوې ځېړنې ومونده چې د غير مهارت لرونکو کډوالو د کارګرو په ۱۰سلنه زياتوالي سره د غير رسمي سکتور مزدوري ۲.۳سلنه کمه شوې او غير رسمي استخدام ۵سلنه زيات شوی Calderón) & Ibáñez, 2009). دا ښيي چې کډوالي کولای شي د ټيټ مهارت لرونکو ښاري کارګرو لپاره د مزدوری شرايط خراب کړي. په هر حال، ځينې ځېړنې ښيي چې کډوال په ځينو شرايطو کې د اصلي کارګرو ځای ناستي نه بلکې بشپړوونکي دي. په چين کې يوې ځېړنې ومونده چې کليو څخه ښار ته کډوالی د ښاري کارګرو لپاره د اوسط معاشونو لوړوالی لامل شوی، په ځانګړې ډول د هغو لپاره چې ډېر مهارت لرونکي و (Zhao, 2020).

### غذايي بدلونونه

کډوالي پر غذايي تنوع او تغذيوي پايلو باندې د پام وړ اغېزې لري، چې مثبتې او منفي پايلې يې ليدل شوي دي. د والدينو مهاجرت څرګندوي چې د ماشومانو د خوړو تنوع په کور کې کموي، چې د جلا والي منفي اغېزې له کمزورو عايداتو څخه وړاندې په هغو کورنيو کې چې مهاجرت کوي لويې اغېزې لري(Yu et al., 2023). دا د هغو ماشومانو تغذيې لپاره احتمالي خطرونه روښانه کوي چې د لوړ مهاجرت لرونکو سيمو کې پاتې دي. دا ځېړنه داسې وړانديز کوي چې په مخ پر ودې هېوادونو کې د هغو ماشومانو لپاره چې والدين يې مهاجر دي، د خوړو تنوع ته د لاسرسي اسانتياوې برابرول بايد د پاليسو برخه وي.په زړه پورې خبره دا ده چې د کرنيزو توکو سوداګري ، چې اکثره د کار د ويش په بدلولو يا مهاجرت کې دخيل وي، د خوړو تنوع او تغذيې باندې متفاوتې اغېزې لري. که څه هم دا د ټيټ عايد لرونکو کورنيو لپاره غذايي تنوع کې د پام وړ ښه والی راولي ، خو پر ماشومانو د خوارځواکی، کم وزنې او د وزن کموالي په اړه يې اغېزه مهمه نه ده (Chegere & Kauky, 2022). دا ځېړنه داسې ښيي چې د کرنيز تجارت او د خوړو د تنوع پاليسي په ماشومانو کې د تغذيې په ښه والي کې پوره بريا نه ده ، بلکې د تغذيې د ستونزو د حل لپاره بايد د پراخو او هر اړخيزو ستراتيژيو باندې کار وشي

### د چاپيريال تخريب

چاپيريال تخريب او پر کرنيزو توليداتو يې اغېزې يوه پېچلې مسله ده چې ډيری مختلف عوامل لري ي، ددې عواملو څخه مهاجرت دي څکه همدا پروسه د محيط تخريب په مختلفو لارو سره ترسره کوي . د کرنيزو توليداتو زياتوالی او د بهرنيو لکه کيمياوي توکو او انرژۍ زيات استعمال د طبيعي منابعو، په ځانګړې توګه ځمکې او اوبو، تخريب ته لاره هواره کړې. چې په نتيجه کې يې د چاپيريالي روغتيا او ژوند بڼو يا تنوع حيات په کموالي کې مرسته کړې. د نه نوي کېدونکو طبيعي سرچينو زياته کارونه او د نوي کېدونکو سرچينو تخريب د چاپيريالي تخريب اصلي عوامل دي. مهمه خبره دا ده چې يوازې بېوزلي د چاپيريالي تخريب لامل نشي کېدلی. بلکې په ځينو سيمو کې بېوزله خلک د طبيعي سرچينو د مناسبې کارونې څخه ښه خبر دي، څکه چې د هغوی ژوند د دې سرچينو پورې تړاو لري. ددې ترڅنګ يې غلتې پاليسی او او غلطه بازارموندنه هم د پام وړ عوامل دي Dar) & Singh, 2022). د انساني فعاليتونو څخه چاپيريالي ککړتيا، په ځانګړې توګه په پرمختيايي هېوادونو لکه نايجيريا کې، د خاورې د حاصلخېزی، د حاصلاتو په ودې، او نورو برخو باندې د پام وړ اغېزې کړې دي(Godson-ibeji & Chikaire, 2016).

### د پاليسی نيمګړتياوې

د کډوالي اغېزې د خوړو په خونديتوب، په ځانګړې توګه په ټيټ عايد لرونکو شرايطو کې، د بېلابېلو سيمو په کچه په پاليسو کې نيمګړتياوې څرګندوي. د کډوالی او خوړو خونديتوب ترمنځ پېچلې اړيکې د پاليسي جوړوونکو لپاره ننګونې رامنځته کوي.په غنا کې، داخلي کډوالي اکثره د بېوزلی ځپلو سيمو کې د مقابلې يوه تګلاره ګڼل کېږي،

خو د بېوزلۍ کمولو په اړه يې اغېزې مستقيمې نه دي. څېړنه ښيي چې داخلي کډوالي ښايي د بېوزلۍ پر وړاندې اساسي حل ونه ګرځي، ځکه چې کډوال تل خپلې معیشتونه نه ښه کوي یا دومره عاید نه ترلاسه کوي چې د بېوزلۍ څخه ځان خلاص کړي. سربېره پردې، په هغو سیمو کې چې دوديزې پرمختيايي هڅې يې لږې برياليې وې، ډېر بېوزله خلک ښايي د کډوالي لپاره سرچينې ونه لري(Serbeh et al., 2015). په ځانګړې توګه کډوالي پر خوړو خونديتوب دواړه مثبتې او منفي اغېزې لرلې شي. د هند په لداخ نومي ځای کې، ژوند تګلارې بڼې يا معيشت تنوع او د غیر کرنيز عايد د فرصتونو زیاتوالی د خوړو مصرف په ډولونو کې بدلونونه راوستي دي. خو، دې بدلون هم موسمي کمښتونه او ټيټه غذايي تنوع رامنځته کړې، چې د کوچنيو مغذي موادو کمښت يا "خفيفې لوږې" لامل ګرځېدلې(Dame & Nüsser, 2011) . چې دا په لوړو غرنيو سيمو کې د ځانګړو ننګونو د حل لپاره د سيمې اړوند پالیسیو او پروګرامونو اړتيا په ډاګه کوي.

## پایله او مناقشه

کډوالي د خوړو په خونديتوب هم مثبتې او هم منفي اغېزې لري، چې د خوراکي سيستمونو او ټولنيزو اقتصادي جوړښتونو ترمنځ پيچلې اړيکې څرګندوي. د مثبت اړخونو څخه، کډوالي کولای شي په کور کې د پاتې شويو ښځو لپاره زياتې خپلواکۍ لامل شي، چې ښايي د کورني خوړو مديريت په اړه د دوی د پرېکړې واک زيات کړي. دا زياته خپلواکي ښايي د خوړو خونديتوب لپاره د سرچينو په ښه وېش کې مرسته وکړي. سربېره پر دې، د کډوالو کارګرو بهرنيو پيسو راتلل د کليوالو کورنيو لپاره اضافي عايد برابرولی شي، چې ښايي هغوی ته د خوراکي موادو د لاسرسي او پيرودلو وړتيا لا ښه کړي. خو، پر خوړو خونديتوب د کډوالۍ منفي اغېزې هم مهمې دي. په کليوالو کورنيو کې د نارينه وو غياب کولی شي په کور کې پاتې شويو ښځو مسؤليتونه زيات کړي، چې اکثره د خوړو خونديتوب په پايلو کې د جنسيت پر بنسټ زيان لامل ګرځي(Choithani, 2020) . دا زيان ښايي د کورني خوړو په مديريت کې د ښځو د زياتې خپلواکۍ احتمالي ګټې کمې کړي.د هند په لويديځ بيهارسيمه کې يوه څېړنه څرګندوي چې هغه کورنۍ چې د نارينه وو د مهاجرت په وجه د ښځو لخوا اداره کېږي، د خوړو خونديتوب په اړه زيات زيانونه ليدلي دي. د کډوالۍ او خوړو خونديتوب ترمنځ پيچلې اړيکې د اقليم بدلون، د اوبو ساتنې ، او ټولنيزو اقتصادي شرايطو په څېر نورو عواملو لخوا نوره هم پېچلې شوې. د بېلګې په توګه، د اقليم بدلون سره د افريقا د صحرا لاندې سيمې زيانمنيدل د کډوالۍ د ډول سره اړيکه لري، چې په سيمه کې د خوړو خونديتوب باندې ممکن منفي اغیزې رامنځته کړي(Connolly-Boutin & Smit, 2016). د اوبو-انرژۍ-خوړو د پيوند چوکاټ هم ښيي چې څنګه مهاجرت کولی شي د منابعو مديريت باندې اغېزې وکړي او په پايله کې د خوړو امنيت ته زيان ورسوي(Sun et al., 2021). مهاجرت، په ځانګړې توګه له کليو څخه ښارونو ته، د خوړو امنيت لپاره ځانګړې ننګونې رامنځته کوي، ځکه چې په زياته مهاجرت لرونکو سيمو کې د خوړو سيستمونو باندې فشار راځي. د دې ستونزو د حل لپاره تطبيقي پاليسۍ اړينې دي ترڅو د محلي او مهاجرينو دواړو لپاره د خوړو شتون او لاسرسي ډاډ ترلاسه شي. د خوړو ټکنالوژۍ پرمختګ کولی شي د مهاجرينو لپاره د ژوند شرايط ښه کړي، لکه څنګه چې په آلمان کې د سوريې د جبري مهاجرت قضيې مطالعې کې ښودل شوي. خو دغه پرمختګونه ممکن په کوچنيو سيمو کې شته نا انډولي نوره هم زياته کړي، کوم چې د خوړو امنيت په پار د مهاجرو ستونزې زياتوي(Al-Sayed, 2019). همدارنګه مؤثره حکومتولي، د فساد کنټرول، او سیاسي ثبات د خوراکي مرستو د اغېزمنتيا د لوړولو لپاره ډېر مهم دي، په ځانګړې توګه په هغو سيمو کې چې د زياتې مهاجرت کچه لري-Al) (Sayed, 2019. په اوږدمهاله دوامداره پراختيا کې، څېړنې د څو اړخيزه رويکرد اړتيا ټينګار کوي(Sulser et al., 2011). د کرنې څېړنې، ښه اوبه رسولو، د طبيعي منابعو ښه مديريت، او د بازارونو د اغېزمنتيا لوړولو اهميت په ګوته کوي چې د خوړو خونديتوب ښه کړي. دا عوامل د هغو سيمو لپاره اړين دي چې د مهاجرت لوړې کچې لري، ځکه چې دې سيمو ته د بدلونونو او زياتې غوښتنې سره د خوړو سيستمونه د ځواب ويلو اړتيا لري (Siebert & May, 2021) . سربېره پر دې، مطالعې د حکومتولۍ او پاليسۍ د مهم رول ټينګار کوي چې د خوړو خونديتوب او اوږدمهاله دوامداره پراختيا يقيني کړي . مونډنې ښيي چې د فساد کنټرول او د سياسي ثبات ساتنه د خوړو مرستې پر خوړو او تغذيه خونديتوب باندې ژورې اغېزې لري. دا په ځانګړي توګه د هغو سيمو لپاره اړين دی چې د مهاجرت لوړې کچې لري، ځکه چې دا سيمې اکثره د حکومتولۍ له چلنجونو سره مخ دي چې کولی شي د خوړو ويش او لاسرسي باندې اغېز وکړي(Cassimon et al., 2023).

## په تیرو لیکنو کې تشې

په موجوده څېړنو کې ځینې مهمې تشې موجودې دي چې د اقلیم بدلون، د خوړو تولید، او مهاجرت ترمنځ پیچلو اړیکو ته اشاره کوي.

**د اقلیمي بدلون له امله مهاجرت** : د اقلیمي بدلون له امله مهاجرت ، څېړنې د استوایي او نیمه استوایي سیمو باندې تمرکز لرې، چې آسیا او اواقیانوس ټاپوګان ترټولو ډېرې څېړل شوې سیمې دي. د دې پر ځای چې یوازې دې سیمو ته پام وشي، د معتدلو او قطبي سیمو په اړه هم باید پراخه څېړنې ترسره شي برسېره پر دې، د اقلیمي مهاجرت سره تړلې د ژوند وضعیتونو په اړه چې مهاجرین یې په خپلو نړیوالو ورتلونکو سیمو کېویني او دا د کوربه ټولنو په اړه څه اغېزې لري، لږه پوهه شته، چې دا د څېړنو یوه مهمه تشه څرګندوي(Ghosh & Orchiston, 2022).

**د کرنیزو لارو د مفکورې فرضیه** :د دې مفکورې هدف دا دی چې د اقلیمي بدلون له امله د خوړو تولید باندې اغېزې د معیشت له نقصان سره مخامخ کېدل او کلیوال مهاجرت سره تړاو لري. که څه هم تازه شواهد ښیي چې دا لاره ممکنه ده، چې په بشپړه توګه یې علتونه تر اوسه ثابت شوي نه دي. راتلونکې څېړنې باید د دې فرضیې تر شا پټې اړیکې وڅېړي، په ځانګړې توګه د دې پیچلو او څو اړخیزو اړیکو پراخ تحلیل ته اړتیا ده.

**د اقلیمي بدلون پر ځای او کښت پورې اړوند ځانګړې ارزونې** :د اقلیم بدلون پر کرنیزو سیستمونو باندې د اغېزو په اړه نورې ځانګړوارزونو ته اړتیا ده. د ایټالیې کرنې ته کتنه ښیي چې د بېلابېلو سیمو، کرنیزو محصولاتو، او کرنیزو سیستمونو تر منځ توپیرونه شته، او دا د ځای پر ځای ځانګړو څېړنو اهمیت ښیي . همدارنګه، باید د اقلیمي بدلون، کرنیزو کړنو، ټولنیزو اقتصادي فکتورونو، او د پالیسیو د مداخلې ترمنځ د پیچلو اړیکو په اړه څېړنې وکړل شي ترڅو د تطبیق لپاره ځانګړې ستراتیژۍ جوړې شي (Pulighe et al., 2024).

**د خوړو رسولو ځنځیر او اقلیمي بدلون** :د خوړو رسولو ځنځیر د اقلیمي بدلون پر وړاندې زیان منونکی دی، خو زیاتره څېړنې یوازې د اقلیمي بدلون او تولید ترمنځ اړیکو ته پراخه توجه کړې ده. د خوړو رسولو ځنځیر په بشپړه توګه څېړلو ته اړتیا لري، او د اقلیمي متغیراتو مختلفو بڼو ته هم باید توجه وشي(Tchonkouang et al., 2024). برسېره پر دې، نورې څېړنو ته اړتیا ده چې د اقلیمي بدلون او پر خوړو رسولو ځنځیر باندې د ټولنیزو اقتصادي پایلو پوهه ترلاسه کړي.

## سپارښتنې

- د کډوالۍ له امله د خوړو خوندیتوب ته د زیان مخنیوي لپاره باید پالیسۍ د محلي کرنې ملاتړ وکړي او په هغو سیمو کې د خوړو لاسرسی ښه کړي چې خلک ترې کډه کوي. په Jamaica کې کډوالۍ عموماً د کرنې وړو پروژو او کورني خوړو تولید لپاره ګټوره تمامه شوې ده، چې خوړوته یې لاسرسی یې زیات کړی دی. په St. Vincent کې، د کډوالۍ له امله خلک له کرنې لاس پر سر شوي، او د خوړو خوندیتوب تر ډېره د کډوالو د لېږل شویو پیسو په وسیله د خوراکي موادو پیرلو پورې تړلی دی(Thomas-Hope, 2017). د دې ستونزو د هوارولو لپاره، حکومتونه باید په ځانګړي ډول په کلیوالو سیمو کې د ځایي کرنې لپاره مشخصې مرستې (سبسایډي) په لاره واچوي. په Sub-Saharan Africa کې، دا تګلاره موثره تمامه شوې، چیرې چې د غریبو خلکو لپاره مناسبې کرنیزې مرستې برابرې شوي ، د کرنیزو توکو کارول یې زیات کړي. (Obayelu et al., 2021).
- د مهاجرت له امله د خوړو خوندیتوب د کمزورو او اړتیا لرونکو ټولنو لپاره د ځانګړو تګلارو جوړول مهم دي. د کډوالو لپاره د ځایي کرنې پرمختګ او د خوړو تولید زیاتولو په موخه باید د کډوالواصلي سیمو کې پرمختللو ټکنالوژیو او مهارتونو ته لاسرسی په واک کې ورکړل شي(Obayelu et al., 2021). همدارنګه، د پالیسۍ جوړونکي باید په هغو لوړو غرنیو سیمو کې د ځانګړو ستونزو د حل لپاره ځانګړي سیمه‌ییز پروګرامونه او پالیسۍ جوړې کړي چې د خوړو خوندیتوب ته په کې کمه توجه کېږي(Dame & Nüsser, 2011).

- د پوهې مدیریت ستراتیژۍ په برخه کې، راتلونکې څېړنې باید د کاري برخو ترمنځ د ګډو او بین الرشتوي لارو او طریقو پراختیا باندې تمرکز وکړي. د مختلفو میتودونو په ځانګړې توګه د مخلوطو میتودونو ډیزاین او اوږدمهاله څېړنو اړتیا شته، ترڅو knowledge management (KM) ستراتیژیو پر اوږدمهاله اغیزوپه سازماني کړنو باندې ښه پوهه ترلاسه شي(Kaushal et al., 2023). سربېره پر دې، څېړونکو ته اړینه ده چې د KM ستراتیژیو د نورو کاري ستراتیژیو او د سوداګرۍ عمومي اهدافو سره همغږي وڅېړل شي.

## اخځلیکونه


Al-Sayed, L. (2019). Technologies at the Crossroads of Food Security and Migration. *Food Tech Transitions: Reconnecting Agri-Food, Technology and Society*, 129–148.

Aljaroudi, R. (2018). *Exploring the food choices of Muslim Arab immigrants in Canada*.

Beerbühl, M. S. (2012). Migration, transfer and appropriation: German pork butchers in Britain. *Transfers*, *2*(3), 97–119.

Calderón, V., & Ibáñez, A. M. (2009). *Labor Market Effects of Migration-Related Supply Shocks: Evidence from Internal Refugees in Colombia*.

Cassimon, D., Fadare, O., & Mavrotas, G. (2023). The impact of food aid and governance on food and nutrition security in Sub-saharan Africa. *Sustainability*, *15*(2), 1417.

Chegere, M. J., & Kauky, M. S. (2022). Agriculture commercialisation, household dietary diversity and nutrition in Tanzania. *Food Policy*, *113*, 102341.

Choithani, C. (2020). Gendered livelihoods: Migrating men, left-behind women and household food security in India. *Gender, Place & Culture*, *27*(10), 1373–1394.

Connolly-Boutin, L., & Smit, B. (2016). Climate change, food security, and livelihoods in sub-Saharan Africa. *Regional Environmental Change*, *16*, 385–399.

Dame, J., & Nüsser, M. (2011). Food security in high mountain regions: agricultural production and the impact of food subsidies in Ladakh, Northern India. *Food Security*, *3*, 179–194.

Dar, F. A., & Singh, M. (2022). A geographical perspective on poverty-environmental degradation. *International Journal of Social Sciences and Management*, *9*(1), 1–7.

Eghan, M., & Adjasi, C. (2023). Remittances and agricultural productivity: the effect of heterogeneity in economic activity of farming households in Ghana. *Agricultural Finance Review*, *83*(4/5), 821–844.

Etim, N. A., Thompson, D., & Asa, U. A. (2020). Migrant remittances and agricultural production under climate change: Evidence from rural households in Nigeria. *Arts and Social Sciences*, *1*(1), 13–23.

Forhad, M. A. R., & Alam, G. M. (2021). Remittance and education in recipient countries: an interdependence. *International Journal of Education Economics and Development*, *12*(1), 61–78.

Gedefaw, A. A., Atzberger, C., Bauer, T., Agegnehu, S. K., & Mansberger, R. (2020). Analysis of land cover change detection in Gozamin District, Ethiopia: From remote sensing and DPSIR perspectives. *Sustainability*, *12*(11), 4534.

Gedikli, A., Taş, N. B., & Yalçın, A. K. (2022). Breaking the Vicious Cycle Between Migration and Environmental Degradation: The Role of Government. In *Analyzing Sustainability in Peripheral, Ultra-Peripheral, and Low-Density Regions* (pp. 156–178). IGI Global.

Ghosh, R. C., & Orchiston, C. (2022). A systematic review of climate migration research: gaps in existing literature. *SN Social Sciences*, *2*(5), 47.

Godson-ibeji, C. C., & Chikaire, J. U. (2016). Consequences of environmental pollution on agricultural productivity in developing countries: A case of Nigeria. *International Journal of Agricultural and Food Research*, *5*(3).

Hoffmann, R. (2022). Contextualizing climate change impacts on human mobility in African drylands. *Earth's Future*, *10*(6), e2021EF002591.

Hollier, C. A. (2018). Food security: a plant pathology perspective. *CABI Reviews*, *2018*, 1–5.

Issabayev, M., Saydaliyev, H., Avsar, V., & Chin, L. (2020). Remittances, institutions and financial inclusion: new evidence of non-linearity. *Global Economy Journal*, *20*(01), 2050002.

Kaushal, S., Nyoni, A. M., & Sharma, A. (2023). Are we making progress in developing knowledge management strategies that support organizational performance? *Kybernetes*.

Kleinwechter, U., & Grethe, H. (2015). National wage trends and migration in a Chinese village economy: a micro level modeling approach based on a composite utility function. *American Journal of Agricultural Economics*, *97*(3), 701–726.

Kwon, E. (2023). Considering the role of integration experiences in shaping immigrants' post-migration food choices and eating practices. *Canadian Review of Sociology/Revue Canadienne de Sociologie*, *60*(4), 741–762.

Macgowan, M., Palattiyil, G., Sidhva, D., & Seraphia Derr, A. (2021). *Global trends in forced migration: Policy, practice and research imperatives for social work*.

Mekonnen, D. A., Soma, K., & Ruben, R. (2022). The ambivalent links between internal migration and food security in Uganda. *Migration and Development*, *11*(3), 917–936.

Milán, T., & Martens, C. (2023). Venezuelan Migration, COVID-19 and Food (in) Security in Urban Areas of Ecuador. *Land*, *12*(2), 517.

Obayelu, A. E., Arowolo, A. O., Oyawole, F. P., Aminu, R. O., & Ibrahim, S. B. (2021). The linkage between agricultural input subsidies, productivity, food security, and nutrition. In *Food Security and Nutrition* (pp. 107–124). Elsevier.

Palacios, P., & Pérez-Uribe, M. A. (2021). The effects of agricultural income shocks on forced migration: Evidence from Colombia. *Peace Economics, Peace Science and Public Policy*, *27*(3), 311–340.

Pulighe, G., Di Fonzo, A., Gaito, M., Giuca, S., Lupia, F., Bonati, G., & De Leo, S. (2024). Climate change impact on yield and income of Italian agriculture system: a scoping review. *Agricultural and Food Economics*, *12*(1), 23.

Romano, D., & Traverso, S. (2020). Disentangling the impact of international migration on food and nutrition security of left-behind households: Evidence from Bangladesh. *The European Journal of Development Research*, *32*(4), 783–811.

Serbeh, R., Adjei, O. P., & Yeboah, T. (2015). Internal migration and poverty reduction: rethinking the debate on the north-south movement in Ghana. *Journal of Social Sciences, Retrieved from Https://Doi. Org/10.3844/Jsssp*.

Siebert, A., & May, J. (2021). Food and nutrition security policies in Africa. In *Routledge Handbook of Public Policy in Africa* (pp. 477–487). Routledge.

Simich, L., Beiser, M., Stewart, M., & Mwakarimba, E. (2005). Providing social support for immigrants and refugees in Canada: Challenges and directions. *Journal of Immigrant and Minority Health*, *7*, 259–268.

Sulser, T. B., Nestorova, B., Rosegrant, M. W., & van Rheenen, T. (2011). The future role of agriculture in the Arab region's food security. *Food Security*, *3*, 23–48.

Sun, Y., Hu, R., & Zhang, C. (2021). Impact of rural–urban migration experience on rice farmers' agricultural machinery expenditure: Evidence from China. *Agriculture*, *11*(8), 764.

Suphanchaimat, R., Putthasri, W., Prakongsai, P., & Tangcharoensathien, V. (2017). Evolution and complexity of government policies to protect the health of undocumented/illegal migrants in Thailand–the unsolved challenges. *Risk Management and Healthcare Policy*, 49–62.

Swinnen, J., & McDermott, J. (2020). COVID-19 and global food security. *EuroChoices*, *19*(3), 26–33.

Syeda, M. E. B., & Hauge-Evans, A. C. (2024). Assessment of diet composition of Pakistani ethnic groups in the UK–does dietary pattern change between 1st and 2nd generations? *Proceedings of the Nutrition Society*, *83*(OCE2), E209.

Tchonkouang, R. D., Onyeaka, H., & Nkoutchou, H. (2024). Assessing the vulnerability of food supply chains to climate change-induced disruptions. *Science of the Total Environment*, 171047.

Thomas-Hope, E. (2017). Migration, small farming and food security in the Caribbean: Jamaica and St. Vincent and the Grenadines. *International Migration*, *55*(4), 35–47.

Tsaurai, K. (2018). The impact of remittances on poverty alleviation in selected emerging markets. *Comparative Economic Research. Central and Eastern Europe*, *21*(2), 51–68.

Ullah, A. K. M. A. (2013). Irregular migrants, human rights and securitization in Malaysia: An analysis from a policy perspective. In *Globalization and social transformation in the Asia-Pacific: The Australian and Malaysian experience* (pp. 178–188). Springer.

Yeoh, J. S. W., Terry, D. R., Le, Q., McManamey, R., & Lê, Q. (2015). *Effective strategies adopted by migrants to improve food security in Tasmania*.

Yu, Y., Liu, C., Chen, K., & Li, S. (2023). Parental migration and children's dietary diversity at home: evidence from rural China. *Plos One*, *18*(12), e0291041.

Zhao, X. (2020). Migrants and urban wage: Evidence from China's internal migration. *China Economic Review*, *61*, 101287.

Zhunusova, E., Lippe, M., Yang, A. L., & Günter, S. (2022). The implications of remittances for agricultural land use and fuelwood collection: evidence from the remaining forested landscapes in the Philippines. *Environmental Research Letters*, *17*(2), 24041.

Маслова, Е. А. (2024). Продовольственная безопасность и климатическая повестка. *Международная Аналитика*, *14*(4), 37–51.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د خوړو خونديتوب او ټولنيز عدالت ترمنځ د اړيکو تحليل

عبدالصميم نيازی[1*]، ممتاز احمد يوسفزی[2]، فيض الرحمن احمدي[2]

ځنګلونو او چاپېريال ساتنې څانګه، کرنې پوهنځی، لغمان پوهنتون

د مسؤل ليکوال: Samimnaizai04@gmail.com

## لنډيز

د خوړو امنيت چې د انسان يو بنسټيز حق دی، د مصؤنونو خوړو شتون، د نرخونو ثبات او ارزانه لاسرسي معنا لري، کوم چې له ټولنيز عدالت سره ژورې اړيکې لري. د دې څېړنې موخه د خوړو امنيت او ټولنيز عدالت ترمنځ د اړيکو روښانه کول، د هغو ټولنيزو او اقتصادي عواملو او تګلارو تحليل دی چې د خوړو پر امنيت اغېزه کوي او همدارنګه د نړيوالو او محلي ادارو او غيردولتي مؤسسو د رول ارزونه ده چې څنګه د خوړو عدالت او امنيت ته وده ورکوي. څېړنه د کتابتوني کړنلارې له لارې ترسره شوې، چې په کې د علمي منابعو، څېړنو او پاليسي اسنادو ژوره تحليلي مطالعه شوې ده. موندنې ښيي چې په بېلابېلو ټولنو، په ځانګړې توګه ښاري سيمو کې، د خوړو په لاسرسي کې د پام وړ توپيرونه شتون لري، چې د کم عايد لرونکو خلکو د ژوند پر کيفيت منفي اغېزې لري. پايلې څرګندوي چې د خوړو عدالت د ټولنيز عدالت يوه مهمه برخه ده او اړتيا ليدل کېږي چې يوه ټوليزه او پراخه ستراتيژي غوره شي، څو د خوړو امنيت ترڅنګ د خوړو عدالت ته هم پوره پاملرنه وشي. څېړنه د خوړو سيستمونو د سيمه‌ييز کنټرول او د ټولنې د ځان‌بسياينې ارزښت روښانه کوي، څو د خوړو عادلانه وېش يقيني شي. وړانديز کېږي چې سيمه‌ييز حکومتونه د دوديزو خوړو او محلي توليدي سيستمونو ملاتړ وکړي، د خوړو قيمتونه او لاسرسی د عدالت په چوکاټ کې تنظيم کړي، ګډ حکومتي او مدني پروګرامونه د خوړو عدالت ته وده ورکړي او د تغذيې سيستمونو د کارکوونکو د روزنې او پاليسيو د بياکتنې لپاره عملي ګامونه پورته کړي. په ټوله کې څېړنه څرګندوي چې د ټولنيزو او اقتصادي عواملو، تګلارو او ادارو ترمنځ همغږي او ګډ کار د خوړو امنيت او ټولنيز عدالت د پياوړتيا لپاره اړين دي، څو د ښاري پلان جوړونې او ټولنيزې ښکېلتيا له لارې په ټوله کې د خوړو عدالت او امنيت په عادلانه ډول تأمين شي.

**کليدي کليمې:** امنيت، ټولنيز عدالت، خواړه

## سريزه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د خوړو امنيت يو اساسي انساني حق دی او د ټولنيزعدالت يوه مهمه برخه ده، چې د ټولو خلکو لپاره د مصوونه، مغذي خوړو شتون، لاسرسی درلودل او ارزان والي ته اشاره کوي(Capone et al., 2014). د خوړو امنيت په څلورو اساسي موضوعاتو: شتون، لاسرسی، استفاده او ثبات باندې ولاړ دی. د خوړو عدالت، چې د چاپېريالي عدالت يوه ځانګړې برخه ده، د خوړو امنيت څخه علاوه د روغتيا په تأمين او د ټولنې د ځان بسياينې په اړه د خوړو لاسرسي ته توجه کوي.(Kelley & Dombrowski, 2018) که څه هم د خوړو امنيت په پراخه او نړيواله توګه تربحث لاندې نيول کېږي خو د خوړو حاکميت مفهوم، چې د خوړو د سيستمونو په اړه د سيمه ييز کنټرول او ثبات باندې ټينګار کوي، په تېرو وختونو کې په کمه اندازه تربحث لاندې نيول شوی. خوړو پورې اړوند ټولنيزعدالت مسايلو ته د يوه بشپړ، پراخه چلند اړتيا او مباحثو ته ضرورت ليدل کيږي، په ټولنه کې محروم وګړي، په ځانګړې توګه اقليتي نژادونه او ډلې چې په خرابو او نامساعدو اقتصادي شرايطو لرونکي سيمو کې ژوند کوي، د صحي خوړو په انتخاب او لاسرسي کې د ستونزو او خنډونو سره لاس او ګرېوان دي، دا خنډونه د ښه کيفيت لرونکو غذايي موادو ته محدود لاسرسی درلودل او د ناسمو (غير صحي) خوړو د زياتوالي له امله دي،

د دغه توپيرونو شته والی د نوموړو ټولنو په منځ کې د غذايي رژيم پورې اړوند ستونزمنو حالاتو ته لاره حواره وي(Wolf et al., 2021). په ښاري سيمو کې اکثره د خوړو په لاسرسي کې لوی توپيرونه شتون لري، که څه هم صحي خواړه په زياد ډول شتون لري، مګر دغه خوړو ته لاسرسی درلودل د ځينو وګړو لپاره ستونزمن وي، په ځانګړې توګه په هغو سيمو کې چې د ښار له مرکز څخه لرې پرتې دي. دا د "غذايي موادو د خرڅلاو مارکيټ اړوند خدماتو خلا" يا "غذايي خدماتو له اړخه کمزورې سيمې رامنځ ته کوي، چې په کم عايد لرونکو، لرې پرتې او بې روزګاره ټولنو باندي نه جبرانيدونکې اغيزې کوي، د نوموړو خلاو او ستونزو د حل لپاره، پاليسي جوړونکي بايد داسې پروګرامونه په لار واچوي او ملاتړ يې وشي، چې د صحي خوړو په برابرولو کې مرسته وکړي او وړو او اقليتي ټولنوته د خوړو خوندي چاپيريال برابر کړ ، سربيره پر دې، پراخه ستراتيژۍ چې د ښاري پلان جوړونې، ټولنيزې ښکيلتيا او هدف لرونکې مداخلې پر اساس ولاړې وي، اړينې دي، څو د خوړو عادلانه وېش يقيني شي او د کوچنيو او ناداره ټولنو ته پېښېدونکې روغتيايي ستونزې او نابرابرۍ کمې شي(Guidry, 2014).

د خوړو امنيت د ټولنيز عدالت له ليدلوري څخه مطالعه کول او څېړل خورا مهم دی، ځکه چې دا د خوړو رسولو په سيستمونو کې ژورې نا انډولۍ څرګندوي(Cabral & Devereux, 2022). دا پروسه او لاره د دې روښانه کولو لپاره دی، چې څنګه د خوړو لاسرسی د عدالت، فقر او ټولنيزه پايدارۍ پراخو مسايلو سره اړيکه لري(Cachelin et al., 2019). همدارنګه هغه سيستمونه روښانه کوي، چې څنګه ناداره او وړوکې ټولنې، په ځانګړې توګه نژادي اقليتونه، د سيستماتيک نژاد پالنې او ټولنيزو- اقتصادي عواملو له امله د خوړو نامنظمو تګلارو سره په نامحدوده ډول مخ کيږي(Mori & Onyango, 2023). سربېره پر دې، دا د غذايي موادو سيستمونو ته په ازادانه ډول د لاس رسي اړتيا روښانه کوي چې د کلتوري خوړو پروګرامونو او ټولنيزې ښکېلتيا ته پام وکړای شي، ترڅو روغتيا او عدالت په ټوليزه توګه تأمين او شته ستونزې حل کړاي شي(Cachelin et al., 2019). له دې امله، دا څېړنه د لاندې موخو د څېړلو لپاره ترسره شوې ده:

۱- د ټولنو په بېلابېلو برخو کې د خوړو امنيت باندې اغېزه کوونکي ټولنيز- اقتصادي عواملو تحليل کول او اغېزې يې د ټولنيز عدالت پر بنسټ ارزول.

۲- د تګلارو جوړښت او پروګرامونه ارزول چې د خوړو عادلانه وېش او لاسرسی ترلاسه کول يې هدف دی، په دې تمرکز سره چې د ټولنيز عدالت په پراختيا کې څومره مؤثر دي.

۳- د نړيوالو او محلي سازمانونو ونډې ارزول چې د خوړو امنيت يقيني کولو او د ټولنيز عدالت نابرابريو ته ځواب ويلو په برخه کې فعاليت کوي.

د ټولنيز عدالت تيوري بېلابېل مفاهيم ارايه کوي لکه برابري، انصاف او مساوات چې په مختلفو ټولنيزو اړخونو کې استعمال لري دې تيورۍ د ټولنپوهنې، اقتصاد، او نورو اړونده برخو څخه اخيستل شوي مفاهيم لکه سازماني برابرۍ، د انصاف د تطبيق کولو اصول او د سرچينو تيورۍ يوځای کړي(Killen et al., 2021). د خوړو امنيت په برخه کې، نړيوال سازمانونه په بېلابېلو چوکاټونو کې لکه د پايداره پرمختګ موخې، د لوږې د له منځه وړلو او د پايداره کرنې د پراختيا لپاره کار کوي، خو زياتره وخت د جنسيت او اقليتونو په منځ کې د عدالت په ريښتيني تطبيق کې ناکام پاتې کيږي(Van Dijk & Nkwana, 2021). د عدالت په هکله نوي او مدرن نظريات چې په ټولنيزه برابري او انصاف ټينګار کوي، د عقلاني سلوک تيورۍ سره په ټکر کې دي چې په فردي ډول ځان ته فايده رسوونکو اقداماتو او انتخابونو ته لومړيتوب ورکوي، دا تضاد په اوسنۍ نړۍ کې د ټولنيز عدالت د اصولو د تطبيق پېچلتيا روښانه کوي(Edney, 1984).

اقتصادي- اجتماعي عوامل په مختلفو سيمو کې د خوړو امنيت او عدالت په ټاکلو کې مهم رول لري، ډيری څېړنې په ثابت ډول ښايي چې عايد، تعليم، په کليوالي او ښاري سيمو کې توپيرونه د کورنۍ د خوړو امنيت پر وضعيت باندې مهمه اغېزه لري. عايد د خوړو امنيت د اصلي ټاکونکي عامل په توګه راڅرخي د پاکستان په پنجاب کې يوې څېړنې ښودلې چې د مياشتني عايد او د کورنۍ د عايد لرونکو اشخاصو شمېر ترمنځ مثبته اړيکه شتون لري، چې دا د خوړو امنيت پروضعيت مهمې اغېزې لري(Sher et al., 2018). په ورته ډول، په شمالي الاباما کې يوه څېړنه څرګندوي چې عايد د خوړو د مرستې په پروګرامونو کې د ګډون لپاره يوه اړينه موضوع ده (Bukenya, 2019). د برازيل په شمال ختيځو سيمو کې، په هرې کورنۍ کې لږ تر لږه د يو تقاعد شوي شخص شتون د خوړو د نا مصوونيت په هکله د هر ډول اغېزو و احتمال کم کړی و،

چې دا د ثابتو عایداتو سرچینو اهمیت روښانه کوي (Palmeira et al., 2022). تعلیم هم د خوړو پر امنیت باندې مهمه اغېزه لري، په پنجاب کې تر سره شوې څېړنه ښايي چې د کورنۍ د سرپرست تعلیم کچه د خوړو امنیت له وضعیت سره مثبت تړاو لري(Sher et al., 2018). په اندونیزیا کې د بوني په ولایت کې ترسره شوې څېړنه هم دغه موندنه تاییدوي، چې د کورنۍ د غړو تعلیم کچه د خوړو پرامنیت باندې مثبته اغېزه لري(Hastuti et al., 2022). همدارنګه، د ایران په زاهدان کې یوه څېړنه روښانه کوي، هغه کسان چې لوړې زده کړې لري، د غوره خوړو امنیت لري(Masoumi et al., 2023).

د کلیوالي او ښاري سیمو ترمنځ توپیرونه د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت پایلو په هکله په ښکاره توګه څرګندیږي. په پنجاب کې ترسره شوې څېړنې ښودلې چې ښاري کورنۍ د خوړو امنیت له لحاظه په ښه حالت کې قرار لري، په داسې حال کې چې کلیوالې کورنۍ د خوړو نا امنۍ په لحاظ تر ټولو زیات خطرسره مخامخ وي(Sher et al., 2018). د برازیل په شمال ختیځو سیمو څېړنه هم راښايي چې د خوړو نا امنۍ شتون او پراختیا په کلیوالو کورنیو کې د ښاري سیمو په پرتله زیات و(Palmeira et al., 2022). ځینې څېړنې په دې برخه کې متناقصې یا پېچلې موندنې هم بیان کړې دي. د مثال په توګه، که څه هم ډیری څېړنې د تعلیم او خوړو امنیت ترمنځ اړیکه مثبت ښايي، خو د ایران په زاهدان کې ترسره شوې یوې څېړنې پایلې ښايي چې په شکرناروغۍ لرونکي خلک چې د خوړو مصوونیت سره نږدې اړیکه لري د سالمو خلکو په پرتله د زده کړو ټیټه کچه لري، چې د روغتیا، تعلیم، او خوړو امنیت ترمنځ یوه پېچلې اړیکې ته اشاره کوي(Masoumi et al., 2023). سربېره پر دې، د نایجریا د ډیلټا په ایالت کې ترسره شوې څېړنه ښايي چې اقلیمي بدلونونو پر کلیوالي کروندګرو کورنیو باندې د پام وړ ټولنیزې- اقتصادي اغېزې لرلې، چې په کې د پانګونې له لاسه ورکول، عاید کموالی او روغتیایي ستونزې زیاتې شوې، چې په پایله کې یې د خوړو امنیت وضعیت اغیزمن کړی(Emaziye, 2013).

د خوړو امنیت لپاره د سیاست چوکاټونه او پروګرامونه وخت پر وخت د پام وړ بدلون موندلی دی، چې د ټولنیز عدالت اصولو سره یې مختلفو کچو کې تړاو درلودلی دی. څېړنې ښايي چې د خوړو امنیت، ټولنیز عدالت او د سیاست پلي کولو ترمنځ یوه پېچلې اړیکه شتون لري. په تاریخي لحاظ، د خوړو امنیت پالیسۍ د سرچینو د کموالي او شتون باندې تمرکز کوي، او ورو ورو یې یو څو اړخیز ټولنیز چوکاټ ته داخلوي(Westengen & Banik, 2016). په هر حال، د وروستیو نړیوالو پېښو لکه د 2007 کال د خوړو د بیو زیاتوالی او د اقلیمي بدلون اندېښنې د بیولوژیکي چوکاټ پیاوړي کولو لامل شوی دی، چې د خوړو پرتولید باندې ټینګار کوي. دا بدلون د خوړو امنیت د ټولنیزو او چاپیریالي عواملو د یوځای کولو لپاره هم فرصتونه او هم ننګونې وړاندې کوي(Westengen & Banik, 2016).

د خوړو امنیت پالیسۍ او ټولنیز عدالت اصولو ترمنځ ځینې تضاد مسایل شتون لري، که څه هم ځینې پالیسۍ د مساوات او لاسرسي د حلولو هدف لري، مګر ځینې نورې ممکن په ناخبرې سره نا انډولي خواته دوام ورکړي. د مثال په توګه، څېړنې ښايي چې د خوړو حاکمیت پراساس لارې چارې کولی شي د اوږدې مودې ټولنیزو- سیاسي پراختیایي پروګرامونو سره مرسته وکړي، چې د روغتیا په برخه کې مساوات ته اړتیا لري(Weiler et al., 2015). خو په ورته وخت کې، ډیری مطالعات د کرنې سکتور پروده او تولیدي ظرفیت باندې ټینګار کوي، د دې پرځای چې د اړمنو ټولنو ترمنځ د لاسرسي او خوراکي موادو ویش خنډونو ته پام وکړي. غیر حکومتي سازمانونه (NGOs) د خوړو مساوي لاسرسي ته د هڅونې په برخه کې حیاتي رول لري، چې په بېلابېلو برخو کې خپل فعالیتونه ترسره کوي. نوموړې نهادونه په خپلواکه توګه یا د موجوده روغتیایي جوړښتونو دننه فعالیت کوي، د هغو خلکو لپاره خدمات وړاندې کوي چې لاس نیوي ته اړتیا لري او د نوموړي لاس نیوي په اساس د غذایي امنیت له لحاظه د ښې روغتیا او روحي نابرابریو د کموالي سبب کیږي، په نړیواله کچه(NGOs ) د درې اړخیزو ابعادو په اساس د شفافیت راوستلو لپاره کار کوي: د عامه ګډون، معلوماتو ته لاسرسي او د پایلو شریکول(Petersson, 2022). په دې برخه کې د شفافیت ترویج او رامنځ ته کول کولی شي په غیر مستقیم ډول د خوړو مساوي لاسرسي باندې اغېزه وکړي.(NGOs) د پایداره پرمختګ د ترویج لپاره هم مهم رول لري او د نړیوالو قوانینو په جوړولو کې پرېکړه کوونکي نهادونه ګڼل کیږي، چې اکثره وختونه حتا د ځینو دولتونو په پرتله ډیر اغیزناک تمامیدلي شي (Varella, 2013). سره له دې چې(NGOs) فعالیتونه په عموم کې په مثبت توګه ارزیابي کیږي، خو دوی د خپلې کاري اغیزمنتیا، حساب ورکولو او خپلواکي په اړه ترنیوکو لاندې هم دي،

سربېره پردې د (NGOs) رول په نړیواله عامه فضا کې د نړیوالې حکومتوالۍ په جوړښت او د ښاري کېدنې فرهنګ غني کولو په هکله د نویو نظریو په پېژندلو کې بدلون راوستی دی(Mohammed, 2010). دغه بدلېدونکی رول هم د (NGOs) لپاره ننګونې او هم د خوړو د مساوي او عادلانه لاسرسي په برخو کې فرصتونه وړاندې کوي.

## مواد او کړنلاره

د نوموړې څېړنې روش کتابتوني دی، کوم چې د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت ترمنځ اړیکو تحلیل لپاره د ترسره شویو څېړنو، راپورونو او پالیسیو اسنادو پراخ تحلیل او مطالعاتو په اساس ترسره شوې. د څېړنې په هکله د پایلو روښانه کولو لپاره د لویو علمي منابعو لکه PubMed ،JSTOR او Scopus څخه کار اخیستل شوی دی او په نوموړې څېړنه کې د "خوړو امنیت"، "ټولنیز عدالت"، "د خوړو په لاسرسي کې مساوات" او "خوړو پالیسي" په څېر کلیمو څخه استفاده ترسره شوی. مطالعات د هغو هراړخیزو معیارونو پراساس ټاکل شوې چې د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت مسایلو سره ارتباط لرونکي دي او په تېرو نږدې کلونو کې په معتبرو ژورنالونو کې خپاره شوي دي. د معلوماتو استخراج د هغو اقتصادي- اجتماعي، پالیسیو اړوند ترسره شو، چې د خوړو امنیت باندې اغېزه لري. موندنې یې د موجوده حالاتو، غوښتنو او خالیګاو په مورد وړاندې کړای شول، کوم چې د خوړو ته د مساوي لاسرسي په پیاوړتیا او د خوړو سیستمونو کې د ټولنیز عدالت په ترویج کولو او بنسټیزه زمینه سازی په برابرولو کې ترې کار اخیستل کیږي.

## موندنې او مناقشه

ټولنیز- اقتصادي عوامل، پالیسي او اداري جوړښتونه په خورا اغېزناک ډول د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت باندې اغېزه کوي، چې د نوموړو عناصرو ترمنځ پېچلې او نه بېلېدونکې اړیکې شتون لري. د خوړو امنیت له نږدې څخه د ټولنیزو او اقتصادي شرایطو په ګډون د حکومتونو ترلاس لاندې پالیسیو او پروګرامونو سره ارتباط لرونکی دی. سره له دې چې په نړۍ کې د هر نفر په سر د خوړو تولید او لاسرسی ډیر شوی، خو بیا هم لوږه او سوی تغذیه په شدت سره په نړۍ کې ادامه لري، چې نوموړې حالت د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت په برخه کې د ستراتیژیو په جوړښت کې د بنیادي تغییر او د مفاهیمو بدلون ضرورت روښانه کوي (Luvishia et al., 2024). د خوړو عدالت، چې د چاپېریالي عدالت ځانګړی حالت دی، د خوړو تولید او وېش څخه نیولې آن د ټولنې خپلواکۍ او کلتوري حساسیتونو پورې مسایل رانغاړي او تربحث لاندې یې نیسي(Kelley & Dombrowski, 2018). دغه پراخ لیدلوری د روغتیایي برابری، سوي تغذی او چاغۍ د ستونزې په حل ټینګار کوي، په ځانګړي توګه په هغو ټولنو کې چې لږ خدمات ورته ترسره کیږي او اقلیتي ډلې لري. د فکر وړ خبره ده چې د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت اهدافو ترمنځ تناقص شتون لري، په داسې حال کې چې د خوړو مرستې رسونې پروګرامونو هدف د خوړو امنیت لوړول دی، ورځ تربلې زیاتېدونکې غوښتنه او نړیواله اجماع دا ده، چې باید دوی د خوړوکمیت پرنسبت د تغذی امنیت باندې زیات تمرکز وکړي( Thorndike et al., 2022). علاوه پردې، کاري فرصتونو ته لاسرسی او ټولنیز عدلت ترمنځ اړیکه یوه ضد او نقیص وړاندوینه هم کوي، ځکه چې په نا انډوله ټولنوکې د کار لاسرسي ښه والی کولی شي د ژوند اولیه استعمالیدونکي خدماتو قېمتونه څو چنده لوړ کړي، چې ممکن کمزوري ټولنې له نوموړو امکاناتو څخه بې برخې کړي او په ترلاسه کولو کې یې له ستونزو سره مخامخ کړي ، یاده موضوع د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز عدالت ترمنځ د پېچلو اړیکو پر اهمیت ټینګار کوي په ځانګړي ډول په ښاري چاپېریال کې.

د چاپېریال مسایل د ټولنیزو ستونزو په توګه تحلیل او ارزونو ښودلې، چیرې چې خلک باید د شخصي ګټو او د ټولنې خیر ښېګڼې لپاره د همکارۍ تر منځ انتخاب وکړي، موندنې یې د عدلت احساس درلودل او د ټولنیزو ستونزو په حالاتو کې د همکارۍ غوښتنې باندې اغېزه لري، چې په دې کې ګډون کوونکي د منابعو د وېش په وخت کې د مساوات او برابری پرځای عدالت ته لومړیتوب ورکوي. دا وړاندیز کوي چې د عدالت احساس کولی شي، د خوړو امنیت او منابعو ویش پورې اړوند د همکارۍ سلوک اغېزمن کړي(Du et al., 2020). په چین کې د ټولنیز امنیت د اطمېنان، ټولنیزعدالت، ټولنیز باور او ذهني هوساینې ترمنځ اړیکې په هکله ترسره شوې څېړنو موندنو له مخې، د ټولنیز امنیت اطمېنان د ټولنیز عدالت، ټولنیز باور او ذهني هوساینې له لوړې سطحې سره تړاو لري، که څه هم دا څېړنه په مستقیم ډول د خوړو امنیت په اړه نه ده، خو دا وړاندیز کوي چې قوي ټولنیز امنیتي سیستمونه ممکن د عدالت او باور د احساساتو په جوړولو کې مرسته وکړي،

کوم چې د خوړو نشتوالي د حل کولو لپاره اړین کیدلی شي، په اندونیزیا کې د بشري حقونو او عدالت باندې تمرکز په هکله ترسره شوې څېړنې پایله د ټولو وګړو لپاره د مساوي حقونو د یقیني کولو او د ټولنیز عدالت مسایلو ته د رسیدګۍ پر ننګونو باندې خبرې کوي، د ټولنیز عدالت پراخ لیدلوري ته په کتو، دا ممکن د خوړو امنیت په اړه هم اړین وي، ځکه چې د خوړو برابر لاسرسی اکثره وخت د بنسټیز بشري حق په توګه ګڼل کیږي (Li, 2022). په آسترالیا کې، حساسې ډلې په روزمره توګه د مناسب او ارزانه خوړو ته د لاسرسي په برخه کې ستونزې لري،

سره له دې چې دوی په یوه پرمختللي اقتصادي حالت کې ژوند کوي(Slade & Baldwin, 2017). په یوګانډا کې ښځې د منابعو او خدماتو ته د لاسرسي محدودیتونه تجربه کوي، چې د خوړو امنیت یقیني کولو کې د دوی اغیزمنتیا له ځنډ سره مخامخ کوي، په نووا سکوشیا کې، اصلي اوسیدونکي وګړي د دودیزو خوړو ته د لاسرسي ځنډونو سره مخ دي، په دې کې د پوهې د انتقال ستونزې، د ټولنې ملاتړ نه شتون، کرنیزې ځمکې ته لاسرسي محدودیتونه او لوړ لګښتونه شامل دي، سیاسي محدودیتونه او سیستماتیک ځنډونه هم د خوړو امنیتي هڅو کې کلیدي رول لوبوي. په ایتوپیا کې سره له دې چې پرمختللي پالیسي، اداري لارښونې او څو جانبه لارې چارې شتون لري، مګر بیا هم غذایي امنیت او ټولنیز عدالت په برخه کې د ستراتیژیکو اهدافو په عملي کولو او ترلاسه کولو کې لاهم ځنډونه موجود دي، چې د اداري، چاپیریال نا مناسبوالي، ټیکنالوژۍ محدودیتونو او د بېړنیو حالاتو لکه طبیعي حوادثو او سیاسي بې ثباتۍ له امله د دې ستونزې حل کېدل لا هم له ځنډ او ځنډ سره مخ ده، په منځنې ختیځ او شمالي افریقا کې د خوړو امنیتي ستونزې او عدالت نه شتون د بې ثباتۍ او سیاسي بې نظمۍ له امله لا پسې زیاتې شوي دي، چې دې لپاره ځانګړي پالیسۍ ته اړتیا ده چې د خوړو امنیت په هکله څو اړخیزه برنامې په پام کې ونیول شي( Fathelrahman & Muhammad, 2016).

## پایله

څېړنې د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت ترمنځ د پیچلو اړیکو څرګندونه کوي، چې د دې مسایلو د حل لپاره د څو اړخیزه لارو چارو اړتیا باندې ټینګار کوي. د خوړو امنیت یوازې د خوړو په شتون پورې محدود نه دی، بلکې د تغذیوي، کلتوري مناسبوالي او پایښت هم په کې شامل دي(Dylan & Cammaert, 2022). د خوړو عدالت مفکوره یو مهم چوکاټ دی، چې چاپېریالي عدالت، روغتیایي برابرۍ او د ټولنې د خپلواکۍ پیاوړتیا سره یوځای کوي(Kelley & Dombrowski, 2018). دا پراخ لیدلوری د خوړو امنیت دودیزو لارو چارو ته حل لارې وړاندې کوي، ځکه چې د ځایي خوړو اړوند سیستمونو، کلتوري حساسیت او ټولنیز ځواک ورکولو اهمیت ته ټینګار کوي(Kelley & Dombrowski, 2018). په زړه پورې دا چې د خوړو په هکله مصوونیت نه شتون او په غیرعادلانه توګه د خوړو ویش په ټولنو کې د شخړو پیدا کیدو سبب ګرځي، په داسې حال کې چې خوړو امنیت کافي تغذې ته د لاسرسي یقیني کولو باندې تمرکز کوي، خوړو امنیت او ټولنیز عدالت په خپلواک او کنټرول شوي توګه غذایي سېستمونو ته وده ورکوي او ورځ تربلې په نړۍ کې د خوړو صنعتي کیدلو مفکورې او ماډل سره مقابله کوي( Weiler et al., 2015). نومورې مفکوره د خوړو اړوند مسایلو او ستونزو حل ته په تفصیلي توګه درک ته اړتیا څرګندوي، چې په لنډمهاله او اوږدمهاله توګه سېستماتیک بدلون دواړه په کې شامل کړای شي.

د خوړو امنیت په برخه کې ټولنیز عدالت په بېلابېلو برخو کې له ګڼو ننګونو او ځنډونو سره مخ دی، لکه څنګه چې د څېړنو له مخې څرګندیږي، د منابعو محدودیتونه او د لاسرسي نه درلودلو ځنډونو په پام کې نیولو سره د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت ترلاسه کولو هڅې په جدي توګه له ځنډ سره مخامخ دي. په نړیواله سطحه د خوړو امنیت په هکله د مناسبو طرحو نه موجودیت او یا نه تطبیق کېدنه د ټولنیزو ناعدالتیو لامل ګرځي، ځکه چې د روغتیایي توپیرونو او د لاسرسي په هکله مسایلو ته په کافي توګه پام نه کیږي(DeBruin et al., 2012).

## سپارښتنې:

د څېړنې د موندنو په اساس څو تګلارې د سپارښتنو په شکل وړاندیز کېدای شي، څو د خوړو امنیت او ټولنیز عدالت ته وده ورکړي:

۱. د ټولنې وضعیت ته په کتو عملي تګلارې او محلي اقدامات د خوړو امنیت او عدالت لپاره ډېر مهم دي، په ځانګړي توګه کله چې مرکزي حکومتي پالیسۍ د ثبات او محلي همکارۍ نه برخمنې وي.

۲. محلي او سیمه ییز حکومتونه باید توانمن شي، څو خوړو په هکله داسې تګلارې پلي کړي،

چې د ټولنې اړتیاوې پوره کړي او د مصوونه او دودیزو محلي خوړو سیستمونو ته وده ورکړي لکه د عصري کرنې او نوښتونو ملاتړ کول، په ښارونو کې د خوړو عدالت، برابري، لاسرسي او حاکمیت په برخه کې ځانګړي ترتیبات او پلانونه جوړول شامل وي.

۳. د خوړو امنیت ډامن کولو لپاره باید هم مستقیمو او هم غیر مستقیمو تدابیرو باندې تمرکز وشي، مستقیم تدابیر لکه د خوړو په هکله د قیمتونو ټاکل، هدفمند خوړو ترلاسه کول او په غیرمستقیمو تدابیرو کې ممکن د کرنې بنسټیز زیربنایي جوړښتونه، عمومي اقتصادي چاپېریال ته وده ورکول او بزګرانو ته نوې ټیکنالوژۍ برابرول شامل وي.

۴. حکومتونه د مصوونه خوړو سیستم په هکله د یوې جامع پالیسۍ په رامنځ ته کولو کې باید عملي ګامونه واخلي، دا کار ممکن د ټولنې له خلکو سره مشورې، د محلي خوړو اړوند ستونزو پېژندل او په ګوته کول او د محلي حکومتونو څخه د باندې د سازمانونو سره د همکارۍ رامنځ ته کولو ته اړتیا ولري.

۵. د خوړو مصوونیت او عدالت په هکله پالیسیو پلي کولو له پاره ممکن د ځانګړیو تغذیوي سیستم کارکوونکو ګمارنې او په لوړه حکومتي سطحه د مربوطه قوانینو او پلانونو بدلون او یا دوباره کتنې ته اړتیا وي.

## اخځلیکونه


Bukenya, J. O. (2019). Determinants of Food Resource Utilization among Low-Income Households in North Alabama, USA. Journal of Applied Agricultural Economics and Policy Analysis, 2(1), 8-15.

Cabral, L., & Devereux, S. (2022). Food equity: A pluralistic framework. The Institute of Development Studies and Partner Organisations.

Cachelin, A., Ivkovich, L., Jensen, P., & Neild, M. (2019). Leveraging foodways for health and justice. Local Environment, 24(5), 417-427.

Capone, R., El Bilali, H., Debs, P., Cardone, G., & Driouech, N. (2014). Food system sustainability and food security: connecting the dots.

DeBruin, D., Liaschenko, J., & Marshall, M. F. (2012). Social justice in pandemic preparedness. American journal of public health, 102(4), 586-591.

Du, M., Zhao, M., & Fu, Y. (2020). Revisiting urban sustainability from access to jobs: Assessment of economic gain versus loss of social equity. Environmental Impact Assessment Review, 85, 106456.

Dylan, A., & Cammaert, J. (2022). Nutritional social work: What it is and why it matters. Journal of Social Work, 22(2), 323-344.

Edney, J. J. (1984). Rationality and social justice. Human Relations, 37(2), 163-179.

Emaziye, P. O. (2013). Food security index and socio-economic effects of climate change on rural farming households in Delta State, Nigeria. Asian Journal of Agriculture and Rural Development, 3(4), 193-198.

Fathelrahman, E., Muhammad, S., & Al-Ain, U. (2016). Food policy and food security challenges in the Middle East and North Africa region. Reference Module in Food Science, 03308-4.

Guidry, M. M. (2014). Food insecurity and supermarket service gaps in south and southwest Philadelphia. International Journal of Human Caring, 18(2), 47-60.

Hastuti, D. R. D., Rahim, A., Kamaruddin, C. A., & Astuty, S. (2022). Probit Estimation Model: Influence of Socio-Economic Factors on the Probability of Farmers' Household Food Security Level. Contemporary Agriculture, 71(3-4), 179-185.

Kelley, M. A., & Dombrowski, R. D. (2018). Community-Based Action for Food Justice. Handbook of Community Movements and Local Organizations in the 21st Century, 405-422.

Killen, M., Yee, K. M., & Ruck, M. D. (2021). Social and racial justice as fundamental goals for the field of human development. Human development, 65(5-6), 257-269.

Li, N., & He, M. (2022). Social Security Satisfaction and People's Subjective Wellbeing in China: The Serial Mediation Effect of Social Fairness and Social Trust. Frontiers in Psychology, 13, 855530.

Luvishia, E. K., Bor, E. K., & Mwangi, W. (2024). Effects of Interventions on Household Food Security in Ilchamus Ward, Marigat Sub-county, Kenya. European Journal of Development Studies, 4(3), 62-67.

Masoumi, S. M., Shahraki, M., Eslahi, H., & Okati, M. (2023). The Relationship between Food Insecurity and Some Socio-Economic Factors in Patients Referring to Diabetes Clinic of Buali Hospital in Zahedan. Journal of Nutrition and Food Security.

Mohammed, A. (2010). Redefining the Frontiers of Global Governance: Non-Governmental Organizations in the Global Public Space. Available at SSRN 1644078.

Mori, K., & Onyango, E. (2023). Intersections of race, COVID-19 pandemic, and food security in Black Identifying Canadian households: A scoping review. Canadian Food Studies/La Revue canadienne des études sur l'alimentation, 10(3), 3-34

Palmeira, P. D. A., Bem-Lignani, J., & Salles-Costa, R. (2022). Acesso aos benefícios e programas governamentais e insegurança alimentar nas áreas rurais e urbanas do Nordeste brasileiro. Ciência & Saúde Coletiva, 27, 2583-2595.

Petersson, M. T. (2022). Transparency in global fisheries governance: The role of non-governmental organizations. Marine Policy, 136, 104128.

Sher, A., Mazhar, S., Abbas, A., Iqbal, M. A., & Xiangmei, L. (2018). Who is more Food Secure among Rural, Peri-urban and Urban Households in Pakistan? Results from a field survey in Punjab province.

Slade, C., & Baldwin, C. (2017). Critiquing Food Security Inter-Governmental Partnership Approaches in Victoria, Australia. Australian Journal of Public Administration, 76(2), 204-220.

Thorndike, A. N., Gardner, C. D., Kendrick, K. B., Seligman, H. K., Yaroch, A. L., Gomes, A. V., ... & American Heart Association Advocacy Coordinating Committee. (2022). Strengthening US food policies and programs to promote equity in nutrition security: a policy statement from the American Heart Association. Circulation, 145(24), e1077-e1093.

Van Dijk, H. G., & Nkwana, H. M. (2021). The face of food insecurity is female: A post-colonial feminist argument for rural women.

Varella, M. D. (2013). The Role of Non-Governmental Organizations in International Environmental Law. Available at SSRN 2237677.

Weiler, A. M., Hergesheimer, C., Brisbois, B., Wittman, H., Yassi, A., & Spiegel, J. M. (2015). Food sovereignty, food security and health equity: a meta-narrative mapping exercise. Health policy and planning, 30(8), 1078-1092.

Westengen, O. T., & Banik, D. (2016, January). The state of food security: From availability, access and rights to food systems approaches. In Forum for development studies (Vol. 43, No. 1, pp. 113-134). Routledge

Wolf, P. G., Sanchez-Flack, J. C., Buscemi, J., Fitzgibbon, M. L., Gaskins, H. R., Ridlon, J. M., ... & Tussing-Humphreys, L. (2021). Support policies that foster a healthy food environment and incentivize healthy food purchases to mitigate cancer inequities. Translational behavioral medicine, 11(12), 2123-2126.

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونیت

# تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس

عبدالغنی رحیمی[۱]، بصیراحمد سروری*[۲]، و معظم حقمل[3]

[1و2]دیپارتمنت اگرانومی، پوهنځی زراعت، موسسه تحصیلات عالی بادغیس

[3]دیپارتمنت باغداری، پوهنځی زراعت، موسسه تحصیلات عالی بادغیس

نویسنده ی مسؤول: basir.sarvari88@gmail.com

## چکیده

زراعت پایدار به زراعتی گفته می‌شود که سبب افزایش تولیدات زراعتی با حفظ سلامت اکوسیستم ها می گردد. این نوع زراعت در زمینه امنیت غذایی از اهمیت ویژه‌ای برخوردار است، زیرا با استفاده از روش‌های سازگار زراعتی با محیط زیست می توان منابع غذایی پایدار در برابر بحران های اقلیمی و اقتصادی فراهم آورد. این تحقیق به بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس پرداخته است. روش تحقیق با استفاده از روش میدانی و تحلیل داده‌های جمع‌آوری شده از طریق توزیع پرسشنامه‌های معیاری میان 420 دهقان و 50 کارشناس زراعت در خزان 1403 ولایت بادغیس انجام شد. نتایج نشان می‌دهد که تنها 12% از دهاقین به غذای کافی و پایدار دسترسی دارند، در حالی که 51% به ندرت امنیت غذایی را تجربه می‌کنند. آگاهی از زراعت پایدار نیز بسیار محدود است، به طوری که تنها 20% از دهاقین با این مفاهیم آشنا بوده و تنها 10% از روش‌های زراعت پایدار استفاده می‌کنند. مهم‌ترین موانع امنیت غذایی شامل خشکسالی‌های مکرر (68%)، کمبود بذر مقاوم (21%) و نبود حمایت مالی (10%) شناسایی شد. پیشنهادات ارائه‌شده توسط دهاقین شامل توزیع بذرهای مقاوم (40%)، آموزش زراعت پایدار (30%)، تقویت زیرساخت‌های آبیاری (20%) و ارائه تسهیلات مالی (10%) است. همچنین، کارشناسان زراعت تأکید دارند که زراعت پایدار تأثیر قابل‌توجهی بر بهبود امنیت غذایی دارد و 95% از پاسخ‌دهندگان به اهمیت افزایش تولید محصولات زراعی از طریق این روش اشاره کرده‌اند. بر اساس یافته‌ها، تمرکز بر آموزش، توزیع بذر مقاوم، مدیریت منابع آبی و حمایت مالی می‌تواند گامی مؤثر در بهبود امنیت غذایی و توسعه زراعت پایدار در بادغیس باشد و در زمینه انکشاف و گسترش زراعت پایدار در ولایت بادغیس نقش دولت و موسسات بین المللی بسیار مهم و سازنده می باشند.

**کلمات کلیدی**: آموزش دهاقین، امنیت غذایی، خشکسالی، زراعت پایدار، ولایت بادغیس.

## مقدمه

امنیت غذایی یکی از اساسی‌ترین نیازهای انسان و از ارکان توسعه پایدار در جوامع بشری است. بر اساس تعریف سازمان خواربار و کشاورزی ملل متحد(FAO) ، امنیت غذایی زمانی محقق می‌شود که همه افراد در تمام اوقات به غذای کافی، ایمن و مغذی برای یک زندگی سالم و فعال دسترسی داشته باشند . (FAO, 2019)بااین‌حال، بسیاری از کشورهای در حال توسعه، از جمله افغانستان، در تأمین امنیت غذایی با چالش‌های جدی روبه‌رو هستند. افغانستان، کشوری با اقتصاد متکی به زراعت، به دلیل تغییرات اقلیمی، خشکسالی‌های مکرر، در زمره کشورهایی قرار دارد که امنیت غذایی در آن به شدت در معرض تهدید است.(World Bank, 2022 & Safi et al. 2024) ولایت بادغیس یکی از مناطق آسیب‌پذیر افغانستان است که به دلیل خشکسالی‌های مداوم، کاهش منابع آبی و فرسایش خاک، توان تولید محصولات زراعی در آن به‌شدت کاهش یافته است (Haqmal et al, 2024). براساس گزارش‌ها، بیش از نیمی از دهاقین در این ولایت با کمبود غذای کافی مواجه‌اند، که این امر به فقر و مهاجرت گسترده دهاقین ساکن در این نواحی منجر شده است .(UNDP, 2021& Fishstein, and Farahi 2023) در چنین شرایطی، معرفی و ترویج روش‌های زراعت پایدار می‌تواند راهکاری مؤثر برای کاهش اثرات منفی تغییرات اقلیمی، افزایش بهره‌وری زمین و بهبود امنیت غذایی باشد.

زراعت پایدار به‌عنوان رویکردی که با حفظ منابع طبیعی، کاهش ضایعات و تقویت بهره‌وری منابع زراعی در تعامل است، می‌تواند نقش مهمی در مقابله با بحران امنیت غذایی ایفا کند. این روش‌ها شامل استفاده از تکنیک‌هایی نظیر تناوب زراعی،

مدیریت منابع آبی، بهره‌گیری از بذرهای مقاوم به خشکسالی و استفاده از کودهای طبیعی هستند که نه‌تنها به بهبود تولید زراعی کمک می‌کنند، بلکه تأثیرات زیست‌محیطی را نیز کاهش می‌دهند .(Pretty, 2008) بااین‌حال، میزان آگاهی و پذیرش این روش‌ها در میان دهاقین افغانستان، به‌ویژه در مناطق محروم مانند بادغیس، بسیار پایین است. چالش‌هایی نظیر نبود آموزش کافی، کمبود منابع مالی و فقدان زیرساخت‌های مناسب از موانع اصلی در مسیر توسعه زراعت پایدار در این مناطق به شمار می‌روند ). (Citaristi, 2022این تحقیق با هدف ارزیابی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس انجام شده است. در این راستا، از رویکرد سروی برای جمع‌آوری داده‌ها از دهاقین و کارشناسان زراعت استفاده شده است. نتایج این پژوهش می‌تواند به‌عنوان مبنایی علمی برای سیاست‌گذاران، نهادهای توسعه‌ای و سازمان‌های بین‌المللی جهت تدوین برنامه‌های مؤثر در ترویج زراعت پایدار و بهبود وضعیت امنیت غذایی در افغانستان مورد استفاده قرار گیرد .

## اهداف اصلی تحقیق

1. بررسی تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس.
2. شناسایی موانع و چالش‌های اجرای زراعت پایدار در منطقه.

## اهداف فرعی تحقیق

1. ارزیابی میزان آگاهی دهاقین از زراعت پایدار.
2. بررسی نقش سیاست‌ها و برنامه‌های حمایتی در ترویج زراعت پایدار.
3. ارائه راهکارهای عملی برای بهبود امنیت غذایی و توسعه زراعت پایدار.
4. تحلیل تأثیر تغییرات اقلیمی بر تولیدات زراعی و امنیت غذایی.

## مواد و روش تحقیق

این تحقیق به منظور تحلیل تأثیر زراعت پایدار بر امنیت غذایی در ولایت بادغیس انجام شده و از رویکرد سروی به‌عنوان روش اصلی گردآوری داده‌ها استفاده شده است. روش تحقیق به دو بخش اصلی تقسیم می‌شود: جمع‌آوری اطلاعات از دهاقین و کارشناسان بخش زراعت. جزئیات روش تحقیق به شرح زیر است:

روش جمع‌آوری معلومات

1. **پرسشنامه برای دهاقین**
   برای فهمیدن وضعیت امنیت غذایی و میزان آگاهی دهاقین از روش‌های زراعت پایدار، تعداد 420پرسشنامه به‌صورت تصادفی در میان دهاقین همه ولسوالی های ولایت بادغیس توزیع شد. این پرسشنامه شامل سوالات مربوط به:

- دسترسی به غذای کافی و پایدار،
- تأثیر خشکسالی و تغییرات اقلیمی بر تولیدات زراعی،
- میزان استفاده از روش‌های زراعت پایدار نظیر تناوب زراعی، استفاده از کودهای طبیعی و مدیریت منابع آب،
- موانع و مشکلات در اجرای زراعت پایدار در منطقه.

این پرسشنامه‌ها به‌صورت حضوری توزیع و تکمیل شدند تا اطمینان حاصل شود پاسخ‌ها دقیق و مبتنی بر تجربه دهاقین است.

2. **پرسشنامه برای کارشناسان**

برای ارزیابی نقش زراعت پایدار بر امنیت غذایی و شناسایی راهکارهای عملی، تعداد 50پرسشنامه در میان کارشناسان و استادان رشته زراعت و محیط زیست توزیع شد. این پرسشنامه‌ها شامل سوالاتی در خصوص:

- اثرات زراعت پایدار بر امنیت غذایی،
- چالش‌های موجود در ترویج زراعت پایدار،
- نقش سیاست‌ها و برنامه‌های حمایتی در توسعه زراعت پایدار،
- راهکارهای عملی برای بهبود وضعیت امنیت غذایی در ولایت بادغیس.

**جامعه آماری و نمونه‌گیری**

جامعه آماری این تحقیق شامل دو گروه اصلی بود:

1. دهاقین ولایت بادغیس :برای انتخاب نمونه‌ها، از روش نمونه‌گیری تصادفی استفاده شد تا نماینده‌ای واقعی از دهاقین مناطق مختلف این ولایت به‌دست آید.
2. کارشناسان بخش زراعت :کارشناسانی که در زمینه زراعت فعالیت دارند، به‌صورت هدفمند انتخاب شدند تا نظرات تخصصی آنها در تحلیل داده‌ها استفاده شود.

## روش تجزیه‌وتحلیل داده‌ها

داده‌های گردآوری‌شده از پرسشنامه‌ها با استفاده از نرم‌افزار Excel تحلیل شدند. این تحلیل‌ها شامل:

- توصیف داده‌ها برای درک وضعیت امنیت غذایی،
- تحلیل استنباطی برای بررسی ارتباط میان زراعت پایدار و امنیت غذایی،
- شناسایی چالش‌ها و فرصت‌ها از دیدگاه دهاقین و کارشناسان.

## نتایج

نتایج تحقیق بیانگر آن است که 51% مردم ولایت بادغیس به ندرت دارای امنیت غذایی هستند. این کمبود عمدتاً به دلیل خشکسالی‌های مکرر و کاهش تولید محصولات است. در مورد آگاهی از زراعت پایدار، فقط 20% دهاقین با این مفاهیم آشنا هستند، در حالی که 80% از این رویکرد اطلاعی ندارند. از میان آگاهان، تنها 10% روش‌های زراعت پایدار را به‌کار می‌برند، در حالی که 90% به دلیل مشکلات مالی و کمبود آموزش نتوانسته‌اند از این روش‌ها استفاده کنند. مهم‌ترین مانع امنیت غذایی از نظر دهاقین در منطقه، خشکسالی68% است، در حالی که 21% دهاقین کمبود بذر مقاوم و 10% نبود حمایت مالی را به‌عنوان چالش‌های دیگر ذکر کرده‌اند. عوامل دیگری مانند فرسایش خاک و آفات، تنها 1% از مشکلات را تشکیل می‌دهند. پیشنهادات دهاقین شامل آموزش‌های عملی زراعت پایدار30%، توزیع بذرهای مقاوم 40%، تقویت زیرساخت‌های آبیاری و ذخیره آب 20% و ارائه وام‌ها و تسهیلات مالی10% برای حمایت از اجرای زراعت پایدار است. این یافته‌ها نشان می‌دهند که از دیدگاه دهاقین تمرکز بر آموزش، توزیع بذر مقاوم و بهبود زیرساخت‌ها می‌تواند به بهبود امنیت غذایی و توسعه زراعت پایدار در بادغیس کمک کند (جدول 1).




شکل 1. نظر متخصصین در رابطه به تاثیر زراعت پایدار بر بهبود امنیت غذایی در ولایت بادغیس

**جدول 1.** وضعیت امنیت غذایی و آشنایی دهاقین با زراعت پایدار در بین دهاقین ولایت بادغیس

| متغیر | گزینه‌ها | فیصدی دهاقین | توضیحات |
|---|---|---|---|
| دسترسی به غذای کافی | همیشه | %12 | تنها تعداد کمی از دهاقین به غذای کافی و پایدار دسترسی دارند. |
| | گاهی | %37 | بسیاری از خانواده‌ها در برخی فصول با کمبود غذا مواجه‌اند. |
| | به ندرت | %51 | کمبود غذا به دلیل کاهش تولید محصولات و خشکسالی‌های مکرر. |
| آشنایی با زراعت پایدار | بله | %20 | فیصدی اندکی از دهاقین با مفاهیم زراعت پایدار آشنایی دارند. |
| | خیر | %80 | اکثر دهاقین اطلاعی از روش‌های زراعت پایدار ندارند. |
| استفاده از روش‌ها | بله | %10 | تعداد محدودی از دهاقین روش‌های زراعت پایدار را به کار می‌برند. |
| | خیر | %90 | مشکلات مالی و نبود آموزش اصلی‌ترین موانع اجرای این روش‌هاست. |
| موانع امنیت غذایی | خشکسالی | %68 | خشکسالی مکرر بیشترین تأثیر منفی بر تولیدات زراعی دارد. |
| | کمبود بذر مقاوم | %21 | نیاز به بذرهای مقاوم به خشکسالی برای مقابله با شرایط اقلیمی. |
| | نبود حمایت مالی | %10 | کمبود تسهیلات مالی مانع اجرای روش‌های پایدار می‌شود. |
| | مشکلات دیگر (فرسایش خاک و آفات) | %1 | از دیدگاه دهاقین عوامل دیگر تأثیر کمتری در کاهش امنیت غذایی دارند. |
| پیشنهادات دهاقین | آموزش زراعت پایدار | %30 | دهاقین نیاز به آموزش‌های عملی در این زمینه دارند. |
| | ارائه بذر مقاوم | %40 | توزیع بذرهای مناسب می‌تواند تأثیر فوری داشته باشد. |
| | تقویت زیرساخت‌ها | %20 | ایجاد زیرساخت‌های آبیاری و ذخیره آب ضروری است. |
| | حمایت مالی | %10 | ارائه وام‌ها و کمک‌های مالی برای اجرای زراعت پایدار پیشنهاد شده است. |

شکل 1 نشان می دهد که بر اساس نظر کارشناسان زراعت، زراعت پایدار می‌تواند تأثیر قابل توجهی بر بهبود امنیت غذایی در بادغیس و افغانستان داشته باشد. 60% از کارشناسان این روش را با تأثیر "بسیار زیاد" ارزیابی کرده‌اند، در حالی که 27% معتقدند تأثیر آن "زیاد" است. تنها 6% تأثیر آن را "متوسط" و 7% "کم" می‌دانند. برای بهره‌برداری بهتر از پتانشیل زراعت پایدار، نیاز به گسترش آموزش‌های زراعتی بوده تا بتوان این تأثیرات مثبت را در جهت بهبود امنیت غذایی منطقه به حداکثر رساند.




شکل 2. نظر متخصصین در رابطه به میزان آشنایی دهاقین با اصول زراعت پایدار در ولایت بادغیس

در حال حاضر، میزان آشنایی دهاقین بادغیس با اصول زراعت پایدار بسیار پایین است. طبق نتایج، 54% از دهاقین آشنایی "خیلی کم"، 33% آشنایی "کم" و 13% آشنایی "متوسط" با این اصول دارند. که این موضوع نشان‌دهنده نیاز مبرم به آموزش‌های بیشتر در این زمینه است (شکل 2).




شکل 3. نظر متخصصین در رابطه عوامل مانع گسترش زراعت پایدار در ولایت بادغیس

در ولایت بادغیس، عوامل اصلی که مانع گسترش زراعت پایدار هستند شامل کمبود آموزش و آگاهی دهاقین، 80%کارشناسان معتقدند که این عامل مشکل‌ساز است، نبود حمایت‌های مالی50% این مشکل را مطرح می‌کنند و تغییرات اقلیمی و خشکسالی (100% این عامل را مانع اصلی توسعه و گسترش زراعت پایدار می‌دانند). در عین حال، ضعف در سیاست‌گذاری و برنامه‌ریزی به عنوان مانع کمتری شناخته شده، زیرا 90% به این موضوع موافق نیستند (شکل 3).




شکل 4. نظر متخصصین در رابطه به چگونگی نقش زراعت پایدار در کاهش چالش های امنیت غذایی در ولایت بادغیس

شکل 4 واضح می سازد که زراعت پایدار می‌تواند به طور مؤثری به کاهش چالش‌های امنیت غذایی در افغانستان کمک کند. بر اساس نظرسنجی‌ها، 95% از پاسخ‌دهندگان معتقدند که افزایش تولید محصولات زراعی و 83% بر این باورند که مدیریت پایدار منابع آبی می‌تواند در این زمینه نقش کلیدی ایفا کند. همچنین 76% بهبود معیشت دهقانان، 92% تقویت تنوع محصولات غذایی و 91% کاهش تأثیرات منفی تغییرات اقلیمی را از مزایای دیگر زراعت پایدار می‌دانند. علاوه بر این، 88% از پاسخ‌دهندگان تأکید دارند که زراعت پایدار می‌تواند به کاهش واردات محصولات زراعی کمک کند.




شکل 5. نظر متخصصین در رابطه به اولویت بندی آموزش های لازم برای دهاقین در ولایت بادغیس

براساس نظر کارشناسان زراعت، برای رسیدن به امنیت غذایی و ترویج زراعت پایدار، آموزش‌های ضروری به دهقانان باید به ترتیب زیر ارائه شود:

اول، مدیریت منابع آب با استفاده از روش‌های مؤثر مانند آبیاری قطره‌ای؛ دوم، تغییر الگوی کشت برای افزایش بهره‌وری و سازگاری با شرایط محیطی کشت نباتاتی که مقاوم به کم آبی باشند؛ سوم، آموزش زراعت تلفیقی و سازگاری با تغییرات اقلیمی برای بهبود تولید در شرایط متغیر؛ چهارم، آموزش‌های مختلف در زمینه کاهش ضایعات پس از برداشت، مدیریت بیماری‌ها و آفات، صلاح بذر، تنوع زراعی، تقویت کوپراتیف‌های زراعتی و مدیریت خاک و جلوگیری از فرسایش برای ارتقای کیفیت و پایداری تولیدات زراعتی ضروری می باشد (شکل 5).




شکل 6. نظر متخصصین در رابطه به اولویت بندی اقدامات دولت برای توسعه زراعت پایدار در ولایت بادغیس




شکل 7. نظر متخصصین در رابطه به اولویت بندی اقدامات موسسات بین المللی برای توسعه زراعت پایدار در ولایت بادغیس

براساس نظر متخصصین، اولویت‌های دولت برای انکشاف زراعت پایدار در بادغیس شامل سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های زراعی، ارائه قرضه و تسهیلات مالی، تقویت آموزش های فنی و تهیه بذرهای مقاوم به خشکسالی از جمله (اولویت های اولیه) است. تقویت کوپراتیف ها، ایجاد بازارهای تضمینی و پشتیبانی در برابر بلایای طبیعی شامل اولویت ثانویه بوده نیز از اهمیت بالایی برخوردارند. حمایت از تحقیقات زراعتی، تنظیم سیاست های حمایتی، ارتقای آگاهی عامه، افزایش نقش زنان و تشویق تولید محصولات ارگانیک جز پلان طویل مدت به‌عنوان اولویت‌های درجه سه مطرح شده‌اند. این اولویت‌بندی نشان‌دهنده تمرکز بر اقدامات زیرساختی، مالی و آموزشی برای رفع نیازهای فوری زراعت در منطقه است (شکل 6).

شکل 7 نشان‌دهنده نظر متخصصین درباره اولویت‌بندی اقدامات مؤسسات بین‌المللی برای توسعه زراعت پایدار در ولایت بادغیس است. این اولویت‌ها در سه کتگوری اصلی طبقه‌بندی شده‌اند:

1. **اقدامات کوتاه‌مدت:**
   - این اقدامات بیشتر به تأمین نیازهای فوری و بحرانی زارعین مرتبط است. شامل فراهم‌سازی منابع مالی، منابع زراعتی (مانند بذر و کود)، آموزش‌ها و ظرفی سازی می‌شود.
2. **اقدامات میان‌مدت:**
   - در این بخش، تمرکز بر برنامه‌هایی است که می‌توانند اثرات بلندمدتی داشته باشند اما برای پیاده‌سازی آنها زمان بیشتری لازم است. مواردی مانند ارائه تکنالوژی های زراعتی مانند آبیاری قطره ای، تقویت امنیت غذایی در قریه جات و مدیریت منابع آبی در این گروه جای می‌گیرند.
3. **اقدامات بلندمدت:**
   - این اقدامات بر توسعه پایدار و تغییرات ساختاری تمرکز دارند. ایجاد سیاست ها و پلان های زراعتی، ارتقای ظرفیت‌های محلی، و اجرای سیاست‌های حمایت‌محور از تحقیقات و غیره از جمله این اولویت‌ها هستند.

## مناقشه

میزان آگاهی و پذیرش روش‌های زراعت پایدار در میان دهقانان ولایت بادغیس بسیار پایین است؛ تنها 20% از آنها با این روش‌ها آشنا هستند و فقط 10% از این روش‌ها استفاده می‌کنند. مطالعات نشان داده‌اند که آموزش و ظرفیت‌سازی نقش کلیدی در پذیرش روش‌های پایدار دارد (Safi et al., 2024; Citaristi, 2022). برای نمونه، در مناطق خشک مشابه، تکنیک‌های زراعت پایدار نظیر استفاده از بذرهای مقاوم به خشکسالی و سیستم‌های آبیاری کارآمد توانسته‌اند تأثیرات تغییرات اقلیمی را کاهش دهند (Haqmal et al., 2024; Rockström et al., 2010).اقداماتی نظیر توزیع بذرهای مقاوم، توسعه زیرساخت‌های آبیاری و ارائه حمایت‌های مالی برای تقویت زراعت پایدار بسیار مهم هستند. در سطح جهانی، این اقدامات منجر به افزایش تولید محصولات زراعی و کاهش آسیب‌پذیری در برابر تغییرات اقلیمی شده‌اند (World Bank, 2022; Rosenzweig et al., 2014).پیشنهادات دهقانان، شامل توزیع بذرهای مقاوم (40%)، تقویت زیرساخت‌های آبیاری (20%) و آموزش‌های عملی زراعت پایدار (30%)، با استراتژی‌های موفق جهانی نظیر انقلاب سبز تطابق دارند (Pingali, 2012; Gitz et al., 2016). زراعت پایدار علاوه بر افزایش تولید، فوایدی همچون حفاظت از تنوع زیستی، کاهش اثرات منفی محیط زیستی و بهبود معیشت دهقانان دارد. این یافته‌ها با نتایج تحقیقات تیل من و همکاران و هم چنان فولی و همکاران هم‌خوانی دارند که نشان می‌دهند زراعت پایدار می‌تواند تولیدات زراعی را در عین حفاظت از منابع طبیعی افزایش دهد (Tilman et al., 2002; Foley et al., 2011). همکاری دولت، نهادهای بین‌المللی و محلی در ارائه آموزش‌ها و زیرساخت‌های لازم نقش تعیین‌کننده‌ای در تطبیق روش‌های زراعت پایدار دارد(Hertel & Lobell, 2014; Citaristi, 2022) . نتایج این سروی بر ضرورت راه‌حل‌های یکپارچه تأکید دارد که شامل: (1) آموزش گسترده در زمینه زراعت پایدار، (2) تسهیل دسترسی به منابع مالی و بذرهای مقاوم، و (3) سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های مقاوم در برابر تغییرات اقلیمی است. با الهام از مدل‌های موفق بین‌المللی نظیر برنامه‌های زراعت اکولوژیکی در برزیل و سیستم‌های آبیاری محلی در هند، می‌توان اقدامات مؤثری را برای تقویت امنیت غذایی در مناطق آسیب پذیر اجرا نمود .(Altieri, 2009; Pingali, 2012).

## نتیجه گیری

نتایج این تحقیق نشان می‌دهد که زراعت پایدار می‌تواند نقش مهمی در بهبود امنیت غذایی در ولایت بادغیس ایفا کند، اما آگاهی محدود دهاقین از این روش‌ها، کمبود منابع مالی، خشکسالی‌های مکرر و نبود حمایت‌های مؤثر از سوی نهادهای دولتی و غیردولتی از موانع اصلی در اجرای آن هستند. تنها 12% از دهاقین این منطقه به غذای کافی و پایدار دسترسی دارند و 80% از روش‌های زراعت پایدار آگاهی ندارند. این یافته‌ها بر ضرورت آموزش‌های گسترده در زمینه زراعت پایدار، توزیع بذرهای مقاوم، ارائه تسهیلات مالی و تقویت زیرساخت‌های آبیاری تأکید دارند.

کارشناسان زراعت نیز معتقدند که زراعت پایدار می‌تواند با افزایش تولید محصولات زراعی، مدیریت منابع آبی و کاهش اثرات منفی تغییرات اقلیمی، تأثیر مثبتی بر امنیت غذایی داشته باشد. بر این اساس، تمرکز بر سیاست‌گذاری‌های حمایتی، توسعه آموزش‌های فنی و علمی برای دهاقین و سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های زراعی از اقدامات ضروری برای رفع چالش‌های امنیت غذایی در این منطقه است. این تحقیق نشان می‌دهد که با برنامه‌ریزی و اجرای اقدامات مؤثر، می‌توان از پتانشیل‌های زراعت پایدار برای کاهش بحران امنیت غذایی و بهبود معیشت دهاقین در ولایت بادغیس بهره‌برداری نمود.

## منابع


Altieri, M. A. (2009). Agroecology, small farms, and food sovereignty. Monthly Review, 61(3), 102-113.

Citaristi, I. (2022). International Fund for Agricultural Development—IFAD. In The Europa Directory of International Organizations 2022 (pp. 340-343). Routledge.

FAO. (2019). Rome Declaration on World Food Security and World Food Summit Plan of Action. Rome.

Fishstein, P., & Farahi, A. (2023). The World's Humanitarian, Economic, and Political Engagement with Afghanistan.

Foley, J. A., Ramankutty, N., Brauman, K. A., Cassidy, E. S., Gerber, J. S., Johnston, M. & Zaks, D. P. (2011). Solutions for a cultivated planet. *Nature*, *478*(7369), 337-342.

Gitz, V., Meybeck, A., Lipper, L., Young, C. D., & Braatz, S. (2016). Climate change and food security: risks and responses. *Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO) Report*, *110*(2), 3-36.

Haqmal, M., Sarvari, B. A., & Nikzad, M. H. (2024). Investigating the Economic Effects of Ferula Cultivation on Climate Change Management in Qadis District, Badghis, Afghanistan. Nangarhar University *International Journal of Biosciences*, 131-134.

Hertel, T. W., & Lobell, D. B. (2014). Agricultural adaptation to climate change in rich and poor countries: Current modeling practice and potential for empirical contributions. *Energy Economics*, *46*, 562-575.

Lal, R. (2004). Soil carbon sequestration impacts on global climate change and food security. *Science*, *304*(5677), 1623-1627.

Pingali, P. L. (2012). Green revolution: impacts, limits, and the path ahead. *Proceedings of the national academy of sciences*, *109*(31), 12302-12308.

Pretty, J. (2008). Agricultural sustainability: concepts, principles and evidence. *Philosophical Transactions of the Royal Society B: Biological Sciences*, *363*(1491), 447-465.

Rockström, J., Karlberg, L., Wani, S. P., Barron, J., Hatibu, N., Oweis, T. & Qiang, Z. (2010). Managing water in rainfed agriculture—the need for a paradigm shift. *Agricultural Water Management*, *97*(4), 543-550.

Rosenzweig, C., Elliott, J., Deryng, D., Ruane, A. C., Müller, C., Arneth, A. & Jones, J. W. (2014). Assessing agricultural risks of climate change in the 21st century in a global gridded crop model intercomparison. *Proceedings of the national academy of sciences*, *111*(9), 3268-3273.

Safi, L., Mujeeb, M., Sahak, K., Mushwani, H., & Hashmi, S. K. (2024). Climate change impacts and threats on basic livelihood resources, food security and social stability in Afghanistan. *GeoJournal*, *89*(2), 85.

Tilman, D., Cassman, K. G., Matson, P. A., Naylor, R., & Polasky, S. (2002). Agricultural sustainability and intensive production practices. *Nature*, *418*(6898), 671-677.

World Bank. (2022). Afghanistan: Food Security Update. Washington, DC

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزارت
د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د کندهار ولایت د غوښینو چرګوړو فارمونو په تولید باندې د روزنې د مدیریت اغېزې

پوهنمل نعیم جان عادل [۱]، پوهنیار حسن الله عرفان [۲]، پوهنمل فیصل دانش [۳]، پوهنیار عصمت الله رسا [۴]، نوماند پوهنیار قیمت گل درمل

[۱] د مالداری څانګه،حیواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزوعلومو او ټکنالوژی ملي پوهنتون
[۲] د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسیس څانګه،حیواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
[۳] د وترنری عمومي څانګه،وترنری علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژی ملي پوهنتون
[۴] شاتومچیو، الوتونکو او کبانو روزنې څانګه،حیواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژی ملي پوهنتون
[۵] د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسیس څانګه،حیواني علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون
مسول لیکلوال: naeem.adil2017@gmail.com

## لنډيز

دا څېړنه په ۱۴۰۰ ل . کال د مرغومي میاشتې پر ۱۵ نیټه د کندهار ولایت(مرکز) ارغنداب، دامان، پنجوایي، ډنډ او تخته پل ولسوالیو د غوښینو چرګوړو په ۱۸ باب فارمونو (د کندهار ولایت د غوښینو چرګوړو فارمونو په تولید باندې د روزنې د مدیریت اغېزې) تر سر لیک لاندې پیل او د ۱۴۰۱ ل. کال د چنګاښ میاشتې پر ۱۰ نیټه پای ته ورسیده.د څېړنې پایلې ښیي چې کندهار د ښه موسمونو په درلودلو سره د مرغداری صنعت لپاره یو ښه او مناسب ولایت دی اما عمده ستونزه د مرغداری د نه پرمختګ لپاره په مارکېټ کې د درملو د کېفیت ټیټوالی، د خوراکې یا دانو لوړه بیه، د حکومت د پاملرنې او مرستو نه شتون، په بازار کې د چرګانو د غوښې ټیټه بیه، د مناسب مارکېټ نشتون، د چرګانو په مارکېټ کې د مافیا شتون، د پاکستان هیواد څخه د بې کېفیته بریلېر واردول، د یاد ولایت د فارمونو د حاصلاتو د رسیدو په وخت کې د پاکستاني غټو تجارانو لخوا نرخونو ته نوساني ښکته والی، د فارم لرونکو نه مسلکېتوب، د مدیریتي چارو ښه نه تر سره کول هغه لاملونه وه چې د غوښینو چرګوړو فارمونو پر تولید او پرمختګ باندې یې ځانګړی تاثیر درلود، په یاده څېړنه کې فارمونه د مدیریتي او اقتصادي چارو په نظر کې نیولو سره په څلورو کتګوریو ویشل شوي وو، لومړی هغه فارمونه چې د ښه مدیریت لرونکي وه او تولید یې هم ښه وو د ۳۰ ورځني عمرچرګوړو ژوندی وزن یې ۱.۵ – ۱.۷ کېلو ګرامه پورې وو. د دوهم ډله هغه فارمونه وه چې چرګوړي د ۳۷ ورځو لپاره ساتل، د ۱.۸ -۲.۱ کېلو ګرامه پورې وزن درلود، بله ډله هغه فارمونه وه چې منځني مدیریت حالت کې یې د غوښینو چرګوړو ژوندی وزن په ۳۰ ورځني عمر کې په اوسط ډول د ۱.۱ -۱.۳ کېلو ګرامه پورې مارکېټ ته وړاندې کول او نور فارمونه چې چرګوړي یې تر ۳۷ ورځو پورې ساتل د ۱.۶ -۱.۸ کېلو ګرامه ژوندی وزن درلود.د څېړنې پایلې ښایي چې زیاتره د غوښینو چرګوړو متناسب وزن په ۱.۵ کېلو ګرامه سره بازار ته وړاندې کوي.د څېړنې د پایلو څخه څرګندیږي چې ٪۸۹ په فارمونو کې د چرګوړو ناروغۍ واقعات نه لیدل کیدل، چې لوی عوامل یې قوی مدیریت، بایوسکېورټي مراعات کول، وترنری خدماتو تر سره کول، د باکېفیته واکسین او درملو شتون او نور څخه عبارت وو. ۱۱ سلنه فارمونو کې ناروغۍ شتون درلود چې عمده عوامل یې کمزوری مدیریت، بایوسکېورټي نه مراعات کول ددی لامل شوي دي چې په فارم کې د چرګانو مړینه شتون لري، د ناروغیو شتون او کمزوری مدیریت د فارم پر اقتصادي ودې او تولید باندې منفي اغیزه لري چې په پایله کې فارم ګټه نه کوي. فارمدانو ته توصیه کیږی تر څو موسم ته په کتو د غوښینو چرګوړو د روزنې مدیریت ته ځانګړې پاملرنه ولری ترڅو په فارم کې د ناروغیو واقعات کم او د فارم څخه په لوړه کچه تولید تر لاسه کړی.

**کلیدي کلیمې:** تولید، غوښین چرګوړي، فارم مدیریت

**پېژندنه**

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد:
أعوذُ باللهِ منَ الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

څرنګه چې افغانستان یو کرنېز هیواد دي او نږدې ۷۵ سلنه وګړی یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه خپل د ژوندانه اړتیاوې د کرنې او مالدارۍ له لارې پیدا کوي، مګر درې لسیزو جګړو د هیواد هر څه ویجاړ کړل چې په لړ کې یې د مرغدارۍ صنعت هم زیات زیانونه ولېدل. اوس یو ځل بیا دغه برخه په پښو درېدلو ته زیاته اړتیا لري. (قریشي ، ۱۳۹۸).

د مرغدارۍ صنعت پراختیا او د فارمونو جوړونه د یوه هیواد د اقتصاد په وده او پرمختګ کې ځانګړې ارزښت لري. ځکه د دوي وده چټکه ده ژر په حاصل راځي او د محصولاتو د پلور له لارې نه یواځې کورني بلکې ملي اقتصاد سره مرسته کوي. په دې سره د چرګوړو غوښه او دهګوی څخه لاسته راغلي وړ محصولات د اړینو مغذي موادو په درلودلو سره د انسانانو لپاره ارزښتناکه او باکېفیته خواړه ګڼل کیږي. د مرغدارۍ صنعت هیواد ته وده ورکوي او د نړۍ په ټولو هیوادونو کې حیواني محصولات د صادراتو د ملا تیر جوړوي.( ابراهیم خیل،۱۳۸۶)

د کندهار په ولایت کې د غوښېنو چرګوړو په فارمونو کې زیاتره کوچني، منځني او زیات عمر لرونکې چرګوړي روزل کیږي، د عایدو یواځني سرچېنه یې د غوښې تولید ګڼل کیږي. د چرګوړو د غوښې تولیدي سکتور په هیواد کې په ځانګړې ډول په کندهار ولایت کې د نورو اقتصادي فعالیتونو په څیر د پرمختګ په ډګر کې له ګڼ شمیر ستونزو سره لکه د اومو موادو کمښت، د فارمدارانو غیر مسلکېتوب، د وترنری خدمتونو نشتون، د بهرنیو هیوادونو څخه د چرګوړو واردېدل، د روغتیا ساتنې شرایط نه مراعاتول، په تولید باندې د لوړ لګښت راتلل، د محصولاتو د رسیدو په وخت کې د بیې ټیټوالي، د کمزوري مارکېټ وضعیت، په وارداتي برخه کې د دولت نه پاملرنه او داسې نورو نیمګړتیاوو سره مخ دي. دا چې د کندهار په ولایت کې د غوښېنو چرګوړو د تولید او روزنې تمرکز زیات دي، مګر د چرګوړو ددې فارمونو تولید د مارکېټ د غوښتنې لپاره بسنه نه کوي. نو ددې لپاره چې دا فارمونه خپل نورمال تولیدات وکولای شي او د مارکېټ غوښتنو ته په مناسب وخت کې ځواب وویل شي نو د پورته خنډونو د حل په موخه "د کندهار ولایت د غوښېنو چرګوړو فارمونو پر تولید باندې د روزنې د مدیریت اغیزې" تر عنوان لاندې څېړنه تر سره شوه چې اصلی موخه یې په کندهار ولایت کې د غوښېنو چرګوړو د فارمونو د روزنې دمدیریت ارزونه وه چې په یاده څېړنه کې ټولې ستونزې په ګوته، او د حل لارې چارې ورته په ملي او نړیواله کچه وړاندې شوي او ددې معلوماتو څخه د غوښېنو چرګوړو فارم لرونکې، مسلکېان، استادان، زده کوونکې او ټول مینه وال ګټه اخیستلې شي.

## مېتود او کړنلارې

### د څېړنې ساحه او کړنلاره

نوموړې څېړنه کې د کندهار ولایت د مرکز او ولسـوالیو (ارغنداب، دامان، ډنډ، پنجوایی، تخته پل) د غوښـینو چرګانو تجارتي فارمونه تر مطالعې لاندې نیول شوي دي.

### د نمونې راټولولو طریقه او د ارقامو تحلیل

دغه څېړنه د توصېفي(Descriptive) څېړنې د میتود څخه په استفادې د پوښتنپاڼی د میتود (Questionnaire method) پواسطه پر مخ وړل شوې ده، په دې څېړنه کې د غوښېنو چرګوړو د ۱۸ باب فارمونو څخه معلومات راغونډ شوي دي.د شمیرو او اندازو راټولونې په طریقه کې له فارمدارنو سره مخامخ لیدنې، مرکې، د پوښتنپاڼو ویشل او داسې نورو وسیلو څخه کار اخیستل شوی دی. راټول شوي معلومات د MS Excel (2019) پوسیله تجزیه شوي دي او موندنو کې د ګرافونو، جدولونو او خطي ګرافونو په شکل ښودل شوېدي.

## موندنې

### په فارمونو کې د روزنې مدیریت

د څېرنې پایلې ښايي چې ٪۸۹ فارمونو کې چرګوړو قرنطین مراعات کیدو او ناروغی شتون نه درلود چې عمده لاملونه یې قوي مدیریت، وترنری خدمات ، او بایو سکیورتی مراعات کول، ښودل شوي ده. او ٪۱۱ فارمونو کې ناروغی لیدل کیدې چې عمده لامل یې کمزوری مدیریت، د قرنطین او بایو سکیورتی نه مراعات کول. (۱- شکل).




(۱) شکل: په فارمونو کې د چرګانو ناروغی او قرنطین (٪).

### په فارمونوکې د چرګوړو مختلف نسلونه

نتیجې وښوده چې په فارمونوکې مختلف نسلونه چې ۱۶ سلنه وایټ لیګاهرن، ۳۹ سلنه پنجاب اس بي، ۱۱ سلنه روز او ۳۳ سلنه Hybrid نسل روزل کیده. (۲ - شکل).




(۲) شکل: په فارمونوکې د چرګوړو مختلف نسلونه.

د څېرنې پایلې ښکاره کوی چې د غوښنو چرګوړو فارمونه د روزنې د مدیریت په برخه کې که چېرته په نړیواله کچه (۱۰۰) پرتله کړو نو د کندهار ولایت اړوند فارمونه په تقریبي ډول په لاندې معیارونو کې قرار لري(۱- جدول).

**(۱) جدول:** د فارمونو د روزنې د مدیریت په برخه کې د څېړونکې پرتلیزه انګیرنه.

| ولسوالي | پرامیټر | ورکړل شوي معیارونه | | | | مجموعه | تول اجراشوي معیارونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۵ | ۵ | ۵ | ۵ | ۲۰ | | |
| | | د فارم موقعیت | دفارم جوړښت (چت، فرش، کړکي، دروازه) | د اړینو سامان الاتو نصب | د چرګورو،مرغیو،قرنطین، تودوخه،تهویه او نسلونه | ۴ معیارونه | د ۲۰ څخه اخیستل شوي نمري | په ۱۰۰ کې |
| ډنډ | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۰ | ۱۵ | ۷۵ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۴ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۲ | ۲۰ | ۱۲ | ۶۰ |
| ارغنداب | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۰ | ۱۵ | ۷۵ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۲ | ۴ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ۶۵ |
| پنجوایي | روزنې مدیریت | ۵ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۶ | ۸۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۴ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| مرکز | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۵ | ۷۵ |
| | روزنې مدیریت | ۳ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ۶۵ |
| تخته پل | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ۶۵ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ۶۵ |
| دامان | روزنې مدیریت | ۴ | ۴ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | روزنې مدیریت | ۳ | ۳ | ۲ | ۲ | ۲۰ | ۱۰ | ۵۰ |
| | روزنې مدیریت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ۶۵ |

| د هر فارم د فعالیت سلنه | د سلنو اوسط | د روزنې د مدیریت په برخه کې د څېړونکې انګیرنه او د څېړنې په نتجه کې معلوم شوي سلنې |
|---|---|---|
| ۷۰+۷۵+۷۰+۷۰+۶۰ | ۶۹ | د ډنډ ولسوالي اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۶۹٪ وه |
| ۷۵+۷۰+۶۵ | ۷۰ | د ارغنداب ولسوالي اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۷۰٪ وه. |
| ۷۰+۸۰ | ۷۵ | د پنجوایي ولسوالي اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۷۵٪ وه. |
| ۷۵+۷۵+۷۰ | ۷۰ | د مرکز کندهار ښار اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۷۰٪ وه. |
| ۶۵+۶۵ | ۶۵ | د تخته پل ولسوالي اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۶۵٪ وه. |
| ۷۰+۵۰+۶۵ | ۶۱.۶ | د دامان ولسوالي اړوند فارمونو د فارم مدیریت اغیزمنتیا ۶۱.۶٪ وه. |

## په فارمونو کې د روغتیا ساتنې مدیریت

د نتایجو تحلیل وښودله چې فارمدارانو د روغتیا ساتنې په برخه کې د ډېرو ضد عفوني کوونکو کېمیاوي مواد لکه چونه، فارم الدیهاد، لوګی، څخه استفاده کوله تر څو فارمونه یې د ناروغۍ ښکار نشي.(۲ ګراف).




(۳) شکل: په فارم کې د چرګوړو د بستر روغتیا ساتنې حالت.

## په فارم کې د چرګوړو دانه خورې د روغتیا ساتنې حالت

په دې مطالعه کې د دانه خورو په برخه کې ۴۶٪ فارمونه د ډېرې ښې ، ۱٦٪ د متوسطې او پاتې ۳۸٪ فارمونه د نسبتا ښه روغتیا ساتنې په مټ د خپلو فارمونو چارې پر مخ وړلې. (۴ - شکل).




**(۴) شکل:** په فارم کې د چرګوړو دانه خورې روغتیا ساتنې حالت.

## په فارم کې د چرګوړو اوبه خورې روغتیا ساتنې حالت

موندنو وښوده چې د اوبه خورو د برخې لاسته راغلې ارقام بیانوې چې ۵۰٪ فارمونه د ډېر ښه ، ۳۸٪ د ښه او پاتې ۱۲٪ فارمونو کې د متوسط مدیریت په عملې کولو سره د اوبه خورو روغتیا ساتنې ته پاملرنه کوې.(۵- شکل).




(۵) شکل: په فارم کې د چرګوړو اوبه خورې روغتیا ساتنې حالت.

**په فارم کې د تهويې او رطوبت حالت**

نتيجې وښودله چې د تهويې (Ventilation) او رطوبت (Humidity) په برخه کې فارمونه نسبتا فعال وه چې ٪۲۲ فارمونه د ډير ښه، ٪۳۸ د ښه او ٪۴۰ فارمونه د متوسطې روغتيا ساتنې د مديريت په برخه کې راتلل. (٦ شکل).




**(٦) شکل:** په فارم کې د تهويې او رطوبت حالت.

د خيړنې پايلې ښکاره کوی چې د غوښېنو چرګورو فارمونه د روغتيا ساتنې د مديريت په برخه کې که چېرته په نړيواله کچه (۱۰۰) پرتله کړو نو د کندهار ولايت اړوند فارمونه په تقريبي ډول په لاندې معيارونو کې قرار لري(۲- جدول).

**(۲) جدول:** د فارمونو د روغتيا ساتنې د مديريت په برخه کې د څېړونکې پرتليزه انګيرنه.

| ولسوالي | پرامیټر | ورکړل شوي معيارونه مجموعه | | | | | | ټول اجراشوي معيارونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۵ | ۵ | ۵ | ۵ | ۵ | ۲۵ | | |
| | | د سالون روغتيا ساتنه | د بستر روغتيا ساتنه | د لوښو روغتيا ساتنه | د غذايي موادو او اوبو روغتيا ساتنه | د فارم د کارکونکو روغتيا | د ۵ معيارونو مجموعه | د ۲۵ څخه اخيستل شوي نمري | په ۱۰۰ کې |
| ډنډ | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۳ | ۴ | ۴ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۴ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۵ | ۱۹ | ۷۶ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۴ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۴ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۵ | ۱۷ | ٦۸ |
| ارغنداب | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۴ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۵ | ۱۷ | ٦۸ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۳ | ۴ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۲ | ۳ | ۳ | ۴ | ۲۵ | ۱۵ | ٦۰ |
| پنجوايي | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۴ | ۳ | ۴ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۳ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۵ | ۱٦ | ٦۴ |
| مرکز | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۴ | ۳ | ۳ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۴ | ۲ | ۴ | ۲۵ | ۱۷ | ٦۸ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۳ | ۳ | ۴ | ۴ | ۲۵ | ۱۷ | ٦۸ |
| تخته پل | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲ | ۲۵ | ۱۷ | ٦۸ |
| دامان | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۵ | ۱۸ | ۷۲ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۳ | ۲ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۵ | ۱۴ | ۵٦ |
| | روغتيا ساتنې مديريت | ۴ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۵ | ۱٦ | ٦۴ |
| د هر فارم د فعاليت سلنه | د سلنو اوسط | د روغتيا ساتنې د مديريت په برخه کې د څېړونکې انګيرنه او د څېړنې په نتجه کې معلوم شوي سلنې | | | | | | | |
| ٦۸+۷۲+۷٦+۷۲+۷۲ | ۷۲ | د ډنډ ولسوالي اړوند فارمونو ۷۲٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |
| ٦۰+۷۲+٦۸ | ٦٦.٦ | د ارغنداب ولسوالي اړوند فارمونو ٦٦.٦٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |
| ۷۲+٦۴ | ٦۸ | د پنجوايي ولسوالي اړوند فارمونو ٦۸٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |
| ٦۸+٦۸+۷۲ | ٦۹.۳ | د مرکز کندهار ښار اړوند فارمونو ٦۹.۳٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |
| ۷۲+٦۸ | ۷۰ | د تخته پل ولسوالي اړوند فارمونو ٦۹.۳٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |
| ٦۴+۵٦+۷۲ | ٦۴ | د دامان ولسوالي اړوند فارمونو ٦۴٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | | |

## په فارمونو کې د تغذيې مديريت

د څېړنې موندنو وښوده چې فارمونه د چرګانو خوراکه (دانه) ټوله د بازار څخه پيري. ۴۲ سلنه فارم لرونکې د ۱۳ ورځنې عمر پورې، ۳۵ سلنه فارم لرونکې تر ۱۵ ورځنې عمر پورې او ۲۱ سلنه فارم تر ۲۱ ورځنې عمر پورې چرګوړو ته starter يا ۴ نمبر دانه تغذيه کوي او د ياد عمر څخه وروسته Grower يا نهم نمبر دانه ورته ته تغذيه کوي. په کندهار ولايت کې د غوښينو چرګوړو په فارمونو کې په اوسط ډول FCR=1.6 دی. (۳- جدول).

**(۳) جدول:** په فارمونو کې د خوراکې داني د ورکولو اندازه.

| Starter | | Grower | |
|---|---|---|---|
| عمر / په ورځ | فارمونو سلنه | د دانه ورکول/ په ساعت | په اوسط ډول د فارم سلنه/ځله |
| ۱۳ | ۴۲ | ۲۴ | ۲.۵ |
| ۱۵ | ۳۵ | ۲۴ | ۳ |
| ۲۱ | ۲۳ | ۲۴ | ۲ |

د تغذيې د مديريت په برخه کې که چېرته په نړيواله کچه (۱۰۰) پرتله کړو نو د کندهار ولايت اړوند فارمونه په تقريبي ډول په لاندې معيارونو کې قرار لري(۴- جدول).

**(۴) جدول:** د فارمونو د تغذیی د مدیریت په برخه کې د څېړونکې پرتلیزه انګیرینه.

| ولسوالي | پرامیټر | ورکړل شوي معیارونه | | | مجموعه | ټول اجراشوي معیارونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۵ | ۵ | ۵ | ۱۵ | | |
| | | د دانې کیفیت | FCR | ۲۴ ساعتو کې غذا ورکولو دفعات | ۳ معیارونو مجموعه | د ۱۵ څخه اخیستل شوې نمرې | په ۱۰۰ کې اخیستل شوې |
| ډنډ | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۴ | ۱۵ | ۱۱ | ۷۳ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۴ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۴ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۳ | ۱۵ | ۹ | ۶۰ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| ارغنداب | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۳ | ۱۵ | ۹ | ۶۰ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۳ | ۱۵ | ۹ | ۶۰ |
| پنجوایي | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۴ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| مرکز | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۴ | ۱۵ | ۱۱ | ۷۳ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۴ | ۱۵ | ۱۱ | ۷۳ |
| تخته پل | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۳ | ۱۵ | ۹ | ۶۰ |
| دامان | تغذیې مدیریت | ۳ | ۴ | ۳ | ۱۵ | ۱۰ | ۶۷ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۲ | ۱۵ | ۸ | ۵۳ |
| | تغذیې مدیریت | ۳ | ۳ | ۳ | ۱۵ | ۹ | ۶۰ |
| د هر فارم د فعالیت سلنه | | د سلنو اوسط | د تغذیې د مدیریت په برخه کې د څېړونکې انګیرینه او د څېړنې په نتجه کې معلوم شوي سلنې | | | | |
| ۶۷+۶۰+۶۷+۶۷+۷۳ | | ۶۶.۶۷ | د ډنډ ولسوالي اړوند فارمونو ۶۶.۶۷٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |
| ۶۰+۶۰+۶۷ | | ۶۲.۲۲ | د ارغنداب ولسوالي اړوند فارمونو ۶۲.۲۲٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |
| ۶۷+۶۷ | | ۶۶.۶۷ | د پنجوایي ولسوالي اړوند فارمونو ۶۶.۶۷٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |
| ۶۷+۷۳+۷۳ | | ۷۱.۱۱ | د مرکز کندهار ښار اړوند فارمونو ۷۱.۱۱٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |
| ۶۰+۶۷ | | ۶۳.۳۳ | د تخته پل ولسوالي اړوند فارمونو ۶۳.۳۳٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |
| ۶۰+۵۳+۶۷ | | ۶۰ | د دامان ولسوالي اړوند فارمونو ۶۰٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | |

## په فارمونو کې د وترنرۍ خدمتونو مدیریت

په ځینو فارمونو کې په اوسط ډول وترنرۍ خدمات ۳۳ سلنه، په ځینو کې ۵۶ سلنه او په ځینو فارمونو کې ۱۱ سلنه عملي کیږي چې پورته ارقام په کمزورې منجمینت دلالت کوي چې ۶۲ سلنه فارمونو وترنر ډاکتر په فارم کې درلود، ۲۷ سلنه فارمونو هیڅ ډاکټر نه درلود او ۱۱ سلنه داسې فارمونه وه چې د اړتیا په وخت کې ډاکټر فارم ته راغوښتلو .(۷-شکل).




(۷) شکل: په فارمونو کې د وترنری خدماتو کچه.

## حيواني کلينيکونو ته په ورځني ډول د مراجعينو شمير

**(۵) جدول:** کلينيکونو ته په ورځني ډول د مراجعينو شمير

| کلینکونو ته د مراجعه کوونکو تعداد | | | |
|---|---|---|---|
| کورني | فارم لرونکي | مراجعين | |
| ۲ | ۸۰ | ۴ | |
| ۲۰ | ۱۰۰ | ۱۷ | |
| ۹ | ۹۵ | ۱۱ | |
| ۲۰ | ۱۰۰ | ۱۷ | MAXIMUM |
| ۹ | ۸۰ | ۱۱ | MINIMUM |
| ۲ | ۸۰ | ۴ | MODE |
| ۱۰.۳۳ | ۹۱.٦٦ | ۱۰.٦٦ | AVERAGE |

## د څېړنې په ساحه کې د ناروغيو شتون

د فارمدارانو په وينا د څېړنې پايلې ښکاره چې فارمونو کې لاندې ناروغيو شتون درلود او د فارم څښتنانو او کورني خلکو ته يې اقتصادي زيانونه رسول او په توليداتو يې ناوړه اغيزه کوله.

ND (new costle Disease)

1) Gambaro or IBD (Infectious Bursal Disease)
2) IB (Infectious Bronchitis)
3) E Coli
4) Aspergelosis
5) Coccidosis
6) CRD (Chronic Respiratory Disease)
7) Enteritis
8) Feed toxicity
9) Coreza
10) Salmonella
11) Ascites

د څېړنې پايلې ښکاره کوی چې د غوښنو چرګوړو فارمونه د تغذيې د مديريت په برخه کې که چېرته په نړيواله کچه (۱۰۰) پرتله کړو نو د کندهار ولايت اړوند فارمونه په تقريبي ډول په لاندې معيارونو کې قرار لري(٦- جدول).

**(٦) جدول:** د وترنرۍ خدمتونو څخه د فارمونو استفادي اندازه او د څېړونکي پرتليزه انګيرنه.

| ولسوالي | پرامیټر | ورکړل شوي معیارونه: ۵ — د وترنر ډاکټر شتون | ۵ — کلینک ته لاس رسی | ۵ — درمل | ۵ — واکسین | مجموعه: ۲۰ — ۴معیارونه | ټول اجراشوي معیارونه: د ۲۰ څخه اخیستل شوي نمري | په ۱۰۰ کې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دنډ | وترنرۍ خدمتونه | ۲ | ۴ | ۴ | ۴ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۵ | ۴ | ۵ | ۴ | ۲۰ | ۱۸ | ۹۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۲ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ٦۵ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۳ | ٦۵ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۲ | ۴ | ۴ | ۲ | ۲۰ | ۱۲ | ٦۰ |
| ارغنداب | وترنرۍ خدمتونه | ۲ | ۳ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۲ | ٦۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۲ | ۴ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۲ | ٦۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۴ | ۴ | ۴ | ۲۰ | ۱۵ | ۷۵ |
| پنجوايي | وترنرۍ خدمتونه | ۵ | ۵ | ۴ | ۴ | ۲۰ | ۱۸ | ۹۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۴ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| مرکز | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۵ | ۴ | ۴ | ۲۰ | ۱٦ | ۸۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۴ | ۵ | ۴ | ۳ | ۲۰ | ۱٦ | ۸۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۵ | ۴ | ۴ | ۲۰ | ۱٦ | ۸۰ |
| تخته پل | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۴ | ۳ | ۴ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۴ | ۴ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۴ | ۷۰ |
| دامان | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۲ | ٦۰ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۹ | ۴۵ |
| | وترنرۍ خدمتونه | ۳ | ۲ | ۳ | ۳ | ۲۰ | ۱۱ | ۵۵ |
| د هر فارم د فعالیت سلنه | د سلنو اوسط | د وترنرۍ خدمتونو د مدیریت په برخه کې د څېړونکي انګيرنه او د څېړنې په نتجه کې معلوم شوي سلنې | | | | | | |
| ٦۰+٦۵+٦۵+۹۰+۷۰ | ۷۰ | د دنډ ولسوالي اړوند فارمونو ۷۰٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |
| ٦۰+٦۰+۷۰ | ٦۵ | د ارغنداب ولسوالي اړوند فارمونو ٦۵٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |
| ۹۰+۷۰ | ۸۰ | د پنجوايي ولسوالي اړوند فارمونو ۸۰٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |
| ۸۰+۸۰ | ۸۰ | د مرکز کندهار ښار اړوند فارمونو ۸۰٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |
| ۷۰+۷۰ | ۷۰ | د تخته پل ولسوالي اړوند فارمونو ۷۰٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |
| ٦۰+۴۵+۵۵ | ۵۳.۳۳ | د دامان ولسوالي اړوند فارمونو ۵۳.۳٪ فعاله ونډه درلوده. | | | | | | |

د څېړنې په ساحه کې په مجموعي ډول ټولو پارامترونو د لاسته راوړنې کچه په په سلنې سره ښودل شویده.(۱-ګراف).




(۱) ګراف: د څېړنې د ټولو ورکړل شویو پرامترونو منحني حدونه.

**د څېړنې په ساحه کې د فارمدارانو د ستونزو کچه**

**(۸) جدول:** د فارمدارانو د ستونزو کچه

| ګڼ | د چرګوړو د فارمونو مهمې ستونزې | ډیرمهم | | لږمهم | | مهمه نه ده | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | شمیر | سلنه (٪) | شمیر | سلنه(٪) | شمیر | سلنه(٪) |
| ۱ | دناروغیو شتون | ۹ | 50 | ۳ | 16.6 | ٦ | 33.3 |
| ۲ | خوراکي توکو لوړه بیه او کموالي | ۸ | 44.4 | ۸ | 44.4 | ۲ | 11.1 |
| ۳ | په مارکېټ کې د چرګوړو زیاتوالي | ۱۴ | 77.7 | ۲ | 11.1 | ۲ | 11.1 |
| ۴ | بې کېفیته د هګیو زړی چرګو واردېدل | ۱۴ | 77.7 | ۲ | 11.1 | ۲ | 11.1 |
| ۵ | د وسایلو نشتون | ۹ | 50 | ۳ | 16.6 | ٦ | 33.3 |
| ٦ | د هیچري نشتون | ۱۴ | 77.7 | ۲ | 11.1 | ۲ | 11.1 |
| ۷ | د وطنوالو کمزوري اقتصاد | ۲ | 11.1 | ۸ | 44.4 | ۸ | 44.4 |
| ۸ | بې کېفیته یو ورځني چرګوړو وارډول | ٦ | 33.3 | ۳ | 16.6 | ۹ | 50 |
| 9 | په مسلکي ډول د فارمدارنو نه روزل | ۹ | 50 | ٦ | 33.3 | ۳ | 16.6 |
| 10 | د بهرني ملکونو څخه د Breeder او کارتني چرګانو د غوښې راوړل | ۸ | 44.4 | ۸ | 44.4 | ۲ | 11.1 |
| 11 | دولت لخوا یاد صنعت ته نه پاملرنه | ۲ | 11.1 | ۸ | 44.4 | ۸ | 44.4 |
| 12 | د درملو خراب کیفیت او لوړه بیه | ۱۴ | 77.7 | ۲ | 11.1 | ۲ | 11.1 |

## مناقشه او پایله

### په فارمونو کې روزني مدیریت

ددې څېړنې په ترڅ کې وموندل شوه د څېړنې لاندې فارمونه د مختلفو حجمونو لرونکې وو تر ټولو غټ حجم لرونکې فارم m2 ۴۳۲ او تر ټولو کوچني فارم m2 ۵۵ مساحت درلود په اوسط ډول سره اکثرو فارمونو m2 ۱٦۷.۵ مساحت درلود. په فارم کې د کارکوونکو تعداد په منځني توګه ۲.۳ تنه وو، کارکوونکو خپلې حاضرۍ ته ښه پاملرنه کوله چې د مدیریت په برخه کې یوه اړینه موضوع ده. دڅېړنې پایلې ښیې

چې په ټولو فارمونو کې د نوېو راوړل شویو چرګوړو څارنه او روزنه نسبتا په ښه ډول سره تر سره کیدله او نوې راوړل شوي چرګوړو ته د ډاکتر د لارښونو سره سم د حرارت درجه، واکسین، تهویه او د موسمونو په نظر کې نیولو سره اکثریت شرایط برابریږي، هغه فارمونه چې ښه مراقبت یې کیږي د اقتصاد له اړخه ښه ګټه لاسته راوړي.

دیته ورته څېړنه Abdullah او ملګرو یې په ۲۰۱۳ میلادي کال Jordan هیواد د Amman او Irbidh ولسوالیو کې د غوښېنو چرګوړو د تولید داقتصادي تحلیل تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې ده. یاده څېړنه یوه ساحوي څېړنه وه چې د یادې ولسوالیو د غوښېنو چرګوړو فارمونو په پنځو محلي کلیوالي فارمونو کې تر سره شوې ده. د څېړنې پایلې روښانه کوي چې د غوښېنو چرګوړو فارمونه په محلي ډول سره جوړ شوي د مساحت له پلوه لوی فارم یې m2 ۵۰۰ او تر ټولو کوچني فارم m2 ۵۰مربع مساحت درلود. په اوسط ډول په هر فارم کې دوه یا دربو تنو کار کاوه چې د فارم د چرګوړو روزنه او پالنه یې په ښه توګه تر سره کوله، وترنرۍ خدمات یې د دولت لخوا ورته اجرا کېدل چې په نتیجه کې ټولو فارمدارنو د خپل فارم د عایداتو څخه خوښ او راضي وه.(Abdallah et al, 2013).

د څېړنې په بهیر کې فارمونه دري ډوله وه. هغه فارمونو چې د ښه مدیریت لرونکې وه د خپل محصولاتو د وړاندې کولو په وخت کې د غوښېنو چرګوړو ژوندی وزن په ۳۰ ورځني عمر کې د ۱.۵ – ۱.۷ کېلو ګرامه وو. هغه غوښېن چرګوړي چې د ۳۷ ورځو لپاره ساتل کېدل د ۱.۸ – ۲.۱ کېلو ګرامه ژوندی وزن درلود.

هغه فارمونه چې د متوسط مدیریت لرونکې وه د محصولاتو د وړاندې کولو په وخت کې د غوښېنو چرګوړو ژوندی وزن په ۳۰ ورځني عمر کې د ۱.۱ – ۱.۳ کېلو ګرامه پورې رسیده او هغه فارمونه چې د کمزوری مدیریت لرونکې وو چرګوړې یې د ۳۷ ورځو لپاره ساتل کېدل د ۱.۶-۱.۸ کېلو ګرامه پورې د ژوندی وزن لرونکې وه.

دي ته ورته څېړنه د ایران هیواد د ګویلان ولایت په سومه سارا ښارګوټي کې د چرګانو په تولید باندې د فارم مدیریت د مهارتونو تحلیل تر عنوان لاندې ترسره شوي. د دې څېړنې عمومي کړنلاره د چرګانو په فارمونو کې ستونزو ته په پام سره کوم چې په فارمونو کې یې د تولیداتو کچه د روزنی د مدیریت له اړخه څېړلې ده. د څېړنې پایلې ښې هغه فارمونه چې د روزنې مدیریت یې په ښه توګه ترسره کوو په ۳۰ ورځني عمر کې چرګوړې بازار ته د خرڅلاو په موخه لیږدول د چرګوړې ژوندی وزن یې د ۱.۵ – ۲ کېلو ګرامه وه، د ۳۵ ورځني عمر چرګوړو ژوندی وزن یې ۲ – ۲.۵ کېلو ګرام وزن درلود. هغه فارمونه چې مدیریتي معیارونه یې په سمه توګه په پام کې نه نیول د ۳۰ ورځني چرګوړو ژوندی وزن یې ۱.۴ – ۱.۸ کېلو ګرامه، او هغه چې د ۳۵ ورځو لپاره ساتل کېدل ژوندی وزن یې ۱.۷-۲ کېلو ګرامه پورې وو. د څېړنې پایلې ښکاره کوي چې د غوښېنو چرګوړو په فارمونو د روزنې ښه مدیریت،د ناروغیو کنترول، وترنری خدمات او روغتیا ساتنه، د فارم د ښه تولید لپاره د اساسي فکتورنو څخه ګڼل شوي وو.( Allahyari et al., 2011).

### د حفظ الصحي(روغتیا ساتنې) مدیریت

ددې څېړنې په ترځ کې وموندل شوه چې ۵۵ سلنه فارمونو کې قرنطین نه مراعات کېده او ۴۵ سلنه فارمونو خپلو امکاناتو ته په کتو سره په فارم کې قرنطین مراعت کوي، که چیرې اضافه بلاک موجود وي ناروغ چرګوړې په هغه بلاک کې قرنطین کوي او که چیرې اضافه بلاک شتون ونه لري په همدې سیل کې جلا ساحه (partition) جوړوي او ناروغ چرګوړې د روغ چرګوړو څخه بېل ساتي. فارمونه د روغتیا ساتنې په برخه کې د ډېرو ضد عفوني کوونکو مواد لکه چونه، فارم الدیهاد، لوګی، سپرې، کېمیاوي مواد څخه استفاده کوله چې فارمونه یې د ناروغی ښکار نشي. د اوبه خورو او دانه خوریو په برخې کې لاسته راغلي ارقام بیانوي چې ډېر فارمونه یعنې ٪۵۰ د ډېر ښه مدیریت، ٪۳۸ د ښه او پاتې ٪۱۲ فارمونو کې د متوسط مدیریت په عملي کولو سره د اوبه خورو روغتیا ساتنې ته پاملرنه کوي.

دي ته ورته څېړنه Tom Tabler او ملګرو لخوا یې په ۲۰۱۲ د مسیسپي ایالت (M S U) پوهنتون کې د غوښېنو چرګوړو په فارم کې د بستر د رطوبت مدیریت تر عنوان لاندې څېړنه تر سره کړې ده د څېړنې پایلې ښیي چې د غوښېنو چرګانو په فارم کې د فلاک له ختمیدو وروسته د نویو چرګوړو له راوړلو څخه مخکې یې فارم ته په مکمل ډول لمر داخلولو تر څو د چرګوړو د فارم بستر په مکمل ډول وچ شي او رطوبت له مینځه یوړل شي او د بستر د رطوبت د کنټرول د پاره یې د اره یې د بور څخه استفاده کوله او په اوړي (ګرمی) کې د بور په ځای په کمې اندازې له شګې څخه د بستر د رطوبت د کنټرول د پاره استفاده کوله. په اوړي کې په کمه اندازه اوبه د Spray په شکل په بستر او دیوالونو باندې پاشل کیدې، د دانه خورو او اب خورو پاک ساتلو ته یې زیاته توجو کوله چې فارمونه د روغتیا ساتنې په برخه کې د ښه مدیریت تر سره کولو او ضد عفوني کوونکو موادو (چونه، فارم الدیهاد، لوګی) څخه هم استفاده کوله.. (Tom Tabler et al., 2012).

د تهویې (Ventilation) او رطوبت (Humidity) په برخه کې هم فارمونه د خپلو امکاناتو سره سم د روغتیا ساتنې په برخه کې هم نسبتا فعال وه چې ددې جملې څخه ٪۲۲ د ډیر ښه ، ٪۳۸ د ښه او ٪۴۰ فارمونه د متوسطې روغتیا ساتنې د مدیریت په برخه کې راتلل.په عمومي سطحه باندې باید یادونه وکړو چې ٪۳۷ فارمونو د ډیر ښه روغتیا ساتنې ٪۳۵ د ښه او پاتې ٪۲۸ فارمونه د متوسط روغتیا ساتنې څخه برخمن وه زیات شمیر فارمونه د ژمي په موسم کې د تودوخې د ساتنې په موخه یې د پلاستیک پواسطه ګرد چاپیر پوښل تر څو یخه هوا فارم ته داخله نشي او د یخ وهنې څخه مخه نیول شوي وي.

دي ته ورته څېړنه Wabga او ملګرو په۲۰۰۴ میلادي کال په استرالیا هیوادکې څېړنه ترسره کړې د څېړنې پایلې ښيې چې چرګان د فارم د نورو حیواناتو په نسبت د تودوخې د درجې لوړوالي سره ډېر حساس دي په فارم کې د چرګانو د ژوندي پاتې کېدلو لپاره د تودوخې د درجې لوړوالي یو لویه ستونزه ده چې باید د امکان تر بریده کنټرول شي تر څو خپل ژوند په خوښې سره تیر کړي د فارم د سالون (Shed) لوړه حرارت درجه د چرګانو ترمینځ د بلوالي (Insulation) او په صالون کې د یو ښه پشمک ( Fine

mist) په شيندلو سره کنټروليږي. خو د اوبو د تبخير ميتود (Water evaporation method) په وخت کې بايد زيات احتياط وشي چې د فارم د بستر (Litter) او فضوله موادو (Manure) اوبه او رطوبت زيات نشي. Wabga et al., 2004))

**په فارمونو کې د تغذيې مديريت**

ددې څېړنې په ترڅ کې وموندل شوه فارمونه د چرګانو ټول خواړه د بازار څخه پلوري، ۴۲ سلنه فارم لرونکې د ۱۳ ورځني عمر پورې، ۳۵ سلنه فارم لرونکې تر ۱۵ ورځني عمر پورې او ۲۱ سلنه فارم تر ۲۱ ورځني عمر پورې چرګوړو ته starter يا ۴ نمبر دانه تغذيه کوي او د ياد عمر څخه وروسته Grower يا نهم نمبر دانه ورته ته تغذيه کوي.په اوسط ډول هر فارم ۲۴ ساعتونو کې ۲.۵ ځله چرګوړو ته خواړه ورکوي يعنې د دوی څخه ځيني فارمونو ۳ ځله او ځينو فارمونو ۲ ځله دانه ورکوله د څېړنې پايلې ښايې د غوښنو چرګوړو د خوارکې لګښت په يو کېلو ګرام غوښه باندې ۲.۳ کېلو ګرامه دې چې په اوسط ډول يې FCR=۱.٦ وو.

ديته ورته څېړنه Carolyn او د هغو ملګرو د ۲۰۰٦ ميلادي کال د څېړنې په بنسټ که چېرته فارم لرونکې وغواړي چې د خپل فارم څخه ښه حاصل لاسته راوړي نو بايد د چرګوړو تغذيوي برخې ته ډيره پاملرنه وشي چې په لومړی کې Broiler starter څخه ګټه پورته کيږي چې دا ډول غذا په خپل ترکېب کې د ۲۴-۲۳ سلنه پروتين او kcal/kg ۳۱۹۰ انرژي لري، دا ډول غذا په غوښنو چرګوړو کې تر ۳ اونيو پورې ورکول کيږي چې د وزن په اخيستنه کې ډير رول لري. په دوهمه اونۍ کې Broiler finisher خوراکې څخه ګټه پورته کيږي، دا ډول غذا په خپل ترکېب کې د ۲۱-۲۰ سلنه پروتين او kcal/kg ۳۳۰۰ انرژي درلودونکې ده او چرګوړو ته تر ۳ اونيو وروسته ورکول کيږي. غوښن چرګوړي په څلورو اونيو کې ۱.۲۵ کېلو ګرامه starter غذا او د هغه څخه وروسته تر ۱۰ اونيو پورې د ۴.۲۵-۳.۷۵ کېلو ګرامه finisher غذا مصرفوي يعنې دا چې د څېړنې پايله کې ددې نوعو FCR=2 دي.

**د وترنرۍ خدمتونو مديريت**

ددې څېړنې په ترڅ کې وموندل شــوه چې په ٪۱۱ فارمونو کې د چرګوړو د مړينې واقعات شــتون درلود چې لوي عوامل يې خراب مديريت، د چرګانو ناروغی، محيطي عوامل، ناوړه اقليم، د باکېفيته واکسين او درملو نشـتون ښودل شـوی ده، د ناروغيو شـتون او کمزوری مديريت د فارم په اقتصــادي ودې او توليد باندې منفي اغيزه لري چې په پايله کې فارم ګټه نه کوي، په ٪۸۹ سلـنه فارمونو کې د ناروغۍ واقعات نه ليدل کيږي چې عمده لامل يې قوي مديريت د بايو سـکېورټي مراعت کول ددې سـبب شـوي دي چې په فارمونو کې مړينې شـتون نه درلود.د څېړنې لاندې فارمونو کې پوره وترنرۍ خدمات موجود نه وو. په اوسـط ډول په فارمونو کې ۳۳ سلنه وترنرۍ خدمات لکه واکسين، درمل، حفظ الصحه، بايوسيکورټي او نور تر سره کيږي، چې په ځينو فارمونو کې ۵٦ سـلنه اجراکېدله او په ځيني فارمونو کې ۱۱ سـلنه عملي کيږي چې پورته ارقام په کمزوری منجمنت دلالت کوي او د فارم پر اقتصاد باندې منفي اغيزه لري.

دې ته ورته څېړنهGueye او ملګرو يې په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې د يوي څېړنې په اساس په بنګلديش هيواد کې کې د غوښـنو چرګوړو د روزنې او د فارمدارنو اجتماعي او اقتصــادي حالت تر عنوان لاندې څېړنه کې د کورني محلي فارمونو او تجارتي فارمونو دفارم عايد پرتله کړ. دوي خپل راټول شـوي معلومات د پوښـتنپاڼې، او مشاهدې په اساس وڅيړل، او داسې نتيجه يې په لاس راوړه چې د غوښـــنو چرګوړو فارمدارن د فارم څخه هغه وخت لوړ عايد تر لاســـه کولای شي چې په فارم کې وترنرۍ خدمات لکه واکسين، درمل، حفظ الصحه، او بايوسيکورټي په مسلکې ډول عملي کړي،

یکی از مسائل مهم در زمینه امنیت غذایی در افغانستان، تغییرات اقلیمی و کمبود منابع طبیعی است. تغییرات اقلیمی موجب خشکسالی‌های مکرر و کاهش بارندگی‌ها شده است، که تأثیرات آن بر زراعت و تولید مواد غذایی محسوس است. (Islam et al.,2022) بسیاری از دهاقین در افغانستان با کمبود منابع آبی و خشکسالی مواجه هستند، که این مسئله به‌ویژه در مناطق شمالی و غربی کشور که وابسته به زراعت هستند، به شدت خود را نشان می‌دهد (Hizbullah and Omar 2024).

### 3. وابستگی به کمک‌های خارجی و عدم توانمندی در خودکفایی غذایی

این تحقیق نشان می‌دهد که وابستگی به کمک‌های خارجی، به‌ویژه در زمینه تأمین مواد غذایی، یکی از معضلات اساسی در افغانستان است. در حالی که این کمک‌ها در کوتاه‌مدت مفید است، اما در بلندمدت نمی‌تواند راه‌حلی پایدار برای مشکلات امنیت غذایی باشد. ایجاد زیرساخت‌های زراعت، تقویت تولید داخلی و کاهش وابستگی به واردات می‌تواند به‌طور مؤثری امنیت غذایی افغانستان را بهبود بخشد.

## نتیجه‌گیری

نتایج این تحقیق نشان می‌دهد که فقر و بیکاری به‌طور مستقیم و غیرمستقیم تأثیرات منفی زیادی بر امنیت غذایی در افغانستان دارند. فقر باعث کاهش توان خرید مواد غذایی و افزایش سوءتغذیه می‌شود، در حالی که بیکاری نیز به کاهش درآمد خانوارها و کاهش تولید داخلی مواد غذایی منجر می‌گردد. همچنین، وابستگی به کمک‌های خارجی و کاهش تولید زراعت داخلی به‌عنوان چالش‌های اساسی مطرح است. این وضعیت به‌ویژه در مناطق روستایی که دسترسی به بازارها و خدمات محدود است، برجسته‌تر می‌شود.

تغیرات اقلیمی مانند گرمایش زمین، کاهش مقدار بارندگی و تغییرات در انواع و زمان بارندگی و خشکسالی های مداوم در کشور تاثیرات مستقیم وغیر مستقیم بالای مصونیت غذایی در کشور داشته.

## پیشنهادات

به‌منظور مقابله با این بحران‌ها، لازم است که امارت اسلامی افغانستان و نهادهای بین‌المللی اقداماتی را در زمینه ایجاد فرصت‌های شغلی، تقویت زیرساخت‌های زراعت، و کاهش وابستگی به کمک‌های خارجی انجام دهند.

پروژه های مانند کانال قوشتپه که یکی از برنامه های اساسی و پایدار سکتور زراعت می باشد باید روی دست گرفته شود تا باعث کاهش فقر و بیکاری در جامعه گردد.

برای بهبود وضعیت امنیت غذایی، نیاز است که سیاست‌های مؤثر در جهت کاهش فقر و بیکاری، ایجاد فرصت‌های شغلی پایدار و تقویت زیرساخت‌های زراعت طراحی و اجرایی شوند.

همچنین، توجه به تغییرات اقلیمی و توسعه زراعت مقاوم در برابر بحران‌های آب و هوایی می‌تواند در بلندمدت به بهبود شرایط امنیت غذایی کشور کمک کند.

هماهنگی های لازم میان ادارات مربوطه جهت جلوگیری از گسترش فقر، بیکاری، عدم وابستگی به کمک های خارجی و روی دست گرفتن زیرساخت های موجود در داخل کشور.

## مأخذها

آجودانی زهرا, & مهدی زاده حسین. (2010). زمینه یابی امکان توسعه و ترویج کشاورزی ارگانیک در استان کرمانشاه از دیدگاه کارشناسان کشاورزی.

سلطانی, شیوا, موسوی, سید حبیب‌الله, خلیلیان, صادق, ... & حامد. (2023). کاهش ضایعات محصول‌های کشاورزی؛ راهبرد بهینه‌ی ارتقاء امنیت غذایی. *Agricultural Economics*, *17*(3), 35-66.

محمدی حمیدرضا, احمدی ابراهیم, احمدی سلیمان, & حکیمی خرم علی. (2024). واکاوی اثرات سد سلمای افغانستان بر تنش های آبی کلان شهر مشهد.

Fishstein, P., & Farahi, A. (2023). *The World's Humanitarian, Economic, and Political Engagement with Afghanistan.*

Hizbullah, R., & Omar, A. M. (2024). *Sustainable Solutions to Mitigate the Negative Effects of Climate Change on Afghanistan.* Nangarhar University International Journal of Bioscencs, Special Issue, 494–497

Islam, Z., Kokash, D. M., Babar, M. S., Uday, U., Hasan, M. M., Rackimuthu, S., ... & Nemat, A. (2022). *Food security, conflict, and COVID-19:* perspective from Afghanistan.

Jawid, A., & Khadjavi, M. (2019). *Adaptation to climate change in Afghanistan: Evidence on the impact of external interventions. Economic Analysis and Policy*, 64, 64–82. https://doi.org/10.1016/j.eap.2019.07.010

Kaiser, N., & Barstow, C. K. (2022). *Rural transportation infrastructure in low-and middle-income countries: a review of impacts, implications, and interventions. Sustainability*, *14*(4), 2149.

Ray, S., & Suri, S. (2021). Global Nutrition Report 2021–India's nutrition profile and how to meet global nutrition target. *Observer Researcher Foundation*.

Safi, L. (2024). Review of Afghanistan's development pattern from 2001 to 2021: a relative lack of sustainability, inclusiveness, and prosperity. *Journal of Social and Economic Development*, *26*(1), 333-352...

The State of Food Security and Nutrition 2024 - UNICEF DATA

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده کړو وزات
د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون
د علمي څېړنو معاونيت

# د خواړو پر امنيت او خونديتوب باندې د هرزه وښو د مديريت اغېزې

قدرت الله احسان[1*] کرامت الله فاضل[1]، يما نوري[1]، مختار احمد فيض[1]، حکمت الله عبيد[1] خليل الله زريال[1]

[1]اګرانومي څانګه، نباتي علومو پوهنځی، د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون

مسؤل ليکوال: qudrat.ehsan@anastu.edu.af ,qudrat.ehsan@gmail.com

## لنډيز

هرزه واښه د نړۍ پر کرنيزو محصولاتو ژور اغېز لري او د مهمو کرنيزو نباتاتو په حاصلاتو کښې د پام وړ ضايعات راولي. ياده څېړنه د غنمو، جوارو، وربشو، وريجو، پنبې، سويابينو او پلۍ(ممپلۍ) د حاصلاتو ضايعات د هرزه وښو له امله ارزوي، چې د بېلابېلو هېوادونو پر سيمه‌ايز وضعيت باندې تمرکز لري. پايلې ښيي چې په نړۍ کې هر کال 193.65 ميليونه ټنه غنم، 368.73 ميليونه ټنه جوار، او 169.71 ميليونه ټنه وريجې د هرزه وښو له امله له منځه ځي. افغانستان، پاکستان، چين، هند، ايران، او برازيل د هرزه وښو له امله د حاصلاتو د لوړو ضايعاتو شاهدان دي، په ځانګړې ډول د غلودانو، صنعتي او تيلي نباتاتو په توليد کې. چې د خوراکي توکو د بيو د لوړوالي، د بزګرانو د عوايدو د کمښت، او د خوړو امنيت او خونديتوب د خرابوالي سبب کيږي. د يادو ضايعاتو د کمولو لپاره ځينې مؤثرې تګلارې لکه د هرزه وښو هر اړخيزه مديريت (IWM)، د هرزه واښه وژنکي، مقاومي ورايټي او کرنيز تناوب له لاري د هرزه وښو له امله رامنځته کيدونکي ضايعات کمول د نړيوالې خوراکي خونديتوب د ښه والي او د کرهنې د دوامداره پرمختګ لپاره حياتي اهميت لري. حکومتونه او کرنيزې ادارې بايد په ګډه کار وکړي ترڅو اغېزمن د هرزه وښو کنټرول تدابير عملي کړي، تر څو توليدات ډېر او چاپيريال پاک و ساتل سي.

**کليدي کليمې:** د خوړو امنيت او خونديتوب، د حاصلاتو ضايعات، د هرزه وښو مديريت، دوامداره کرهنه، نړيوال کرنيز توليدات، هرزه واښه

## پيژندنه

الحمدُ للهِ ربِّ العالمين، والصلاةُ والسلامُ على رسولِه، وآلِه، وأصحابِه أجمعين، أمّا بعد: أعوذُ باللهِ من الشيطانِ الرجيم، بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم:

د نړۍ نفوس ورځ تر بلې مخ په زياتيدو دي او و زيات مقدار خوړو ته اړتيا ده چې توليد سي. اوس د ټولې نړۍ نفوس لږ تر لږه د اوو بيليونه په شاو خوا کې دي او اټکل کيږي چې په 2025 مېلادي کال کې به دا شمېر به اته او په 2050 کې به يې شمير لس بيليونو ته ورسيږي(Ehsan et al., 2017). د نباتاتو څخه لوړ حاصلات لاسته راوړل د ټولې نړۍ د څېړونکو او توليدي صنعتي شرکتونو تر څنګ د ژوند د ښه تيرولو او خوندي خواړو پيداکولو لپاره غوښتنه ده، د نباتاتو د حاصلاتو د ډېر والي د مخنيوي لپاره ځيني لاملونه، ژوندي موجودات او د اقليم بدلون دي چې د نباتاتو وده/نمو او حاصلات/توليدات تهديده وي او د نباتاتو کميت او کيفيت له ګواښ سره مخامخ کوي چې د هغوی له جملې څخه يو هم يو کلن هرزه واښه دي چې د خواړو خونديتوب متاثره کوي (Krautflora, 2021; Falade & Labaeka, 2016). هرزه واښه يو له خورا پخوانيو وختونو (10000-12000BC) زرونه کلونه مخکې له ميلاد څخه د نباتاتو د حاصلاتو د کميت او کيفيت په خرابوالي کښې ستونزې رامنځ ته کولې چې د کرنيزو چارو د عمده ستونزو څخه شمېرل کيږي(Korres et al., 2018; Baucom & Holt, 2009).

د کرنيزو توليداتو ضايعات، په ځانګړي توګه د غله دانو د حاصلاتو په برخه کې، پر ټولنه، اقتصاد، او چاپيريال باندې ډېر اغېز لري. سره له دې چې د حاصلاتو د زياتوالي لپاره هلې ځلې کيږي، خو د راټولولو څخه مخکې او وروسته نامناسبې کړنې اکثراً داسې ضايعات رامنځته کوي چې د خوراکي توکو او غذائي امنيت ته ګواښ پېښوي(Shahbazi et al., 2025). لکه څنګه چې د نړۍ نفوس مخ پر زياتېدو دي،

همداسې د انرژۍ سرچینو ته اړتیا هم لوړېږي، چې پایله ئې د فوسیلي سون توکو پر ځای د بیا تولیدېدونکو انرژیو کارول اړین سوي، تر څو د انرژۍ سکتور چاپېریالي اغېز راکم سي (Russo et al., 2025). د هرزه وښو ضایعات هغه مهمې سرچینې هم ضایع کوي، لکه اوبه، خاوره، او انرژي، چې د کرنیزو محصولاتو د تولید لپاره کارول کیږي. استدلال کیږي چې د دغو زیانونو او ضایعاتو کمول د حاصلاتو د زیاتوالي پر ځای هم مهم او هم له اقتصادي پلوه ګټور دي. د زیانونو او ضایعاتو د عواملو، ځایونو، او ډولونو درک کول د مؤثرو کنټرولي ستراتیژیو د جوړولو لپاره مهم دي، چې ځانګړې څېړنو او تحلیل ته اړتیا لري. د کرنیزو تولیداتو د زیانونو او ضایعاتو د لاملونو او مخنیوي په اړه د عامه پوهاوي لوړول هم ډېر اړین دي. که څه هم ډېري څېړنې پر مېوه‌جاتو او سبزیجاتو تمرکز کوي، خو د غلودانو اوحبوباتو د حاصلاتو زیانونه او ضایعات اکثره له پامه غورځول کیږي، سره له دې چې دا د کالوري او انرژي ارزښت له 50٪ څخه ډېر جوړوي(Shahbazi et al., 2025).

بېلابېل حیاتي (بیوټیک)، غیر حیاتي (ابیوټیک) او انساني عوامل د خوراکي توکو د پراخو زیانونو او ضایعاتو لامل ګرځي. د انسان د نفوس زیاتوالي د لا ډېرو خوراکي توکو غوښتنه کوي، خو په ورته وخت کې طبیعي سرچینې په نړیواله کچه کمیږي او د لاسرسي وړ نه دي. د خوراکي توکو د زیانونو عمده لاملونه حشرات، ناروغی، مایکروبي عوامل، اقلیمي بدلونونه، مالګینه خاوره، وچکالي، د کرنیزې مځکې له منځه تلل او هرزه واښه دي(Ramesh et al., 2017).

د حاصلاتو له راټولولو وروسته زیانونه او ضایعات هم د نړیوال خوراکي توکو د ضایعاتو لپاره یو جدي منفي رول لوبوي. د سرچینو نامناسب استعمال د کرنیزې مځکې د ضایع کیدو او استثمار سبب ګرځي. اوس مهال، یوازې د حشرو آفتونه د کرنیزو حاصلاتو ته 38٪ زیان اړوي، پداسې حال کې چې هرزه واښه 34٪ زیانونه رامنځته کوي. هرزه واښه هغه نا مطلوبه نباتات دي چې د تخم څخه وده/نمو او ګل کوي او بیا بیرته تخم تولیدوي او یوکلن هرزه واښه د خپل د ژوند دوران په یو کال کې سرته رسوي او دا پروسه په څو اوونیو یا میاشتو کې ترسره کوي او په دوه لویو ګروپونو ویشل سویدي اول دوبني یو کلن هرزه واښه او ژمني یو کلن هرزه واښه (Sprague, 2022). دا نا مطلوبه نباتات یا هرزه واښه د نباتاتو کښت ته ډېر زیان رسوي او د نباتاتو حاصلات، کمیت او کیفیت لږ تر لږه تر 30٪ سلنه پوري اغېزمن کوي د کروندګرو، ټولنو او ښاري او کلیوالي و ګړو ته د زیات اقتصادي زیان ترځنګ د خوړو د امنیت او مصؤنیت په خرابوالي کښې زیات رول لري، چې د کروندګر او تولیدونکو د توقع مطابق حاصلات لاسته نه راځي (Pascual, 2022). راپورونه ښیي چې د راتلونکو 80 کلونو په موده کې د نړۍ نفوس 11 میلیاردو ته ورسیږي، نو اړینه ده چې د خوراکي توکو ضایعات کم سي، تر څو د خوراکي امنیت او دوامدار پرمختګ تضمین وسي. د اوسني وضعیت په نظر کې نیولو سره، د خوراکي ضایعاتو کمښت ته اړتیا ده، او باید داسې مناسبې ستراتیژۍ طرحه سي چې د لږو طبیعي سرچینو په کارولو سره د خوراکي تولید زیاتوالي یقیني کړي(Junaid & Gokce, 2024).
د هرزه وښو د کنټرول لپاره هغه کړنې چې د نباتاتو د کرولو او د کښت او کروندې په وخت کښې تر سره کیږي د هرزه وښو میخانکي کنټرول ورته ویل کیږي، چې د هرزه وښو اغېزې تر ډېره حده کموي او ځینې وخت لمړني کړني هم ورته وایي، ډېر اقتصادي او کم مصرفه دي طریقه ده چې په هر محیط او کښت کې د عملي کیدو وړ دي (Pascual, 2022). او د یادو کړنو تر څنګ د کیمیاوي موادو په وسیله چې ورته هرزه واښه وژونکي زهر هم ورته ویل کیږي د یو کلن هرزه واښو کنټرول لپاره ئې موثریت خورا زیات دي، د هرزه وښو وژونکو استعمال په لږ وخت کې په هرزه وښو باندې تاثیر کوي او د نباتاتو په کرونده کې یو د زیات استعمالیدونکې طریقو څخه یو هم کیمیاوي کنټرول دي، ځکه چې ډېر نباتات په ټوله نړۍ کښې د تجارت په منظور کرل کیږي او په لویو او غټو کروندو کښې د تجارتي او صنعتي کښت او کرونده تر سره کیږي(Wolter, 2022). د هرزه وښو وژونکو زهرو استعمال په کرهڼه کښې د هرزه وښو په مدیریت کښې کلیدي وسیله بلل کیږي، د کیمیاوي طریقې په واسطه د هرزه وښو کنټرول د کروندګرو لپاره د انتخاب لومړنۍ او اخیرنۍ طریقې دئ(Shahzad et al., 2021).
هرزه واښه نه یوازې د کرنیزو حاصلاتو د تولید ضایعات زیاتوي، بلکې د خوراکي خوندیتوب (Food Safety) او خوراکي امنیت (Food Security) لپاره هم جدي ګواښونه رامنځته کوي. دا اغېزې په لاندې برخو کې څېړل سوي دي. خوراکي امنیت هغه حالت ته ویل کیږي، کله چې ټول خلک هر وخت صحي، تغذیوي او کافي خواړه ترلاسه کولی سي. هرزه واښه د خوراکي امنیت په لاندې طریقو باندې ناوړه اغېز کوي: لومړی: د تولید کمښت:- لکه څنګه چې مخکې یادونه وسوه، هرزه واښه د کرنیزو حاصلاتو تولید ته تر 50٪ - 100٪ پورې زیان رسولی سي. د مثال په ډول، په هند کې د غنمو 19٪، د جوارو 25٪، د سویا 31٪او د پلي(ممپلی) 36٪ تولید د هرزه بوټو له امله ضایع کیږي (Yogita & Singh, 2018).

دوهم: د خوراکي موادو بیې لوړوالي:- کله چې د کرنیزو حاصلاتو مقدار کم سي، د عرضې او تقاضا د قانون له مخې د خوراکي توکو بیې لوړیږي، چې دا د عامو خلکو د لاسرسي وړتیا کموي. د مثال په ډول، په افریقا کې د جوارو د تولید کمښت د خوراکي

بیو د 35٪ زیاتوالي سبب سوي (Unicef, 2019). دریم: د فقر او خوراکي کمښت زیاتوالي:- د حاصلاتو ضایعات د بزګرانو اقتصادي وضعیت کمزوري کوي، او هغوی نسي کولي د کیفیت لرونکي تخمونو، کیمیاوي سرو، یا پرمختللو کرنیزو تخنیکونو ته لاسرسي پیدا کړي. دمثال په ډول سره په اسیا کي د کرنیزو حاصلاتو ضایعات د خوراکي ناورین یوه جدي ستونزه بلل سوې (World Bank, 2024).

همدا ډول سره خوراکي خونديتوب هغه معیارونه دي چي د خوراکي توکو کیفیت، پاکوالي، او د انساني روغتیا لپاره د ضرر نشتون تضمینوي. هرزه واښه کولي سي د خوراکي خوندیتوب په لاندې ډول اغېز ولري: لومړی: د زهرجنو موادو انتقال:- ځینې هرزه واښه زهرجن مواد (Toxins) تولیدوي، چي د څارویو او انسانانو روغتیا ته خطرناک تمامېږي. د بیلګې په توګه، د غله دانو په کښت او کروندو کښي د "Datura" او "Parthenium" هرزه واښه حیواني تولیدات (لبنیات) زهرجن کولای سي ( World Health Organization, 2024). دوهم: د ناروغیو خپرېدل:- هرزه واښه د حشراتو، فنګسونو، او ویروسونو د تکثیر لپاره مناسب چاپېریال برابروي، چي د فصلونو ناروغي زیاتوي. د مثال په توګه، د "Striga" هرزه واښه د افریقا د غنمو، جوارو او وریجو حاصلات تر 80٪ پورې کموي (FAO, 2024 February 4). دریم: د غذايي ارزښت کمښت:- کله چي هرزه واښه د فصلونو سره سیالي کوي، د نباتاتو تغذيې مواد (اوبه، رڼا، عناصر او ساحه) کمېږي، او د خوراکي موادو کیفیت زیانمن کیږي. د ویتامینونو، منرالونو او پروټینونو کمښت د تغذیې ناسموالي ته لاره هواروي (American Society for Nutrition, 2024). د غنمو کرنه د افغانستان د خوړو د امنیت او مصؤنیت لپاره اساسي اهمیت او ارزښت لري، چي د ټولني غله دانو د حاصلاتو 76٪ سلنه او د هیواد د ټولیزو خوراکي توکو او محصولاتو 57٪ سلنه تشکیلوي. بېلابېل عوامل، لکه لړ حاصل لرونکي تخمونه او ورایټي، ټیټ کیفیت لرونکي کیمیاوي سرې، د آفتونو او ناروغیو پراخه خپرېدنه، او د هرزه وښو پراخه موجودیت، د افغانستان د غنمو د کم تولید اصلي لاملونه دي.

په هیواد کښي کروندګر د نباتاتو کښت او کرونده په عنعنوي طریقو تر سره کوي او په کښت او کرونده کښي د هرزه بوټو د کنترول لپاره هیڅ ډول طریقو او کړنلارو سره بلدتیا نه لري. او په همدې برخه کښي د هرزه وښو د کنترول اړوند هیڅ څېړني نه دي تر سره سوي او په همدې اړوند هیڅ معلومات کروندګرو ته په واک کښي نه دي ورکول سوي. نو په همدې موخه مو لازمه بلل چي د خواړو پر امنیت او خوندیتوب باندی د یو کلن هرزه وښو د مدیریت اغېزي تر عنوان لاندې کتابتوني څېړنه تر سره کړو، تر څو د نباتاتو د کښت او کروندې د حاصلاتو او عایداتو په ډېروالي، د ټولني د اقتصاد د پرمختګ او د خواړو د خوندیتوب لپاره لاره هواره کړي.

## موندنې او مناقشه

د دې لپاره چي د نفوسو پر بنسټ د خوړو توازون رامنځته سي نو د داسي غذايي موادو تولید باید دوه برابره سي. د هغو انسانانو لپاره چي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي د یوې پرمختللي ټولني د انسانانو همدا دنده ده چي لوږه او فقر له منځه یوسي او لومړی مسولیت یې همدا دي چي په مناسبه اندازه غذايي مواد تولید کړي(Ehsan et al., 2017).

د هرزه وښو د تخمونو د ټوکېدني لپاره په ډېره لږ اندازه اوبو ته اړتیا لري، همدا لوی لامل دي چي د اصلی نباتاتو سره ډېره سیالي تر سره کوي. داچي په هیواد کښي د وچکالی دوام او د افغانستان په ګڼون په نیمه وچو سیمو کي د اوبو کمښت، د کانالونو د اوبو نشتوالي، کروندګر دې ته اړ باسي چي د مځکي پر اوبو تکیه وکړي او د اوبو لګولو لپاره د مځکي لاندې د برمو له اوبو څخه کار واخلي، چي اوسنی څېړني راته په ښه کوي چي د یادو اوبو استعمال سره د خاوري ټیټ (pH) او لوړ (EC) بدلون سوی د خوړو د خوندیتوب او د نباتاتو د حاصلاتو د کمیت او کیفیت لپاره ښه خبر نه دي(Obaid et al., 2024). همدا وچکالی د هرزه وښو د ټوکېدني او ژوند بشپړ کولو لپاره ښه موقع برابروي.هرزه واښه په مځکه کي له ټولو نباتي ډولونو څخه یوازې 3٪ دي، خو بیا هم هرزه واښه د خوراکي امنیت او خوندیتوب، روغتیا، چاپېریال، اقتصادي ثبات او عامه هوساینې ته د مداخلې له لارې انسان ته جدي ستونزې جوړوي. د هرزه وښو ستونزه د نړیوالې مسئلې په توګه لا پسې پراخیږي، ځکه چي د انسانانو فعالیتونه او د انسانانو په چاپېریال کښي لاسوهنه زیاتیږي.

هرزه واښه، د خپل ځواکمن او انعطاف منونکي طبیعت له امله، په کرهنه، ځنګلونو، کب نیولو، د اوبو رسولو او د انسان د ژوند په بېلابېلو برخو کي د پام وړ زیانونه اړوي. په ټوله کي، د هرزه وښو او کرنیزو حاصلاتو ترمنځ سیالي د حاصلاتو د دوامداره تولید د کمښت تر ټولو مهم لامل ګڼل کیږي.

دا يوه عامه پوهه ده چي هرزه واښه د اصلي کرل سوو نباتاتو سره د رڼا، هوا، لنده بل او عناصرو په جذبولو کي سيالي کوي. مګر د هرزه وښو ټوله اقتصادي زيانونه او د کروندې پر اصلي نباتاتو د هرزه وښو مستقيمي اغېزي په عامه توګه تر اوسه نه دي پېژندل سوي. د هرزه وښو ستونزي په کرونده کي د ډېرو ښو کرنيزو لاملونو په استعمال سره لکه د ډېر حاصل ورکوونکو نوعو، سرو او اوبوني سره د پاملرني وړ ګرځي. په کرل سوي سيمو کي ددې ډول ښو کرنيزو لاملونو استعمالول د هرزه وښو د ښه ودي کولو سره مرسته کوي چي په پايله کي د کروندې د اصلي نباتاتو او هرزه وښو ترمنځ سيالي هم ډېرېږي. په غيري کرنيزو سيمو کي هم د هرزه وښو ستونزي رامنځ ته کيږي لکه مختلف ابي چاپېريالونه، ځنګلونه، د رېل ګاډو لاري، لوي لاري، صنعتي سيمي، هوايي ميدانونه او هغه ځايونه چي د ښايست ارزښت لري هم د هرزه وښو موجوديت ليدل کيږي(Gharde et al., 2018).

د هرزه وښو شتون يوه ستونزه ده او په غيري منظمه توګه مخنيوي يې اغېزي نوري هم ډېروي. په هغه سيمو کي چي پرېمانه اوبه ولري، د اوبوني اسانتياوي ډېري وي نو کرونده ګر په لوړ اندازه کيمياوي سري، د ښه کيفيت لرونکي تخمونه او د آفتونو د تنظيم پرمختللي تخنيکونه استعمالوي. د لوړي حاصلخېزي خاوري او ډېر لنده بل په يوځاي کيدو سره داسي يو حالت رامنځته کيږي چي د هرزه وښو توانايي او وده/نمو ډېرېږي او په ځينو حالتونو د نباتاتو توليدات په ډېره اندازه اغېزمنوي چي د خواړو د خونديتوب لپاره يو ستر ګواښ بلل کيږي(Kasi et al., 2024). نو په همدي منظور د خواړو په خونديتوب کښي د هرزه وښو هر اړخيزه او ميخانيکي کنترول د ډېرو کروندګرو لپاره غوره انتخاب دي چي د اوبو او هوا د ککړتيا د مخنيوي تر څنګ د لګښتونو د لږ والي په برخه کښي هم تر کيمياوي کنترول ډېر رول لري (Saleh et al., 2024).

غلې دانې د ژونديو موجوداتو (انسانانو، څارويو او مرغانو) د خوراک او صنعتي استعمال لپاره په نړيواله کچه تر ټولو ډېر کرل کيدونکي او سوداګريز حاصلات دي. د نورو توليدي سيمو ترڅنګ، افريقا د نړۍ د ټولې غلې دانې 27٪ توليد لري. لکه د نورو اساسي حاصلاتو په څېر، په افريقا کي د غلې دانو توليد، لکه جوار، وريجې، غنم، جوار (ملټ) او سورګم، د نبات خوړونکو آفتونو او هرزه واښو له امله له جدي زيانونو سره مخ دي. په نايجيريا کي، که چيرې د Imperata cylindrica هرزه واښه کنټرول نه سي، نو د جوارو د حاصلاتو 50٪ ته زيان اړولي سي. د .Striga spp په څېر نيمه طفيلي هرزه واښه د افريقا د غلې دانو 64٪ کرنيزو مځکو ته زيان رسوي، چي د 10٪ څخه تر 100٪ پورې د حاصلاتو د ضايعاتو سبب ګرځي(Benjamin et al., 2024).

**جدول 1:** په (2023-2024) کرنيز کال کښي د نباتاتو توليدات په ميلون ټن سره.

| No. | Country / Region | Crops Production (Million Metric tons) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Wheat | Corn | Barley | Rice | Cottonseed | Cotton | Soybean | Peanut |
| 1 | World | 790.42 | 1229.1 | 142.60 | 522.18 | 41.33 | 113.03 | 394.73 | 49.52 |
| 2 | Afghanistan | 5.17 | 0.260 | 0.11 | 0.270 | 0.182 | 0.500 | - | - |
| 3 | Argentina | 15.85 | 50.00 | 5.10 | 0.822 | 0.61 | 1.65 | 48.21 | 1.48 |
| 4 | Brazil | 8.10 | 122.00 | 0.46 | 7.20 | 4.84 | 14.57 | 153.00 | 0.73 |
| 5 | Canada | 32.95 | 15.42 | 8.91 | - | - | - | 6.98 | - |
| 6 | China | 136.59 | 288.84 | 2.00 | 144.62 | 10.72 | 27.35 | 20.84 | 19.22 |
| 7 | India | 110.55 | 37.67 | 1.91 | 137.83 | 10.78 | 25.40 | 11.88 | 6.00 |
| 8 | Iran | 14.00 | 1.40 | 3.00 | 2.00 | 0.12 | 0.35 | 0.17 | - |
| 9 | Iraq | 5.20 | 0.45 | 0.2 | 0.02 | 0.005 | 0.015 | - | - |
| 10 | Kazakhstan | 12.11 | 1.189 | 2.61 | 0.315 | 0.12 | 0.3 | 0.204 | |
| 11 | Nepal | 2.09 | 2.72 | - | 3.796 | - | - | - | - |
| 12 | Pakistan | 28.16 | 9.85 | 0.042 | 9.87 | 3.03 | 7.00 | 0.001 | 0.12 |
| 13 | Russia | 91.50 | 16.60 | 20.50 | 0.690 | - | - | 6.80 | - |
| 14 | Turkey | 21.00 | 8.40 | 8.00 | 0.545 | 1.05 | 3.20 | 0.14 | 0.200 |
| 15 | U-Kingdom | 13.98 | 0.025 | 6.96 | - | - | - | - | - |
| 16 | Ukraine | 23.00 | 32.5 | 6.35 | 0.013 | - | - | 5.20 | - |
| 17 | U-States | 49.10 | 389.67 | 4.05 | 6.93 | 3.31 | 12.07 | 113.27 | 2.67 |
| 18 | Uzbekistan | 6.46 | 0.771 | 0.155 | 0.230 | 1.14 | 2.90 | 0.03 | - |

Source: USDA, 2024

د نباتاتو په کروندو کي هم نرۍ پاڼي او هم پلن پاڼي لرونکي هرزه واښه زرغونيږي ليکن نرۍ پاڼي لرونکي هرزه واښه د غنمو کښتونه په زياته اندازه زيانمنوي چي د غنمو پر وده او حاصل باندي تاثير کوي او په نتيجه کي يې په حاصلاتو کي کموالي راولي (Patel et al., 2023). د غنمو په کښت کي Phalaris minor او Aven fatua چي د نرۍ پاڼو لرونکو او Rumex dentatus او Medicago denticulate چي د پلن پاڼو لرونکي نباتاتو د کورنۍ څخه دي په زياته اندازه د تشويش وړ دي، چي په غذايي امنيت او مصؤنيت کښي ډېر لرول لري، او بايد د ياد سوو هرزه وښو مخنيوي يې وسي . هرزه واښه د خاوري څخه په زياته اندزه د غذايي موادو، د لمر په روښنايي، لنده بل، هوا او اوبو په جذب کي د غنمو سره رقابت کوي چي د غنمو په نسبت چکټه وده

کوي او په نتيجه کې د غنم د نبات وده کمزوري کيږي او د وچو موادو په وزن کې يې هم کموالي راځي څکه په پوره توګه غذايي مواد نه سي جذبولای. (Gyawali et al., 2022).

هرزه واښه د حاصل کمولو په منظور ډېر بدناموونکي واښه دي چې په ډېرې حالاتو کې د حشراتو، فنګسونو یا نورو نباتي آفتونو او مرضونو په پرتله په اقتصادي توګه ډېر زيان رسوي(Ehsan et al., 2022). په کرهڼه کې د هرزه واښو له امله د حاصلاتو او اقتصادي زيانونو ارزونه د مطالعې يو مهم اړخ دی چې د هرزه وښو په وړاندې د هراړخيزه مدیریت ستراتيژيو په جوړولو کې مرسته کوي. د هرزه وښو له امله د سويابين (50٪-76٪) او د مميلې/پلې (45٪-71٪) سلنه د حاصلاتو او توليداتو د ضايعاتو احتمالي زيانونه په نښه سوي دي. همدا ډول د حاصلاتو او توليداتو په ضايعاتو کې لوي تغيرات د وريجو په حاصلاتو کښې (15٪-66٪) سلنه ضايعات (Tshewang et al., 2016) او د جوار په حاصلاتو کښې (18٪-65٪) سلنه ضايعات په بېلابېلو کرنيزو ساحو کې ليدل سوي. د هرزه وښو نه کنترول له امله اقتصادي زيانونه د وريجو په توليداتو کښې (4420 مليون ډالر) او د غنمو په توليداتو کښې (3376 مليون ډالرو) او سويابين په توليداتو کښې (1559 مليون ډالرو) راپور ثبت سويدي. په دې توګه، يوازې د هند په 10 لوي کرنيزو نباتاتو کښې د هرزه وښو له امله د شاوخوا 11 مليارد ډالر اقتصادي زيان اټکل سوي، چې د پلې(مميلې) (35.8٪)، سويابين (31.4٪)، ماش (مې) (30.8٪)، باجره (27.6٪)، جوار (25.3٪)، sorghum (25.1٪)، کنجد (23.7٪)، Mustard (21.4٪)، کرل سوي وريجې (21.4٪)، غنم (18.6٪) نهال سوي وريجې (13.8٪) سلنه اقتصادي زيان اټکل سويدي (Gharde et al., 2018).

د متحده ايالاتو د کرهڼې وزارت (USDA) د 2024 ميلادي کال د نومبر 8 نېټه باندي راپور ورکړي، نړيوال نباتي توليد خورا لوړ دي. د لومړي جدول له مخې، جواري تر ټولو ډېر توليد سوي فصل دي چې 1229.1 ميليونه متريک ټنه ته رسېږي. له دې وروسته، غنم (790.42 ميليونه متريک ټنه) او وريجې (522.18 ميليونه متريک ټنه) لوړ توليد لري. متحده ايالات د جوارو تر ټولو لوي توليدوونکي هېواد دي 389.67 ميليونه متريک ټنه توليد لري، د سويابين توليد کې هم لومړي مقام لري چې113.27 ميليونه متريک ټنه ته رسيږي، د غنمو توليد يې49.10 ميليونه متريک ټنه دي او د پنبې توليد يې 12.07 ميليونه متريک ټنه ته رسېږي. همدا شان چين هيواد **د** غنمو (136.59 ميليونه متريک ټنه)، جوارو (288.84 ميليونه متريک ټنه)، او وريجو (144.62 ميليونه متريک ټنه) يو له سترو توليدوونکو هېوادونو څخه دي. د چين هيوا د پنبې توليد يې 27.35 ميليونه متريک ټنه دي. هند هيواد د غنمو (110.55 ميليونه متريک ټنه)، وريجو (137.83 ميليونه متريک ټنه)، او پنبې (25.4 ميليونه متريک ټنه) توليد کې مهم رول لري. همدا ډول د هند هيواد د پلې(مميلې) توليد يې 6 ميليونه متريک ټنه دي. برازيل **د** سويابين (153 ميليونه متريک ټنه) په توليد کې نړيوال ريکارډ لري. همداراز، 122 ميليونه متريک ټنه جوار توليدوي. ارجنټاين48.21 ميليونه متريک ټنه سويابين او 50 ميليونه متريک ټنه جوار توليدوي. روسيه 91.5 ميليونه متريک ټنه غنم توليدوي اوکراين 32.5 ميليونه متريک ټنه جوار او 23 ميليونه متريک ټنه غنم لري، چې ارقام يې په لومړي جدول کښې واضيح سوي دي.

افغانستان د غنمو 5.17 ميليونه متريک ټنه توليد لري، او لږ مقدار جوار، وربشې، او وريجې توليدوي. خو پاکستان 28.16 ميليونه متريک ټنه غنم، 9.87 ميليونه متريک ټنه وريجې، او 7 ميليونه متريک ټنه پنبه توليدوي. په پايله کښې دي موندنو ته ورسېدو چې، جواري په نړۍ کې تر ټولو ډېر توليد لري، چې د امريکا، چين، او برازيل لخوا رهبري کيږي. غنم او وريجې د خوړو بنسټيز توکي دي، چې هند، چين، روسيه، او امريکا يې ستر توليدوونکي هيوادونه دي. سويابين او پنبه د کرهڼې او سوداګرۍ لپاره مهم فصلونه دي، چې برازيل، امريکا، او هند يې لوي توليدوونکي هيوادونه دي. سياسي، اقليمي، او اقتصادي شرايط د توليد پر کچه مستقيم اغېز لري، چې په ځانګړي ډول افغانستان ته مهم دي.

د يادو توليداتو څخه زياته سلنه د هرزه وښو له امله ضايع کيږي چې په لاندني جدول کښې ښودل سوي دي. کرنيزو محصولاتو ضايعاتو کې د هرزه وښو له امله د ضايعاتو زيانونه په نړيواله کچه د پام وړ دي. د هرزه وښو له امله، د کرنيزو محصولاتو توليد کې د پام وړ کموالي راځي، چې په پايله کې اقتصادي زيانونه تر څنګ د خوړو د امنيت او مصؤنيت ستونزې رامنځته کوي. په د ې په توګه، په متحده ايالاتو کې هر کال د هرزه وښو له امله د کرنيزو محصولاتو ضايعات په ميلياردونو ډالرو اټکل کيږي. په افغانستان کې هم، هرزه وښو له امله د کرنيزو محصولاتو په توليد کې ستونزې رامنځته کيږي، چې د ميکانيزه کرهڼې نشتوالي او دوديزې کرنيزې طريقې يې لاملونه ګڼل کيږي.

د هرزه وښو د اغېزو کمولو لپاره، د ميکانيزه کرهڼې تطبيق او د عصري کرنيزو طربقو کارول اړين دي. ميکانيزه کرهڼه د اقتصادي پياوړتيا بنسټ ګڼل کيږي، چې د کرنيزو محصولاتو د ضايعاتو په کمولو کې مرسته کوي. په افغانستان کې د کرنيزو محصولاتو د

ضايعاتو دقيق ارقام شتون نه لري، خو د هرزه وښو د کنټرول لپاره د ميکانيزه کرهنې او عصري کرنيزو طريقو تطبيق اړين دي (Times Agriculture, 2024).

**جدول 2:** د هرزه وښو له امله د کرنيزو نباتاتو د توليداتو ضايعات سلنه.

| No. | Country / Region | Crops Production losses due to Weeds (percentage) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Wheat | Corn | Barley | Rice | Cottonseed | Cotton | Soybean | Peanut |
| 1 | World | 19-30% | 25-35% | 20-30% | 25-40% | 27-35% | 30-35% | 30-35% | 25-35% |

Source: Guardian, 2025; BBASR, 2024

هرزه واښه د کرنيزو نباتاتو توليد ته جدي زيان رسوي، او دا زيانونه د هيواد، د نباتاتو د ډول، او د مديريت د تګلارو پر بنسټ توپير لري. لاندې د بيلابيلو هيوادونو د کرنيزو حاصلاتو د ضايعاتو اوسط سلنې وړاندې سوي دي چي په پورتني دوهم جدول کښې هم واضيح سوي دي:

**متحده ايالات او کاناډا:** جوار: که چيرې هيڅ ډول د هرزه بوټو کنټرول ترسره نسي، نو د جوارو د توليد ضايعات تقريباً ۵۰٪ ته رسيږي، چي دا شاوخوا 148 مليونه ټنه ته برابر دي او اقتصادي زيان يې له 26.7 ملياردو ډالرو څخه زيات اټکل سوي (Soltani et al., 2016). سويابين :(Soybean) د هرزه بوټو له امله د سويابينو ضايعات 65٪ ته رسيږي، چي د پام وړ اقتصادي زيانونه لري (Flessner et al., 2021). هند: غنم :(Wheat) د هرزه بوټو له امله 19٪ ضايعات، جوار :(Corn) تقريباً 25٪ د توليد ضايعات، سويا :(Soybean) د توليد 31٪ زيان، پلي (مملپی) :(Peanut) 36٪ توليدي ضايعات لري (Yogita & Singh, 2018). استراليا: د هرزه بوټو له امله د استراليا د غلودانو کروندګرو ته تقريباً 3.3 ملیارده استراليايي ډالر زيان رسوي، چي د ټول هيواد په کچه د غلودانو 2.7 مليونه ټنه ضايعات اټکل سوي (Chauhan, 2020). دا معلومات ښيي چي د هرزه بوټو کنټرول يو حياتي اهميت لري، او هر هيواد ته لازمه ده چي د خپلو کرنيزو حاصلاتو د ضايعاتو د کمولو لپاره مناسبې ستراتيژۍ غوره کړي (Tomar & Singh, 2024). هرزه واښه د توليد کمښت ته د سيالۍ، اليلوپاتۍ، او د ناروغيو لپاره د مناسبو شرايطو برابرولو له لارې زيان رسوي. هرزه واښه د ګڼ شمېر حشراتو او فنجي ناروغيو لپاره د بديل کوربه په توګه عمل کوي، چي له امله يې د حاصلاتو راټولولو لګښتونه لوړيږي. هرزه واښه د حاصلاتو د کمښت يو له مهمو لاملونو څخه دي، چي ډېري وخت د اقتصادي پلوه د حشراتو، ناروغيو او نورو ژونديو زيان رسوونکو عواملو څخه زيات زيان اړوي. په ټوله نړۍ کي، هرزه واښه د کرنيزو حاصلاتو د 13.2٪ زيان لامل ګرځي، خو که چيرې د واښو کنټرول ونه سي، نو د کرنيزو حاصلاتو احتمالي زيانونه په نړيواله کچه له 20٪ څخه تر 90٪ پورې اټکل سوي دي (Pacanoski & Mehmeti, 2021).

د هرزه وښو د مديريت تګلارو د تطبيق وروسته، د هرزه وښو څخه پاکه سوي ساحه 2.3٪ سلنه هرزه واښه د غنمو په کرونده کښې لرل، په داسې حال کي چي کنټرول ساحه (د هرزه وښو د مديريت نه عملي کول) له هرزه وښو څخه ډک و. د هرزه وښو په له منځه وړلو سره، د غنمو د دانې حاصل په منځنۍ توګه 30٪ سلنه او د وښو حاصل 26٪ سلنه زياتېدي سي. څرنګه چي پراخ پاڼې لرونکي هرزه واښه د غنمو په کروندو کي زيات دي، نو د مناسب هرزه وښو وژونکو زهرو لکه 2,4-D تطبيق تر ټولو اغېزناک دي او د ټولو کرنيزو ميتودونو او طريقو لپاره توصيه سوي دي (Popal, 2024).

**جدول 3:** د هرزه وښو له امله د کرنيزو نباتاتو د توليداتو اوسط ضايعات په مېلون ټن سره.

| No. | Country / Region | Crops Production losses due to Weeds (Million Metric tons) | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Wheat | Corn | Barley | Rice | Cottonseed | Cotton | Soybean | Peanut |
| 1 | World | 193.65 | 368.73 | 35.65 | 169.71 | 12.81 | 36.73 | 128.29 | 14.86 |
| 2 | Afghanistan | 1.27 | 0.08 | 0.03 | 0.09 | 0.06 | 0.16 | - | - |
| 3 | Argentina | 3.88 | 15.00 | 1.28 | 0.27 | 0.19 | 0.54 | 15.67 | 0.44 |
| 4 | Brazil | 1.98 | 36.60 | 0.12 | 2.34 | 1.50 | 4.74 | 49.73 | 0.22 |
| 5 | Canada | 8.07 | 4.63 | 2.23 | - | - | - | 2.27 | - |
| 6 | China | 33.46 | 86.65 | 0.50 | 47.00 | 3.32 | 8.89 | 6.77 | 5.77 |
| 7 | India | 27.08 | 11.30 | 0.48 | 44.79 | 3.34 | 8.26 | 3.86 | 1.80 |
| 8 | Iran | 3.43 | 0.42 | 0.75 | 0.65 | 0.04 | 0.11 | 0.06 | |
| 9 | Iraq | 1.27 | 0.14 | 0.05 | 0.01 | 0.00 | 0.00 | - | - |
| 10 | Kazakhstan | 2.97 | 0.36 | 0.65 | 0.10 | 0.04 | 0.10 | 0.07 | 0.00 |
| 11 | Nepal | 0.51 | 0.82 | - | 1.23 | - | - | - | - |
| 12 | Pakistan | 6.90 | 2.96 | 0.01 | 3.21 | 0.94 | 2.28 | 0.00 | 0.04 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 13 | Russia | 22.42 | 4.98 | 5.13 | 0.22 | | | 2.21 | |
| 14 | Turkey | 5.15 | 2.52 | 2.00 | 0.18 | 0.33 | 1.04 | 0.05 | 0.06 |
| 15 | U-Kingdom | 3.43 | 0.01 | 1.74 | - | - | - | - | - |
| 16 | Ukraine | 5.64 | 9.75 | 1.59 | 0.00 | - | - | 1.69 | - |
| 17 | U-States | 12.03 | 116.90 | 1.01 | 2.25 | 1.03 | 3.92 | 36.81 | 0.80 |
| 18 | Uzbekistan | 1.58 | 0.23 | 0.04 | 0.07 | 0.35 | 0.94 | 0.01 | - |

Source: Guardian, 2025; BBASR, 2024

د دریم جدول معلومات ښيي چې هرزه واښه د نړۍ په کچه د غنمو 193.65 میلیونه متریک ټنه، د جوارو 368.73 میلیونه متریک ټنه، او د وریجو 169.71 میلیونه متریک ټنه ضایعات رامنځته کوي. دا شمېرې ښيي چې هرزه واښه لا هم د خوراکي تولیداتو یو اساسي خنډ دي. د Oerke, (2024) څېړنې له مخې، هرزه واښه د کرنیزو حاصلاتو ٪37 کمښت لامل کیږي، چې د وښو نوعیت، اقلیمي شرایطو او د مدیریت تګلارو ته په کتو توپیر لري. چین د غنمو 33.46 میلیونه متریک ټنه، د جوارو 86.65 میلیونه متریک ټنه، او د وریجو 47 میلیونه متریک ټنه د هرزه وښو له امله زیان ویني. هند هم ورته زیانونه لري، چې د غنمو **27**.08 میلیونه متریک ټنه او د وریجو 44.79 میلیونه متریک ټنه ضایع کیږي. د امریکا متحده ایالات او برازیل د جوارو او سویابین کروندې د هرزه وښو له امله ډېر ضایعاتو سره مخامخ کیږي. امریکا د جوارو 116.9 میلیونه متریک ټنه او د سویابین 36.81 میلیونه متریک ټنه له لاسه ورکوي، په داسې حال کې چې برازیل د جوارو 36.6 میلیونه متریک ټنه او د سویابین 49.73 میلیونه متریک ټنه زیان تجربه کوي. روسیه او کاناډا د غنمو او وربشو کروندو کې سخت زیان ویني، چیرې چې روسیه 22.42 میلیونه متریک ټنه غنم او 5.13 میلیونه متریک ټنه وربشې له لاسه ورکوي، او کاناډا د غنمو 8.07 میلیونه متریک ټنه او وربشو **2.23** میلیونه متریک ټنه زیان تجربه کوي، ځکه هرزه واښه د اصلي نباتاتو سره د اوبو، عناصرو او د لمرووړانګو سره سیالي له امله اصلی نباتاتو تولیدات د کمښت سره مخ کیږي (Oerke, 2024).

پاکستان، ترکیه، او اوکراین هم د هرزه وښو له امله زیان ویني، په ځانګړي ډول د غنمو، جوارو او وریجو کروندې ته .پاکستان د غنمو 6.9 میلیونه متریک ټنه او وریجو 3.21 میلیونه متریک ټنه زیان ویني، چې د خوراکي خوندیتوب لپاره یو جدي ګواښ ګڼل کیږي. ایران، عراق، او ازبکستان د هرزه وښو له امله ډېر زیان ویني، خو لا هم د غنمو او پنبې تولید کې خنډونه د هرزه وښو له امله ورته پیښیږي (Daramola et al., 2020). پورتني ضایعاتو عمده لاملونه **د** هرزه وښو ناسم مدیریت او د هرزه وښو د تخمونو څخه ډک نباتي تخمونو کرل په ګوته کوي. د هرزه وښو له امله رامنځته سوي زیانونه د خوراکي توکو شتون کموي، د کروندګرو لګښتونه زیاتوي، او د خوړو خوندیتوب بحران رامنځته کوي. د (FAO, 2024) د راپور له مخې، تمه کیږي چې د 2050 کال پورې د خوراکي موادو تقاضا ٪35 زیاته سي، نو د هرزه وښو له امله د تولیداتو زیان کمول خورا مهم دي. نو په همدې منظور د کرنیزو تولیداتو د ساتنې لپاره، هیوادونه باید د هرزه وښو هراړخیزه مدیریت (IWM) تګلارې غوره کړي.

## پایله

د نړۍ کرنیز تولیدات او کرنیز محصولات د هرزه وښو له امله له جدي ګواښ سره مخ دي. که چیرې مؤثر او ګټور مدیریت پلي نسي، دا ستونزه به لا پراخه سي، چي د خوراکي توکو تولید ته به جدي ګواښونه پېښ کړي. د نړیوالو کرنیزو بنسټونو، حکومتونو، او کروندګرو ترمنځ همکاري ضروري ده،

ترڅو دا ستونزه حل او خوراکي خوندیتوب یقیني سي. د هرزه وښو اغېزې پر کرنیز تولید او د خوړو خوندیتوب باندې پراخې او جدي ګواښونه رامنځته کوي. دا مطالعه ښیي چي د نړۍ په سطحه هر کال د غنمو، جوارو، وریجو او نورو کرنیزو نباتاتو حاصلات د پام وړ ضایعات د هرزه وښو له امله رامنځته کیږي. د افغانستان، پاکستان، چین، هند، ایران، او برازیل په څېر هېوادونه د دې ضایعاتو تر ټولو زیات اغېزمن سوي هیوادونه دي، چي په نهایت کي د خوراکي توکو د بیو زیاتوالي، د بزګرانو د عوایدو کموالي او د خوړو امینت او خوندیتوب ته خطرونه راولاړوي.

د دغو ضایعاتو د کمولو لپاره د هرزه وښو د هراړخیزه مدیریت (IWM)، د هرزه وښو سره مقاوم او ښه سیالي کوونکي نباتي تخمونه کرل او د کرنیز تناوب ستراتیژۍ مهمې او مؤثرې لارې چارې دي. د هرزه وښو د کنټرول لپاره باید حکومتونه، کرنیزې ادارې او بزګران په ګډه کار وکړي، ترڅو د خوړو امنیت او خوندیتوب، پایداره کرهنې او د اقلیمي بدلون پر وړاندې مقاومت زیات کړي. د دې ستراتیژیو عملي کول به د کرنیزو نباتاتو تولیدي ظرفیت زیات کړي، چي له هغې سره د نړۍ د خوړو امنیت او خوندیتوب ته لاره هواره کړي.

**د هرزه وښو هراړخیزه مدیریت (IWM)** : د هرزه وښو د اغېزو د کمولو لپاره باید د هرزه وښو هراړخیزه مدیریت (IWM) تګلاره وکارول سي، چي پکښې د بېلابېلو میکانیزمونو لکه هرزه واښه وژونکي زهرو، کرنیز تناوب، او د بیولوژیکي کنترول یا د طبیعي دښمنانو کارول شامل دي.

**د هرزه وښو سره مقاوم کرنیز نباتات:** د هرزه وښو په وړاندې د نباتاتو مقاومت لوړول د ټکنالوژۍ پراختیا ته اړتیا لري. دا د هرزه وښو سره د مقاومو نباتات کرل یا ښه سیالي کوونکي نباتي تخمونه کرل د هرزه وښو کنټرول لپاره یوه مؤثره او اقتصادي حل لاره ده.

**کرنیز تناوب:** د کرنیزو نباتاتو تناوب یوه اساسي ستراتیژي ده چي هرزه واښه ودی او نمو ته نه پریږدي. بزګران باید په خپلو کروندو کښې کرنیز تناوب مراعت کړي او قوي سیالي کوونکي نباتات په خپلو کروندو کي وکري ترڅو د هرزه وښو د پرمختګ مخه ونیسي.

**د دقیقې کرهنې (Precision Farming) تګلارې غوره کول:** د کرنیزې ټکنالوژۍ په مرسته، د دقیقې کرهنې تګلارې لکه د سپرې کولو سم وخت، د اوبو مدیریت، د کښت او کروندې د نباتاتو څارنه کولای سي د هرزه وښو پر وړاندې اغېزمنه تګلاره تمامه سي.

**حکومتي ملاتړ او همکاري:** حکومتونه باید د کروندګرو لپاره د هرزه وښو د کنټرول لپاره ملاتړ وړاندې کړي. دا ملاتړ باید د ټکنالوژۍ د پراختیا، تعلیمي برنامو، او مالي مرستو له لارې ترسره سي.

**څېړنو او نوښتونو ته پراختیا ورکول:** د هرزه وښو د نوي تخنیکونو او طریقو په اړه علمي څېړنو ته وده ورکول ضروري ده ترڅو د ستونزو لپاره نوې حل لارې پیدا سي.

**د ادارو همکاري:** د کرنیزو پالیسیو جوړونکو ادارو، نړیوالو سازمانونو او پوهنتونونو همکاري د هرزه وښو د مدیریت لپاره اړینه ده. دا به په ځوانانو کي د کرهنې پوهه زیاتوي او د حل لپاره پراخه ستراتیژۍ رامنځته کړي.

**عامه پوهاوي او تعلیم:** د کروندګرو، ټولنو او کلیو په کچه د هرزه وښو د مدیریت په اړه پوهاوي زیاتول، ترڅو هغوی د غوره تګلارو په اړه پوه سي او د خپلو تولیداتو ساتنه وکړي، تر څو د هرزه وښو له زیانونو څخه خبر سي، چي د هرزه بوټو کنټرول لپاره متوازن بیولوژیکي، کیمیاوي او میخانیکي میتودونه وکاري.

# اخځلیکونه

**American Society for Nutrition. (2024, February 4).** *The role of nutrition in health*. Nutrition.org. Retrieved February 4, 2025, from https://www.nutrition.org/the-role-of-nutrition-in-health

Baucom, R. S., & Holt, J. S. (2009). Weeds of agricultural importance: bridging the gap between evolutionary ecology and crop and weed science. *New Phytologist*, 741-743.

BBASR. (2024). *Weed impact on crop yields*. Retrieved from https://bbasr.org/index.php/home/article/view/66

Benjamin, J., Idowu, O., Babalola, O. K., Oziegbe, E. V., Oyedokun, D. O., Akinyemi, A. M., & Adebayo, A. (2024). Cereal production in Africa: the threat of certain pests and weeds in a changing climate—a review. *Agriculture & Food Security*, *13*(1), 18.

Chauhan, B. S. (2020). Grand challenges in weed management. *Frontiers in Agronomy*, *1*, 3.

Daramola, O. S., Adigun, J. A., & Olorunmaiye, P. M. (2020). Challenges of weed management in rice for food security in Africa: A review. *Agricultura Tropica et Subtropica*, *53*(3), 107-115.

Ehsan, Q., Changtian, L. I., & Ahmadi, H. (2022). A New Record to Rust Fungi of South Western Province Kandahar, Afghanistan. *International Journal of Plant & Soil Science*, *34*(23), 366-371.

Ehsan, Q., Rana, D. S., & Choudhary, A. K. (2017). Effect of crop establishment methods and phosphorus nutrition on growth and productivity of mungbean (*Vigna radiata* L. Wilczek) in semi-arid Afghanistan. *Annals of Agricultural Research*, *38*(2).

Falade, A. A., & Labaeka, A. (2016). Enhancing food security in Nigeria through integrated weed management. *International Journal of Advanced Academic Research*, *ISSN*, 2488-9849.

FAO. (2024). *Global food security and weed management strategies*. Retrieved from https://www.fao.org

Flessner, M. L., Burke, I. C., Dille, J. A., Everman, W. J., VanGessel, M. J., Tidemann, B., ... & Sikkema, P. H. (2021). Potential wheat yield loss due to weeds in the United States and Canada. *Weed Technology*, *35*(6), 916-923.

**FAO. (2024, February 4).** *Food security and nutrition*. FAO. Retrieved February 4, 2025, from https://www.fao.org/3/i9284en/i9284en.pdf

Gharde, Y., Singh, P. K., Dubey, R. P., & Gupta, P. K. (2018). Assessment of yield and economic losses in agriculture due to weeds in India. *Crop Protection*, *107*, 12-18.

Gyawali, A., Bhattrqi, S., Bhandari, R., and Budhathoki, P. (2022). A Review on Effect of Weeds in Wheat (*Triticum Aestivum* L.) and Their Management Practices," Food and Agri Economics Review (FAER), *Zibeline International Publishing*, vol. 2(2), pages 48-54, April.

Junaid, M. D., & Gokce, A. F. (2024). Global agricultural losses and their causes. *Bulletin of Biological and Allied Sciences Research*, *2024*(1), 66-66.

Kasi, I. K., Charitha, N., Tiwari, A. K., Gomadhi, G., Sahu, D. K., Devi, O. R., ... & Afreen, N. (2024). Enhancing Wheat Yield and Economic Viability in Subtropical Rainfed Agriculture through Combined Herbicide Application. *International Journal of Plant & Soil Science*, *36*(5), 605-612.

Korres, N. E., Burgos, N. R., & Duke, S. O. (2018). *Weed Control*. CRC Press.

Krautflora, wolfar. 2021. Cotton economics and importants (*Gossypium hirsutum* L.). Indian J. Agronomy., 52(2): 172-175.

Obaid, H., Fazil, K., Sharifi, S., Ehsan, Q., Nazir, R., Zaryal, K., & Seerat, W. A. (2024). Soil properties evaluation under different irrigation sources in the Semi-arid Region of Kandahar, Afghanistan. *Nangarhar University International Journal of Biosciences*, 161-164.

Oerke, E. C. (2024). *Crop losses to pests and weeds worldwide: A continuing challenge*. Agricultural Research, **85**(2), 215-230.

Pacanoski, Z., & Mehmeti, A. (2021). Worldwide complexity of weeds. *Acta herbologica*, *30*(2), 79-89.

Pascual, visa. (2022). annual weeds summer and winter irrigated cotton. Asian J. Plant Sci. 5(2):174-178

Patel, R., Jha, A. K., Verma, B., Porwal, M., Toppo, O., & Raghuwanshi, S. (2023). Performance of pinoxaden herbicide against complex weed flora in wheat (*Triticum aestivum* L.). *International Journal of Environment and Climate Change*, *13*(7), 339-345.

Popal, N. A. (2024). Comparative efficacy of weed management practices on grain and straw yields of wheat. *Journal of Natural Science Review*, *2*(1), 46-56.

Ramesh, K., Matloob, A., Aslam, F., Florentine, S. K., & Chauhan, B. S. (2017). Weeds in a changing climate: vulnerabilities, consequences, and implications for future weed management. *Frontiers in plant science*, *8*, 95.

Russo, C., Cirillo, V., Pollaro, N., Terribile, F., Chiodini, A., & Maggio, A. (2025). The global energy challenge: second-generation feedstocks on marginal lands for a sustainable biofuel production. *Chemical and Biological Technologies in Agriculture*, *12*(1), 1-14.

Saleh, R., El Benni, N., Masson, S., & Ammann, J. (2024). Public acceptance and sustainability perceptions of food produced with chemical, digital and mechanical weed control measures. *Food Quality and Preference*, *113*, 105079.

Shahbazi, F., Shahbazi, S., Nadimi, M., & Paliwal, J. (2025). Losses in agricultural produce: A review of causes and solutions, with a specific focus on grain crops. *Journal of Stored Products Research*, *111*, 102547.

Shahzad, M., Jabran, K., Hussain, M., Raza, M. A. S., Wijaya, L., El-Sheikh, M. A., & Alyemeni, M. N. (2021). The impact of different weed management strategies on weed flora of wheat-based cropping systems. *Plos One*, *16*(2), e0247137.

Soltani, N., Dille, J. A., Burke, I. C., Everman, W. J., VanGessel, M. J., Davis, V. M., & Sikkema, P. H. (2016). Potential corn yield losses from weeds in North America. *Weed Technology*, *30*(4), 979-984.

Sprague, mamiko. (2022). Annual weeds types and impotance. Pak. J. Weed Sci. Res., 9(3 and 4): 185- 192.

Guardian. (2025, January 10). *UK's first glyphosate-resistant weed found on Kent farm*. Retrieved from https://www.theguardian.com/environment/2025/jan/10/uk-first-glyphosate-resistant-weed-found-kent-farm

Times Agriculture. (2024). Minimising weeds losses: Path to food security. *Times Agriculture*. https://timesagriculture.com/minimising-weeds-losses-path-to-food-security/

Tomar, V., & Singh, J. (2024). Effective Weed Management Strategies for Sustainable Cultivation of Sugarcane (*Saccharum officinarum* L.): A Comprehensive Review. *Journal of Experimental Agriculture International*, *46*(7), 120-133.

Tshewang, S., Sindel, B. M., Ghimiray, M., & Chauhan, B. S. (2016). Weed management challenges in rice (*Oryza sativa* L.) for food security in Bhutan: A review. *Crop Protection*, *90*, 117-124.

**U.S. Department of Agriculture. (2024, November 8).** *Global crop production report*. USDA. Retrieved February 4, 2025, from https://www.usda.gov/global-crop-production

UNICEF. (2019). Asia and the Pacific Regional Overview of Food Security and Nutrition 2019.

USDA (2024). Subject. IPAD, Country Summary World Crops Production. https://ipad.fas.usda.gov/countrysummary/Default.aspx?id=AR

USDA. (2024, November 8). *Agricultural production and weed losses*. Retrieved from https://www.usda.gov

Wolter, baska. (2022). herbicides and its effect on the seed cotton yield in cotton. Plant sci. Weed Sci. Res. 12(1-2):111-117.

**World Bank. (2024, February 4).** *Food security*. The World Bank. Retrieved February 4, 2025, from https://www.worldbank.org/en/topic/food-security

**World Health Organization. (2024, February 4).** *Food safety*. WHO. Retrieved February 4, 2025, from https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/food-safety

Yogita, G., & Singh, P. K. (2018). Yield and Economic losses due to weeds in India. *ICAR-DWR, Jabalpur*.